د مواعظ اشرفیه

دویمه حصه

پښتو ترجمه

له سید تسنیم الحق کاکاخیل

چاپونکے

یونیورسټی بک ایجنسی

خیبر بازار پیښور

Scanned with CamScanner

دکتاب پیژندنه

دکتاب نوم : مواعظ اشرفیه دوُیمه حصه

مترجم : سیّد تسنیم الحق فاضل دیوبند

دچاپ کال : ۱۹۹۰ع

دچاپ شمیر : یوزر جلده

خطاط : خان بهادر، سُرچوال،

دملاویدوپته : یونیورسټی بک ایجنسی

Scanned with CamScanner

فہرست

شمارہ	عنوان	صفحہ
۱	تطہیر رمضان	۱
۲	حقوق القرآن	۳۰
۳	علاج الکبر	۷۲
۴	حیات طیبہ	۱۰۰
۵	تسہیل الاصلاح	۱۳۲
۶	احکام العشرۃ الاخیرۃ	۱۶۱
۷	اکمال الصوم والعید	۲۲۸
۸	غض البصر	۲۹۶
۹	تطہیر الاعضاء	۳۲۸
۱۰	تقویم الزیغ	۳۵۷

Scanned with CamScanner

دعوات عبدیت

دویم جلد

اول وعظ

تطہیرِ رمضان

(روژہ دِ کناہونونہ پاکہ ساتل)

له ارشاداتو دِ حکیم الامت حضرت مولانا شاہ اشرف علی تھانوی رحمت اللہ علیہ

Scanned with CamScanner

تعارف

داوعظ حضرت تھانوی رحمت اللہ علیہ دِ مراد آباد شہر پہ محلہ تھتھیڑہ کنبے پہ ۲۱/ شعبان ۱۳۲۹ھ کنبے پہ دوہ گھنٹے کنبے پہ ممبر پہ ناستے کرے دے اوحکیم مصطفےٰ صاحب بجفوری قلمبند کرے دے۔

7.15 A.M
25/Aug 2016

Scanned with CamScanner

غلط العام

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ نَحْمَدُہٗ وَ نَسْتَعِیْنُہٗ وَ نَسْتَغْفِرُہٗ وَ نُؤْمِنُ بِہٖ وَ نَتَوَکَّلُ عَلَیْہِ وَ نَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَ مِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّھْدِہِ اللّٰہُ فَلَا مُضِلَّ لَہٗ وَ مَنْ یُّضْلِلْہُ فَلَا ھَادِیَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنْ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ لَا شَرِیْکَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَ رَسُوْلُہٗ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ عَلٰی آلِہٖ وَ اَصْحَابِہٖ وَ بَارِکْ وَ سَلَّمْ۔ اما بعد رمضان شریف نزدے دے۔ نو مناسب معلومیږی چه د رمضان شریف متعلق څه احکام بیان شی۔ دا خو معلومه خبره ده چه د رمضان د میاشتے روژے ټول فرض دی۔ او تراویح پکښے سنت مؤکد دی۔ نو د دے متعلق خو د ویناځه ضرورت نشته۔ البته دا ضروری ده چه څنه خلق په دے مبارکه میاشت کښے هم څنه خراب کارونه زیات کړی دی۔ وجهه ئے یا بے علمی ده یا غلط علم او یا به ئے سره د پوهے کوی۔ دا ډیره عجیبه خبره ده الله تعالی خو په دے میاشت کښے په بنده یانو څنه هغه کارونه هم حرام کړی دی کوم چه مخکښے جائز وو۔ نو آیا دا خبره د دے واضح دلیل نهٔ دے چه کوم کارونه چه د مخکښے نه حرام دی د هغے په حرمت کښے به نوره هم سختی راغلی وی۔ اللہ تبارک وتعالی خو د روژے علت بیان کړے دے۔ لَعَلَّکُمْ تَتَّقُوْنَ چه تاسو پرهیزکار شئ۔ اوس د هرڅوک په خپل کړیوان کښے اوګوری چه کوم غلط کارونه چه ئے د روژے نه مخکښے کول۔ لکه بد نګاهی۔ دروغ۔ غیبت وغیره هغه هم هغه شان کوی که اوس ئے پریښی دی۔ که پریښی ئے نهٔ وی نو رمضان او غیر رمضان برابر شو۔ تقویٰ خو حاصله نشوه۔ پاتے شو خوراک نو د هغے هم صرف وخنونه بدل شوی دی څهٔ کمے پکښے نهٔ دے راغلے ښهٔ خلق په رمضان کښے خوراک هم د نورکال په نسبت کم کوی۔ دکمی څهٔ مقدار مقرر

Scanned with CamScanner

نه دے خو دِ نو رکله نه کهه پکار دے - دِ یر ینکان خو صرف دومره قدر ے خوږ
چه ایله په ساه اخلی - هلهٔ دِ روژے برکات مومی - خیر دا خو دِ خواصو کار دے
دِ هر چا کار نهٔ دے - لیکن دومره خو هر مسلمان کولے شی چه په دِے میاشت کښے
دِ ګناهونو نه ځان اوساتی - خوراک خوک نشی کمولے خیرځهٔ جواز لرے شته - لیکن
دِ ګناه کارونه خو هیڅ وخت کښے م جائز نهٔ دی بیا په روژه کښے لږ ځهٔ جواز
دے - لیکن مونږ خو روژه په خوله ټوله ورز ګناهونه کوو - دروغ - غیبت یو بل
پسے خبرے او خوشی خبرے او نور غلط کارونه په رمضان کښے دِ نو رکله نه زیات
زور ور کړو - چه وخت مشغولوو - آیا په عبادت او ذکر وخت نشی مشغولیدے
دِ سحر مونځ خو اکثر خلقو نه قضا شی - پیشمنی نه پس اوږهٔ شی نو سحر مونځ ترقضا
شی - او که قضا نشی نو نا رخته خو شی دَ جمع مونځ ورنه لاړ شی - او دے -
خو شال وی چه روژه م اونیوه - چه مونځ دِ قضا کړو نو روژے دِ ځهٔ خیر
او کړو - په دے میاشت کښے خو الله تعالے خپل رحمت دومره زیات کړے دے
چه دِ هر نیک کار ثواب یو په لس ورکوی - خو بیا هم ورباندے زمونږ ګناهونه
زیات شی - برابر هم ورسره نشی - پکار خو دادَه چه نیکئ زیاته شی - خوک برابر
پاته شی هم په موجب دِ سَبَقَتْ رَحْمَتِیْ غَضَبِیْ - رحما رحمت په غضب غالب دے
دِ نجات طمع کیدے شی - لیکن چه سره دِ اجر دِ زیاتیدو هم زمونږ ګناهونه
ورنه درانهٔ شی نو بیا دِ خلاصی ځهٔ طمع کیدے شی - بنه دا هم پریږده - که مونږ
هیڅه په ګناهونو ترڅ کولو قادر نهٔ یو - نو خامی په دے یوه میاشت دَ
رمضان کښے خو ګناهونو نه ځان بچ کول ډیر اسان دی - په تجربه ثابته دَه
چه دِ رمضان شریف دِ عبادت اثر باقی یوڵس میاشتے جاری وی - خوک چه په
رمضان کښے په یو نیک کار په تکلیف ځان عادت کړی - بیا ئے ټول کال په
اسانه کولے شی - او خوک چه په دے میاشت کښے یوه ګناه نه ځان بچ کړی
باقی کال ورته ترځان بچ کول اسان شی - او په دے میاشت کښے ځان دَ

Scanned with CamScanner

گناه نه بچ کړل م اسان دی - څکه چه دے میاشت کښے شیطانان قید وی
چه د شیطان اثر نه وی نو پکار خو داوه چه گناهونه بالکل ختم شوے وے
لیکن د شیطان بل مړکړے نفس خو پاتے دے - د نفس تقاضا باقی ده - لیکن
چه د شعنان د دوو په څائے یو پاتے شو نو مقابله ئے اسانه شوه - که څوک
دا یو میاشت په څان لږ تکلیف تیر کړی - د نفس مقابله اوکړی - د نفس -
نفس خبره او نه منی نو د گناهونه بچ کیدے شی - که بالکل ختم نشی نو
کمیدے خو ضرور شی - یو د ژبے شل گناهونه امام غزالیؒ شمیرلی دی - غیبت
گناه پکښے دروغ او غیبت دی - چه نن صبا خلق د هر چا گنړلی دی - حالانکه
دروغ داسے شے دے - چه د دنیا په یو مذهب کښے او د دنیا په یو معاشره
کښے هم بنهٔ نشی گنړلے - نو مسلمان به ئے څنگه برداشت کړی - په خبرو کښے د
دروغو بوئے قدرے هم گناه ده نو دے چه یو روایت دے - چه یو څل یو صحابی
رضی الله عنها چل بچی ته اوان اوکړو - راشه څهٔ څیز درکوم - حضور صلے الله
علیه وسلم او فرمائیل که راغلی څهٔ به ورکړے - هغے ورته موقے پرانستو پکښے
کجوره وه - عرض ئے اوکړو دا ورکوم - حضورؐ او فرمائیل - که د دے کجورے
ورکولو نیت د نه وے - هسے د ورته ویلے وے چه څهٔ درکوم - نو د دروغو
په گناه کښے به راغلی وے - نو حضرات تو - د دروغ داسے شے دے دومره قدرے
دروغونه هم څان ساتل ضروری دی - که دومره احتیاط نشی کولے - نو د
څوگندو دروغونه خو څان بچ کول ډیر گران نه دی - بیا خاص په روژه کښے
د ژبے بله غیبت گناه غیبت دے - چه نن صبا ئے هر څوک باک نه کوی
بلکه ډیر خلق خو اوائی چه داخبره خو ورته زهٔ په مخ م کولے شم - که پښی
شام اوکړه نو څهٔ اوشو - نو جناب عالی په مخ چاته بده خبره کول او د یو
مسلمان زړهٔ خفه کول کوم بنهٔ کار دے - بلکه که په مخ ئے اوکړے نو جواب به
ئے م واورے یا به هغه سړے د څان صفائی اوکړی چه دا عیب راکښے نشته او

Scanned with CamScanner

یا به په خوله سوک درکړی - نو بیا به خپله منځ شے - او پشی شاخوا چا پسے خبرے کول - په دهوکه کښے وهل دی -

یا دلرئ = څنګه چه پردے مال حرام دے - دغه شان دِ چا عزت ته نقصان رسول هم حرام دی - بلکه مال خو دِ عزت په مقابله کښے هیڅ شے هم نۀ دے په عزت خو خلق سر و مال دواړه قربانوی - نو دَ چا سپکاوے کوونکے به دِ - حق العباد نه څنګه خلاص شی - لیکن نن صبا غیبت داسے عام شوے دے چه یو مجلس هم ترخالی نۀ وی - په خبرو خبرو کښے چاته پته هم او نۀ لګی چه ما غیبت اوکړو نو دِ غیبت نه د بچ کیدو طریقه دادَه چه مجلس کښے دِ غائب - سړی هلږو ذکر رانشی نۀ ښۀ نۀ بد څکه چه که ته ئے ښۀ اووائے نو بل شیطان به ئے په خبرو خبرو کښے بدئ ته اورسوی - شروع خو دِ خیر دِ پاره اوشی - لیکن جوړه شی تر بدی - نو صاحبانو چل کارونه هم بے شماره وی - اول چل پوره کړئ نو بیا دِ بل نوم اخلئ - او غیبت خو یو داسے بے خونده ګناه دَه چه په دنیا کښے ئے هم نقصان څرګند دے - هغے بل سړی ته چه خبر اورسی چه فلانی درپسے داسے داسے خبرے کولے نو د شمنی تر ځوړه شی - او بیا تر لړے اورسی - دیرے خرابے نتیجے ئے څرګندے شی - دیر کورونه وران شی او دیر جائیدادونه تباه شی - نو دِ غیبت نه ځان ساتل دیر ضروری دی - دغه شان دِ ژبے نور ګناهونه هم دیر دی - او ټولو نه ځان ساتل پکار دی - دے نه علاوه دِ روژے متعلق یو خاصه ګناه په حرام رزق روژه ماتول دی چه په دے میاشت کښے الله تعالے دِ ورځے حلال رزق هم بند کړے دے نو ټوله ورځ نفره تیره کړی او دِ حیرانتیا خبره دادَه چه ما بنام بیا په حرام رزق روژه ماته کړی - نو دے نفرے ئے څۀ خیرا وکړو اصل خبره دادَه - چه څنګه خلق په دے مرض اخته دی چه وائی چه حلال رزق خو په دنیا کښے بے دِ دے نه شته نه چه یا دریاب نه مهے راوونیسی او یا دِ ځنګل میوه یا دِ اونۍ پاڼے اوخوړی

Scanned with CamScanner

او داسے ډیرے قصے مشہورے دی - وائی چہ دِ یو بزرگ غوټے په خطا دِ بل چا پتی تہ اوړیدلے وو - نو هغۂ بیا دِ خپل پتی غله م نۂ خوړہ چہ دے کښے دِ پردی پتی خاورہ ګډہ شوی دَہ - چہ دِ ما دِ غوټی په بښپوړے راغلی وَہ پتہ نۂ لګی چہ دے پردئ خاورہ کښے کوم دانہ لویہ شوی دَہ نو دِ دے پتی تولہ غله مشکوکہ شوہ - کہ واقعی داسے شوی وی - نو دا بزرګ صاحبِ حال وو بل چاتہ دِ هغۂ تقلید ضروری نۂ دے - په تقویٰ کښے دومرہ مبالغہ کول تقویٰ نہ دَہ دِ تقویٰ هیضہ دَہ او یو مرض دے - کہ په دومرہ - قدرے شبهه م شے حرامیږی نو واقعی حرامونہ بچ کیدل ګران دی - نو عام خلق دا خیال کوی چہ حرامونہ بچ کیدے نشو نو هسے خان ولے کړوو - جوړ سَمْ په ورکړ شی بیا دِ قطعی حرامو خیال م نۂ ساتی - (مولانا تهانوی فرمائی) زۂ وایم کہ خبرہ دغہ شان وی نو بیا خو په دنیا کښے حلال رزق هلہ وچرته شته نہ - بیا خو دَ فقهے په کتابونو - کښ هدایه وغیره کښے چہ دِ حلالو او - حرامو کوم تفصیلات لیکلی دی هغه ټول بے فائدے شو - بس دا به ټے لیکلی وو اَلْحَلَالُ لَا یُوْجَدُ - حلال چرته نشته - بس خبرہ خلاصہ وَہ - خو داسے نۂ دَہ بلکہ دِ فقهے په کتابونو کښے چہ څۂ ته حلال ویلی شوی دی هغه حلال دی - آیادا ټول عالمان او صوفیان حرام خوارۂ وو ؟ - (مولانا فرمائی) یو بزرګ وو - مولانا مظهر حسین صاحبؒ دِ هغۂ داحال وو کہ په بے خبرئ کښے به چا څۂ حرام شے ورکړو - نو اُلټئ به ټے په کولے - حرام شے ټے هضمولے نشو - او بیائے هم دوہ وخته روټئ خوړہ - نهر نه ګرځیدو - دے نه ثابته شوہ چہ حلال رزق شته -

غرض داچہ دنیا کښے حلال شته او حرام هم شته - دا په ټوس معلومیدے شی - افسوس دادے چہ نن صبا څوک ټوس نه کوی - خوچہ خپل زړۂ ورته څۂ - وائی هغه کوی او حرامو سره داسے عادت شوی دی کہ څوک ټے ورنه منع کوی

Scanned with CamScanner

نو دیر گران کار ورته بنکاری او وائی چه د عالمانو خو بل کار نشته خو وائی چه دا کار حرام او دا حرام دے - غرض ئے دا دے چه مسلمانان ترقی او نکړی او مالدار نشی - په ذهن کښے ئے دا ناسته ده - چه عالمان هر کار ته حرام وائی حلال هډو شته نه - د دے ویرے د چا نه پتوس هم نشی کولے - دا خیال ئے وی که د ما د خاطره ورته مولوی صاحب حلال اووائی هم څه خیر ئے نشته څکه چه دنیا کښے حلال چرته شته نه -

دا دیر غلط خیال دے - اصل خبره داده - چه د فقهے کتابونو کښے چه کوم څیز حلال ویلی شوی دی هغه حلال دی او کوم ته چه حرام ویلی شوی دی هغه حرام دی - په دے عمل پکار دے - د شیطان د مکر په چالونو کښے یو چال دا هم دے چه زهٔ کښے شک اچوی چه دا شے به حرام وی او بیا د شک په وجهه حلال شے هم پریدی چه که مفتی وائی چه دا حلال دے خو پریښول ئے بهتر دی - څکه چه حلال په دنیا کښے نشته (نو په تکلیف اخته وی ژوند ورته گران شی) سمه خبره داده چه د عالم نه پتوس کوئ که هغه درته اووائی چه حلال دے نو بیا پکښے شکونه مهٔ کوئ - او که درته اووائی چه حرام دے نو بیا ئے د ترک کولو همت اوکړئ - او که نفس پکښے سستی کوی نو ورته اووائی چه څنگه د دنیاوی حاکم قانون منے دغه شان د حقیقی حاکم قانون هم اومنه - سستی مهٔ کوه - انشاءالله نور خلق به هم درسړه - تعاون کوی او هیڅ تکلیف به نهٔ وی - بنده ته خپله اراده مضبوطه پکار ده بیا ورته الله تعالے اسانئ پیدا کړی - خیال اوکړئ مجازی حاکم چه چاته یو گران کار حواله کړی نو بیا ورسړه امداد هم کوی - نو حقیقی مالک خو دیر مهربانه دے هغه به خپلو بندیانو ته اسانئ ولے نهٔ پیدا کوی -

حاصل دا چه اراده اوکړئ چه عالمانو نه بے پتوسه به هیڅ کار نهٔ کوئ - البته داده چه په پتوس به څنه کارونه ناجائز هم راااووځی او په آمدنئ کښے به څهٔ کمے هم راشی - لیکن تاسو تجربه اوکړئ په هغه کمه آمدنئ کښے به الله تعالے برکت

واچوی دِ برکت دا مطلب نهٔ دی چه دَ هغے څیز مقدار به دیر شی - چه دِ
بازار نه یو من غنم راوړلی کور کښے به دوه منه اوخیژی - اګرچه ممکنه دا هم دَه.
(حضرت تهانوی فرمائی) ماته خپله یو نیک سړی خپله قصه کوله - چه یوځل
موجور ولو - دِ کار شروع کولو په وخت چه ماسره څومره رقم موجود وو
هغه م په یو کسوړه کښے واچولو - کار ته چه به څومره روپئ پکاریدے کسوړے
نه بهر م راخستے چه کار خلاص شو - حساب موکولو کسوړه م پرانسته نو هغه رقم
ورکښے هومره موجود وو څومره چه م کار شروع کولو ټپکښے اچولے وو - څهٔ
ترکم شوی نهٔ وو - نو کله کله داسے هم کیږی خو هیشه داسے نهٔ وی - بلکه دِ
برکت مطلب دا دے او اکثر هم داکیږی - چه هغه لږ شے په سَم سَم څای -
اولګی - فضول برباد نشی - نو په لږ شی دیر کار اوشی - مثلاً دالږه آمدنی چه
په بیاریو - مقدمو او فضول کارونو اونهٔ لګی نو ستا په بنه به راشی او
دیر ضروریات به په پوره شی دے ته برکت وَیلے شی - او اصل برکت ځے
دِ الله رضا دَه دا یو داسے غټ نعمت دے چه هڅه دنیا او دِ دنیا ټول مال
دولت دِ دے په مقابله کښے هیڅ هم نهٔ دے دِ یو مجازی حاکم دِ خوشالئ -
دِ پاره خلق څومره څومره تکلیفونه او څومره څومره تاوانونه برداشت کوی بیا هم
دا یقین نهٔ وی چه هغه به خوشال شی او که خوشال شی هم خوشالی ځے پائیدار
نهٔ وی په معمولی خبره بیا خفه شی - او الله تعالے فرمائی چه زهٔ قدردان یم
دے لفظ ته فکر او کړئ یو دنیاوی حاکم ته که څوک څهٔ شے یوسی او هغه -
ورته دِ منظورئ یا نامنظورئ هیڅ اونهٔ وائی خو نوکر ته اووائی چه داشے
سنبال کړه نو هغه سړے څومره خوشاله شی چه صاحب شے قبول کړو - او
موږ دِ حقیقی مالک په دربار کښے څنګه نیک اعمال پیش کړو - نو اول تاسو
څنګه اعمالو ته اوګورئ - آیا زموږ دا اعمال دِ الله په لوئے دربار کښے دِ پیش
کولو قابل دی؟ اخلاص پکښے شته؟ په صحیح طریقه شوی دی؟ دِ مثال په طور

Scanned with CamScanner

مونږ واخلئ چه د الله په دربار کښے او دریږو د ے د پاره چه الله سره خبرے
او کړو چې درخواست ورته پیش کړو - لیکن خبرے کو و چې لو غوښتو نو سره خرو
سره - یعنی په زړه کښے موچې د نیا وی خیالات کړئ حضور مو سَمْ نه وی
دے د ے مثال دا سے دے - لکه یو بادشاه په خپله مهربانئ چې یو غلام ته -
دربار کښے د حاضرئ اجازت ورکړی بلکه په زور ئے را اوغواړی بلکه ترلے
ئے دربار ته راولی او کار ئے ورسره څه وی ؟ داچه رحم ئے په راغلے وی
او چې دربار کښے ورسره خبرے کوی چه په زور و دربار یانو او نورو رعیت
کښے ئے قدر زیات شی - خپل څه کار ئے ورسره نه وی صرف د ے هغه د فائده
د پاره ئے راغوښتے وی سه

من نه کردم خلق تا سودے کنم
بلکه تا بر بندگان جودے کنم

(الله تعالے فرمائی - ما مخلوق د ے د پاره نه د ے پیدا کړے چه څه پکښے څه فائده
ده - بلکه د ے د پاره پیدا کړے د ے چه په خپلو بندیانو رحم وکړم او نعمتونه
ورکړم) - الله تعالے ته مخلوق نه خپله هیڅ فائده نشته - بلکه هغه مخلوق ته -
فائده ے رسوی او نعمتونه ورکوی - خیر نو داغلام چه په دربار کښے حاضر کړے
شو د راتلو سره ئے مخ بل خوا واړولو - او غوږونو نو کښے ئے کوتے ورکړے چه د
بادشاه خبرے وانه وری - لیکن بادشاه خو په مهربانه د ے - د هغه د ے د ے
گستاخئ ئے هیڅ خیال او نه ساتلو - خپلو نوکرانو ته ئے حکم او کړو چه د -
غوږونو نه ئے کوتے او باسئ او لاسونه ورته اوترئ چه بیا غوږونه نشی
بندولے - او مخ ئے ماته را اوګرځوئ - او زر زر ئے ورسره د مهربانئ یو څو
خبرے او کړے چه دا خو بے خبرے واوری نو بیا به مخ نه اړوی لیکن هغه خو قسم
خوړلے د ے چه اپوښته به چلیږم - بیا لاس ازاد کړی - کوتے غوږونو کښے ورکړی
او منډه کړی پښتی کښے د قلبے شاته پټ شی نوکران ورپسے کړئ چه د هغے ځائے

Scanned with CamScanner

نه ئے راوباسی نو بیا منډه دیخوا میښو په غوجل کښے پټ شی - سړی نه چه بادشاه ورپسے خپله کړئ نو دا بد قسمته هم هغه شان یو خوا بل خوا منډے وهی او دِ بادشاه خبروته غوږ نه کیدی - نو آیا دا سړے دِ بادشاه دِ توهین په جرم کښے کم از کم دِ دے سزا قابل دے که نه ؟ چه بیا هغړے دربار کښے دِ حاضرئ اجازت ورنکړے شی -

بنه نو اوس تاسو خپله معامله واخلئ دِ الله سره - چه دِ الله دِ طرف نه - خو موږ نه هر وخت په دربار کښے دِ حاضرئ اجازت دے - یعنی دِ یو څو خاص وختونو نه علاوه هر وخت نقل مونځ کولے شو - خو زموږ دومره توفیق چرته دے - چه دِ دے موقع نه فائده واخلو تر دے چه په زور مو راوبلی - یعنی چه فرض مانځه دِ پاره اذان اوشی بیا هم په مات زړه پاخه دِ یر په ناراستئ پاخه څه مات کړو او دس اوکړو او په مات زړه دَ مانځه نیت اوترو یعنی دَ حقیقی مالک په دربار کښے حاضر شو - او حقیقی پادشاه سره مخامخ خبروته او دریږو نو مخ بل خوا واړوو - یعنی زړه کښے مو نور خیالات کړئ - په خوله دَ مانځه سبق وایو - خو هیڅ خبر نه یو چه دِ خوله نه څه اوباسو - حکه چه خیال مو بل څه کښے وی - هسے دهوکے دِ پاره دِ شاهی دربار دِ عزت الفاظ سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ شروع کړو - الله تعالے زموږ بے خبرئ ته نه کوری او خبرے راسره شروع کړی - لکه چه په احادیثو کښے راغلی دی - چه دَ سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ په جواب کښے الله تعالے فرمائی سَبَّحَنِیْ عَبْدِیْ - او دِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ په جواب کښے فرمائی حَمِدَنِیْ عَبْدِیْ مونځ شروع کولو سره موږ بیا په منډه اوتښتو یا کورته یا دکان ته یا پټی ته (یعنی خیالات مو دِ دنیا په کارونو کښے مشغول شی مونځ ته مو توجهه نه وی موږ داخندا کوو تر دے چه دِ دربار دِ حاضرئ وخت ختم شی - دغه شان بے خیالئ کښے مونځ پوره کړو او سلام اوکړو - غټه توره مو اوکړه - بادشاه سره مخامخ کیدو نه موځان خلاص کړو -

Scanned with CamScanner

نو صاحبانو دِ دے ګستاخۍ کم ازکم سزا دا پکار دَه که نه چه داسے مونږ ـ
کوونکی ته بیا هڅه الله تعالے خپل دربار کښے دِ حاضریدو اجازت نۀ ورکولے
بلکه راوتو سره ئے دِ ګرفتارئ او عمر قید سزا ورکولے لیکن واورئ هغه رحیم
وکریم مهربانه بادشاه څۀ فرمائی ـ ارشاد دے ـ وَکَانَ سَعْیُکُمْ مَشْکُوْرًا
(ستاسو داکوشش قابلِ قدر دے) ـ تاسو خپل کار دیر په ښه طریقه تر
سره کړو ـ دِ شرم نه ځان وژل پکار دی ـ مونږ چه څۀ اوکړو مونږ ته ـ
معلوم دی اوخړک چه په دربار کښے حاضر وو (یعنی فرشتے) هغوئی لیدلی
دی چه مونږ څنګه حاضرۍ اوکړه بیا الله تعالے دِ فرشتو مخکښے زمونږ عزت
او قدر زیاتولو دِ پاره فرمائی ـ اُولٰئِکَ یُبَدِّلُ اللّٰهُ سَیِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ط ـ
(دا هغه خلق دی چه الله دِ دوئی بدئ په نیکیو بدلوی) ـ یعنی بے عقله
دی هر څومره ګستاخی که اوکړی الله تعالےئ معاف کوی او دا بے توجهه
حاضری ئے هم په صحیح حاضرئ کښے لیکی او هم هغه هومره قدر ئے کوی څومره
چه دِ باقاعده حاضرئ پکار وو ـ نو اوس تاسو اووائی چه بادشاه یوځل چا
سره دومره مهربانی اوکړی ـ آیا دِ هغۀ به بیا دومره همت اوشی چه بیا دربار
کښے دِ حاضرئ په رښت داسے ګستاخی اوکړی ـ هغۀ خو به دِ شرمه سر ټیټ
ښوله وی په خپل کښے به ډوب وی او ستړکے به نشی پورته کولے ـ

لیکن مونږ داسے غټ احسان فراموش یو چه یوځل نه په سو ونږ ځله
بلکه روزانه پنځه ځله دا جفاکاری کوو ـ او پروا مو هم نۀ وی ـ او بیا کمال
داده چه په دے لنډی بوچی عمل بلکه بدعملئ کښے هم کمے کړو ـ په دے
غلطه طریقه هم فرائض نشی پوره کولے ـ بلکه په حرامو کښے هم مبتلا یو ـ

صاحبانو اخۀ خو شرم پکار دے ـ الله نه اوویریږئ ـ عبادت کښے کمۀ
راولئ ـ اوحرامو نه ځان بچ کړئ ـ خصوصاً دِ رمضان مبارک په دے پاکه
میاشت کښے خو ډیر احتیاط پکار دے ـ دا خو شو دِ منکراتو حال ـ اوس په رمضان

Scanned with CamScanner

کښے یو خاص عبادت بل دے - دِ رمضان په میاشت کښے څنګه چه دَ روزے -
روژه دَه - دغه شان دِ شپے قیام یعنی تراویح دی - په دے کښے دا سے
ګړبړ کیږی چه په شمار خو شل رکعته پوره کړی - لیکن داسے چه هسے -
ټیټ پاس کیږی - دِ قیام - رکوع - سجدے پکښے هیڅ پته نه لګی - او قرأت
خو مسلسل ګړګړ اواز وی دِ ټکی بیلتون پکښے نه کیږی - څوک په دے پوهه
نشی - چه امام الحمد کله اووے او سورت ئے کوم ورسره مړکړے کړو - صرف
دِ شروع الله اکبر او دِ رکوع او سجدے الله اکبر اوریدے شی - او په دے
اواز خلق پورته ښکته کیږی نوره څه پته نه لګی -

دِ یو حافظ متعلق مشهوره وَه چه چرته به ترڅه ځائے هیر شو نو څه -
ټکے به ئے دِ ځانه راجوړ کړو او مخکښے به روان شو - خلقو به وے قرآن ورته
دیر ښه یاد دے هلته وخطا کیږی نه لکه دِ دریاب روان وی - لاحول ولا
قوة الا بالله - صاحبانو ځان ته دهوکه مه ورکړئ - چه دا دومره خواری کوئی
نو یو خو منټه نور هم ورسره کړئ دا شل رکعته په قلاره په طریقه پوره -
کړئ - چه خواری مو په ځائے شی -

دے طرف ته خو دا ظلم کیږی - او بل طرف ته دا ظلم کیږی چه څنه حافظان
په ختم کښے په یو یو رکعت کښے پنځه پنځه یا شپږ شپږ سپارے وائی - مقتدیان
ورته ټینګیدے نشی دیر تر اوتښتی - ختم نه چه تراویح هم ورپسے پاتے شی
دیر یو څو دے ته کینی ګپ شپ لګوی - چه پوټے شی چه امام رکوع ته څی -
نو زر نیت اوتړی او رکوع کښے شریک شی - دا موږ دے که ټرټے دی -
خدائے نه اووړیږی ما څه پورے توقے مه کوئی - نبی کریم صلی الله علیه وسلم
خو امامان دِ اوږد قرأت نه منع کړی دی - ارشاد دے - بَشِّرًا وَلَا تُنَفِّرًا
وَ یَسِّرًا وَلَا تُعَسِّرًا - (خوشخبری ورکوئی او خلق بد دِله کوئی مه او اسانی راولئی
سختی مه کوئی) - البته که دِ چا دیر شوق وی په نفلو کښے دِ وائی خو مره چه

Scanned with CamScanner

ویلے شی پکښے به هغه کسان شریکیږی دِ چا چه شوق وی او طاقت وی خو په دے کښے هم چه امام نه علاوه درے کسانو نه زیات نهٔ وی ځکه چه په جمع نفلو ته فقهاؤ مکروه ویلی دی (ځکه چه په دے کښے دِ نفلو اهتمام دِ فرضو نه زیات نشو) عامے تراویح دا سے پکار دی چه هرځوک ځے کولے شی (لکه چه روزانه یو سیپاره ویلے شی- میاشت کښے ختم اوشی او څهٔ خاص تکلیف پکښے نهٔ وی)-

ځنه خلق په یوه شپه کښے ختم کوی شبینه ورته وائی- په دے کښے دِیر بدعتونه کیږی اول خو ورکښے نیت ښهٔ نهٔ وی- دِ نوم ناموس او نمائش خیال پکښے زیات وی- دِ امام هم او دِ انتظام کوونکو او دِ اوریدونکو هم- امام خو دِ صفت په طمع وی- چه سلام کړځولو سره سَمْ ځے په مخ- خلق صفتونه شروع کړی نو دِیر خوشاله شی- حالانکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی- په مخ صفت کوونکی ته خوله کښے خاورے واچوئ- او حافظ صاحب په خوشالیږی- بلکه ځنه حافظان خو اسے تیز روان وی چه که چرته خطا شی نو فاتح نه فتح هم نهٔ اخلی چه وخت په خرابیږی- (اوکه مونځ خراب شی نو خیر دے)-

انتظام کوونکی خو قرآن شریف اوریدو ته هډو جوړیږی نه- دِ چا ځے شربت په فکر کښے وی- (حضرت فرمائی) زهٔ دا پتوس کړم چه اصل مقصد قرآن شریف اوریدل دی که چا ځکل؟ البته چا ځے که اوریدو ته تازه کیدو دِ پاره وی نو خیر دے- لیکن چه خلق دِ قرآن اوریدو نه اوباسی نو بیا- پکښے څهٔ خیر دے- انتظام کوونکی خو اصل کښے دا ثابتول غواړی چه دے جات کښے دِ فلانی جات نه ښه انتظام دے- نو که دا اجتماع چا یو څکلو دِ پاره وَه خو ټهیک دَه- اوکه قرآن شریف اوریدو دِ پاره وَه نو هغه خو پاتے شو داخو شو دِ امام او انتظام کوونکو حال پاتے شو اوریدونکی- نو هغوئی کښے خو

Scanned with CamScanner

اکثر هډو قرآن شریف اوریدو ته راغلی نهٔ وی - چائے څکلو او خوږو -
خوړلو ته راغلی وی دِ تلاوت په وخت کښے څوک ناست وی څوک ملاست
وی کپ لګوی چه پوټے شی چه امام رکعت ختموی رکوع ته ځی نو په منډه
نیت اوتړی او رکوع کښے شریک شی - اوس تاسو په انصاف اووائی چه دا
مونځ دے که مونځ پورے بوقے دی - خو هغه عاجزان هم څهٔ اوکړی په -
کهنتو کهنتو څوک او دریدے شی دِ ورځے ٹے کارونه کړی وی ستړی ستومانه
وی - دِ دومره ډیر اودریدو طاقت ٹے چرته وی - او که څوک ولاړ وی هم
دا حال ٹے وی - که امام ټکے غلط کړی نو فتح نشی ورکولے چه وخت خرابیږی
څنه حافظان خو دا ظلم کوی چه امام پسے ٹے نیت نهٔ وی تړلے - مانځه کښے -
شریک نهٔ وی هسے ناست وی - چه حافظ غلطی اوکړی نو دِ هغے ځائے نه
اواز ورکړی - اوس که حافظ فتح واخلی نو مونځ ٹے مات شو - اوکه وا نخلی
او غلطی سخته وی هم مونځ ٹے خرابیږی - نو چا چه په ځان تکلیف تیر کړے وی
دِ هغو خواری هسے برباده شوه - دا تړلے خبرے چه راجمع شی نو اوس تاسو
اووائی چه دا مونځ دے که لوبے - دِ ظاهری احکامو په لحاظ ٹے هم مونځ صحیح
نشی هغه خشوع خضوع او حضورِ قلب خو ورپاته -

په شپینه ختمونو کښے بل خرابے دادے چه اکثر و خلق تراویح بل ځائے کړی
وی دلته ٹے په نفلو کښے اوری - او نفل په امامتئ کول مکروه دی -

او ډیر حافظان دا ظلم کوی - چه په مانځه کښے شریک نهٔ وی هسے ناست
وی - او امام حافظ ته په قصد غلطه فتحه ورکوی چه خطا ٹے کړی - آیا
دا قرآن پورے خندا او ګستاخی نهٔ دَه؟

غرض دا چه په شپینه ختمونو کښے بے شماره بدعات او منکرات دی - البته که
څوک شپینه ختم په اخلاص سره کولے شی چه دِ دے فساداتو نه پاک وی نو بنهٔ
کار دے خو دِ دے بیا عام اعلان نهٔ دے پکار چه دِ ریا او بدعاتو نه پاک شی

Scanned with CamScanner

دِ څوکسو مخلصانو که واقعی همت وی نوچه څومره قرآن اوریدے شی دومره دِ اوری۔ خامخا ختم پوره کولو دِ پاره دِ په حافظ زوراچول او تلاوت کښے تیزی او کړبړ دِ نهٔ کوی او دِ ټولو بدعاتو او منکراتو نه دِ ځان بچ ساتی چه ثواب ئے پوره اوشی۔

په رمضان کښے یو بدعت دا هم دے۔ چه ځنه کسان حافظ کورته بوځی چه زنانه هم تراویح کښے لکه دِ سړو په شان قرآن واوری۔ په دے کښے۔ دِ یرے خرابئ دی۔ یوخو داچه دِ نامحرم پردی سړی اواز اوریدل بنځو ته جائز نهٔ دی۔ لکه چه دِ نامحرم بنځو اواز سړو ته اوریدل جائز نهٔ دی او رواج دا دے چه ښهٔ خوش اوازه حافظ خوښولے شی اوحافظ صاحب ئے م شاید چه سړو ته دا سے په شوق او نهٔ ویلے شی څنګه په خوندخوند چه ئے دِ بنځو په جمع کښے وائی۔

نو اول خو داچه بنځو ته دِ امامتئ دِ تړیحو ضرورت نشته۔ ځان ځانته کول ورته پکار دی۔ چه چاته څومره قرآن یاد وی هغه دِ ورکښے وائی۔ که نهٔ وی په لنډو سورتونو ورته کافی دی۔ حافظ راوستل خو هسے ګناه په بیه اخستل دی۔ دِ اجنبی دِ اواز اوریدو نه علاوه بله ګناه پکښے دادہ چه اکثر حافظان په اجرت راوستے شی۔ او په عبادت اجرت اخستل حرام دی۔ (عبادت هغه کار دے چه خالص دِ الله دِ رضا دِ پاره اوشی کوم کار چه پیسو دِ پاره اوشی۔ هغه نهٔ عبادت او نهٔ ئے څهٔ ثواب شته) دغه شان دِ مړی په قبر چه تلاوت دِ پاره په اجرت حافظ کیښولے شی دا هم ناجائز دی او بے فائدے تاوان دے په اجرت چه کوم تلاوت اوشی دِ هغے ثواب نشته نو حافظ به مړی ته څهٔ اوبخښی او مړی ته بِه په څهٔ فائده اورسی۔

په دے باندے ځنه خلق دا اعتراض کوی۔ چه تاسو په مونږ مړی ته ثواب رسول بندوئی۔ مونږ وایو په اجرت دِ تلاوت ثواب نشته نو مونږ په چا-

Scanned with CamScanner

ثواب کله بند کړو - دِ ثواب رسولو طریقه دا ده - چه اول څوک په اخلاص
یو نیک کار اوکړی (مالی یا بدنی عبادت) چه دِ هغه ثواب اوشی - نو هغه
بیا دِ دے ثواب مالک دے هرچاته چه غواړی بخشی هغهٔ ته رسی - لیکن په
اجرت باندے چه کوم تلاوت اوشی هغه دِ اللّٰه دِ رضا دِ پاره نهٔ وی پیسو
کتلو دِ پاره دے نو دانهٔ عبادت دے او نهٔ غواړی ثواب شته چه چاته غواړی
اوبخشی -

که څوک اووائی چه دلته دوه کاره دی یو تلاوت کول چه دِ ثواب
کار دے او بل ورباندے پیسے اخستل چه گناه ده - نو ثواب خو غواړی مړی
ته اوبخلے شو - اوگناه غواړی دِ حافظ په ذمه پاتے شوه په توبه به غواړی ورته
اللّٰه تعالے معاف کړی - نو بیا هم دَ مړی فائده خو اوشوه ، دِ دے جواب دا
دے - (اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّاتِ) - دِ عمل ثواب دِ نیت دِ اخلاص په بنیاد دے
نو دِ تلاوت کوونکی نیت ته کتل پکار دی - چه دے تلاوت ثواب گتلو دِ پاره
کوی - که مال گتلو دِ پاره - که نیت غواړی دِ مال گتلو وی نو دِ داسے تلاوت
ثواب نشته - (ثواب دِ هغے کار دے چه دِ اللّٰه دِ رضا دِ پاره اوشی) نو بل
ته به غواړی څهٔ ورکړی - او داخړ کنده خبره ده - چه حافظ په قبر تلاوت مال
گتلو دِ پاره کوی - دِ ثواب نیت غواړی نهٔ وی - خنه حافظان داوائی چه دا اجرت
نهٔ دے - موبږ ورسره څهٔ شے مقرر کړے نهٔ وی - خوچه څهٔ زموبږ قسمت
وی هغه را اورسی - سبحان اللّٰه څهٔ عجیبه دلیل دے - اَلْمَعْرُوْفُ کَالْمَشْرُوْطِ دا خو
فیصله شوے خبره ده (یعنی څهٔ چه عام رواج وی هغه داسے دے لکه چه مقرر
شوے وی) دِ څړ کنده ولو غواړی څهٔ ضرورت نهٔ وی - حقیقت خو دا دی که حافظ
صاحب ته په څهٔ طریقه پته اولگی چه دے ختم کښے مال نشته نو تراویح به
هم نیمگړی پریدی او به تښتی - دغه شان که دا پته ورته اولگی چه دے
قبر باندے تلاوت کښے مال نشته - نو هغے قبر ته به نو دے هم ورنشی - دے

Scanned with CamScanner

نه ثابته شوه چه ختم کښے د حافظانو نیت مال گټل وی - ثواب گټل نه وی.
البته که یو حافظ داسے وی چه واقعی ئے په ذهن کښے د مال گټلو خیال نه وی او په دے جمات کښے د مال ورکړلو رواج هم نه وی - او بیا ختم کړلو نه پس حافظ صاحب ته څوک څه تحفه ورکړی نو څه حرج ئے نشته - بلکه د هغه د ضروریاتو په اندازه ورکول ضروری دی لیکن په دے طریقه چونکه د ورکړے عادت نشته - په دے وجهه د حافظانو نیتونه خراب شی که بے وینا خلق د هغوئ ضروریات پوره کولے نو خرابے به ولے راتلو - داهغوئ زمونږ خپل قصور دے -

د یو طالب واقعه ده چه یو جمات کښے سبق د پاره دیره شوے وو خو محله کښے ورته چا روټئ نه وه مقرر کړی - دیر په تکلیف ئے وخت تیرولو ناڅاپه په دے محله کښے یو مالدار سړے مړ شو - تر څلویښتئ د هغه وظیفه مقرر شوه - په خلقو خوښ وو - خو په هغه اختر وو - چه د اځلویښتی پوره کیده ترهغے یو بل مړ شو - دغه شان د طالب کار روان شو - یوه ورځ - جمات کښے د محلے یو هوښیار سړی اعلان اوکړو - دے طالب ته وظیفه مقرر کړئ کنی نوله محله به دغه شان تیره کړی چه د یو څلویښتی پوره کیږی بل به مړی - الله تعالے کله کله دغه شان هم خپل مخلوق ته د رزق انتظام کوی که موږ خپله د حقدارو خبر اخستے نو داحال به ولے وو - نوله هفته خو طالبان نهره تیره کړی د جمعے په شپه ورته دوهره حلوا او نور خیرونه راشی چه هغوئ ئے سنبالولے نشی - څه اوخوری او څه ورنه خراب شی - که موږ څوک صرف د جمعے د شپے د خیرات نه منع کړو نو واټی چه خیرات را باندے بندوی - موږ وایو چه یواځے د جمعے په خیرات کار نه کیږی - په هفته کښے یو - شپه خوراک او نوره هفته نهره تیرولو باندے کار نه کیږی - نوله عمر ئے خو اخلئ نو داخبره هیڅوک نه اوری - اصل خبره دا ده چه دین سړه مینه نشته - د دین خادمان

Scanned with CamScanner

(طالبان) ورته سپک ښکاری څه قدر ځے ورسره نشته او په ځان ځے څه
حق نه منی - په دے وجهه اکثر ډجات مؤذن او خادم هغه مات کړ ډبنده
وی چه بل هیڅ کار نشی کولے او د هغه م د مړی د خیر خیرات نه علاوه
بله څه آمدنی نه وی - نو هغے عاجزانو هم دغے ته ستړکے ښولی وی - او ښځونه
ځے خراب شی - وائی چه د محلے د مړی د کټ څادر چا یو بل غریب ته ورکړے
وو نو مؤذن ورسره په جنګ اوکړو - ورته ځے اووے چه په سوالونو
خو چرته داورز راشی نو هغے کښے م تاسو څه حق بل ته ورکړئ - آخر زه به
څه کوم - واقعی پیرانتظار نه پس چرته داورز راځی - لیکن په دکښے د مؤذن
غریب څه قصور دے - د محلے د خلق قصور دے چه بے د مړی نه ځے خبر
نه اخلی - که د محلے مالدار و کسانو دا کولے چه کله څانته جامے جوړوی نو په
اوړی ژمے یو یو جوړه ځے جات د پاره هم اخستے - دغه شان چه چلهخوری
نو په وار وار ځے یوه ورز جات ته روټئ مقرر کړے وے او دغه شان
نور ضروریات هم ټول کال ځے د جات خبرګیری کولے - نو امام یا مؤذن به
د مړی خیرات ته انتظار نه کولو - او بیاکه ځے په رمضان کښے امام صاحب ته
ویلے چه مفت ختم راته اوکړه نو هغه به په خوشالئی کولو - اوس داخو زمونږ
قصور دے چه هغوئ مو اجرت اخستو ته مجبور کړی دی - بے د دے نه ځے -
بل څه آمدن نشته -

غرض داچه په اجرت باندے د قرآن ختم جائز نه دے - او حافظان کوونو
ته بوتلل هم جائز نه دی - هرکله چه بنځے جات ته راتلو نه منع کړے شوی دی
نو د شریعت مقصد دا دے چه بنځے نر دے سره کډوډ کیږی نه جدا جدا د وی
چه شریعت په نه دے ضروری کړے نو بیا ورته حاجت څه دے چل کورکښے
په لنډو سورتونو تراویح ورته کافی دی - بل خرابے پکښے دا دے چه د
بنځو دے ختم اوږدو ته د محلے ټولے بنځے یو کور ته راغونډے شی - نو

Scanned with CamScanner

یوخو دِ هغوئ په چائے شربت دِ کورواله بے ضرورته تاوانی شی-بل بنځے بے ضرورته دِ کورنه اوځی- او بنځه ته بے ضرورته دِ کورنه وتل جائز نۀ دی.

بل بدعت په رمضان شریف کښے دِ ختم په شپه په جمات کښے خوارۀ ویشل اوچراغان کول دی-ځنے خلق وائی دے چراغان کښے دِ اسلام شوکت بنکارہ کیږی - موبنز وایو آیا دِ اسلام دِ شوکت بنکارہ کولو دِپارہ په کال کښے یوه شپه مقرر دَه - په نورو درے سوه خلور شپیته شپو کښے دِ اسلام دِ شوکت بنکارہ کوو ضرورت نشته-که دِ اسلام شوکت په چراغان بنکارہ کیږی خو پکار وَه چه ټول کال په هرجمات کښے چراغان کیدے - ځکه چه دِ اسلام دِ شوکت اظهار خو هروخت ضروری دے-

یاد لرئ دِ اسلام شوکت په دے خبرو کښے نۀ دے - دِ حضرت عمر رضی الله عنه هغه واقعه به مواوریدلی وی - چه دِ عیسایانو نه دِ بیت المقدس دِ قبضے اخستو دِپارۀ شام ته تلو- نو پیوند لګیدلی جامے ئے اغوستی وی یو ورسره- نوکروو اویوه اوښه وَه - وار په وار به په دواړه سوریدل بنار ته چه- نژدے شو نو دے وخت کښے دِ نوکر دِ سورلئ وار وو- خلیفه ئے مهار ونیولے وو پیاده روان وو- دِ اسلامی لښکر کوم کسان چه ئے استقبال ته راوتی وو هغوئ عرض اوکړو-چه دے وخت کښے په دے وطن کښے دِ اسلام خلیفه ته دِ اسلام دِ شان شوکت اظهار پکار دے (چه په عیسایانو رعب پریوځی) که زیاتی څۀ نۀ کوئ نو پیاده خوهۀ وځئ په اس سوریدل خوضروری دی - حضرت عمرؓ چه دِ هغوئ دِ خاطره په اس سور شو - او اس په توپونو په ځوروان شو- نو هغه تر فوراً کوز شو- چه زهۀ ته ږم لوئ راځئ او نفس ږم خرابیږی (الله اکبر) څۀ عجیبه خلق وو- نفس ئے هروخت په قبضه کښے ساتلو دِ شان شوکت دِ اظهار په جواب کښے ئے هغوئ ته اووے - نَحْنُ قَوْمٌ اَعَزَّنَا اللّٰهُ بِالْاِسْلَامِ -

(مونږ هغه قوم یو چه الله تعالے دِ اسلام په برکت عزت راکړے دے) دِ - مسلمانانو عزت دِ اسلام په احکامو پوره پوره عمل کولو کښے دے - په بنوجامو او چراغان کښے نۀ دے - خپل اسلام کامل کړئ عزت به مو زیات شی -

تاسو خپلو کړیوانو نو کښے اوګورئ - که دِ بلے محلے څوک نیک سړے دِ تاسو دِجات بنائسته کولو دِ پاره څۀ اوکړی - نو آیا هغه به په تاسو بنۀ اولګی ؟ (هرګز نه) بلکه دا به خپل سپکاوے اوګڼئ - نو معلومه شوه چه دا خرچ صرف دِ نوم ناموس دِ پاره دے - که دِ اسلام شان شوکت دِ پاره وے نو هرچا چه کړے وے دا مطلب په حاصلیدو - دِ خفګان څۀ خبره پکښے نۀ وَه - چه دا سے دَه نو دا اوس یقینی اسراف دے - دِ اسراف مطلب دے - دِ څۀ نیک غرض نه غیر بل څۀ دِ پاره مال لګول - او غرضونه څوڅو قسم دی ځنه جائز دی او ځنه ناجائز دی یو غرض دے ضرورت پوره کول یعنی هرکار په دا سے اندازه کول چه دِ هغے نه په کمه کښے نۀ کیږی - مثلاً په جامه کښے اول[1] خو ځان پټول دی دا په ډیره ارزانه کپړه هم پوره کیږی - دویم[2] ضرورت پکښے دِ یخنئ نه بچ کیدل دی - دا په یخنئ کښے بے دِ مالوچو دِ برسټنے نه نۀ پوره کیږی - بلکه په ډیره یخنئ کښے په لږو مالوچو هم کار نۀ کیږی - بنه درنه برسټن پکار وی - شریعت دِ دے - اجازت هم ورکړے دے - په دریم[3] درجه کښے بنائسټ (زینت) دے - نو په یو اندازه دا هم جائز دے - اِنَّ اللّٰهَ جَمِیْلٌ یُحِبُّ الْجَمَالَ - (الله تعالے بنائسته دے او بنائسټ ئے خوښ دے) نو بنائسټ هم جائز دے په دے کښے بیا طبیعتونه - مختلف دی - څوک خو بنائسټ تَحْدِیْثٌ بِالنِّعْمَةِ دِ پاره کوی - یعنی چه الله تعالے - توفیق راکړے دے نو اظهار ئے پکار دے - دا نیت محمود (بنۀ) دے - او څوک ئے په دے نیت کوی - چه محتاجانو ته معلومه شی چه دا سړے صاحب توفیق دے - نو خپل حاجتونه به ترغواړی او دے به ئے پوره کوی - دا نیت هم بد نۀ دے - او یو نیت دِ عاشقانو وی - حضرت حاجی صاحب رحمة الله علیه به فرمائیل

عاشقان زینت دے دِ پاره کوی چه خپل محبوب (الله) ته ښکاره شی
دِ دے نه ښهٔ نیت بل نشته - سبحان الله - خُان ښائسته کوی چاته - خپل مالک
ته - او دِ زینت یوغرض مباح دے یعنی نهٔ ښهٔ نهٔ بد - هغه صرف خپل خُان
خوشالول دی - چه دِ نمائش او نوم ناموس خیال پکښے نهٔ وی - دے کښے هم
څهٔ حرج نشته - البته دِ زینت یوغرض مذموم یعنی خراب دے هغه دِ ریا
یعنی نمود ونمائش دِ پاره زینت دے - یعنی چه خلق ئے اووینی اوورته مالدار
یا عزتمن ښکاره شی - دا نیت خراب دے - نو دا دِ ختم په شپه جمات کښے -
چراغان دِ نمائش دِ پاره کیږی - نمائش خو هسے هم گناه دَه - لیکن دلته ورسره یو
بله خبره هم مرګی دَه چه هغه پیره خرابه دَه - بد کار که څوک بدګنړی او
په څهٔ وجهه ئے کوی منع کیدے نو نشی خُان ورته په ګنهګار ښکاری اوخُان
ملامته ګنړی نو دا دومره غټه ګناه نهٔ دَه څومره چه یو بَدْ کار څوک ښهٔ ګنړی
او دِ ثواب په نیت ئے کوی - دا دومره غټه ګناه دَه چه کفر ته نږدے دَه
دلته غضب دا دے - چه دا دِ نمود ونمائش چراغان خلق دِ دین کار ګنړی اودِ
ثواب په نیت ئے کوی - نو اوګورئ خبره کوم خوا لاړه - بیا بل خرابے پکښے
دا دے چه دِ چراغان انتظام کوونکی څله دِ قرآن شریف اوریدو نه پاتے شی
په انتظام کښے مشغول وی - بلکه دِ مونځ ګوذارو مخکښے دِ صفونو په مینځ کښے
ګرځی اودِ یو صف نه بل صف ته دِ مونځ ګوذارو په څټونو تړپونه وهی - په
حدیث شریف کښے راغلی دی څوک چه دِ خلقو په څټونو مخکښے صفونو ته دانګی
دِ قیامت په ورځ به لکه دِ پُل په زمکه واچولے شی اوخلق به ورباندے تیریږی
نو دا دومره ګناهونه دِ چراغان په وجهه راغلو چه بالکل بے ضرورته شے -
دے - هیڅ ضرورت ورته نشته - (حضرت فرمائی) زهٔ وایم چه قرآن شریف او
احادیثو باندے به عمل څوک کوی - یهودیان که عیسایان - دِ مسلمانانو خو په
عمل ته نیت نشته - صرف په لاس کښے ئے ښولے دے فخر دِ پاره - څهٔ بعیده نهٔ

Scanned with CamScanner

دَه - که دِ قیامت په وړځ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دِ الله په دربار کښے فریاد اوکړی - رَبِّ اِنَّ قَوْمِیْ اِتَّخَذُوْا هٰذَ الْقُرْآنَ مَهْجُوْرًا (اے خُدایه ربه خُما قوم خو په دے قرآن عمل ترک کړے دے) په ریښمینه کسوړه کښے نغښتے تاخ کښے کیښو باندے او کله کله زبانی تلاوت کولو او بنکلولو باندے کارنهٔ کیږی دے کښے چه کوم احکام دی په هغے خان پوهه کول او وړ باندے عمل کول ضروری دی -

یو بل غلط کار دِ ختم په شپه خوارهٔ ویشل دی - خوارهٔ ویشل خپله څهٔ ناکاره کارنهٔ دے - خو دلته وړسهٔ نور ے بدئ مرکزی شی - خوارهٔ که یوکس په خپل خرچ سا وړی نو مقصود مے نوم ناموس ریا او فخر وی - او که په چنده کیږی نو چنده سا غونډولو کښے نه وړ زیاتے کیږی دِ اکثرو کسانو زړهٔ نه وی دِ شرمه یا دِ غوښتونکو دِ وجاهت نه په ورکولو مجبورشی - دا داسے دَه لکه په زور چه دِ چانه واخستے شی - امام غزالیؒ صفا لیکلی دی چه داسے چنده په غَصَب کښے شمیرَه دِ زړه په خوښه او په رضا او مینه که لږه چنده وی - الله تعالے پکښے برکت نه پیږ واچوی لیکن نن صبا څرک دِ دے خیال نه ساتی - اکثر جمات جوړولو دِ پاره دغه شان دِ وجاهت په زور چندے راغونډولے شی - او بیا په فضول زیب زینت لګولے شی کوم چه په خپل ذاتی مال هم منعَ دے (په اسراف کښے راځی) مضبوطیا منعَ نهٔ دَه بنه پوخ کار اوکړئ چه مصاله مے بنهٔ وی - کاریګړے پوخ استاذ وی - چه زړ بیا مرمت نهٔ غواړی - لیکن په رنګ روغن او ګل کارئ خرچ کول فضول کار دے اسراف دے او ناجائز دے څهٔ داسے ضروری شے نه دے چه خلقونه ورته په زور چنده واخستے شی - ضرورت دِ پاره خو کچه جمات هم کافی دے - بلکه مانهٔ کښے اصل مقصود خشوع او خضوع او حضور قلب دے - دا په کچه جمات کښے بنهٔ کیږی په نقش ونګار کښے تصور کدو شی - حضور نهٔ برابریږی - دغه حال دِ ختم دِ خوږ

Scanned with CamScanner

هم دے - انتظام کوونکی خو ئے قرآن شریف اوریدونه هلته وجوړیږی نه او دِ مونځ ګذار و خیالات ګډوډ وی - که ګډه ډیره جوړه شی - نو په مانځه کښے هم وسوسه دا فکر وی چه خوابنډ به پوره شی او که نه - په دے فکر کښے ور - باندے مونځ ګډوډ شی -

علاوه دِ دے نه اکثر ورته دِ بهر نه داسے خلق راشی چه مانځه کښے نه وی شریک تراویح ئے بل جمات کښے کړی وی یائے نه وی کړی - خو خوږو پسے راغلی وی - جمات کښے په انتظار ناست وی او دِ دنیا خبرے کوی شور ئے جوړ کړے وی - په مونځ ګذارو مونځ ګډوډ کړی په جمات کښے د نیاوی خبرے او شور کول غټه ګناه ده - او سبب ئے داخوابنډ دی - که دا نه وے نو قلاړه قلاړی به وه -

په مولود شریف کښے دِ خوږو ویشلو هم دغه حال دے - اصل کښے دِ - خوږو ویشلو شروع دِ خوشالئی اظهار اودِ شکر ئے په طور شوی وه چه الله تعالے دِ ختم پوره کولو اویر سنت ادا کولو توفیق راکړو - نو په دے طریقه خو دا یو جائز کار وو - لیکن شرعی قانون دادے چه یو مباح یا مستحب کار وسوسه که یو ناجائز کار او ترلے شی نو بیا دِ هغے ترک کول واجب شی - که مطلب خیرات کول وی خو پکار ده چه دِ خوږو دارقم چا محتاج غریب ته ورکړے شی چه دِ هغه په څه ضرورت پوره شی - دا یقینی دِ ثواب کار دے او هیڅ خرابے وسوسه ترلے نشته نه به په مانځه کښے حرج راتلو - او نه به دِ جمات بے ادبی کیده - خو داسے څوک کله کوی - ځکه چه اصل مقصود خیر خیرات نه وی نوم ناموس وی - او په دے طریقه نوم ناموس نه کیږی -

نو خپله په خوږو ویشلو کښے څه بدی نشته - خو نورے بدئ ورپورے ترلے دی - دا بدئ ترلرے کول گران دی - که څوک سه خواص دِ خان اصلاح - او کړی هم دِ عوامو اصلاح خو په پنځوس کاله کښے هم گرانه ده په دے وجهه به

Scanned with CamScanner

فی الحال بالکل دِ بندولوحکم ورکولے شی۔

که خوابنه ویښل جائز ووخوتور ورسره ناجائز کارونه مرکری شوی دی۔ جائز او ناجائز چه جمع شی نو ترجیح ناجائز ته ورکولے شی۔ یعنی هغه کار ناجائز کښلے شی۔ او دِ هغے کار ترک کولوحکم ورکولے شی۔ چه څۀ موده ترک شی او دِ خلقو دِ عمل او عقیدے اصلاح اوشی۔ نو بیابه په جائز طریقه اجازت ورکړے شی۔

دِ نورو رواجونو سره سره زمونږ په کلو کښے (یعنی تهانه بهون سره نزدے کلو کښے) دا رواج هم دے چه دِ واړۀ اختر په شپه څۀ خوراک نۀ کوی۔ تر صباختو انتظار کوی۔ دِ سحر دِ اذان په وخت اعلان اوشی چه روژے ماتے کړئ۔ گویا دِ دوئ په خیال دِ اختر شپه په رمضان کښے شمیرلے شی دِ شپے روژه وی۔ نبی کریم صلے الله علیه وسلم خو فرمایئلی دی۔ اَفْطِرُوا لِرُؤْیَتِهٖ۔ (دِ اختر دِ میاشتے په لیدو روژے ماتے کړئ) او دوئ دِ میاشتے دِ لیدو نه پس هم یوه شپه په رمضان کښے زیاتوی۔ دوئ والئ مونږ خو په حدیث شریف عمل کړے دے ما بنام مو روژه ماته کړی وَه۔ بیا دِ اختر په شپه خوراک خوڅۀ ضروری نۀ دے۔ که چا اوکړو اوکه اونۀ نکړو۔ مونږ وایو دا خبره صحیح دَه دِ اختر په شپه خوراک څۀ ضروری نۀ دے۔ لیکن صباختو سره ستاسو دا اعلان چه روژے ماتے کړئ۔ دِ دے دلیل دے۔ چه ستاسو په خیال تراوڅۀ روژه وَه۔ داعقیده غلطه دَه۔

څنه خلق والئ دِ عقیدے اصلاح پکار دَه۔ لیکن دِ اختر په شپه خوراک کول ضروری نۀ دے۔ مونږ وایو واقعی ضروری دِ عقیدے اصلاح دَه۔ لیکن په تجربه ثابته دَه چه څو پورے دِ عمل اصلاح نۀ وی شوی دِ عقیدے اصلاح نۀ کیږی څنکه چه دِ عقیدے اثر په عمل پریوځی۔ دغه شان دِ عمل اثر په عقیده پریوځی۔ ترڅۀ موده خپله خما دا خیال ووچه دا څنه عالمان دِ کوندے په نکاح۔

Scanned with CamScanner

دومره زوروله ورکوی- دِ کونډے نکاح جائز خودَه- ناجائز ورته هیڅوک نه وائی- لیکن بیا راته ثابته شوه چه ترڅو ور باندے پیره موده عمل نه وی شوے- دِ زړۍ نه غوښته نه اوځی- نو دِ رواجونو خلاف عمل ضروری دے- صرف دِ عقیدے دِ اصلاح کوشش کافی نه دے-

موږ دا نه وایو چه دِ اختر په شپه خوراک خامخا فرض دے- لیکن دِ رواج ماتولو او دِ خلقو دِ زړۍ دِ غوښتے ویستلو دِ پاره که په عمل اوښی نو ښه دے دِ ثواب کار دے- دِ دے مثالونه په احادیثو کښے موجود دی-

دِ شرابو د حرمت حکم چه نازل شو- نو په ابتدا کښے نبی کریم صلے الله علیه وسلم په هغه روغنی لوښو کښے چه اکثر به پکښے شراب جوړیدل- مسلمانان دِ- نبیذ جوړولو نه منع کړل بیا څه موده پس ئے اجازت ورکړو- ارشاد دے كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ فَانْبِذُوْا فِيْهِمَا فَاِنَّ الظَّرْفَ لَا يُحِلُّ شَيْئًا وَّلَا يُحَرِّمُهُ-(ما تاسو په حنتم او دباء کښے دِ نبیذ جوړولو نه منع کړی وئ- خو اوس پکښے جوړولے شئ- لوښے نه څه شے حلالولے شی او نه ئے حرامولے شی)- حضور صلے الله علیه وسلم فرمائی- ما تاسو په دے دوولوښو کښے نبیذ جوړولو نه منع کړی وئ- خو اوس اجازت درکوم- نبیذ پکښے جوړولے شئ- او دِ اجازت علت هم څپله شئ فرمائی- چه دِ یو لوښی په وجهه نه څه شے حلالیږی او نه حرامیږی په شروع کښے دِ منع کولو وجهه صرف داوَه- چه په دے لوښو کښے شراب جوړولے شو- نو که په دے کښے دِ نبیذ جوړولو اجازت وے نو دِ شرابو نه به ئے په زړۍ کښے پوره نفرت نه وو پیدا شوے- بیا چه خلق دِ شرابو نه پوره منع شو- او دِ شرابو نه نفرت ئے په زړونو کښے پوخ شو- بیا ئے دِ دے لوښو د استعمال اجازت ورکړو- دغه شان حال دِ دے رواجونو هم دے- چه که دِ ظاهری اباحت په وجهه اجازت ورکړے شو- نو دے سره چه کوم خراب کارونه تړلی شوی دی دے نه به وړته بچ کیدل گران شی-

Scanned with CamScanner

نو دِ اصلاح صحیح طریقه ئے دا دَه چه څۀ موده دِ پاره بالکل بند کړے شی - اوا خبره چه اصل شے دِ جاری وی خو دِ خزانی اصلاح دِ اوشی - زمونږ په عقل کښے نۀ راځی - هرکله چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم خپله دِ اصلاح دِ پاره دا طریقه خو بنه کړی دَه نو موږ څوک یو چه بله طریقه روا نه کړو - او هرکله چه دا طریقه عقلاً مفیده او نقلاً ثابته دَه نو بیا دِ بلے طریقے خو بنولو حاجت څۀ دے -

یو رواج دِ اختر په ورځ دا م دے چه خامخا مینځے (سَوَیّان) پخولے او کورونو کښے ویشلے شی - شاید چه دے رواج کښے مصلحت دا وو - چه دِ وړوکی اختر په ورځ دِ اختر دِ مانځۀ نه مخکښے څه ښ خوراک کول مستحب دی - او مینځے پخول اسان دی دِیره خواری نۀ غواړی - نو حقیقت خو ئے دا وو - خو اوس خلق فرضونه رسولے دے په کور ونو کښے استولو حقیقت هم دا دے چه دِ خوشالئ په موقع دوستان او خپلوان یا دول او یو بل ته تحفے استولو سره محبت زیاتیږی نو یو بنه کار دے - اصحابو به هم دِ وادۀ ځلمی ته تحفے استولے - دِ اختر ورځم دِ خوشالئ ورځ دَه نو دوستانو او کاونډیانو ته تحفه استولو به محبت زیاتولو لیکن اوس خو دا رواج دِ محبت په ځائے بغض او خفګان زیاتوی - ځکه چه دِ رواج په وجهه ورنه دِ تحفے په ځائے قرض او بدل جوړ شوے دے - یو کور ته استولو کښے ضرور دا نیت وی چه دِ هغے کور نه به هم څۀ راځی - او که یو ځل رانشی نو بیا هیڅ نۀ ورځ استوی - نو دا خو تحفه نۀ شوه - بدل او قرض شو - تحفه کښے دا شرط دے چه بلا عوض وی - نو خامخا ځان دِ بل قرضداری کولو کښے څۀ خیر دے ؟

نو په تحفه او هدیه محبت زیاتیږی خو هلۀ چه په اخلاص وی - چه رسم او رواج ترجوړ شی - نو په تجربه ثابته دَه چه دِ مینے په ځائے د شمنی او خفګان جوړ وی -

او ګورئ دِ پیر او مرید تر مینځ به دومره اخلاص او محبت وو - چه هال

Scanned with CamScanner

څۀ چنل سړ به ئے هم پیر نه قربانولو او په خوشئ به موریدځۀ هدیه د پیر په خدمت کښے پیش کوله - هغے به د دوارو مینه زیاته کړه - لیکن اوس چه د نذرانے رسم مقرر شو نو اخلاص ختم شو - چرته چه د پیر د راتلو اوازه شی نو موریدان په کوټو نو کښے پټیږی چه شکرانه به غواړی - نو اوکورئی چه پیر ته هدیه ورکول څومره د محبت شے وو - د رواج په وجهه دے حد ته اورسیدو -

ځما یو دوست پیره موده چنل پیر حضرت حاجی امداد الله رحمة الله علیه ته خط نه وو لیکے - ما تر پتوس او کړو چه دا ولے ؟ نو وے چه لاس م تش وو چه څۀ شکرانه بیکلو جوګه شم نو خط به ورته اولیکم - ما ورته او وے چه دا فکرونه مۀ کوه - بے شکرانے ورته چنل حال احوال واستوه - هغۀ داسے پیر نۀ دے اوکورئی دا غریب څومره موده د فیض نه محروم شو - نو ځنه کار و نه چنله بد نۀ وی خو د نورو خبرو په وجهه خراب شی -

غرض داچه کومو بنو کارونو سره چه څۀ خرابئ مرکړے شوی وی - هغے نه بچ کیدل پکار دی - د لږ بنۀ والی په وجهه ورسره مرکړی خرابونه ستړکے پټول نۀ دی پکار -

د وعظ خلاصه داشوه چه روژه نیسئ نو ورسره د حرام رزق نه او د دروغو غیبت وغیره کنا هونو نه هم ځان ساتئ - د روژے آداب زده کړئ او کورونو کښے زنانه وته ئے هم اوښیئ - چه کنا هونو نه ځان بچ نۀ کړئ نو د هغے روژے څۀ خیر دے ؟ رسول الله صلے الله علیه وسلم فرمایلی دی - د یو روژه دار او مونځ کو ذار دا سے دی چه بے د لوږے تندے او ستومانئ نه ورته بل څۀ شے د الله سره نشته - (یعنی ثواب ئے نۀ کیږی) - اوچا چه ئے د حقونو خیال او ساتلو نو حضور صلے الله علیه وسلم فرمائی - دا مونځ او روژه به ئے د قیامت په ورځ شفاعت کوی

Scanned with CamScanner

او عذاب نه به ئے بیخ کوی - نو چا سره چه دوه سرکاری حفاظت کوونکی موجود وی دِ هغهٔ په خلاصئ کښے څهٔ شک دے - الله تعالے دِ موږ ټولو ته په اخلاص دِ نیک عمل توفیق راکړی - آمین -

وصلی الله تعالے علی خیر خلقه سیدنا محمد وعلی آله واصحابه اجمعین -

برحمتک یا ارحم الراحمین -

Scanned with CamScanner

دعوات عبدیت

دویم جلد

دویم وعظ

حُقُوقُ القُرآن

(دِ قرآن شریف حقونه)

له ارشاداتو دِ حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه

Scanned with CamScanner

تعارف

داوعظ حضرت تھانویؒ دِ میرٹھہ سنار پہ مدرسہ خادم العلوم۔
کنبے پہ ۱۲/ ربیع الثانی (۱۳۲۲۔ھ) کنبے دِ کل پہ ورز پہ دوہ نیمے
گھنٹے کنبے کہے دے او مولوی حکیم مصطفیٰ بجفوری قلمبند کرے دے۔

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ نَحْمَدُہٗ وَ نَسْتَعِیْنُہٗ وَ نَسْتَغْفِرُہٗ وَ نُؤْمِنُ بِہٖ وَ نَتَوَکَّلُ عَلَیْہِ وَ نَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَ مِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّھْدِہِ اللّٰہُ فَلَا مُضِلَّ لَہٗ وَ مَنْ یُّضْلِلْہُ فَلَا ھَادِیَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنْ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ لَا شَرِیْکَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا مَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَ رَسُوْلُہٗ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَعَلٰی آلِہٖ وَ اَصْحَابِہٖ وَ بَارِکْ وَسَلِّمْ ۔ ا

اما بعد = فاعوذ باللہ من الشیطان الرجیم بسم اللہ الرحمن الرحیم ۔ اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰھُمُ الْکِتٰبَ یَتْلُوْنَہٗ حَقَّ تِلَاوَتِہٖ اُولٰٓئِکَ یُؤْمِنُوْنَ بِہٖ وَ مَنْ یَّکْفُرْ بِہٖ فَاُولٰٓئِکَ ھُمُ الْخٰسِرُوْنَ ط ۔ دا دِ سورت بقرہ یو آیت دے ۔ ترجمہ ئے دادہ ۔ (ھغہ کسان چہ موبنز کتاب ورکړے دے ۔ ھغوئی ئے تلاوت کوی خنګہ چہ دِ تلاوت حق دے ۔ م دا کسان ایماندار دی ۔ اوچاچہ پہ دے کتاب ایمان رانہٗ وړو ھغوئی تاوانیان دی) دِ دے آیت مبارک دوہ تفسیرونہ دی او پہ دواړو کښے شریکہ خبرہ دِ تلاوت کورونکی صفت دے ۔ پہ دے آیت مبارک کښے دِ کتاب نہ مراد ۔ تورات دے ۔ او ظاھرہ دَہ چہ دِ تورات دِ تلاوت ښہٗ والے م پہ دے دے چہ تورات کتاب اللہ دے ۔ او قرآن پاک پہ ټولو اسمانی کتابونو کښے افضل دے نو دِ ھغے تلاوت خو بہ زیات دِ صفت قابل وی ۔ چونکہ دِ دینی مدرسے متعلق بیان دے نو ځکہ م وعظ دِ پارہ دا آیت مبارک خوښ کړو ۔ دِ دے آیت مبارک نہ دِ قرآن کریم دِ تلاوت او دِ ھغے دِ حقونو ادا کولو فضیلت ثابتیږی ۔

او ظاھرہ دَہ چہ دِ تلاوت حق ادا کول ۔ بے دِ قرآن شریف دِ تلاوت

Scanned with CamScanner

زده کولو او دِ هغے په حقونو پوهیدلو نه نه کیږی - او دا بے دِ مدرسو نه نشی زده کیدے - او دِ ضروری شی موقوف علیه هم ضروری وی - لکه نه چل باورچی نه او وائے چه کټوئ پخه کړه نو دِ دے مطلب دا نه دے چه تشه کټوئ پسے اور بَل کړه - بلکه مطلب ئے دادے چه غوښه سبزی او ضروری مساله وغیره راوړه او دا ټول پکښے واچوه کټوئ پخه کړه - نو اوس دے نه پس که باورچی نور کارونه پریدی او دے څیزونو اخستو پسے بازار نه لاړ شی - نو دا دِ تا دِ حکم تعمیل دے - او که هغه دمره ته په وخت عذر پیش کړی چه صاحب ما سره خو دِ پخلو سامان نه وو - نو څه رم پخکړے وے - تاخو ماته دِ څیزونو اخستو نه وو ویلی تش دِ کټوئ پخلو دِ ویلی وو - نو نه به ئے داعذر هرگز اونه منے - ورته به اووائے بے وقوفه دِ کټوئ پخلو دِ وینا مطلب هم دادے چه ضروری څیزونه راوړه او کټوئ پخه کړه - دِ کوم کار حکم چه څوک چاته اوکړی - دِ هغے په ضمن کښے دِ هغے متعلق دِ ضروری څیزونو حکم هم اوشی -

نو موږ ته چه دِ قرآن شریف دِ تلاوت او دِ تلاوت دِ حق ادا کولو حکم شوے دے - نو دِ دے مطلب دادے چه قرآن شریف لوستل زده کړئ او په حقونو ئے ځان پوهه کړئ - نو بیا چه ئے دِ تلاوت څنګه حق دے دغه شان - تلاوت ئے کوئ - غرض داچه قرآن شریف لوستل زده کول ضروری دی او په هر مسلمان فرض دی -

او کوږئ الله تعالے دا نه دی فرمائلی چه دِ قرآن شریف تلاوت کوئ بلکه فرمائی یَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ - (څنګه چه دِ تلاوت حق دے دا سے تلاوت ئے کوئ) نو دِ حق لفظ ئے ورسره زیات کړو - په تش تلاوت او حَقَّ تِلَاوَتِهٖ - کښے دیر فرق دے - لکه څوک چه چاته اووائی دا کار مبنه سوچ سمجهه سره اوکړه نو دِ دے مطلب دا وی چه تش په کار کولو نه خلاصیږے - بلکه هغه کار په-

Scanned with CamScanner

صحیح طریقه دِ هرقسم نه پوره او مکمل پکار دے - نو په دے کښے په نفس - حکم باندے زیاتی تاکید دے -

نو په آیت مبارکۂ کښے چه په نفس تلاوت زیاتی تاکید او شو نو په زده کولو کښے ئے م زیاتی تاکید راغلو - یعنی صرف دومره قدرے زده کول کافی نۂ دی چه معمولی تلاوت په اوشی - بلکه داسے کامل زده کول غواړی چه دِ تلاوت حق ادا شی -

اوس په دے پوهیدل پکار دی چه دِ تلاوت حق څۂ دے دِ کوم چه موبز ته حکم شویدے - یادلرئ = دِ کوم څیز فضیلت چه بیان شی یادِ کوم څیز بدی چه بیان شی - دِ دے دواړو په حقیقت څان پوهه کول ضروری وی - دلته دِ قرآن شریف دِ تلاوت فضیلت بیان شویدے نو دِ دے په حقیقت څان پوهه کړئ.

الله تعالے موبز ته څنل کتاب راستولے دے چه جامع دے دِ اَوْرَادو[۲] حکایاتو - او احکامو[۳] - اوجامع دے دِ دیرو خوبیو - قطع نظر دِ دے خوبیونه صرف دِ الله تعالے کلام کیدل ئ دا تقاضا کوی - چه موبز غوندے بے حیثیته بندیان دِ ورته اونۂ رسی - چرته دِ احکم الحاکمین پاک کلام - او چرته موبز کنهکار بندیان دِ یو معمولی دنیاوی بادشاه دربار کښے حاضرئ دِ پاۂ خلق څومره څومره کوشښونه او محنتونه کوی - څومره تاوانونه کوی - عمرونه تیرشی او په دربار کښے دِ سلام موقع په لاس ورنشی او که چرته څوک خوش نصیبه ور سۂ یو څو خبرے اوکړی نو څان څومره اوچت ګڼی - او په ټوله بادشاهئ - کښے ئے څومره قدر عزت کیږی - چه دِ فانی دنیا دِ فانی بادشاه دِ کلام داشان او شوکت او قدر عزت دے نو دِ بادشاهانو دِ حقیقی بادشاه - او احکم الحاکمین دِ کلام شان به څومره اوچت وی - که دِ یو بادشاه سۂ خبرو کولو دِ پاره څلور پنځه کاله کوشش پکار وی نو دِ احکم الحاکمین سۂ خبرو دِ پاۂ خوسوونه کاله هم کم دی خو نه هغه دیر مهربانه او رحیم وکریم بادشاه دے هغۂ موبز ته څنل

Scanned with CamScanner

کلام راستولے دے او عام اعلان ئے کړے دے - چه دِ چاځهٔ وخت خو ښه وی
دِ دے کتاب په واسطه ما سره خبرے کولے شی - هیڅ پابندی نشته او صرف
اجازت نه بلکه حکم ئے کړیدے چه خامخا ورزکښے پښه خُله ما سره خبرے کوئی.
اوس چه موږ عاجز بندیان چیلے کمزورئ او نالایقئ ته اوګورو او
دِ خداوند کریم لوئے شان ته اوګورو - نو آیا دا حکم خالص فضل اورحمت
او عظیم احسان نهٔ دے؟ هم دِ دے نه معلومه شوه چه دِ قرآن شریف دِ تلاوت
حقیقت الله تعالے سره همکلامی دَه - اوس په دے آیت کښے موږ ته دِ خبرو
کولو چل بنئ چه خبرے کوئی خو په طریقه او ادب سره ئے کوئی - دِ یَتْلُوْنَهٗ
حَقَّ تِلَاوَتِهٖ جمله دِ ترکیب په لحاظ خبریه دَه خو دِ معنیٰ په لحاظ انشائیه دَه
حُکم چه غرض اوغایت ئے دِ تلاوت دِ حق ادا کولو حکم دے - نو اوس چه دِ
تلاوت حقیقت معلوم شو چه دِ رب العزت سره خبرے کول دی نو په دے پوهه
شئ چه دِ قرآن شریف حقونه دوه قسمه دی - ظاهری او باطنی - دِ شریعت
دِ تعلیم نه قربان شم چه صرف دِ یو عمل حکم نهٔ کوی - بلکه دِ هغے ظاهری او
باطنی حقونه هم راته بنئ او باطنی حقونه ئے دِ ظاهری نه زیات ضروری دی
لکه دِ مور پلار دِ ادب په حق کښے ظاهری حکم دے - وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ
الذُّلِّ - یعنی دِ هغوئ مخکښے عاجزی او پستی اختیار کړئ - په ظاهری شکل
کښے په خبرو کښے په کیناستو پاڅیدو کښے غرض داچه په هره طریقه ورنه
خان کم کنړئ په هیڅ کار کښے ورنه خان اوچت مهٔ کنړئ - داخوئے ظاهری
حق شو - باطنی حق ئے سبحان الله - څنګه په یو لفظ ادا کړے دے - مِنَ الرَّحْمَةِ
یعنی چه دا ظاهری نرمی او پستی دِ رحمت په وجهه وی - دِ رحمت معنیٰ -
دَه دِ زړهٔ نرمی - یعنی دا ادب اوخدمت ئے دِ زړهٔ نه کوئ څنګه چه ئے
په ظاهره ادب کوئ دغه شان چه ستاسو په زړونو کښے ئے هم قدر عزت
وی - او دا دِ نرمئ اظهار صرف په ظاهره نهٔ وی زړه کښے موهم دِ هغوئ

لوئ او خپله عاجزی وی- قرآن شریف نه هیڅ ضروری خبره نۀ پاتے کیږی
د کلام الله د تعلیم هم دغه خوبی دَه - د چا فلسفی په کلام کښے داخوبی نشته-
او صرف په دے ټے نۀ دَه پریښی ورپسے ارشاد دے- وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا
كَمَا رَبَّيَانِيْ صَغِيْرًا- (د زړۀ نه ټے خدمت کړه او دا دعا غواړه چه یا الله په
دوئ دواړو باندے رحم اوکړے لکه دوئ چه زۀ په مینه وړوکے لوټے کړے
یم) مخکښے خو د هغے حقونو حکم وو- کوم چه نور خلق هم لیدے شی- په هغے
کښے م دا حکم وو- چه صرف ظاهری بناوټ مۀ کوئ - د زړۀ نه ټے حق
اداکوئ - اوس د یو داسے حق حکم دے چه په هغے د الله تعالے نه علاوه
بل څوک نشی خبر پیدے- یعنی دا دعام ورته کوئ - دا هم یو باطنی حق دے
بلکه دا پیر پټ دے- نو گویا حقونه درے شو- ظاهری - باطنی او ابطن
یعنی ظاهری پټ او پیر پټ - او د درے واړو د ادا کولو حکم دے- دغه
شان د قرآن شریف د تلاوت هم درے حقونه دی- دا به د یو مثال په-
ذریعه ښه واضح شی-

فرض کړئ- یو بادشاه چاته چنل یو شاهی فرمان ورکړو چه دا ماته
واوروه- نو د هغے د لوستو په وخت به د هغه دا حال وی چه اول خو به ټے
یو یو لفظ د صفا صفا ویلو کوشش کوی چه چرته بادشاه د ما لوستل ناخوښه
نۀ کړی - او معنیٰ او مطلب ته به ټے م ښۀ فکر کوی یو په دے چه په معنیٰ
پوهیدو نه بغیر د عبارت لهجه صحیح نشی ادا کیدے - بل په دے وجهه
چه هسے نه بادشاه رانه چرته تپوس اوکړی چه د دے جملے څۀ مطلب شو؟
چه صحیح مطلب بیان کړے شم او د بادشاه مخکښے شرمنده نشم - بل به ټے
دا حال وی چه د دے قانون د احترام او په دے احکامو د عمل کولو به ټے
پخه اراده وی او چنل هیڅ کیفیت نه به دا ظاهرول نۀ غواړی چه په دے
کښے به رانه چرته سستی اوشی - بس د چنل حالت نه او خپلو خبرونه به

دا ظاهروی چه زهٔ به په دِ قولو نه زیات عمل کوم - او زهٔ به دِ قولو نه زیات تابعدار یم - دا مثال په ذهن کښے او ساتئ دغه حال دِ قرآن شریف دِ تلاوت هم دے درے مرتبے دی - یو مرتبه ئے ظاهری دَه چه هر هر حرف ئے بیل بیل صفا صفا صحیح په چنل مخرج کښے ادا کړے شی - دویمه مرتبه ئے باطنی دَه چه دِ الفاظو په معنیٰ پوهیږی - دا نه چه لکه دِ طوطی په شان تش الفاظ وائی او په مطلب ئے نه پوهیږی - دریمه مرتبه ئے ډیره پته یعنی اَبطَنُ دَه چه په دے احکامو دِ عمل کولو پخه - اراده ئے هم وی - غرض داچه دِ تلاوت درے حقونه دی - (۱) ظاهری حق یعنی الفاظ په خپلو مخرجونو کښے صحیح ادا کول چه تجوید ورته ویلے شی - (۲) باطنی حق یعنی په معنیٰ ئے پوهیدل (دریم ابطن حق) یعنی ورباندے دِ عمل کولو پخه اراده - دا حق ډیر پټ په دے دے - چه دا خالص دِ بنده او الله ترمینځ معامله دَه - دِ نیت نه بل څوک نهٔ خبریږی - په دے درے واړو کښے ظاهری حق مقدم دے - یعنی اول دِ الفاظو صحیح ادا زده کول ضروری دی - بیا معنیٰ زده کول دی - او دریم زیات مؤکد دے یعنی په معنیٰ پوهیدو نه پس ورباندے عمل کول ضروری دی -

نو په وجود کښے اول ظاهری حق دے - او تولو نه ضرور دریم حق دے یعنی عمل په دے دواړو کښے دِ صورت او حقیقت تعلق دے - اصل شے حقیقت دے - لیکن هغه دِ دے ظاهری صورت په جامه کښے څرګندیږی - او دواړه ضروری دی - ځکه چه حقیقت بے ظاهری صورته باطل دے (یعنی موجود کیدے نشی) او صرف ظاهری صورت بے حقیقته عاطل دے (یعنی بے فائدے) نو ثابته شوه چه عمل هم یو ضروری حق دے - صرف دِ مستحب په درجه کښے نهٔ دے - اوګورئی الله تعالے فرمائی - اُولٰئِکَ یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ - (څوک چه دِ تلاوت حق ادا کوی هم داکسان ایماندار دی) یعنی دِ دولئ ایمان کامل

Scanned with CamScanner

دے۔ او دِ ایمان کمال حاصلول واجب دی۔ او داکمال په عمل موقوف دے۔ او موقوف علیه دِ واجب واجب وی نو عمل واجب شو۔ او دِ کامل ایمان حاصلولو وجوب دِ دے آیت نه صفا ثابت دے۔ ارشاد دے۔ یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهٖ۔ (اے ایمانداروالله نه او ویریږئ څنګه چه دِ ویریدو حق دے) په دے کښے صیغه دِ اَمْرْ یعنی حکم دے او اَمْرْ دِ وجوب دِ پاره وی۔ که څوک او وائی چه دا آیت مبارک په دے بل آیت مبارک باندے چه وَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ۔ (الله نه ویریږئ څومره چه موږ وس کیږی) باندے منسوخ شوے دے۔ نو په دے پوهه شئ چه نسخ هله منلے شی چه دِ دواړو مینځ کښے تعارض وی۔ دلته تعارض نشته بلکه دا دویم آیت مبارک دِ اول آیت وضاحت کوی۔ هرکله چه دا اول آیت نازل شو۔ نو اصحابو ته دا۔ معلومه وَه چه اَمْرْ کله کله علی الفور وی۔ یعنی سمدستی تعمیل غواړی او کله۔ عَلَی التَّرَاخِیْ وی۔ یعنی سمدستی تعمیل نه غواړی مهلت پکښے وی نو اصحابوسره دا خطره شوه چه هسے نه دا امر علی الفوری نو دیر پریشان شو۔ ځکه چه دا اوچته مرتبه سمدستی حاصلول دیر ګران وو۔ نو الله تعالے دِ هغوئ دِ پریشانئ ختمولو دِ پاره په دویم آیت کښے دا تشریح اوکړه۔ چه دا امر علی الفور نه دے ځکه چه تکلیف په قدر دِ توفیق دے تاسو په قدر دِ توفیق کوشش کوئ۔ تدریجاً به رو رو آخری مرحله حاصله کړے شئ۔ نو دلته نسخ نشته بلکه دویم آیت دِ اول آیت معنیٰ مراد دی بیانوی۔ دِ هغے تشریح کوی۔ اګرچه اَمْرْ د علی الفور په معنیٰ اخستو دِ پاره دِ قرینے ضرورت وی۔ لیکن اصحابو باندے دِ خشیت غلبه وَه۔ په دے وجهه ئے دا خیال اوکړو چه هسے نه علی الفور وی۔ چا څه ښه ویلی دی۔

با سایه ترا نمی پسندم
عشق است و هزار بدګمانی

Scanned with CamScanner

(زهٔ په دے هم خفه کیږم چه تاسره ستاسو رسے ولاړ وی- په عشق ومحبت کښے زړکونه بدګومانی پیدا کیږی نو ماته دِ ډیرے مینے په وجهه ستاسو رسے هم چنل رقیب بنکاری تاسره زم نزدے نهٔ دے خوښ) په دے طریقه دے دواړو آیتونو کښے تطبیق کیږی - دِ نسخ منلو ضرورت نشته - نو دِ قرآن شریف دادرنګم حق یعنی په احکامونځ عمل کول هم واجب دے - صرف دِ مستحب په درجه کښے نهٔ دے - لیکن وجوب علی الفور نهٔ دے - تدریجاً دے - یعنی - مسلمانیدو سره دا نهٔ فرض کیږی چه دِ قرآن شریف په ټولو احکامو- اودِ شریعت په ټولو جزئیاتو یکدم پوره پوره عمل اوکړے شی چه کامل ایمان - حاصل کړی - بلکه دا فرض کیږی چه دِ زده کولو او عمل کولو کوشش دِ شروع کړی - تدریجاً به کامل ایمان حاصل کړی او نهٔ دا فرض کیږی چه دِ قرآن شریف درسے واړه حقونه دِ سمدستی ادا کړی- بلکه مهلت ورکړے شوے دے چه په چنل وَس دِ کوشش کوی - تر دے چه کامل حقونه ادا کړے شی- البته دا جائز نهٔ دی چه بنده غافل کینی دِ زده کولو کوشش هم نهٔ کوی -

(۱) غرض داچه ظاهری حق نځ دادے چه ترتیل سره اووایلے شی- لکه چه ارشاد دے وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا - (او دِ قرآن تلاوت ترتیل سره کوو) دِ ترتیل معنیٰ حضرت علی رضی الله عنه دا بیان کړی دَه - تَجْوِيْدُ الْحُرُوْفِ وَمَعْرِفَةُ الْوُقُوْفِ - (حروف په چنل چنل مخرج کښے په صحیح طریقه ادا کول او دِ - او درید وځایونه پیژندل) اوس دِ دے تشریح په رښا کښے موبز ته په چنل حالت غور پکار دے - زموبز حال خو دادے چه دِ جاتو نو امامان هم- تجوید سره تلاوت نشی کولے - دے نه هډو خبر نهٔ وی چه دِ حروفو صحیح مخارج چرته دی اوحروف صحیح څنګه ادا کیدے شی - دِ امامانو چه منتخب کسان وی دا حال دے - نو دے نه اندازه لګیدے شی چه دِ عامو مسلمانانو نو به څهٔ حال وی - نو دِ وړنبی حق یعنی ظاهری حق ادا کولو خرنځ دا حال دے

Scanned with CamScanner

حالانکه نبی کریم صلے الله علیه وسلم اصحابؓ ته ترتیل بنیلے دے - اوهغه روایات اصحابو نه موبز ته رارسیدلی دی - او دِ حضور بنیل دِ الله بنیل دی -

گفتهٔ او گفتهٔ الله بود

گرچه از حلقوم عبدالله بود

(دِ هغهٔ کلام دِ الله کلام دے اګرچه دِ الله دِ بنده دِ خولے نه وتے دے) خکه چه الله تعالے خپله فرمائی - وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى (هغه دِ خپل نه خبرے نهٔ کوی هغه چه خهٔ وائی دِ الله طرف نه ورته وحی شوی وی) نو په دے طریقه موبز ته دا ترتیل الله تعالے بنیلے دے آیا داعظیم نعمت دِ دے قابل دے چه دا سے برباد کړے شی ؟ الله تعالے خو ډیره ښه فرمایلے دے چه دِ نبی کریم صلے الله علیه وسلم ارشاد دے - لَا يَزَالُ طَائِفَةٌ مِّنْ أُمَّتِي مَنْصُورِيْنَ عَلَى الْحَقِّ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ - (خپل دِ امت یوه حقه ډله به همیشه کامیابه وی دِ چا مرکړتیا پریښول به ورته نقصان ونشی رسولے) په دے ډله کښے هغه کسان راځی څوک چه دِ دین علمی یا عملی خدمت کوی - په دے کښے دِ قرآنی علومو تجوید تفسیر وغیره خدمت هم دے - نو په دے کښے دِ خادمانو دِ قرآن دِ قائم ساتلو وعده ده - الله تعالے دِ قرآن شریف دِ حفاظت وعده کړی ده - ارشاد دے - إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهٗ لَحَافِظُوْنَ - (موبز ذکر یعنی قرآن نازل کړے دے او موبز نے خپله حفاظت کوو) - ظاهره ده چه الله تعالے قرآن شریف دِ حفاظت دِ پاره په صندوق کښے بند جندره کړے نهٔ دے - الله تعالے نے حفاظت په دے طریقه کوی - چه خپل خاص نیک بندیان دِ قرآن شریف دِ خدمت دِ پاره مقرر کړی نو همیشه به دا سے وی چه دِ نیکانو بندیانو یو ډله به دِ تصوف په کار کښے مشغول وی او یو ډله به دِ فقهے، حدیث او تفسیر زده کولو او دِ دے علومو درس ورکولو کښے مشغول وی - دغه شان یو ډله به دِ قرآن شریف الفاظو

Scanned with CamScanner

یادولو دِ هغے معانی او تفسیر بیانولو او دِ الفاظو دِ صحیح ادا کولو یعنی تجوید او قرأت په کار کښے مشغول وی۔ په دے طریقه الله تعالے۔ دِ قرآن شریف دِ الفاظو او معنیٰ دواړو دِ حفاظت انتظام کړے دے۔لیکن مسلمانان تردومره غافله دی چه په زړو کسانو کښے یو قاری هم نشی مونتے۔ تجوید طرف ته هډو توجهه نشته۔ که څوک وړته څهٔ توجهه کوی هم دومره قدرچه ضاد دِ دال مشابهه دے که دظ په دے کښے بحثونه کوی او کتابونه پکښے لیکی اولویو لویو عالمانو نه فتوی حاصلولے شی۔ او اکثر خو دالیدے شی۔چه دا تپوسونه دِحق معلومولو دِ پاره نهٔ وی۔ بلکه دِ چلے ولے دِ پرے دِ پاره وی۔ او دغه وجهه دَه چه فتوے دِ ارے لرے عالمانو نه را غوښتے شی۔ او دومره توفیق دِ۔ هیچا نهٔ وی چه خپله لږ تکلیف اوکړی فیصلے دِ پاره یو بنهٔ قاری ته لاړ شی۔ دِ هغهٔ نه دِ ضاد صحیح ادا خپله واوری نو فیصله به اوشی چه دِ دال په شان دے که دِ ظ په شان۔(حضرت تهانوی فرمائی) دِ فتوے په جواب کښے به عالم څهٔ لیکی خو دِ کتابونو نه به دِ ضاد دِصحیح مخرج بیان اولیکی۔ لیکن دِ هغے مخرج نه دِ ادا کولو طریقه خولیکلے نشی هغه خو دِ قاری نه په اوریدو معلومیدے شی۔ او دومره تکلیف څوک کوی نه چه قاری ته لاړ شی۔ اوجګړه فیصله شی مفتی خو دِ مخرج بیان لیکلے شی دِ مخرج ادا دِ لیکلو شے نهٔ دے دِ اوریدو شے دے۔

گرمصور صورت آن دِ لُستان خواهد کشید
لیک حیرانم که نازش را چسان خواهد کشید

(که مصور دِ هغے محبوب تصویر جوړکړے شی نو وی به۔ لیکن دانشی کیدے چه دِ هغهٔ دِ نازو ادا عکاسی اوکړے شی) قرأت او موسیقی دواړه دِ اوریدو شے دے۔ لیکلے نشی۔

څنه کسان تجوید نهٔ زده کولو دِ پاره داعذر پیش کوی۔ چه موږ پوره

Scanned with CamScanner

قاریان کیدے شو نه - هسے ځان کړولو کښے څهٔ خیر دے - دا هسے یو بهانه دَه - موبز دا منوچه په قرأت کښے هرڅوک دِ حفص یا عاصم په شان نشی کیدے - لیکن په فقهه کښے خو هم هرچانه امام ابوحنیفهؒ امام شافعیؒ نشی جوړیدے نو بیا فقهه ولے وائ - او په دنیا کښتلو کښے خو هم هر سړے کروړ پتی یا بادشاه نشی جوړیدے نو بیا دِ دنیا کښتلو کوشش ولے کوئ - په دے کښے دا قانون ولے نهٔ چلوئ چه پوره کمال نشو حاصلولے نو هسے کوشش بے فائدے دے - اصل خبره دادَه - چه کمال حاصلول فرض نهٔ دے - دِ کمال حاصلو کوشش او په قدر دِ ضرورت دِ الفاظو تصحیح فرض دَه - که تاسو کوشش اوکړو نو په قدر دِ ضرورت تصحیح به ضرور اوکړے شئ - اوکه اونشی هم څهٔ فکر نشته - ستاسو غاړه به خلاصه شی - الله تعالے سړه به په قاریانو کښے اولیکلے شئ - ځکه چه بنده په وَس پرے دے - او تاسو خپل وَس اوکړو - کامیابی شرط نهٔ دَه کوشش شرط دے -

همینم بس که داند ماه رویم
که من نیز ازخریداران اویم

(ما دِ پاره دومره کافی دَه - چه محبوب م خبر شی چه زهٔ م دِ صفهٔ په طلبګارو کښے یم) - (حضرت تهانویؒ فرمائ) ما دِ خپلو مشرانو نه اوریدلی دی - چه طلب - مقصود دے وصول مقصود نهٔ دے ظاهره دَه چه اختیاری شے نهٔ دے - او الله تعالے چا باندے طاقت نه زیات بار نهٔ اچوی -

۲۸

او صاحبانو ضروری قرأت دومره گران شے م نهٔ دے - ټول ټال خو الته ویشت ټکی دی - که څوک دِ ورزے یو یو ټکی زده کوی - دِیا شتے نه کم کښے ضروری تجوید حاصلولے شی - لیکن خبره دادَه چه شیطان په ساؤ کښے - ناست دے کله چه څوک اراده کوی - شیطان ورته وائ جناب عالی قاری کیدل څهٔ دا سے اسان کار نهٔ دے چه ته به م قاری شے - بس هغه دِ شیطان

خبره اومنی او داخیال پریدی - او کله چه ورته څوک وائی قرآن دِ صحیح کړه نو وائی بوډا طوطی خبرے نشی زده کولے - په ماباندے اوس وخت تیر دے زموبن (ژبه په قرأت نه اوړی موبن ورته وایو بنه ته څوبوډا طوطی - شوے - نو په بچو دے څه چل شویدے - په هغو خوئے صحیح کړه کنه -

یاد لرئ - څنګه چه دِ اولاد په مور پلار داحق دے چه جسمانی او اخلاقی تربیت ئے اوکړی - دغه شان ئے وربانده دِ دین دِ ضروریاتو نه خبرول هم ضروری حق دے دِ دین یو ضروری کار دِ قرآن شریف صحیح زده کول هم دی - که داحق موادا نه کړو - او هغوئ بیا قرآن شریف غلط لوستو یا ئے قرآن شریف نشو لوستے - نو غاړه به په ستاسو نیولے وی - اودِ قیامت په ورځ به ئے درنه تپوس کیږی - لیکن دِ دے ذمه وارئ خیال د پیرکم خلق ساتی - همت خوئے پریده چه اوس هغه تش په نوم لوستل هم د پیرکم خلق چلوچوته جنائ - بلکه د پیرخو وائی په دے دِ وړو دماغ خرابیږی - بیاسکول کښے انګریزی نشی ویلے - (حضرت تهانویؒ فرمائی) ماچله دِ څوکسانو نه اوریدلی دی چه په معنیٰ ئے نه پوهیږو نو تش الفاظو زده کولو کښے څه خیر دے - موبن وایو بے پوهے تش الفاظو ویلو کښے ئے هم خیر نشته - حدیث شریف دے دِ قرآن شریف دِ تلاوت په هر هرلفظ الله تعالے لَسْ لَسْ نیکی ورکوی - (یعنی دِ لسو نیکیو برابر اجر ورکوی) - داځه لږه فائده ده؟ بل حدیث شریف دے مَا اَذِنَ اللّٰهُ لِشَیْئٍ مَّا اَذِنَ لِنَبِیٍّ یَتَغَنّٰی بِالْقُرْآنِ - (الله تعالے هیڅ خبرے ته داسے نه متوجهه کیږی لکه چه دِ نبی آواز ته متوجهه کیږی کله چه په خوش اوازئ قرآن شریف وائی) - دلته دِ نبی ذکر اتفاقی دے او دِ تَغَنِّیْ تفسیر چله په احادیثو کښے په خشوع سره راغلے دے - نو آیا یو بنده ته دِ الله تعالے متوجهه کیدل څه کمه فائده ده -

(حضرت تهانویؒ فرمائی) - یو واقعه رایاده شوه - ځامرشد حضرت حاجی

Scanned with CamScanner

امداد اللہ صاحب مهاجر مکی یوه ورز دهلی کښے چرته روان وو- په یودکان کښے چا رساله دردنامه (کومه چه دِ حضرت تصنیف دے) په خوش آواز ئی او شوق سره وے- حضرت هم وړته څهٔ ساعت او دریدو او دیر خوشال شو غرض داچه هر مصنف په دے خوشالیږی چه دِ هغهٔ تصنیف څوک په شوق سره وائی- قرآنِ پاک دِ حق تعالے کلام دے نو چه څوک ئے په شوق سره په صحیح طریقه وائی الله تعالے وړته متوجهه کیږی او خوشالیږی چه ځما بنده ځما کلام په مینه او شوق وائی نو آیا دِ الله تعالے دا خوشنودی حاصلیدل څهٔ وړهٔ خبره ده؟ دِ یو معمولی دنیاوی حاکم خوشالولو دِ پاره خلق څومره څومره تکلیفونه برداشت کوی او څومره څومره تاوانونه کړی- دِ هغوئی دِ خوشالئی دِ پاره چیل دیر کار رونه خراب کړی خو بیا ئے هم یقین نهٔ وی چه حاکم به خوشال شوے وی- نو آیا دِ احکم الحاکمین خوشالی حاصلیدل وړهٔ فائده ده- دا خو یر عظیم نعمت دے خو چه څوک په پوهیږی- دیر خلق په دے غلطئ کښے مبتلا دی چه په معنیٰ پوهیدونه بغیر تش دِ الفاظو تلاوت وړته بے فائدے بنکاری په دے وجهه ئے داخیال دے چه وړو باندے قرآن شریف زده کول بے فائدے دی- نو اکثرو خلقو نه ناظره هم پاتے شوه- او څوک خوش قسمته که په چیلو وړو ناظره زده کړی هم دِ حفظ رواج خو تقریباً ختم شو او ناظره هم که څوک زده کړی بیا ئے څهٔ موده تلاوت پریدی- نو هیر شی تر بیا ئے وړته لوستل گران شی- غرض داچه قرآن شریف ته اکثرو خلقو شا کړی ده او وظیفو ته ئے زور ورکړے دے څوک دِ تسخیر عمل زده کول غواړی او څوک دِ دسیت غیب په تلاش کښے دی څوک دِ اولاد دِ پاره تعویذ غواړی او څوک بل څهٔ ضرورت دِ پاره- غرض داچه وظیفے او تعویذونه وړته اسان کار بنکاره شویدے- دِ دنیا هر کار په دے طریقه کول غواړی- هوښ وایو که دِ دنیا هر کار په تعویذونو او وظیفو کیدے نو بیا نوکریو او مزدوریو ته څهٔ حاجت دے- کور په

Scanned with CamScanner

قلار کینئ- دِ خوراک څکاک څهٔ فکر هم مهٔ کوئ- بس په وظیفه به موخیته مریږی - وادهٔ ته هم ضرورت نشته - په تعویذ وتو به مو اولاد کیږی-او په کور به درته بے تکلیفه مال دولت هم رارسی - بس مزے به کوئ-څنه خلق وائ دِ خدائے په کلام کښے غټ تاثیر دے - غټ غټ کارونه پهکیدے شی- موږ وایو دے کښے هیڅ شک نشته- لیکن که تاسو غور اوکړو - نو ښ صباچه کوم خلق دا کاروبار کوی- دِ هغوئ په زړهونو کښے دِ الله تعالے دِ کلام هیڅ عظمت نشته - صرف ناراستئ او بے کارئ په مخه راځستی دی هلکوانه کښے ځے وخت برباد کړے دے - نهٔ ځے علم کړے دے او نهٔ ځهٔ هنر زده کړے دے - اوس چه په سَړئ ذمه واری راغله نو افسوس او ارمان کوی- کوم خواچه کوری هر کار ورته گران بنکاری بس داعملیات ورته اسان کار بنکاری چه دِ چنل اختیار شے دے نهٔ پکښے څهٔ امتحان شته نهٔ دِ افسرانو منتونه خوشامندے نهٔ سخت محنت - او نهٔ ورباندے څهٔ تاوان کیږی صرف ژبه خوزول او څهٔ لږ محنت دے - بس دا وجهه دَه دِ عملیاتو نرده کولو- نهٔ ځے په زړهٔ کښے دِ الله دِ نوم عظمت شته اونهٔ دین سره مینه - که په زړهونو کښے ځے دِ الله دِ نوم عظمت وی - نوټولو نه غټه وظیفه او زیات مفید عمل خو قرآن پاک دے - چه خپله ورته الله تعالے شِفَآءٌ لِّمَا فِی الصُّدُوْرِ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ وائ - خو نه اصل وجهه هم دا دَه کومه چه ماعرض کړه - په دے وجهه دِ هغے عملیاتو نه هم مخ نه اړوئ کوم چه په شرع ناروا دے -

یاد لرئ - په دے عملیاتو کښے ډیر ډیر فسادونه دی - کوم ته چه - دستِ غیب ویلے شی - په دے طریقه مال حاصلول حرام دی - ځکه چه دِ دے حقیقت دادے چه پیریان ځے تابع شی نو دِ خلقونه ورته مالونه راپټوی دِ دے مثال دا سے دے لکه څوک چه بد معاشان اوساتی چه غلا کانے کوی

Scanned with CamScanner

خلق لوښتی او هغه مال دوئی ته راوړی - فرض کړه که پیریان غلا نه کوی - پردے مال نه راوړی - خپل مال ورته راوړی نو څه په ښه زړه خوئے نه راوړی دِ عمل په زور ئے په مجبورئی راوړی - دا هم دِ بل مال په زور اخستل دی - اوحرام دی - دغه شان نور عملیاتو کښے هم ډیرے خرابئ دی - دِ تولو نه اسان عمل دعا ده - الله تعالے موږ ته اجازت راکړے دے - چه هر وخت - ورنه دِ هرکار سوال کولے شو - په دے شرط چه ناجائزه کار نه وی - نو دِ تولو نه غټه او اسانه وظیفه چه هیڅ خرابے پکښے نشته - بلکه په دعا نه غوښتو الله تعالے خفه کیږی - الله تعالے داسے سخی بادشاه دے چه په غوښتو خوشالیږی او په نه غوښتو خفه کیږی - نو که واقعی دِ چا په زړه کښے دِ الله دِ نوم عظمت وی او په دے وجهه ئے دِ وظیفو شوق وی - نو دِ الله دِ کلام تلاوت دِ کوی او دعا دِ غواړی - خو افسوس چه نن صبا اکثر خلق دِ قرآن شریف تلاوت پریښے دے - او که څوک ئے کوی هم نیتونه ئے صفا نه وی -

یو سړی خوب لیدلے ووچه په جمات کښے لوټے اودس ماتے کوم - یوبزرګ ته ئے داخوب بیان کړو هغه ورته اووے - ته به په جمات کښے دنیا دِ پاره څه وظیفه کوے - غرض داچه وظیفه ورته اسان کار ښکاری چه ډیر همت - اوکړی نو دنیا دِ پاره څه وظیفه اوکړی او دین دِ پاره پیر ته والئ چه خپلے سینے نه څه برخه راکړه - سینه څه خورجین نه دے چه څوک لاس ورا اوږدی او چه څه ئے پکار وی هغه تر را اوباسی -

اوکه پیر څه ورم کړی نو یاد لرئ کوم شے چه بے محنته حاصل شی دِ هغے څه قدر نه وی -

هرکه او ارزان خرد ارزان دهد
گوهرے طفلے به قرص نان دهد

څوک چه څه شے ارزان واخلی ارزان ئے خرڅوی - یو ورکوتے ماشوم دِ -

Scanned with CamScanner

سوتئ په تکړه مرغلره ورکوی)۔ د حاصلولو چه کومه طریقه دَه هرڅه په ۔ خپله طریقه حاصلول پکار دی۔ د دنیا د پاره جائز تدبیر۔ نوکری ۔ مزدوری ۔ تجارت ۔کاشتکاری وغیره د پیرکارونه دی۔ او د آخرت د پاره علم او نیک عمل چه غټ بنیاد ئے قرآن شریف دے چه موبز ورته ښاکړی دَه ۔

(۱)۔ قرآن شریف خو اوس صرف دے د پاره دے که د چا خوئے اوښی نو تبرک د پاره ورته نوم قرآن شریف کښے لټوی ۔ اوهٔ پانړے واړوی په اوه کربنه کښے چه اول کوم حرف وی هغے نه نوم جوړ وی ۔ که الف وی الله بخش که خ وی خدا بخش که ر وی رمضان خان شی ۔ که ع وی عید محمد نوم ورته کیدی او د پیر بختور ئے کنړی چه د الله په کلام کښے راغلے دے ۔

(۲)۔ یادے د پاره دے۔ که څوک مړ شی نو په دریمه ورز ورپسے د قرآن شریف ختم اوکړی او یو یو موتے چنړے په تلاوت کوونکو اووېشی قرآن شریف نه یو ټوته جوړ شوی دَه ۔ د پیر ئے پکښے بے اودسه اووائی او د پیرو ته لوستل نهٔ ورځی هسے کونړه کونړه کوی او خلقو سره پانړه اړوی څکه چه د رواج د پابندئ په وجهه ورکښے شریکیدل ضروری وی۔ که څوک رانشی نو بیا ترکیله کیږی او خفګان جوړیږی ۔ معلومه شوه چه غرض د قرآن شریف تلاوت نهٔ وی رواج پوره کول وی۔ او د پیرو ځایونو کښے خو په نقد اجرت ختم کولے شی ۔ حالانکه په عبادت اجرت اخستل حرام۔ دی۔

د پیر خلق وائی چه د اعلمان موبز مړی ته ثواب رسولو نه منع کوی (حضرت تهانویؒ فرمائی)۔ نهٔ ورته وایم تاسو خو هم خلق د مانځه نه منع کوئ ۔ حالانکه مونځ په قولو عبادتونو کښے افضل عبادت دے ۔ نهٔ تاسو نه ټپوس کوم چه په سره غرمه کښے چه یا زوال نهٔ وی شوے مونځ کول څنګه دی ۔ د جنابت په حالت کښے یا د حیض و نفاس په حالت کښے یا که څوک د

قبلے نه کوږ ولاړ وی - مخ ته قبلے ته نه وی مونږ ځکه دے - د دے
ټولو جواب دادے چه ناجائز دے - نو دغه شان دارواجی ختم هم دے -
په دے هر څوک ښه پوهیږی چه دے سره اجونو کښے دیرے خرابی دی
خو یو خلل چه یو سره اج مشروع شی بیا نے څوک د پریښو جرات نشی کولے
په سره اجونو کښے د ول ډال او سره نق دیر وی - بے سره اجه ساده کار بے
خونده غوندے بنکاری -

کوم وادۂ کښے چه تنګ تنګور نه وی نو هلکان والی کیښی راوړی
چه ختم ته کینو دا د زبرکانو وادۂ دے - د دوئی دا پیغور مونږ ته په ښکلو
ستر کو منظور دے -

ما اگر قلاش وگر دیوانه ایم مست آن ساقی و آن پیمانه ایم

(مونږ که محتاج یا لیونی بنکاړو نو دا مونږ د پاره د فخر خبره ده - څه
شرم نه دے - خکه چه مونږ د یوم الست د ساقی د مست ستر کو طلبکار او
د شریعت د پیمانے شراب نوش یو) او د دوئی د دے پیغور یو جواب
بل هم دے خو جواب د سره کول مناسب نه ګڼم - د تهذیب خلاف دے -
دوئی ته جواب د سره کولو په ځائے نږۂ خپلو خلقو ته وایم - په نرمو نو کښے اخلاص
پیدا کړئ نفسانیت ختم کړئ - نو بیا که منکرات منع کوئ - خوله کښے به مو -
تاثیر وی او خلق به په بد نه ګڼی - افسوس دا دے چه عالمانو کښے د تقوی
په رنګ کښے نفسانیت راشی - عالمانو ته نفسانیت نه دیر بیج کیدل پکار دی -

نن صبا دا دیر لیدے شی چه منکرات منع کړونکو نه د تقوی په رنګ
کښے د نفسانیت اظهار کیږی - دغه شان څوک چه مدرسے ته چنده د سره کوی
طالبان او استاذان نے خوشامندے کوی - مزاج پرسئ ته د سره ځی او صفتونه
نے کوی - حالانکه د دے هیڅ ضرورت نشته دا د استاذانو څه ذاتی کار
نه دے - د دین خدمت دے - د الله کار دے دا به چلیږی که دوئی چنده

ورته ئې ښکاره کړې چې څوک به ورسره ښکاره کړې - دې دین کار بندیږي نه - دا خیال د څوک نه کوي که موږ چنده ورسره ونکړو نو مدرسه به بنده شي - دا د الله کار دے - هغه به خپله سرواته وي - څوک چې انکار اوکړي د دوئ په خاطر به الله تعالے نور کسان پیدا کړي - نو دې چا د خوشامندو ضرورت نشته - (حضرت تهانویؒ فرمایلی) زهٔ دا نه وایم چې عالمانو ته د چا د امداد ضرورت نشته - ضرورت ورته شته - لیکن د هرچا محتاجي ورته چنل احتیاج څرګندول او د چا صفتونه او خوشامندے کول ورته نه دے پکار - استغنا پکار ده - دا د دین کار دے او د دین د کار ذمه وار الله تعالے دے - هغه به خپله جاري ساتي - زهٔ عالمانو ته د بد خوئ چل نه ښیم - بد خوئ ناکاره کار دے - هرچا سره په نرمئ او شفقت چلیږي - خو د چندے د پاره د د چا خوشامندے نه کوي - د یو خاص سړي په امداد دین کار موقوف نه دے - البته چاته د نیکئ ترغیب ورکول او په مناسب طریقه د ضرورت اظهار کولو کښے څهٔ حرج نشته - دا مسنون طریقه ده - اوراز - پکښے دادے چې اصل کښے کار پوره کوونکے خو الله تعالے دے - لیکن ظاهري شکل ئے داوی چې یو څو بندیان ئے د یو بل په امداد پوره کوي - نو که بندیان خبر نکړے شي - نو یو بل سره به په امداد کښے څنګه شریک شي ؟ په دے وجهه د ترغیب او په مناسبه طریقه د اطلاع ورکولو ضرورت شته چاته خبر قدرے هم نهٔ ورکول د ظاهري شکل خرابول دی - او په خوشامنهٔ کښے په بندیانو اعتماد لازمیږي - نو د کار حقیقت خرابیږي - څکه د خوشامندے نه منع راغلی ده -

غرض دا چه په ظاهره که څوک بندیان امداد کوي - دا هم په حقیقت کښے د هغے کارساز حقیقی امداد دے -

Scanned with CamScanner

کارِ زلف تست مشک افشانی اما عاشقان
مصلحت را تہمتے بر آہوئے چین بستہ اند

(په حقیقت کښے دِ مشکو خوشبوئ خو دِ ستنا دِ زلفو نه خوریږی۔ کن عاشقان ئے دِ څۀ خاص مصلحت په خاطر دِ چین هوسیو ته نسبت کوی) یعنی په حقیقت کښے دِ دینی مدرسو کار چلوونکے الله تعالے دے۔ خو په ظاهره دِ یو څو۔ کسانو په امداد چلیږی۔ ځکه موږ وایو چه دِ مدرسے دِ چندے دِ پاره دِ چا خوشامندی مۀ کوئ۔ دا بد خوئ نۀ دَه۔ استغنا بیل شے دے او بد خوئ بیل شے دے۔ دِ استغنا مطلب دے۔ هرچاته دِ خپل ضرورت اظهار نۀ کول او نن صبا دا احتیاط ډیر کم کیږی۔ هرچاته دِ خپل ضرورت اظهار کولے شی بلکه چانه چه دِ چندے طمع وی۔ هغۀ که څۀ غلط کار کوی نو دوئ ئے۔ منع کولے هم نشی ځکه چه خپل حاجت دِ پاره ورغلی وی۔ نو غږ نشی کولے چه چنده به رانکړی۔ یادلرئ۔ سړه دِ منع کولو دِ قدرته په غلط کار خاموش پاتے کیدل ورسره شریکیدل دی۔ په حدیث شریف کښے یو واقعه بیان شوی دَه۔ چه حضرت جبرئیل علیه السلام ته دِ یو کلی وړانولو او په بل مخ اړولو حکم اوشو۔ هغۀ عرض اوکړو چه یا الله په دے کلی کښے خو یو دا سے نیک سړے دے چه هیڅرهے ئے څۀ ګناه نۀ دَه کړے۔ نو هغۀ سره ئے واړوم۔ که هغه ورنه بچ کړم۔ حکم ورته اوشو هغۀ سره ئے واړوه۔ اګرچه خپله ئے ګناه نۀ دَه کړی۔ لیکن لَمْ یَتَمَعَّرْ فِیَّ وَجْهُهٗ۔ (ځما په نافرمانئ ئے تندے نۀ ګونجے کیدو) یعنی خلق ئے لیدو چه ځما نافرمانی کوی خو په دۀ بد نۀ لګیدو منع کول ئے نه۔ نو په بدئ دِ خاموشه کیدو دا سزا دَه چه هغه نیک سړے هم دِ نافرمانو سره تباه شو ځنه خلق وائی دلته خاموشئ کښے داخیر دے چه دینی کار دِ پاره به چنده راکړی آیا دِ الله کار دِ دے نافرمانو په چنده موقوف دے؟ دِ الله په کار کښے دا کمزورئ پریدئ ۔

خلیل آسا در ملکِ یقین زن
صدائے لَآ اُحِبُّ الْآفِلِیْنَ زن۔

(د حضرت ابراهیم خلیل الله په شان د یقین په دنیا کښے قدم کیده۔ دلَا اُحِبُّ الْآفِلِیْنَ چغه اوژه۔ (د فانی څیزونو سره مینه نه لرم)۔ یعنی ربستونے عاشق شه۔ د غیرالله نه تعلق قطع کړه۔ د الله د دین کار په چا موقوف نه دے۔ الله د چل دین کار چله چلوی۔ (حضرت تهانویؒ فرمائی)۔ زه درته په یقین سره وائم چه عالمانو ته د استغنا ضرورت دے۔ چه استغنائے پریښی نو چل عزت نے کم کړیدے۔ او قسم قسم خرابئ نے پیدا کړی دی۔ چه دنیادار تاسو نه تښتی نو تاسو نے ولے سلامونه کوئ۔

ما داخبره عالمانو ته اوکړه۔ حالانکه هغوئ په چله ښځه پوهیږی او ضرورت نے وړته محسوس دے۔ عالمانو ته پکار دی چه د نیا دار و سره زیات تعلق نه ساتی۔ خو په اخلاص دلونئ او نفسانیت په وجهه نه۔ د مدرسے کار د په اخلاص کوی او هیڅ ته د ورکښے دخل نه وړکوی۔ د دے مطلب دا نه دے چه خود سره د شی۔ او د هیڅ قانون قاعدے پابندی دے نه کوی۔ بلکه مطلب دا دے چه د مدرسے په کارکښے د هرکس و ناکس څوک چه چنده وړکوی راځے شاملول ضروری نه دی۔

نن صبا دا مرض عام شوے دے۔ څوک چه مدرسے ته چنده ورکوی۔ هغه د مدرسے په انتظام کښے چل شرکت ضروری ګڼی۔ او دا غواړی چه د مدرسے په هرکارکښے د ورنه صلاح اخستے شی۔ (حضرت تهانویؒ فرمائی)۔ نړۍ درته د قوانینو جوړولو او انتظام چلولو راز بښیم۔ په دے به صفا شی چه هرچا نه راځے اخستل ولے مناسب نه دی۔

یا دلرئ۔ څیزونه دوه قسمه دی۔ یو اصل مقصود او بل د دے مقصود حاصلولو د پاره وسیله او ذریعه۔ اصل شے دا مقصود وی۔ نو مدرسے چلولو

دِ پاره کوم قواعد چه مقرر کیږی دا اصل مقصود نهٔ وی - اصل مقصود درس دے - دا قواعد دِ انتظام صحیح چلولو دِ پاره وسیله او ذریعه دَه - اوس درنه نږدۍ یو تپوس کوم - دِ مثال په طور - آیا دِ ترکانړئ دِ کار دِ پاره اوزار یو ترکانړ ښه پیژندے شی که بل یو اعلی تعلیم یافته سړے - دِ دے جواب م دا دے چه ترکانړ که بے تعلیمه وی م په خپل کار دِ اعلی تعلیم یافته نه ښه - پوهیږی او اوزار ئے ښهٔ پیژنی - نو افسوس دے چه دِ ترکانړئ دِکار دِپاره اوزار خو بلولو ته خو دِ ترکانړ ضرورت دے - بل اعلی تعلیم یافته ئے ښهٔ نشی کولے - لیکن دِ علم دین دِ درس دِ ذریعو یعنی مدرسینو دِ انتخاب دِ پاره دِ - عالِم دین ضرور ښت نشته - هر معمول تعلیم یافته او هر کسب گر و رکښے خپله رائے شاملول ضروری گڼړی -

صاحبانو! عالمان خپل کار ته پریدئ - درس مغوئ وړ کړی او په دے کار مغوئ ښهٔ پوهیږی - چه درس څوک ښهٔ وړ کولے شی - او دے مدرسے دِپاره دِ څنګه مدرسانو ضرورت دے - مغوئ مدرسان م پیژنی او دِ مغوئ ضرورت هم ورته معلوم وی - تاسو دِ مدرسے په انتظام کښے دخل مهٔ ورکوئ دا کار عالمانو ته پریدئ او ستاسو دا کار دے چه عالمانو نه دِ دین خبرے زده کړئ - قرآن شریف ویل او دِ قرآن شریف آداب او حقوق زده کړئ - او مغوئ چه درته څنګه او بنائی هغه شان دِ قرآن شریف حقونه ادا کوئ -

(۳) - یا دے دِ پاره دے چه زنانه ئے په څادر کښے کیدی - په دوه کسه څادر اوچت اونیسی او وړ وکے وړ لاندے تیر کړی - او وائی چه دِ قرآن شریف سورے په اوشو - اوس به دا وړ وکے دِ دے په برکت دِ هر آفت نه بچ وی نهٔ به په جادو اثر کوی - نهٔ بد نظر دِ خدائے پاک دِ کلام لوئے برکت دے - دِ کلام الله په برکت کښے څهٔ شک نشته - خو دا عقیده غلطه دَه - لکه دا عقیله چه غلطه دَه - دِ څنه خلق دا خیال دے چه څوک دعائے گنج العرش په مت اوږی

نو نهٔ په توره ټوپک اثر کولے شی- نهٔ په اوبو کښے د وبیرۍ او نهٔ په اور سوزی- نهٔ څوک پهانسی کولے شی- د هر آفت نه بچ وی- بس بیاخود بے غمه لوټ مارکوی- غلا کانے دمے کوی- پردی مالونه د راچلوی- څوک به ورته هیڅ نشی ویلے (اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ)-

(۴)- یو غلط کارچهاپه خانو دا روان کړے دے چه د عکس په ذریعه قرآن شریف د پیر وړوکی سائز کښے چهاپ کوی په دے غرض چه د تعویذ په شان په مټ او تړلے شی یا غاړه کښے واچولے شی- ځکه چه د ټولو تعویذونو- اصل خو قرآن دے- چه ټول قرآن ئے د تعویذ په شان په مټ تړلے یا غاړه کښے اچولے وی نو د هر آفت نه به بچ وی- دا تعویذ چه چا سره وی نو هغه نور هم په کناهونو زړه ورشی- چه اوس خو راته څوک څهٔ نشی ویلے- بل خرابے ورکښے دا دے چه هر وخت ور سره وی غسلخانے ته هم دے سره ننوځی- د جنابت او بے اودسئ په حالت کښے هم ور سره وی- دا څومره غټ ظلم دے د قرآن شریف څومره د پیر توهین دے-

د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په زمانه کښے هغهٔ د یو سړی سره د وړوکی سائز قرآن شریف اولیدو نو ډوځو درے ئے اووهلو چه دا د قرآن شریف توهین دے ظاهره دَه چه هغه به دومره د پیر وړوکے نهٔ ووایستے به شو- او دا خو دومره وړوکے وی چه بے خوږ بینی شیشے لوستے هم نشی- نو دا خو ئے یقینی توهین دے-

قرآن شریف تعویذ کولو د پاره نهٔ دے نازل شوے- لوستلو او ور باندے عمل کولو د پاره نازل شوے دے- نو د قرآن شریف یو یو تکے جدا جدا واضح او صفا لیکل پکار دی چه اسانئ سره لوستے شی- قرآن پاک خو داسے شے دے چه د چا نظر په پریوزے چه د هیبته ورته اوچت پاخیږے دا نه چه په شیشو کښے ئے کوری او یو تماشه ئے ترجوړه کړی وی-

Scanned with CamScanner

(۵)- بل غلط کار دا شروع شوے دے چہ د قرآن شریف سورتونہ د د مانځ د غزلو په شان په رکاټونو کښے بندولے شی او په کلو کوخو کښے په پیسو خلقوته اورولے شی- د کتے یو ذریعه ئے ترجوړ کړی دَه - په دے طریقه د قرآن شریف توهین کیږی- په دے کښے ډیرے خبرے خو فقهاء کولے شی زهٔ زیات څهٔ نشم ویلے لیکن دومره خبره خوځرګنده دَه چه دالوے تماشے دی اوصرف پیسو کتلو ته چل دے - اوکوم کسان چه د غزلو اوریدو نه خان بچ کوی - په دے چل هغوئی هم په دے فضول کارونو کښے شریک کړی- چرته قرآن پاک اوچرته د غزلو رکاټونه -

غرض داچه د قرآن شریف زده کولو- د هغے د حقونو ادا کولو او د قرآن په احکامو د عمل کولو په ځائے ترنن خلق داکار اخلی- څوک تر تعویذ جوړوی اوځوک ئے په رکاټونو کښے بندوی پیسے پهٔ کتی- د قرآن شریف صحیح تلاوت زده کول خلقوته یو کران کار ښکاری- حالانکه ټول تال اته ویشت ټکی دی- که د ورزے څوک یو ټکے زده کوی هم صرف د اته ویشتو ورځو محنت دے - په قدر د ضرورت د میاشتے نهٔ کم وخت کښے زده کیدے شی- (حضرت تهانویؒ فرمائی) -

زهٔ تاسو ته دا نهٔ وایم چه ټول مسلمانان د قاریان شی- البته ضروری همت په هر مسلمان لازم دے- او دا هلهٔ کیدے شی چه د یو تجربه کار ماهر استاذ نه زده کړے شی او تجربے نه ثابته دَه چه زده کوونکے یو فن تر هره حده چنده کوی خو استاذ ماهر پکار دے -

حاصل داچه قرآن شریف صحیح زده کولو د پاره د ښه قاری ضرورت دے - لیکن کار خو په تشو خبرو نهٔ کیږی چه ښهٔ قاری ساتئ نو د هغهٔ د ضروریاتو ذمه واری به هم برداشت کوئ او هغهٔ د پاره به د فن کتابونه هم پکار وی- دا ذمه وارئ په دوه طریقے پوره کیدے شی- یو خو داچه هر

Scanned with CamScanner

سړے خان خان ته یو یو قاری او ساتی - او هغهٔ د پاره د کتابونو او د هغهٔ
د نورو ضرورتونو پوره پوره انتظام اوکړی - بل داچه په شریکه یوځای
کښے پوره انتظام اوشی - چه ټول تر فائده احسنتے شی - په دے کښے دیر آسانی
ده -

نهٔ تاسو ته داخبر درکوم چه داکوم خائے چه اوس تاسو راجمع ئی - دلته
په دے مکان کښے دا انتظام شوے دے - دلته به قرأت بنیلے شی - قاریان به
ناست وی او هغوئی د پاره به د کتابونو او نورو ضرورتونو انتظام کیږی -

نو د قرآن د صحیح وینا ضرورت خو ثابت شو - ټولو واورید و - لیکن
د دے انتظام گران کار وو - هرچا خان خان ته نشو کولے - الله تعالے خپل -
فضل اوکړو - خپل یو خو بندیان ئے دے طرف ته متوجهه کړل - او هغوئے د
خدائے پاک په اسره دا کار روان کړو - نهٔ داوایم چه په دینی کار کښے دا
خوبی ده چه په لږ غوندے خرچ دیره غټه فائده رسی - کاش چه د دے
فائدے ضرورت هرچا محسوس کړے وے - په تجربه ثابته ده چه تر څو
پورے د یو کار ضرورت نهٔ وی محسوس شوے سستی پکښے کیږی - کله
چه ئے ضرورت محسوس شی بیا ورته هرځائے نهٔ چه وی سامان برابر شی
دے عامو خلقو ته او گورئی چه هیڅ طاقت ئے نهٔ وی - که څوک ورنه جات
جوړولو یا مدرسے د پاره چنده اوغواړی نو عذر به اوکړی چه زهٔ څپله
غریب یم د روزئی درک یم نهٔ لګی - چندے نشم ورکولے - خوکه د غم بنادئی
خبره شوه نو هرطرف نه چه وی - څهٔ به راپیدا کړی او رواج به پوره کړی
حکه چه هغه ورته ضروری بنکاری - دائے په ذهن کښے ناسته ده -
که رواج پوره نه کړم - نوورولئی کښے به سپک شم - او د جات یا مدرسے
ضرورت ورته ثابت نهٔ دے - اوچاته چه ثابت دے نو بحمد الله ښهٔ په
شوق کار کوی - مسلمانو کښے جوش خو دیر دے - لیکن استقلال پکښے کم دے -

Scanned with CamScanner

لوگ کہتے ھیں چاہ مشکل ھے سب غلط ھے نباہ مشکل ھے

(خلق وائی مینه گران کار دے - دا غلط دَه دِ مینے سَړ ته رسول گران کار دے)- داسے کسان ډیر کم وی چه خپله خبره سَړ ته رسولے شی یعنی چه کوم کار شروع کړی چه نیمګړے نے پرے نهٔ دی پوره کړی-

چنده ورکوونکو ته دِ دووخبرو خیال ساتل پکار دی - یوخو داچه دِ خپل حیثیت نه کمه نهٔ وی - دِ دین په کار کښے ترخپله وسه پوره زړه ګول پکار دی - بله داچه څهٔ ورکوئ لږه وی که ډیره چه هغه مستقله وی - اَحَبُّ الْاَعْمَالِ عِنْدَ اللّٰهِ اَدْوَمُهَا وَاِنْ قَلَّ (دِ خدائے په نزد غوره کار هغه دے چه همیشه وی اګرکه لږ وی) بیا دِ چنده ورکولو نه پس مدرسه- خپل ملکیت مهٔ ګڼئ - او دِ انتظام کوونکو په کار کښے دخل مهٔ ورکوئ - ځکه صبا دا مرض عام دے که څوک معمولی چنده ورکړی هم داخواهش لے وی چه دِ مدرسے ټول کار دِ هغهٔ دِ خواهش مطابق کیدے - که څهٔ لږ کار هم دِ هغهٔ دِ خواهش خلاف اوشی نو فوراً چنده بنده کړی - دِ ځنه خلقو خو خامخا اعتراض کول عادت وی - خپله څهٔ دِ اصلاح تدبیر نشی کولے - او بل چه څهٔ کوی هغے کښے عیبونه راوباسی او کار خرابوی - دِ دوئ مثال داسے دے - لکه وائی چه په یوجنګ کښے ډیر خلق مړه او ډیر زخمیان شوی وو - یو زخمی دِ جنګ په میدان کښے دِ مړو مینځ کښے پروت وو - پاځیدے نشو اتفاقی په دے - ځائے کښے دِ لښکر بنډیا (دِ لښکر دراشن هندو ټهیکدار) ګرځیدو دِ میدان جاج نے اخستو - دے زخمی اولیدو - آواز نے ورته اوکړو سیهه لږ دے خوارانشه ستا دِ مطلب خبره دَه - بنډیا ورنزدے شو لږ اخوا او دریدو چه څهٔ وائے - هغهٔ ورته اووے لږ نور رانزدے شه ځما ملا پورے دِ ډوپو دکه هیا ئ دَه - زهٔ اوس مرګونے یم چه بل څوک نے رانه اخلی نو ته ښهٔ ئے - زهٔ خو درپاځیدے نشم راشه دِ ملا نه م نے پرانځه - بنډیا په خوشالئ

خوشالئ ورغلوچه ښځه ورنزدے شو- نودے زخمی سره خواکښے توره
پرته وه- یو داسے خرپس ئے ورکړوچه ښپه ئے ورنه غوته پریکړه -
هندو په ژړا شو- وے چه ظالمه دا دِ څه اوکړو- هغه ورته اووے
دِ خرپچیه دِ جنګ میدان ته څوک دِ سروپو ډکه همیانئ راوړی- ما
سره همیانئ چرته دَه- خو چاپیره رانه مړی پراته وو- شپه راغله دِ خبرو
راسره څوک نه وو- ځانته رم مرګرے کتو- اوس به دواړه پراته یوخبرے
به کوو- هندو ورته اووے ظالمه نه چله کړزیدے شی نه بل کړزیدو
ته پریدے- داحال دِ دے معترضانو هم دے- نه چله کارکولے شی نه بل
کارته پریدی- (حضرت تهانویؒ فرمائی)- داسے خلقو ته نه وایم- دِ ستا
دِ خیرم توبه دَه داسپی دِ رانه کورے کړه- چنده در پاتے خوکارراته
مه خرابوئ- دِ دے خلقو حال دِ لرم په شان دے- چه دِ خیرطبع ترښته
خوچه دِ لښے نه ئے څوک بیخ شی دا ډیره دَه- داسے خلقو نه موبز دِ امداد
طمع نه لرو- خونور کار دِ راته نه خرابوی- باقی پاتے شو اعتراض او
عیبونه لټول- نو بے عیبه خو یو پاک خدائے دے- بنده دِ عیبونو او
کمزورئیو نه ډک دے- لیکن چاته چه الله تعالے عقل ورکړے وی- هغه
دِ بل عیبونو ته نه ګوری- بلکه په چا کښے کومه ښه عیبونه وی اوښه ورکښے خوبئ وی- نو هغه خوبئ ئے څرګندے کړی او په عیبونو ئے پرده
واچوی- ستړکے په پټے کړی- یا ئے غلی غوندے اصلاح اوکړی- دِ عناد
خبره جدادَه- په مدرسانو اعتراض کول څه ګران کار دے؟ چه دِ مدرسانو
مشران دِ اعتراض نه نه دی بچ شوی نو دوئی به څنګه بچ شی- یهودیانو
دِ نبی کریم صلے الله علیه وسلم نه پتوس اوکړو- تا باندے وحی کومه فرشته
راوړی- هغوئی ورته او فرمائیل جبرئیل علیه السلام- یهودیانو اووے
جبرئیل خونر موبز دشمن دے- که میکائیل راوړے نو موبز به په ایمان

راوړے وو- دا اعتراض هم صرف دِ عناد په وجهه وو- دِ داسے اعتراض نه هیڅوک نشی بچ کیدے۔

صاحبانو تاسو ته خو دِ زړهٔ دِ اخلاصه عالمانو سره دِ دین په کار کښے امداد پکار وو- نهٔ چه عیبونه راویستل- البته که څهٔ واقعی عیب ستاسو په نظر راتلے- نو دِ هغے په دا سے طریقه اصلاح پکار وَه څنګه چه دِ شریعت حکم دے- قربان شم دِ شریعت دِ تعلیم نه- حدیث شریف دے- اَلْمُؤْمِنُ مِرْاٰةُ الْمُؤْمِنِ- مسلمان دِ بل مسلمان دِ پاره آئینه دَه- خلقو دِ دے حدیث شریف ډیر تفسیرونه کړی دی- خو زه موبز استاذانو نه دا تفسیر کړے دے چه آئینه دِ کتونکی راز داره وی- کتونکی ته خپل عیب څرګند کړی خو- بل څوک په نهٔ خبر وی- په دے طریقه که څوک دِ مدرسانو عیب دِ اصلاح دِ پاره هغوئی ته بتائی او ډنډوړے نهٔ وهی نو موبز په ډیر خوشال یو چه په دے طریقه به زه موبز اصلاح اوشی- لیکن دا سے کسان ډیر کم وی (چه دِ اصلاح په نظر عیب راوباسی)- اکثر خلق په دے مرض اخته وی چه په چنده ورکولو موبز دِ مدرسے مالکان شو- اوس به دِ مدرسے ټول انتظام زه موبز په مرضا چلیږی- اوځنه کسان که دِ دے خیال نه ځان بچ کړی هم- ډیر ځله ورته په رائے ورکولو کښے دا اشتباه راشی- چه عیب جوئی نصیحت او خیرخواهی اوګڼی- دِ نصیحت په شکل کښے عیب جوئی اوکړی-

زهٔ درته دے نه د بچ کیدو چل بتیم- که مدرسه کښے درته څهٔ قابل اصلاح شے بنکاړه شی- نو دِ هغے تشهیر مهٔ کوئ- ځانته جدائے منتظم ته یا- مشر مدرس ته اووائی چه دِ دے کار اصلاح پکار دَه- دا کار موغلط دے او بیا دا انتظار مهٔ کوئ- چه دِ تاسو په مشوره به ضرور عمل کیږی- په دے طریقه به ناصحانو کښے شمار شئ او عیب جوئ نه به بچ شئ- خلاصه دا چه خپله رائے ورکوئ خو انتظام کښے مداخلت مهٔ کوئ- دِ مدرسے کار

دِ اللہ کار اوکړئ چې کار ته مه ګڼړئ ۔

دا داسې بنیادی خبره ده ۔ چې که ټول خلق په عمل اوکړي ۔ انتظام کښې دخل نه ورکوی چا چې ته ذمه واری احستی ده هغوئ چې کار ته پریږدئ او انتظام کورونکی دا خیال اوساتی چې د چندے رقم امانت اوګڼړی او په اخلاص کارکوی ۔ د اخلاص دوه جُزء دی یو ظاهری اوبل باطنی باطنی دا چې چا خان غلام اوګڼړی او اللہ چې مالک اوګڼړی ۔ او د مالک د حکم په تعمیل کښې چې پوره پوره کوشش اوکړی ۔ او ظاهری دا چې چا خان حاکم نه ګڼړی ۔ خادم ته اوګڼړی نو خان ته د دا سې نوم هم نه خوښوی چې لوئی ترخړ کنديږی ۔ ټن صبا دا مرض عام دے ۔ که کار معمولی وی هم ۔ نومونه خانته غټ غټ کیدی ۔ څوک صدر صاحب شی څوک سکرټری صاحب شی او څوک پکښې کورنران شی ۔

(حضرت تهانویؒ فرمائی) ماته څنله د یوکس خط راغلے وو په چې قلم ته لیکلی وو فلانے صاحب د فلانی خائے د فلانی یتیم خانے کورنر ۔ نوکه د یتیم خانے خادم ته لیکلے وے څنګه به ښه وَه ۔ په تجربه ثابته ده چې کوم خائے کښې غټ غټ خطابونه وی ۔ اکثر هلته صرف کاغذی کاروائی وی ۔ اصلی کار په موقع هیڅ هم نه وی ۔ نو دا خو د وړولو بے شوے چې کار هیڅ نه او نوم غټ ۔

د دا سې غټو غټو نومونو نه خان اوساتئ ۔ په دا سې کار کښې برکت نه وی ۔ د اپریذیټ نت ۔ کورنر او سکټر نوم کیښول د غیر قومونو تقلید ۔ دے ۔ دے نه خان اوساتئ د مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ ۔ حدیث شریف صرف جاموا و وضعدارئ پورے نه دے په کوم کار کښې چې غیر مسلم قوم سره مشابهت رازی هغے ټولو ته شامل دے ۔ ښه خبره دا ده چې تاسو خان ته خادم اووائ او خان د قوم خادم اوګڼړئ ۔ د نبی کریم صلے اللہ علیہ وسلم

ارشاد دے - سَیِّدُ الْقَوْمِ خَادِمُهُمْ - دِ قوم سردار دِ قوم خادم وی - دا
ډیره دِ برکت خبره دَه - نن صبا خلق دِ دے خلاف چلیږی - څهٔ لیاقت پکښے
وی که نه - څانته نوم عنت خوښوی - یوحدیث شریف دے - اِذَا مُدِحَ الْفَاسِقُ
اِهْتَزَّلَهٗ عَرْشُ الرَّحْمٰنْ - (دِ یو فاسق تعریف چه اوشی نو عرش اولړزیږی)
نن صبا اکثر مدرسے دِ فاسقانو په لاس کښے دی او تعریفونه ئے کیږی نو
زمکه اولړزیږی زلزله راشی - نوخلق حیرانیږی چه دا زمکه ولے اولړزیږی
اوبیا په دے بحثونه شروع شی چه دا زلزله څهٔ شے دے او ولے راځی
دِ دے حقیقت څهٔ دے - دِ دے مختلف وجوهات بیانیږی هرچا په خپل
فکر ورته څهٔ سبب پیداکړے دے - نن صبا دِ تحقیق دعویدار وائی چه
زمکه کښے دننه بخارات جمع شی - بهرته دِ راوتو زور لګوی مخه ورته
بنده وی - نو زمکه اوخوځیږی - موږ دِ دے انکار نهٔ کوو کیدے شی
چه کله کله زلزله دِ بخاراتو په وجهه هم راځی - لیکن دِ دے څهٔ دلیل دے -
چه هم دغه یو سبب ئے دے - په بله وجهه نشی راتلے - دا خبره خو فیصله
شوے دَه چه سبب خپله مؤثر بالذات نهٔ دے - اثر پکښے مُسَبِّبْ اچوی
که سبب مو معلوم کړو نو څهٔ مُسَبِّبْ ته رجوع پکار دَه چه ټول تکلیفونه
ختم شی - لیکن مصیبت خو دا دے چه خلق دِ سبب په تحقیق پسے دی - او
څهٔ غلط سلطے چه ئے ذهن ته راشی هم هغه یقینی اوګڼی او مُسَبِّبْ نه غافله
دی - اوس ئے دِ زلزلے دِ پاره بخارات یقینی سبب ګڼلے دے - (حضرت وهابیؒ)
نهٔ وایم تر قیامته بلکه یو قیامت نه که زر ځله قیامت راشی هم دوئ
په دے خبره چه دِ بخاراتو نه بغیر دِ زلزلے بل سبب نشته څهٔ قطعی دلیل
نشی پیش کولے - او که دِ چا سره وی نو پیش دئے کړی چه خبره فیصله شی.
غرض داچه خلق په دے خرافاتو کښے اخته دی - خپلے تخمینے او اندازے
یقینی دلیل ګڼی او دِ مُسَبِّبْ نه غافله دی - جناب عالی یقینی خبره دادَه

Scanned with CamScanner

چه ټول آفتونه دِ کنا هونو په وجهه راځی او په کنا هونو کښے یو کناه دِ فاسق تعریف هم دے چه په عرش زلزله راولی نو که دِ دے په وجهه په زمکه زلزله راشی - نو دے کښے دِ حیرانتیا څخه خبره دَه - او دِ غټو غټو خطابونو سره مدحَ ضرور راځی - نو دا الفاظ پریدئ دِ عاجزئ او انکسارئ الفاظ خوښ کړئ - عللانو سره دا قسم الفاظ خوند نه کوی - ربښتیا وایم که نبی کریم صلے الله علیه وسلم دے وخت کښے وے نو دا الفاظ به ئے ضرور منعَ کړی وو - دِ رَاعِنَا لفظ نه په قرآن شریف کښے منعَ موجوده دَه - صرف په دے وجهه چه دِ کافرانو سره مشابهت راتلو - نو په دے الفاظو کښے خو دِ مشابهت نه علاوه کبر او لوئ هم دَه - فرض کړه که مشابهت پکښے نه وی هم دِ کبر او لوئ وجهه ئے منعَ کولو دِ پاره کافی دَه - آیا دِ ے معنیٰ دِ پاره صرف دِ کورنزاو ممبر الفاظ پاتے دی بل لفظ دا معنیٰ نشی ادا کولے ؟ - که ضرورت وی نو دِ قرآن شریف نه ئے معلومولے شو - دِ قرآن حکم دے وَ شَاوِرْهُمْ فِی الْاَمْرِ - (دوئی سره په انتظامی کار کښے صلاح مشوره کوه) دِ دے نه دِ صلاح ورکوونکی دِ پاره دِ مُشِیْرٌ لفظ او دِ هغه ځائے دِ پاره - مجلسِ شوریٰ نوم جوړ شوید ے - دا الفاظ دِ ممبر او دِ کمیټئ معنیٰ پوره پوره ورکولے شی - بیا دِ غیر قوم تقلید ولے کوئ - دِ تجربے خبره خو دا دَه چه څوک کار کول غواړی نو دِ دے الفاظو نه بغیر ئے هم کولے شی - او کوم ځائے چه دیرے ظابطے او غټے غټے عهدے وی هلته اصل کار دیر کم وی کاغذی کارروائ دیره وی - دا فضول کارونه پریدئ - اصل کار ته زور ورکړئ - په مدرسه کښے صرف ممبر یا مشیر کیدو باندے بے غمه مه کینئ هلکان هم ورته را استوئ - چه اصل کار یعنی دِ قرآن شریف صحیح ویل - تکمیل ته اورسی - خدائے پاک به درنه دا تپوس نه کوی چه دِ مدرسے - ممبری یا کورنری دِ کړی وَ که نه - البته دا تپوس به درنه ضرور کوی چه

قرآن شریف دِ لوستے وو۔ او حقونه دئے ادا کړی وو که نه ۔ دا تجوید
دِ قرآن شریف دِ الفاظو حق دے او چه دا حق ادا شی نو بیا ئے په معنٰی
دِ پوهیدو حق دے۔ په ترجمه لوستل او په معنٰی ئے پوهیدل پکار دی
چه دِ احکامو نه خبر شئ۔ او بیا په دے احکامو عمل کول ئے دریم حق دے
چه ډیر ضروری دے۔ نن صبا خلق دا کړ بړ کوی چه دِ قرآن شریف الفاظ څۀ
مات کوه نړده کړی بس ۔ے غمه شی ۔ بیا که دِ چا ډیر شوق وی نو ترجمه
کتل شروع کړی هغه م دِ چا لوئے سړی لټوی لکه څنګه چه دِ دنیا په ۔
کارونو کښے مالداری او عزت امتیاز کنړلے شی ۔ دغه شان ئے دِ دین په
کار کښے م دا خیال دے۔ چه دِ ډپټی صاحب یا تحصیلدار صاحب ترجمه
به م دِ نورو نه ښۀ وی۔ او دا خیال نۀ کوی چه دِ هر کار دِ پاره چنل
خلق وی۔ دِ کاشتکارئی کار دِ هقان ښه کولے شی او دِ ترکانړئی کار۔
لوهارئی کار ترکانړ او لوهار دِ یو اعلی تعلیمیافته نه ښۀ کولے شی۔ دِ ډپټی
او تحصیلدار چنل کار دے او دِ عالمانو چنل۔ څنګه چه یو عالم ته دِ ډپټی
او تحصیلدار په کار کښے دخل ورکول مناسب نۀ دی ۔ دغه شان ډپټی
او تحصیلدار ته م دِ عالمانو په کار کښے دخل ورکول نۀ دی پکار۔ هر سړے
په چنل کار ښۀ پوهیږی۔ دِ قرآن دا خدمت به ئے عالمانو ته پریښے وو
دا دِ دوئی کار نۀ وو۔ او دا وجهه ده چه دے خلقو په ترجمه کښے سختے
غلطئے کړی دی۔ دِ قرآن شریف په ترجمه عالمان ښۀ پوهیږی او څنګه چه
په قرآن کریم کښے دِ بادشاهئ شان ځلیږی۔ نو ترجمه ئے م دا سے پکار ده
چه په شربه کښے ئے نزاکت او تَصَنُّع نۀ وی بلکه دا سے وی چه څوک ئے لولی
چه شاهی فرمان ورته بنکاری یو لفظ پکښے م دِ شاهی شان خلاف نۀ
وی۔ دِ قرآن شریف ترجمه دا سے نه کیږی لکه دِ ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ ترجمه ئے
کړی ده۔ موږ کبډی شروع کړه علاوه دِ دے نه چه دالفظ سپک دے

Scanned with CamScanner

د لغت نه هم خلاف دے۔ ځکه چه اِسْتِبَاقْ د سَبَقْ نه جوړ شوے دے او د سَبَقْ معنیٰ دَه وړاندے کیدل نو د اِستباق معنیٰ شوه - په هنډه کښے یو بل نه مخکښے کیدل او په کبډی کښے دا معنیٰ نشته۔ او د عقل نه هم خلاف دَه ۔ځکه چه په کبډی کښے څوک د سامان نه دومره لرے نه ځی چه د شرمخ د خوراک بهانه جوړه شی - دا ئے د ترجمے حال دے - چه د لغت نه هم خلاف او د عقل نه هم خلاف ۔ اصل خبره دا ده چه د قرآن شریف د ترجمے د پاره صرف په عربی ژبه پوهیدل کافی نه وی بلکه د دیرو علمونو ضرورت دے ورته۔ خلق خو صرف په نوی طرز ورپریوځی دومره پوهه ئے نه وی چه ښه او بد او پیژنی خو چپله هم گمراه شی او نور هم گمراه کړی ۔

نو اکثر خلق خو نن صبا په چپل اولاد قرآن شریف لوستل نه زده کوی چه دماغ ئے په خرابیږی بیا به سکول کښے انگریزی نشی ویلے - او چا چه په اولاد قرآن شریف ویلے دے هم بس دومره نور ئے کړے دے چه الفاظ ئے ورته څه مات گرد بنیلی دی - د الفاظو د صحیح کولو کوشش ئے نه دے کړے ۔ صرف خوش اواز ئے ته ئے خوشالیږی چه بچے هم د طوطی په شان سبق وائی بس هم دغه شان طوطی به وی - سړے به نشی۔ سړیتوب راځی په علم - او علم صرف د الفاظو نوم نه دے ۔

صاحبانو خپلو بچو ته سړیتوب او بنیئی او هغه سبق ورباندے اووائی چه د الفاظو معنیٰ زده کړی او د صحیح او غلط ترجمے فرق او کړے شی - چه چپله هم د گمراهئ نه بچ شی او نور هم بچ کړے شی - لیکن دے ضرورت ته هلو - څوک خیال نه کوی ۔

عام خلق په دے دا اعتراض کوی چه په دے دیر وخت لگی او که یو ل خلق - چپل عمر دینی تعلیم ته وقف کړی نو د دنیا کاروبار به څوک چلوی - یو ل شروع به خراب شی د دے جواب دا دے - چه مونږ دا نه وایو چه هر مسلمان د غټ عالم

Scanned with CamScanner

شی او دِ ټولو دینی علومو تکمیل دِ او کړی - لیکن دِ دین ضروری احکام زده کول خو په هر مسلمان فرض دی - او دِ دے زده کولو کنړے طریقے دی - که چاته موقع وی نو په عربی کښے دغے زده کړی - او که چاته موقع نۀ وی - نو په اردو یا بله مقامی ژبه کښے چه په اسانه ژبه دِ دین واړۀ واړۀ کتابونه لیکلی شوی دی هغه دِ اوری او په دغه طریقه ضروری علم زده کړی که دا م نشی کولے نو دِ بنو بنو عالمانو نه په پټوس ضروری مسئلے زده کولے شی - دے کښے خو هیڅ اشکال نشته - البته که دِ چا عربی زده کولو ته زړۀ کیږی او وخت وړسره کم وی - نو صرف ضروری کتابونه دِ اووائی دِ دے ضرورت پوره کولو دِپاره هوښن یو مختصر نصاب تعلیم (شاب کورس) جوړ کړے دے - چه په هغے صرف دوه نیم کاله کښے ضروری استعداد حاصلیدے شی - په زوړ درسِ نظامی پوره کولو کم نه کم لس کاله لګی - دا خبره اوپره مۀ کنړئ او دا خیال مۀ کوئ - چه کوم کار په دوه نیم کاله کښے کیدے شی - نو دینی مدرسو کښے په زوړ کورس لس کاله ولے برباد ولے شی - خکه چه نر هوښن مطلب دا نۀ دے چه په نوی کورس کښے به په دوه نیم کاله کښے هغه هومره علم حاصل کړی - څومره چه په زوړ کورس کښے په لس کاله کښے حاصلیږی - بلکه مطلب دا دے - چه دوه نیم کاله کښے که پوره کامل عالم نشی نو دومره درمیانه درجے استعداد به حاصل کړی چه ضروری احکام به ورته معلوم شی او که کوشش کوی نو خپل علم نور زیاتولے شی - او په نوره مطالعه کامل عالم کیدے شی - دا نصاب دِ کم فرصته کسانو دِپاره جوړ دے - لیکن څوک که دِ زوړ کورس نه مخکښے اول دا کورس پوره کړی او بیا دِ زوړ نصاب تکمیل او کړی نو ډیره فائده به ورکړی -

په تجربه ثابته شوی ده چه دا نصاب ډیر مفید دے - هوښن ډیره

Scanned with CamScanner

موده په چلو شاګردانو ازمایلے دے کامیاب او مفید ثابت شوے دے۔نو هلهٔ مو شائخ کړے دے۔اوغرض مو دا نهٔ دے چه نوروپه نصاب بے کاره دے ۔ دِ ترکهٔ کولو دے بلکه مطلب دا دے ۔چه دِ چا شوق وی او وخت ورکولے شی نو دِ نوروپه کورس تکمیل ډیر مفید دے لیکن چا سره چه وخت کم وی نو په دے مختصر کورس هم کارچلولے شی ۔

نن صبا دا شکایت عام دے که بچو باندے دینی تعلیم کوو نو دِ دنیاوی ګذارے څهٔ ذریعه نهٔ وی ۔ په دے وجهه ډیرو پوهه کسانو دا تجویزخوښ کړے دے۔چه دنیاوی تعلیم ته هم ګنجائش پریښول پکار دی ۔ په هر بنار کښے داسے مدرسے جوړول پکار دی ۔چه اول پکښے دوه نیم کاله دینی تعلیم اوکړی۔ بیا ورپسے نور دنیاوی تعلیم هم اوکړی ۔ نو په دے مدرسه کښے هم یو شعبه دِ نوی کورس دِ پاره ورزیاته شوی دَه ۔ اوس خو هیڅ په دینی تعلیم حاصلولو کښے څه عذر پاتے نشو۔ لیکن دا هلهٔ دَه چه څوک ټے ضرورت اوګڼی ۔ او دِ چا په ذهن کښے چه دینی تعلیم ته هډو ضرورت نهٔ وی ۔ نو هغهٔ ته لږ وخت او ډیر وخت یو دی ۔ لیکن دِ کوم کارضرورت چه په مظبوطو دلیلونو ثابت شو بیا ټے دِ خیال نهٔ ساتلو څهٔ وجهه کیدے شی؟ داسے خو به یو پوهه سړے هم نهٔ وی چه دِ علم دین ضرورت نهٔ ګڼی اوسړه دِ ضرورته ورته خیال نهٔ کړل داسے غفلت دے۔چه انجام ټے افسوس او پښیمانی دَه ۔

دِ دے انجام نه بچ کیدو دِ پاره پکار خو داوَه چه دنیاوی علم نه دینی علم ته زیات وخت ورکړ شوے وے۔که زیات نهٔ وے چه برابر خو وے۔ او اوس خو ورته موږ دومره لږ وخت ورکړو چه ورسره ورسره دنیاوی علم هم حاصلولے شی ۔ نواوس پکار دادَه چه تاسو اول چلو بچو باندے دینی تعلیم اوکړئ ۔ په دے وخت کښے ورباندے دینی علم نه علاوه

Scanned with CamScanner

نورځۀ کار مۀ کوئی چہ دے نہ فارغ شی نو چہ بیا موکوم فن خوښ وی
خو تہ ئے واچوئی انشاء اللہ دیر ښۀ بہ پکښے چلیږی۔ او ستاسو دنیاوی
کار کښے بہ ھیڅ حرج رانشی۔

کہ یو ډاکټر ته اووے چہ دے ھلک باندے درے کالہ دِ سلول سبق
نور مۀ وائی صحت ئے ښۀ نۀ دے۔ کمزورے دے نور بہ خراب شی۔ نو
دِ ھغۀ خبرہ خو بہ ضرور منئ کہ پہ دے ښہ پوھیږئ چہ درے کالہ خوشے
او کړزی نو دا ویلے بہ ھم تر ھیر شی۔ او عمر بہ ئے ھم زیات شی نور۔
سبق بہ نشی ویلے خو بیا بہ ھم دِ ډاکټر خبرہ ضرور منئ پہ دے خیال چہ
اول صحت دے۔ فرض کړہ کہ سبق کښے پاس ھم شو۔ خو چہ صحت ئے ښۀ
نۀ وی نوکری بہ نشی کولے۔ بس دا دوہ نیم کالہ ھم دا بے اوکسږئ چہ
ھلک مو (دینی مدرسے تہ نہ) ھسپتال تہ استولے دے چہ وړ ښے ئے روحانی
صحت ښۀ شی بیا بہ ئے دِ جسمانی صحت غم کوو۔ اول خو دوہ نیم کالہ څۀ۔
دیر وخت نۀ دے۔ دومرہ خو دِ اکثرو ھلکانو نہ پہ خوشی کړځیدو او
امتحان کښے فیل کیدو ھم خرابیږی۔ او کہ څۀ معمولی نقصان ئے وی ھم۔ نو
مسلمان دِ پارہ دِین دِ دنیا نہ زیات ضروری دے۔ دِ خدائے دِ حکم پہ
مقابلہ کښے دِ ھیڅ څیز ھم ھیڅ حیثیت نشتہ اول بہ دِ خدائے حکم پورہ کولے
شی بیا بہ نور کار ونہ کیږی۔ نو دِ خدائے حکم بہ ھلۀ پورہ کولے شئ چہ
دِ خدائے کتاب قرآن شریف اولولئ۔ تش الفاظ نہ چہ پہ معنیٰ او پہ مطلب
ئے ھم ځان پوھہ کړئ چہ دِ خدائے احکام او پیژنئ او دا بغیر دِ دینی علم
حاصلولو نہ نۀ کیږی۔

(۳) - دِ قرآن شریف درېم حق عمل دے۔ دا دِ تولو نہ زیات ضروری
او اصل مقصود دے۔ باقی دواړۀ حقونہ (یعنی الفاظ او معنیٰ) دِ دے دِ پارہ
ذریعہ دَہ۔ او دِ دواړو ترمینځہ دِ مقصود او ذریعے نسبت دے۔

Scanned with CamScanner

زهٔ دا نهٔ وایم چه دِ کومو طالبانو ور باندے نیت دِ عمل کولو نهٔ وی هغوئ دِ سبق م نهٔ وائ - نه - علم حاصلول ضروری دی - بلکه زهٔ خو وایم که دِ تعلیم په وخت کښے دِ چا نیت دِ عمل نهٔ کولو وی هم پروا نشته - دینی علم دا سے شے دے چه دے نه پس بیا نیت خپله سمیږی - دِ یو بزرګ قول دے - تَعَلَّمْنَا الْعِلْمَ لِغَيْرِ اللهِ فَاَبَى الْعِلْمُ اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ لِلّٰهِ - (موږ علم حاصل کړے وو غیر الله دِ پاره خو علم انکار اوکړو او خالص الله دِ پاره شو) مطلب دا دے چه دِ شروع کولو په وخت کښے مو په زهٔ کښے اخلاص نهٔ وو علم حاصلولو نه پس دِ علم په برکت اخلاص پیدا شو حُکه زهٔ وایم که ابتداء کښے مو ورباندے دِ عمل نیت نهٔ وی - هم علم مُړیدلئ - انشاء الله - علم حاصلولو نه پس به مودِ عمل توفیق هم اوشی - بنده چه هیشه دِ درویشانو او سالکانو خبرے اوری نو ترکومے به په اثر نهٔ کوی - یوه ورځ به آخر په اثر اوکړی البته دا یاد لرئ چه دِ نافرمانئ اراده هم مهٔ کوئ - یعنی که دِ عمل توفیق فی الحال نهٔ وی چه دِ نافرمانئ اراده هم نهٔ وی - حُکه چه ګناهونو سره دِ علم نورختیږی په ابتدا کښے که دِ حقانی عالمانو په شان اخلاص نهٔ وی نو پروا نشته - لیکن په قصد ګناهونو پسے کیږئ هم مه - او په ګناهونو زهٔ ور کیږئ هم مه - په خپل وَس ګناهونو نه خان ساتئ - امام شافعیؒ یو حُل خپل استاذ ته دِ خپلے حافظے دِ کمزورئ شکایت اوکړو - نو هغهٔ چه څهٔ جواب ورکړو - هغے په اشعارو کښے دا سے بیان کړے دے - فرمائی -

شَكَوْتُ اِلٰى وَكِيْعٍ سُوْءَ حِفْظِيْ
فَاَوْصَانِيْ اِلٰى تَرْكِ الْمَعَاصِيْ
فَاِنَّ الْعِلْمَ فَضْلٌ مِّنَ اللهِ
وَفَضْلُ اللهِ لَا يُعْطٰى لِعَاصِيْ

(ما خپل استاذ وکیعؒ ته دِ خپلے حافظے دِ کمزورئ شکایت اوکړو - نو هغهٔ

Scanned with CamScanner

راته کناهونو نه خان ساتلو نعمت اوکړو- خکه چه علم د الله فضل دے او الله فضل په نافرمانو نه کوی) په تجربه ثابته ده چه د کناه په وجه د خوراک خوند هم خرابیږی- طبیعت دا سے پریشانه شی چه که د سرو زرو نوټونه وی هم خاورے ایرے په لګی- د دے نه زیات مو زه څنګه پوهه کړم خو په کناهونو د علم نور مه ختمولی- دا نور خپله م حاصل کړئ اونور د تد ئے م اورسوئی علم اوکړئ- بیا خپله درس ورکړئ یا درس ورکوونکو عالمانو سره امداد اوکړئ- نو د مدرسانو په ټولی کښے به شامل شئ- اَلدَّالُّ عَلَی الْخَیْرِ کَفَاعِلِهٖ چاته یو نیک کار بنیونکے دا سے دے لکه خپله کوونکے- بنیل یو معمولی امداد دے چه د هغے دا حکم دے- نو د پوره امداد حکم تر واضح شو- مالی امداد اوکړئ یا د لاسو بنپو د خدمت امداد اوکړئ- د یو کارونه دا سے دی چه په مال کیږی- چا سره چه مال وی هغوئی ته پکښے مالی امداد پکار دے او د یو کارونه دا سے دی چه د لاسو بنپو په خدمت کیږی- چا سره چه مال نه وی هغوئی د خپل خدمت پیش کړی- اوکه دواړو نه معذور وی د کامیابئ دعا د کوی- دے نه خو هیڅوک معذور نشته- غرض دا چه هر قسم امداد کوئ او دا خیال ساتئ چه اختلاف هرګز مه کوئ- ټول په یو اتفاق په- اخلاص د دین خدمت ته ملا اوترئ- که همت مو اوکړو- نو د قرآن شریف د خدمت درے واړه حقونه ادا کولے شئ- الله تعالے د مونږ ټولو ته توفیق- راکړی-

خلاصه - کوم آیت چه مونږ شروع کښے تلاوت کړے دے- په دے کښے د تورات د تلاوت صفت شویدے- د دے نه د قرآن شریف د تلاوت صفت م ثابتیږی خکه چه قرآن شریف په ټولو اسمانی کتابونو کښے افضل دے-

ظاهره ده چه تلاوت د پاره ئے نږده کول ضروری دی- او د ضروری څیز موقوف علیه م ضروری وی نو په آیت کښے د قرآن شریف زده کولو

Scanned with CamScanner

مَدْحَ اوشوه - اوتش الفاظ زده کول نه بلکه دا سے زده کول چه دِ تلاوت حقونه ادا کړے شی - او تاسو واوریدل چه دِ تلاوت درے حقونه دی ظاهری[1] - باطنی[2] - او اَبْطَنْ[3] - دِ ټولو نه اول ظاهری حق دے او دِ ټولو نه ضروری ابطن دے - فَاِنَّ الْحَقِيْقَةَ بِدُوْنِ الصُّوْرَةِ بَاطِلٌ وَالصُّوْرَةُ بِدُوْنِ الْحَقِيْقَةِ عَاطِلٌ - (بیشکه حقیقت بے صورته موجود کیدے نشی او تش صورت بے حقیقة بے فائدے دے) -

(۱) - ظاهری حق ئے ترتیل دے یعنی دِ الفاظو صحیح ادا کول دے ته تجویدم ویلے شی -

(۲) - باطنی حق ئے په معنیٰ پوهیدل دی چه احکام معلوم شی -

(۳) - او اَبْطَنْ حق ئے په احکامو عمل کول دی - دا درے واړه حقونه چه پوره شی هلهٔ به دِ تلاوت حق ادا شی - لیکن اوس خوئے څوک اول حق هم نهٔ ادا کوی چه ټولو کښے اسان دے - دِ نفس په دے وینا چه حفص او عاصم غوندے قاری درنه جوړیدے نشی نو هسے ځان ولے کړوے - جواب ئے دادے - چه دنیا کښے چه هر سړے لکهپتی او کروړپتی کیدے نشی بیا دِ دنیا حاصلولو کوشش ولے کوئ - او بل دِ نفس په دے وینا چه په معنیٰ ئے نهٔ پوهیږے نو تشو الفاظو زده کولو کښے څهٔ خیر دے جواب ئے دادے چه تاسو سره دِ دے څهٔ دلیل دے چه فائده یواځے په معنیٰ پوهیدو کښے ده - دِ تشو الفاظو دِ تلاوت هیڅ فائده نشته - موږ واړو دِ احادیشونه ثابته ده چه دِ تش تلاوت هم ثواب شته - الله په راضی کیږی - لیکن خلق نو صبا دِ قرآن شریف دِ حقونو ادا کولو په ځائے عملیاتو - تعویذونو او وظیفو پسے شوی دی - قرآن ئے هیر کړے دے - قرآن نه صرف داکار اخلی چه دِ بچو دِ پاره پکښے نوم خوښ کړی یا ئے دِ برکت دِ پاره وړاندے تیر کړی - یا ئے دِ مړی په دریمه او څلویښتئ کښے ئے په حافظانو په اجرت ختم کوی - او که دِ دے سره اجونو نه ئے څوک منع کوی نو خفه کیږی او

Scanned with CamScanner

وائی چه دِ خیر کار نه مو منع کوی - موبنز وایو تاسو خو هم خنه وخت کښے نیک کار نه خلق منځ کوئ - لکه بے اودسه مونځ - یا سره غرمه کښے یا دِ نمرختو یا پریوتو په وخت کښے مونځ کوئ - لیکن خلقو ته جوابونو ورکولو په خائے نړۍ خپلو کسانو ته وایم چه اخلاص پیدا کړئ او استغنا اختیار کړئ -

(۱) - نن صبا دِ قرآن شریف نه یو کار دا اخستے شی چه دِ عکس په ذریعه ئے دومره ورځو کی سائز کښے چھاپ کوی - چه دِ تعویذ په شان غاړه کښے اچولے یا په مټ تړلے شی - دا دِ قرآن شریف توهین دے -

(۲) - بل ورنه دا کار اخلی چه لکه دِ پمانو دِ غزلو ئے دِ گراموفون پلیٹونو کښے بند کړی په پیسو ئے خلقو ته اوروی مال په کتې کاروبار ئے ترجوړ کړے دے - دا هم دِ قرآن شریف توهین دے - خان تر ساتل پکار دی - دا کار ونه کوی او دِ قرآن شریف دِ تلاوت ورښے حق یعنی تجوید ئے ترک کړے دے - دا ورته یو گران کار بنکاری - موبنز وایو کمال حاصلول ورکښے واقعی گران کار دے لیکن په قدر دِ ضرورت نړده کول ئے ډیر اسان دی - البته لږه - توجهه او محنت غواړی - دا مدرسه هم دِ دے ضرورت پوره کولو دِ پاره جوړ ښے دے کښے کوشش اوکړئ - ترخپله وَسَه ورکښے پوره پوره مالی او بدنی امداد اوکړئ - او اخلاص پیدا کړئ - اختلافاتو نه خان اوساتئ - دِ الله کار ئے اوکنړئ چنده ورکولئ خو په انتظام کښے دخل مهٔ ورکولئ - انتظام کوونکی دِ هم دا مال امانت اوګنړی او خپل خدمت دِ الله کار - انکسار او عاجزی اختیار کړئ - غټو غټو القابو او کبرلوئ نه خان اوساتئ - او دِ فاسقانو په مَدْح کښے هم احتیاط کوئ په دے عرش لړزیږی او په زمکه هم زلزله راځی -

(۳) - دِ تلاوت دویم حق په معنیٰ خان پوهه کول دی په دے کښے خو دِ خلقو داحال دے چه دِ غلط او صحیح تمیز نشی کولے - دِ پښتیانو او تعلیلدارانو ترجمے اوچتے ګنړی - حکه چه دِ دینی علم حاصلولو ضرورت نه ګنړی - دِ بچو دینی

تعلیم ئے صرف قرآن شریف ناظرہ لوستو پورے محدود کړے دے - چه د زیاتی فرصت نشته - یاد لرئ چه اوس زور کورس مختصر کړے شوید ے په ضروری دینی علم صرف دوه نیم کاله لګی - نو دا عذر هم نه چلیږی -

(۳) - د تلاوت د ریم حق چه د قولو نه اهم دے په معنیٰ پوهیدو نه پس په هغے د عمل کولو پخه اراده ده - دے ته ملا اوتړئ او چونکه عمل د پاره د علم ضرورت دے بے علمه عمل نشی کیدے - دینی علم حاصلولو کښے زور اولګوئ - او که په ابتدا کښے مو ور باندے د عمل پخه اراده نه وی - بیا هم علم مه پریدئ علم حاصل کړئ - علم حاصلولو نه پس به مو اراده خپله سمه شی - البته د نا فرمانئ اراده هم مه کوئ - چه په دے د علم نور ختمیږی - دا مدرسه د قرآن شریف د علم حاصلولو د پاره جوړیږی - په دے کښے امداد اوکړئ - په مال سره د لاسو بښپو خدمت سره - که هیڅ نه وی نو دعا سره - اخلاص پیدا کړئ او اختلاف نه خان اوساتئ -

صرف د ستاسو د همت ضرورت دے - د قرآن شریف درے واړه حقونه ادا کولے شئ - اوس دعا اوکړئ چه الله تعالے موبنز قولو ته د قرآن شریف د تلاوت درے واړه حقونو ادا کولو همت او توفیق راکړی آمین - والسلام - وصلی الله تعالے علی خیر خلقه سیدنا محمد وعلی آله واصحابه اجمعین -

برحمتک یا ارحم الراحمین -

دعوات عبدیت

دویم جلد

دریم وعظ

عِلاَجُ الْکِبرَ

دِکبر علاج


یعنی زړهٔ نه دِ کبر اولوئ خیال ویستلو طریقه

له ارشاداتو دِ حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه

Scanned with CamScanner

تعارف

دا وعظ حضرت تھانویؒ خپل کلی تھانہ بھون کښے په خپل مکان کښے په ۲۳/ صفر (۱۳۳۸ھ) کښے په یوه ګھنټه کښے په ناسته کړیدے۔ اومولوی حکیم محمد مصطفیٰ بجفوری قلمبند کړے دے۔



Scanned with CamScanner

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ نَحْمَدُہٗ وَ نَسْتَعِیْنُہٗ وَ نَسْتَغْفِرُہٗ وَ نُؤْمِنُ بِہٖ وَ نَتَوَکَّلُ عَلَیْہِ وَ نَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَ مِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّھْدِہِ اللّٰہُ فَلَا مُضِلَّ لَہٗ وَ مَنْ یُّضْلِلْہُ فَلَا ھَادِیَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنْ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ لَا شَرِیْکَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَ رَسُوْلُہٗ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہٖ وَ بَارَکَ وَ سَلَّمَ اما بعد - فاعوذ باللہ من الشیطن الرجیم - بسم اللہ الرحمن الرحیم قال اللہ تبارک وتعالے وَلَہُ الْکِبْرِیَاءُ فِی السَّمٰوٰتِ وَ فِی الْاَرْضِ وَ ھُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ - (اوخامی هغه لره ده لوئی په اسمانونو کښے او په زمکه کښے او هم هغه زبردست دے د حکمت خاوند) په دے آیت مبارک کښے الله تعالے چنل یو خاص صفت بیان کړے دے - که چرے بنیادم دا آیت مبارک چنل ذهن کښے اوساتی نو د توله بدیو نه به بچ شی د دے خلاصه ده الله تعالے سره د انسان تعلق پیژندل - ظاهره ده چه - تعلق یو نسبتی امر دے چه دوه طرفه غواړی - نو یو طرف ته الله تبارک وتعالی دے او بل طرف ته بنده دے نو تعلق پیژندو د دې پاره دوه څیزونه پیژندل غواړی - د الله تعالے معرفت (پیژندل) او د چنل څان حقیقت پیژندل دواړو کښے تلازم دے یعنی چاته چه د الله تعالے معرفت حاصل شو - چنل حقیقت به او پیژنی - او چاچه چنل حقیقت او پیژندلو نو د الله تعالے معرفت به ورته حاصل شی - ځکه ویلے شوی دی - مَنْ عَرَفَ نَفْسَہٗ فَقَدْ عَرَفَ رَبَّہٗ - (چاچه د چنل نفس حقیقت او پیژندو د الله معرفت به ورته حاصل شی) څان پیژندل اول هم دی او آسان هم دی ځکه چه نفس حاضر دے او د الله تعالے معرفت گران

Scanned with CamScanner

دے ځکه چه هغه د نظر نه غائب دے - او د غائب پیژندل د حاضر په نسبت
ګران وی نو په دے آیت مبارک کښے الله تعالے موږ ته څپل یو خاص صفت
بیان کړے چه د دے په واسطه ما اوپیژنئ - او هغه صفت کبریائی دے کوم چه
د ټولو صفاتو درجهٔ کمال دے او د دے معنیٰ دَه لوئی کوا چه د الله تعالے خاص
صفت دے نو چه د الله تعالے خاص صفت شو - نو د بل چا نه ئے نفی پکار دَه
یعنی چه دا صفت په بنده کښے قطعی نهٔ وی په هیڅ درجه کښے هم نه - په دے
خبره چه څوک پوهه شو هغهٔ نه به خراب کار هیڅ اونشی - او چه په دے
نهٔ پوهیږی - د لوئی مننه هم ځان ته حاصلول غواړی - نو هغهٔ کښے هر څومره
عیبونه چه پیدا شی کم دی -

حقه دا دَه چه دا د کبر خوئ د هر فساد جړه دَه - تر دے چه د شرک او
کفر سبب هم دا کبر دے - دنیا کښے چه څوک کافر شوی دی - د کبر په وجهه
ورنه حق هر چاته ـــــ واضح معلوم شوے وو په دے به بنهٔ پوهه شو
چه اسلام حق دے - خو په دے وجهه به ئے انکار کولو چه خلق به وائی تراوسه
په غلطه روان وو اوس پوهه شو - نو د کبر په وجهه ئے ایمان نهٔ راوړو -

حضرت ابوطالب صاحب په آخر وخت کښے صرف په دے وجهه د کلمے -
ویلونه انکار اوکړو چه خلق به وائی ابوطالب د دوزخ د اور نه اوویرید و
نو په بهادرئ کښے به هم فرق راشی - قوم ته به کمزورے بنکاره شم - څپله
الله تعالے فرمائی - وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا اَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَّعُلُوًّا (او دوئ اسلام
قبلولو نه انکار اوکړو سره د دے چه د اسلام په حقانیت ئے یقین وو د لوئی
او نافرمانئ په وجهه) دلته الله تعالے څپله فرمائی چه د هغوئ د ایمان نهٔ
راوړو سبب کبر وو - نو کبر د پر خراب شے دے د ټولو خرابیو جړه دَه - او
کبر په یو ډله پورے خاص نهٔ دے - دا یو داسے عام مرض دے - چه هره ډله
کښے مونتے شی - نور عیبونه خو اکثر په جاهلانو کښے وی - تعلیم یافته طبقه کښے

Scanned with CamScanner

ډیرکم وی- څکه چه هغوئ ئے د خرابے نتیجے نه خبر وی- لیکن کبریو داسے عیب دے- چه جاهلان او عالمان ټول پکښے تقریباً یو شان مبتلا دی- د عربو مشرکان خو اکثر بے تعلیمه وو- لیکن د هغے زمانے تعلیم یافته طبقه یعنی اهلِ کتاب- یهود و او عیسایانو هم د کبر په وجهه ایمان راوړو نه انکار کولو- د دے مختصر بیان نه دومره خبره خو واضحه شوه- چه د کفر او شرک بنیاد کبر دے- اوس په دے باندے غور اوکړئ نو معلومه به شی چه د اکثرو ګناهونو سبب هم کبر دے- ډیر کسان داسے وی چه یو کبیره ګناه کښے مبتلا وی- نو صرف په دے وجهه ورنه توبه نه اوباسی- چه خلق به وائی دا بے وقوف تر اوسه په دے نه پوهیدو چه دا بدکار دے- ایله اوس پوهه شو- نو صرف د بے وقوفئ د نوم نه بچ کیدو د پاره ګناه کښے مبتلاوی او دغه کبر دے- دا مرض څکه پیدا شو- یعنی ځان ورته څکه لوئے ښکاره شو چه د الله د لوئی نه خبر نه دے- نو د دے علاج دا دے چه د الله د لوئی نه خبر شی- چه د الله تعالے عظمت او پیژنی نو خپل حقیقت به ورته معلوم شی بیا به د لوئی خیال نه کوی- دے ته علاج په ضد ویلے شی- څکه په دے آیت کښے الله تعالے کبریاء ځانته په لفظ د حصر ثابته کړی ده- وَلَهُ الْكِبْرِيَاءُ یعنی عظمت او لوئی خالص د الله صفت دے- نو بل چا کښے دا صفت زیات یا کم هیڅ هم نه دے پکار- د بلاغت قاعده ده چه د کوم لفظ چه حق د تاخیر وی هغه مقدم کړے شی نو معنیٰ د حصر ورکوی- دا د حصر معنیٰ په حدیث شریف کښے داسے بیان شوی ده- حدیث قدسی دے- چه الله تعالے فرمائی اَلْعَظْمَةُ اِزَارِیْ وَالْكِبْرِيَاءُ رِدَائِیْ فَمَنْ نَازَعَنِیْ فِيْهِمَا قَصَمْتُهُ- (عظمت ځما لنګ دے او کبریاء م ځادر دے- څوک چه په دے کښے ما سره د شرکت دعوه کوی څټ به ئے مات کړم) په هغه زمانه کښے د عربو خاصه جامه دوه- ځادرونه وو یو نه به ئے لنګ او وهلو بل به ئے په سر کړو- محاوره ده

Scanned with CamScanner

مطلب ئے خصوصیت دے ۔ یعنی عظمت اولوئی خاخاصه دَه بل څوک که ئے ۔
دعوه کوی څټ به ئے مات کړم هر کله چه لوئی دِ الله تعالے خاص صفت دے
نو بیا په چل زړهٔ کښے لوئی ساتل الله تعالے سره دِ مساوات دعوه شوه۔ نورو
ګناهونو دِ پاره خوځهٔ حدود دی ۔ چه دِ حد نه واوړی نو ګناه شی ۔ مثلاً
دومره خوراک چه دِ مرض سبب نشی جائز دے ۔ یا دومره لوبزه تیرول چه
دِ هلاکت سبب نهٔ وی جائز دَه ۔ لیکن کبر داسے مرض دے چه دے دِ پاره
هیڅ حد نشته ۔ دِ پیرکم هم اجازت نشته یو حدیث شریف دے ۔ لَا یَدْخُلُ
الْجَنَّةَ مَنْ کَانَ فِیْ قَلْبِهٖ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ مِنَ الْکِبْرِ ۔ (دِ چا په زړهٔ کښے چه دِ یوے
ذرے برابر کبر وی جنت ته به نهٔ ځی) ۔ یو بل حدیث شریف دے ۔ اَخْرِجُوْا
مِنَ النَّارِ مَنْ کَانَ فِیْ قَلْبِهٖ ذَرَّةٌ مِّنَ الْاِیْمَانِ ۔ (دِ قیامت په ورز به فرشتوته
حکم اوشی ۔ دِ چا په زړهٔ کښے چه یو ذره ایمان وی دوزخ نه ئے اوباسئ)
اوس دا دواړه یو ځائے کړئ ۔ دلته ارشاد دے دِ چا په زړهٔ کښے چه یو
ذرهٔ ایمان وی دوزخ نه به اوویستے شی جنت ته به لاړ شی او هلته ارشاد
دے ۔ دِ چا په زړهٔ کښے چه یو ذره کبر وی جنت ته به نهٔ ځی ۔ مطلب دا شو
چه دِ چا په زړهٔ کښے چه یو ذره کبر وی دِ صفه په زړهٔ کښے یو ذره ایمان هم
نهٔ وی ۔ یعنی کبر او ایمان دواړه دِ یو بل ضد دی ۔ یو ځائے جمع کیدے نشی
اوس او ګورئ چه کبر څومره غټ مصیبت دے او ولے به نهٔ وی چه دِ کفر
او شرک دواړو نه غټه ګناه دَه ۔ او کبر دِ دے دواړو بنیاد دے نو مسلمان
ته پکار دی چه هر وخت سوچ کوی چه آیا زړهٔ کښے ئے کبر نشته که نه ۔ خو
زمونږ خو عادت دا دے چه سوچ نهٔ کوو ۔ که سوچ هم وکړلے نو معلومه شوی
به وَه چه زمونږ نهٔ دنیادار دِ کبر نه خالی دی ۔ او نه دیندار دِ کبر
نه پاک دی ۔ دیندارئے دِ دین په شکل کښے لوئی کوی ۔ او دنیادار خو
هلهٔ وخبر نهٔ دی ۔ چه کبر لوئی څه شے دے ۔ چنانچه دیندار مونږ کوی

Scanned with CamScanner

دااحساس به دی ورسره چه څنګه خشوع خشوع سره مونځ چه پکاروه ـ
هغسے چه اونکړے شو ـ دِ عبادت حق چه ادا نکړے شو ـ نوزړهٔ ته به ئے لوئی
نه راځی نو په دے پوهه شئ چه زموبنز د ینداروکښے هم کبر شته ـ دنیا
داروکښے داسے کبر نهٔ دے څنګه چه دینداروکښے دے ـ دِ هغوئی کبر
په جامه پیزارکښے او دِ غم بنادئ په رواجونو کښے څرګندیږی ـ چه کبر
کښے یو غټ خرابے بل دے هغه دا چه مسلمان هرځومره که په عمل کښے کمزورے
وی خو دا خبره ئے په زړهٔ کښے ضرور وی چه دِ الله تعالے نافرمانی بد
کار دے ـ اوکله چه تر څهٔ ګناه اوشی ـ زړهٔ کښے په خفه اوستومانه وی
لیکن کبر داسے ګناه دَه چه ټول عمر زړهٔ کښے موجود وی او څوک پِه بنپیمانه
یاخفه نهٔ وی ـ تاسو ګورئ نه چه دِ غم بنادئ څومره رواجونه چه دی
دِ نوم ناموس او شهرت دِ پاره کیږی ـ اوڅوک به ورباندے خفه څهٔ
شی خوشالیږی پِه چه کار به خیر خیریت سره اوشی او څهٔ خفګان یا بد
انتظامی پکښے اونشی ـ اوخلق ئے صفتونه اوکړی چه صاحب غټ همت ئے
اوکړو هرځهٔ ئے دِ خپل حیثیت نه زیات اوکړل او په صحیح طریقه
اوکړل نو دوئی دِ خوشالئ نه په جامو کښے نهٔ ځایږی ـ داکفرنهٔ دے
خو کفر ته نزدو دے ـ شرعی مسئله دَه او په ټولو کتابونو کښے لیکلی دَه چه
ګناه سپکه ګنړل ـ یا یو ناجائز کار جائز ګنړل کفر دے دا مسئله هرچاته معلومه
دَه خو دا ئے په ظاهری ګناهونو پورے خاصه کړی دَه ـ ولے ؟

دِ زړهٔ ګناهونه لکه کبر ـ ریا ـ شهرت وغیره په دے حکم کښے ولے نهٔ
راځی ـ اوس په دے سوچ پکار دے ـ چه دِ نوم ناموس په کار خوشالیدل
څومره غټه ګناه دَه ـ دِ رسمونو متعلق بنځو سره یو غټ دلیل دا دے ـ چه
وائی دا نوی هولیان را پیدا شو ـ دے کارونو ته بدوائی ـ که دا په ربنتیا
بد وے نو پخوانو مولیانو ولے نهٔ منع کول موبنز وایو پخوانو مولیانو هم

Scanned with CamScanner

وړته بد ویلی دی - او په کتابونو کښے ئے لیکلی دی چه دا کار ونه بد دی خو تاسو د هغوئ خبره نه اوریده لکه اوس چه زمونږ خبره نه اوریږی او د شیطان خبره اوریږی۔

څنه خلق وائی هغه پخوانی روا جونه کوم چه د شرک او کفر کار ونه وو هغه خو مونږ پریښی دی موجوده روا جونو کښے د شرک څه خبره نشته نو جناب عالی! یواځی شرک او کفر د گناه کار ونه نه دی۔ نوم ناموس کبر او لوئی او اسراف هم گناهونه دی۔ گومو کتابونو کښے چه شرک او کفر ته بد ویل شوی دی په هغے کتابونو کښے کبر او ریا ته هم گناهِ کبیره لیکلی شوی دَه۔ او موجوده روا جونه ټول د نوم ناموس او تفاخر۔ کبر لوئی نه ډک دی۔ بلکه دا روا جونه د نړۍ روا جونو نه زیات خراب دی څکه چه که د هغے بنیاد په کفر وو۔ نو د دے روا جونو بنیاد په کبر دے کوم چه د کفر جړ دَه۔ او په هغے کار ونو کښے د نړۍ د خوشالئ څه نه وو نو پریښودل ئے اسان وو په دے موجوده روا جونو نفس خوشالیږی نو پریښول ئے گران دی۔ څکه چه د نفس سره مقابله غواړی۔ په دے روا جونو کښے بل غټ خرابے دادے۔ چه خلق ئے هډو د گناه کار نه گڼی بلکه بنه کار وړته وائی۔ نو کوم کار چه څوک بد نه گڼی هغه نه د توبے ویستو هیڅ طمع نشی کیدے څکه چه د توبے مطلب دے بنپیمانه کیدل او کوم کار چه څوک بد نه گڼی۔ په هغے به بنپیمانه څنگه شی۔ او توبه به ترڅنگه اوباسی۔ بلکه د څنه روا جونو متعلق خو ئے داخیال دے چه دے کښے هیڅ گناه نشته۔ بلکه بنه کار دے۔ مثلاً د جهیز روا ج واخلئ (د وادۀ جینئ ته د پلار د کوړه ساز و سامان) یا د وادۀ د ولئ ولیمه سر کلے سنت وغیره په موجوده شکل کښے۔ (حضرت تهانوی فرمائی)۔ نړۍ تاسو نه پټوس کوم مونځ څنگه کار دے؟ د هر مسلمان داعقیده ده

چه عبادت دے بنهٔ کار دے۔ څهٔ پکښے فرض دی څهٔ واجب څهٔ سنت کم
ازکم مستحب دی۔ لیکن که څوک پکښے څهٔ فرق راولی لکه دِ قبلے نه غیر
بل طرف ته ئے مخ کړے وی۔ نو دا مونځ جائز دے که ناجائز۔ اوکه
څوک ئے منځ کوی نو تهٔ به ورته څهٔ وائے چه دِ مانځهٔ نه ئے منع کړو
هرگز نه۔ دا دِ مانځهٔ نه منځ کول نهٔ دی۔ بلکه دِ قبلے نه غیر بل خواته
مخ کرلو نه منځ کول دی۔

دغه حال دِ دے سړو اجونو هم دے۔ موښ جهیز یعنی لور ته څهٔ ورکولو
نه څوک نهٔ منځ کوو بلکه دے کښے چه کومه ریا او اسراف راغلے دے۔ هغے
نهٔ خلق منع کوو۔ که څوک په اخلاص دِ زړهٔ نه خپل اولاد سره څهٔ امداد
کول غواړی نو دے ته هیڅوک بد نشی ویلے۔ بدی ئے په دے کښے دَه
چه دِ طاقت نه زیات کار کولے شی او یو یو شے تولو خپلو خپلوانو ته بښلے
شی او فخر په کیږی۔ او دیر اسراف پکښے کیږی۔ که محبت دِ دے نوم وی
نو داسے معلومیږی چه دِ وادهٔ دِ نیټے نه مخکښے تاسو دِ خپل اولاد سره محبت
نهٔ وو۔ ځکه چه مخکښے خو مو عادت داوو چه هر شے به مو ورته پټ راوړو
هیڅاته مو نه بښیلو۔ نو که هغه مینه وَه۔ نو دا اوس چه هر شے دنیا ته
بنکاړه کوئ دا مینه نهٔ دَه۔ اوکه دا مینه وی نو دا دومره عمر مو ورسره
مینه نهٔ وَه۔ لږ شان دِ عقل نه کار واخلئ۔ که اولاد سره مو مینه وی
او ورښتیا فائده ورو رسول غواړئ۔ نو جامے اولو بښے او غیره چه څهٔ
ورکول غواړئ په صندوقونو کښے بند په بند ورسره واستوئ۔ او
ورسره استول هم ضروری نهٔ دی ځکه چه په کنړه کښے دِ دیر و خیزونو
دِ خرابیدو او ورکیدو خطره وی۔ سامان محفوظ کیدئ چه جینئ په روڼی
راشی او بیا کورته ځئ ورسره ئے واستوئ۔ هغه به ئے چپله په صحیح
طریقه سنبال کړی۔ لیکن داسے هیڅوک نهٔ کوی او نهٔ ئے کولے شی۔

Scanned with CamScanner

چه عبادت دے بنهٔ کار دے ۔ څهٔ پکښے فرض دی څهٔ واجب څهٔ سنت کم
ازکم مستحب دی ۔ لیکن که څوک پکښے څهٔ فرق راولی لکه د قبلے نه غیر
بل طرف ته مٹے مخ کړے وی ۔ نو دا مونځ جائز دے که ناجائز ۔ اوکه
څوک مٹے منع کوی نو تهٔ به ورته څهٔ وائے چه د مانځهٔ نه مٹے منع کړو
هرگز نه ۔ دا د مانځهٔ نه منع کول نهٔ دی ۔ بلکه د قبلے نه غیر بل خوا ته
مخ کولو نه منع کول دی ۔

دغه حال د دے سړو اجونو هم دے ۔ موبز جهیز یعنی لور ته څهٔ ورکولو
نه څوک نهٔ منع کوو بلکه دے کښے چه کومه ریا او اسراف راغلے دے ۔ هغے
نهٔ خلق منع کوو ۔ که څوک په اخلاص د ورهٔ نه خپل اولاد سره څهٔ امداد
کول غواړی نو دے ته هیڅوک بد نشی ویلے ۔ بدی مٹے په دے کښے دَه
چه د طاقت نه زیات کار کولے شی او یو یو شے تولو خپلو خپلوانو ته بنیلے
شی او فخر په کیږی ۔ او د دیر اسراف پکښے کیږی ۔ که محبت د دے نوم وی
نو دا سے معلومیږی چه د واده د نیتے نه مخکښے تاسو د خپل اولاد سره محبت
نه وو ۔ ځکه چه مخکښے خو مو عادت داوو چه هر شے به مو ورته پټ راوړو
هیڅا ته مو نه بنیلو ۔ نو که هغه مینه وَه ۔ نو دا اوس چه هر شے دنیا ته
بنکاره کوئ دا مینه نهٔ دَه ۔ اوکه دا مینه وی نو دا دومره عمر مو ورسره
مینه نهٔ وَه ۔ لږ شان د عقل نه کار واخلئ ۔ که اولاد سره مو مینه وی
او ورسره ښیا فائده ورسره سول غواړئ ۔ نو جامے اولو ښے او غیره چه څهٔ
ورکول غواړئ په صندوقونو کښے بند په بند ورسره واستوئ ۔ او
ورسره استول هم ضروری نهٔ دی ځکه چه په کنډه کښے د دیر و څیزونو
د خرابیدو او ورکیدو خطره وی ۔ سامان محفوظ کیدئ چه جینئ په روتی
راشی او بیا کورته ځی ورسره مٹے واستوئ ۔ هغه به مٹے خپله په صحیح
طریقه سنبال کړی ۔ لیکن دا سے هیڅوک نهٔ کوی او نهٔ مٹے کولے شی ۔

Scanned with CamScanner

ځکه چه اصل مقصود خو نوم ناموس دے۔ دے نه به څوک خبر شی چه
لور ته ئے څۀ ورکړل نو مقصود نۀ حاصلیږی۔ اکثر په جهیز کښے داسے
څیزونه وی چه هیڅ ے پکار نۀ راځی صرف نمائش او رواج پوره کول وی
تخته پوش به ضرور وی۔ خو دِ هغے سائز داسے وی چه نۀ دومره
لوئے وی چه مونځ پرے کیدے شی۔ او نۀ دومره وړوکے وی چه هیڅ
ناستی دِ پاره هر ځائے کښ ولے شی۔ نو هسے دِ نمائش دِ پاره بے فائدے یو
ځائے کښے پروت وی۔ پیړی به ورسره وی خو دومره نازکه چه څوک
پرے کیناستے نشی او دومره ښائسته چه دِ نظری په غاړه ئے په اچولو دِ چا
زړۀ نۀ کیږی نو بے فائدے یو ځائے کښے اویزانه وی څۀ پکار نۀ راځی
او قیمت ئے پیر وی۔ نو دا کوم دِ عقل کار دے دِ جهیز اکثر څیزونه داسے
وی چه ښائست ئے پیر وی او مضبوطیا ئے نۀ وی۔ تر دے چه دکاندار
نه شے اخلے نو درنه به تپوس اوکړی چه دِ کوم دِ چلن دِ پاره اخلی که ښادئ
دِ پاره۔ نو آیا مینه دادۀ چه داسے شے ورکړۀ چه هیڅ پکار ئے رانشی۔ پیسے
په هسے برباد دے لاړے شي۔ موږ زوم دِ دے خوږے ته خلق منځ کړو۔ اولاد
سړه میندے او اولاد ته ورکړے ته هیڅوک بد نشی وپیلے۔

په ښادیو کښے یو دا خراب رواج هم عام دے۔ چه دِ هلک ټولو خپلو۔
خپلوانو ته جوړے ورکولے شی۔ په نوم جوړه وی۔ خو کپړه ئے دومره
کمه وی چه جامے تر نۀ کیږی۔ خو نۀ تر څوک جامے جوړه وی او نۀ ئے
اغوندی صرف رواج پوره کول وی۔ نو داسے بے فائدے تاوان کول
کوم عقل دے۔

داخو شو دِ جهیز حال۔ اوس دِ ولیمے حال واورئ په کومه چه پیر
زور لګولے شی چه ولیمه خو سنت دَه نو دِ دے نه خلق ولے منځ کړئ
دِ سنت نوم هم اورسیدلے دے۔ په دے هم ځان پوهه کړئ چه سنت

Scanned with CamScanner

څه ته وائی - سنت هغه کار دے کوم چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم چنله کړے وی یائے چاته دے کړلو حکم کړے وی - ولیمه بے شکه په حدیث ثابته ده لیکن تاسو تش دے ولیمے نوم واخستو او دے هغے کیفیت مو پریښو او هغه طریقه مو اختیار نه کړه - کومه چه په احادیثو کښے ذکر ده چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم څنګه ولیمه کړے وه - اوس دے هغے حال واورئی - نبی کریم صلے الله علیه وسلم په یو سفر کښے حضرت صفیه رضی الله عنها په نکاح کړه - په صبا نے بیا اصحابو ته اوفرمائیل چا سره چه دے سفر دے پاره څه توښه وی هغه راغونډه کړئی - چا سره چه څه وو هغه نے راوړل - چا سره لږے کجورے وے چا سره ستوان وو - چا سره سره سروتئی وه - دا څیزونه نے په دسترخوان اوغوړول او نورلو په یو ځائے سروتئی اوخوړل - دا وه هغه ولیمه - دے ولیمے نوم نورلو یاد کړے دے - لیکن دا خبره نے وړ سره نه ده یاده - کړی - اوس څوک دا سے ولیمه کولے شی ؟ دا فعلی حدیث دے یعنی نبی کریم صلے الله علیه وسلم دا کار کړے دے - بل قولی حدیث یعنی دے حضورؐ ارشاد واورئی - حضورؐ فرمائیلی دی - شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيْمَةِ يُدْعٰى اِلَيْهِ الْاَغْنِيَاءُ وَ يُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ - (په خوراکونو کښے بد خراب خوراک دے هغے ولیمے خوراک دے چه مالدار وړته بللے شی او فقیران پریښوے شی) دے دے حدیث شریف نه ثابته شوه چه هره ولیمه ښه نه ده - څه پکښے خرابے هم وی - نو کړے چه خرابے دی - هغه دے بندولو قابلے دی - مګر صبا اکثر ولیمے هم دا سے دی چه مالدار عزیزان وړته بللے شی - او محتاج فقیر که بے بلنے وړ شی هغه رتلے او شړلے شی - او وړته وائی چه اول بلونی پوره شی نو چه څه پاتے شی دے تاسو برخه به هم اوشی - (خو اکثر څه پاتے نشی بلکه کمے اوکړی) - دے دا سے ولیمے خرابے حدیث شریف نه ثابت شوئو که عالمان نے دے بندولو کوشش کوی نو څه الزام په لګیدے شی - یو بل

حدیث شریف دے - نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ طَعَامِ الْمُتَبَارِیَیْنِ (رسول الله صلے الله علیه وسلم هغے خوراک کښے شرکت نه منع کړی ده کوم چه دوه کسه خپلو کښے په یوبل فخر او لوئی څرکندولو دِ پاره ورکوی) اوس اوګورئی چه نن صبا په بنادیو کښے دِ عزیز ولئی روټئی کښے یو بل سره مقابله وی که نه - که یو کس غوښه روټئی ورکړی وی - نو بل پلاؤ زرده ورکوی بلکه ورسره خوږه دش فرنی او پډنګ زیاتوی - او بل ورپسے دِ دے نه هم دِ زیاتی کوشش کوی دغه شان په بډ خیژی - نو دِ دے - حدیث شریف په حکم داسے دعوتونو کښے شرکت جائز نه دے - اوګورئی دا دِ هغے دعوتونو حال دے کوم ته چه تاسو مسنون وائی دِ مشابه قول دے طَعَامُ الْمَیِّتِ یُمَیِّتُ الْقَلْبَ - (دِ دے مشهوره معنیٰ خو دا کیږی - کوم خوراک چه په مړی پسے پخیږی هغه زړهٔ مړ کوی) یعنی دِ غم سواجی خوراکونه دِ ورښئی شپے - دریمے او خلویښتئی خیرات نه - لیکن دا په خیال دلته دِ مَیِّتٌ معنیٰ عاصی یعنی ګنهګار اخستل زیات مناسب دی - قرآن کریم کښے هم ګنهګار ته مَیِّتٌ ویلے شوے دے - ارشاد دے - اَوَمَنْ کَانَ مَیْتًا فَاَحْیَیْنٰاهُ - (هغه څوک چه مړ وو بیا موږ ژوند ورکړو) یعنی ګنهګار وو موږ ورته هدایت اوکړو - اوس به ئے معنیٰ دا سے شی - کوم خوراک چه په ناجائزه طریقه پوخ شوے وی هغه زړهٔ مړ کوی - یعنی دِ ګناه احساس ختموی - په مړی اوژوندی کښے خو فرق صرف دِ احساس دے - یعنی په ناجائز دعوتونو کښے چه عام شرکت کیږی نو دِ خلقو دِ زړهٔ نه دا خیال ختم شی چه دے کښے شرکت ګناه ده -

دا سے دعوتونو کښے شرکت رسم نه دے اِثْمٌ یعنی ګناه ده - یا دلرئی - خراب سواجونه صرف هغه نه دی کوم کښے چه شرک او کفر وی - په دے سواجونو کښے که شرک او کفر نشته خو ګناه کښے ورنه کم نه دی ځکه چه دِ

Scanned with CamScanner

دے بنیاد په کښ دے چه د شرک او کفر جړ ده - په دے حیثیت دا سواجونه د هغونه نړیات خراب دی - لیکن د عام کیدو په وجهه ئے خلق د خرابئ نه غافله دی -

یادلرئ = سواجونه ټول ختمول پکار دی څه خیر پکښے نشته - خلق چه پکښے کومے فائدے بیانوی ټولے هسے ځان غلولو د پاره جوړے شوی دی - د پیر خلق په خطا کیږی - بلکه عام خلق ته خو ئے څه فائده نه وی معلومه خو د سواج په وجهه ئے کوی - دا سواجونه د شریعت خلاف خو دی - د عقل نه هم خلاف دی - هیڅ فائده پکښے نشته - بے فائدے تاوانونه دی او جهالت دے - څنه سواجونه په دے نوم کولے شی چه دے کښے برکت دے - که دا او نشی بنادی به کامیابه نشی - نعوذ بالله - بالکل فضول هسے د ځانه خبرے دی - د پیر خلق والئ که په شریعت کښے د دے سواجونو ثبوت نشته - نو منع خو ئے هم چرته نه ده راغلی - آیا بنے جاهے اغوستل منع دی - آیا سونړو عزیزانو ته د عورت و سړکول یا اولاد ته څه شے و سړکول ناجائز دی - یا د میلمنو خاطر داری - موبنږ وایو شریعت کښے ئے منع راغلی ده - حدیث شریف دے - مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ الشُّهْرَةِ اَلْبَسَهُ اللّٰهُ ثَوْبَ الذِّلِّ یَوْمَ الْقِیَامَهِ - (چاچه نائش او شهرت د پاره جاهے واغوستے الله به و سړته د قیامت په ورځ د ذلت جاهے واغوستوی) یعنی ذلیل به ئے کړی دا حدیث شریف د جامو په حق کښے واضح دے لیکن د علت د شرکت په وجهه - هغه ټولو کارونو ته شامل دے کوم چه د نوم ناموس او شهرت د پاره کیږی - نو که عزیزانو ته د عورت یا د میلمنو خاطر داری په دے خیال وی چه نوم نامومس موارشی - نو د نیا کښے به ئے یا نوم کیږی یا نه آخرت کښے سپکاوے خو ئے اوکتلو - بلکه اکثر ئے په د نیا کښے هم سپکاوے اوشی - په دا سے لویر د عزتونو کښے اکثر نا ملی خلق د پیر اشی نو خو راک کم شی او کله د

بد انتظامئ په وجهه کار خراب شی نو دِ نوم کتلو په ځائے ورپسے خلق خبرے اوکړی او دِ عزت په ځائے سپک شی۔ لیکن بیا هم خلق دِ عقل نه کار نه اخلی او دا سواجونه ختمږی نه بلکه ورځ په ورځ نور زیاتیږی۔

یادلرئ ؛ که دے دستورونو کښے څه خیر وے۔ نو دِ دواړو جهانو دِ سردار دِ نیازبینے لور بی بی فاطمے رضی الله عنها په واده کښے به ضرور دا دستورونه شوی وو۔ دِ جناب رسول الله صلے الله علیه وسلم سره دِ څه کمے وو۔ دِ هغوئ چه څه نه څه غوښتو الله تعالیٰ به ورکړی وو۔ لیکن هغوئ دا سے کارونه نه خوښول۔ دِ بی بی فاطمے رضی الله عنها دِکر زدنے او واده تړلو قصه اوس ما نه واورئ۔ دلته دِ بنادئ نه مخکښے په کوژدنه کښے څومره بے شمیره سواجونه دی بے اندازه تاوانونه او بے فائدے کړاوونه دی۔ په اصل کښے دِ کوژدنے حقیقت دِ یو زبانی وعدے نه علاوه نور هیڅ نشته۔ لیکن دے زبانی وعدے اخستو دِ پاره دِ هلک خپلوان او دوستان دِ لرے لرے نه راشی۔ چل وخت هم خراب کړی۔ پیسے هم تاوان کړی او دِ سفر تکلیف هم برداشت کړی۔ دا کار په یوخط هم کیدے شی۔ که دِ چا داخیال وی چه خط به اونهٔ رسی نو رجسټری کولے ئے شی۔ یا که دِیر احتیاط کوی۔ نو دِ یو سړی په لاس ئے استولے شی۔ غرض دا چه دِکوژدنے دے دومره سرخوږی کښے فائده هیڅ نشته۔ صرف سواج پوره کول دی۔ ویلے شی چه دا سواجونه ولے؟ راسے راغلی دی۔ (حضرت فرمائی) زهٔ وایم که هم په دے پسے غوږ اوکړئ نو حقیقت به ئے درته معلوم شی۔ دِ ولے نه څه مطلب دے؟ دِ یو ولے خو دے وطن کښے (یعنی هندوستان او پاکستان کښے) اسلام نه وو۔ نو اوس دوه خبرے کیدے شی۔ یا دا چه کله نه کله ته اسلام راغلے دے او دے وطن ته مسلمانان ستا رارسیدلی دی نو دا سواجونه ئے خان سره راوړی دی او یا دا چه دا سواجونه دے وطن کښے ووچه مسلمانان دے وطن ته راغلو نو

نو هغوئ هم شروع کړو - اوله خبره غلطه دَه - که دا سړواجونه اسلام سړه راغلے
وے - نو په عربو کښے او نورو اسلامی ملکونو کښے به هم وو - حالانکه دا
سړواجونه هلته نشته - نو ثابته شوه چه دا سړواجونه دے وطن کښے غیر مسلمو
کښے وو - مسلمانانو هم نه ده کړی - او داخبره چه دا رسمونه د هندوانو دی
د دے د نورو نه هم څرګنده ده - د هلک د کړه چه جینئ ته څه سامان
کړلے شی هغے ته برتی ویلے شی - دا د بَرْ نه جوړ شوے دے - بَرْ په هندئ
کښے د زادهٔ حلمی ته وائی - که د بل ملک سړواج وے نو د عربئ یا فارسئ
لفظ به وو - دے نه معلومیږی چه دا د هندوانو سړواجونه وو مسلمانانو خپل
کړی دی - مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ (چا چه د کوم قوم مشابهت اختیار کړو
هغه د هغوئ نه دے) مشهور حدیث شریف دے - (حضرت فرمائی) نړیوړم
چه دا خاتو پراځی کوټ پتلون پوهے ولے خاص کړے دے - حالانکه تَشَبُّهْ یو
عام لفظ دے - په جامه پیزار کښے په خوئی خصلت کښے په سړسم سړواج کښے هر
څه کښے کیدے شی -

د یو بزرګ واقعه ده چه د هولئ په ورځو کښے یو څل بهر وتے وو -
(هول د هندوانو یو میله ده چه په یو خاصه ورځ په یو بل باندے ګلالی سړنګ
اچوی) هندوانو په یو بل ګلالی سړنګ اچولو - په لار کښے یو خر پروت وو
دا بزرګ ځے خواکښے تیریدو په توقه ځے اووے - په تاغریب هیچا رنګ وا
نه اچولو وار اوکړو چه څه درباندے واچوم - د پان توکے ځے په واچولے
د مرګ نه پس یو بل بزرګ — په خوب کښے اولیدو ده ته ځے اووے - په
هغے پان توکو ما سره کرفت او شو چه تا هندوانو سره د هولئ میله کښے شرکت
کړے دے - فرشتو ته حکم اوشو چه هولئ والو سره ځے مرګ کړئ - نو تَشَبُّهْ
دا سے خراب شے دے -

دا غه شان د سلطان محمود غزنوی واقعه ده - چه هغهٔ هندوستان -

Scanned with CamScanner

کښے د سومنات بنار فتح کړو۔ نو د سومنات د مشهور درمسال تول بتان
ټے مات کړل۔ یوغټ بت پاتے وو چه هغه ټے ماتولو نو بانبړانو ورته ډیر
منتونه اوکړل چه دے سره به په تول سړۍ زر درکړو خو دامهٔ ماتوه
بادشاه ته ونه یرانو صلاح ورکړه چه په یو بت څهٔ کیږی که پاتے شی۔ دا
زر به د غازیانو په کار راشی او د غزا د پاره به په لښکر تیار شی۔ په دے
مجلس کښے سپه سالار مسعود غازی هم ناست وو هغه ورته اووے۔ تراوسه
خو بادشاه په بت شکن مشهور وو۔ که دابت ټے سالم پریښو نو بیا به ورته
بت فروش ویلے شی۔ دا خبره د بادشاه زړهٔ ته پریوته۔ خو څهٔ فیصله ټے
نهٔ وه کړی۔ په صبا ټے پریښوه۔ چه د غزے او دهٔ شو۔ خوب ټے اولیدو
چه یو فرشته ټے دوزخ ته راکاږی چه دابت فروش دے۔ او بله ورته
وائی نه بت شکن دے۔ جنت ته ټے بوزو۔ په دے کښے راویښ شو۔ نو
حکم ټے اوکړو چه بت مات کړئ۔ بت فروش جوړیدل نه غواړم۔ بت چه۔
مات کړے شو۔ نو د خیتے نه ټے بے شمیره قیمتی مرغلرے او جواهرات را
اوتل۔ چه قیمت ټے د هغے سره نه ورنه دیر نه یات وو کوم چه بانبړانو
ورکولو۔ بادشاه شکرونه اوویستو چه مال هم خدائے راکړو او د بت فروش
د نوم نه هم بچ شوم۔ په خوب کښے دا د دوزخ او جنت کش مکش ورته
د هغے تردد شکل بنیلے شوے وو۔ چه د ماتولو فیصله ټے یا نهٔ وه کړی۔
که سوچ اوکړئ نو بت نهٔ ماتول په حقیقت کښے بت فروشی نهٔ وو۔ خو
شکل ټے د هغے په شان وو۔ الله تعالے د مومنو تول د تشبهه نه اوساتی۔ آمین۔
اے مسلمانانو دا تول د کافرانو دستور ونه دی۔ او د دے نه علاوه
ورکښے کبر۔ فخر او ریا هم دی۔ د رسول الله صلے الله علیه وسلم د احکامو
مخالفت او بدعت هم ورسره دے ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ = د یو بل د پاڅه
قط په قط تیرے دی او یو شر بل شر کښے نوتے دے۔ خیر پکښے هیڅ نشته

Scanned with CamScanner

اوس د بی بی فاطمےؓ د واده قصه واورئ - حضرت علی رضی الله عنه چه ځلمے شو - خپله ئے د نبی کریم صلے الله علیه وسلم په خدمت کښے عرض اوکړو چه بی بی فاطمه ماته په نکاح راکړئ - حضورؐ د وحی په حکم منظور کړو بس دغه کوژدن شوه - نه خلق راجمع شو او نه نور دود دستور اوشو نن صباکه د ځلمی د خولے نه د واده خبره اوته نوخلق وړته بے حیا وائی - داخو وه کوژدن - د واده په وړز حضورؐ حضرت ابوبکرؓ اویو څو نور اصحابؓ راواوغوښتل حضرت علیؓ په دے موقع موجود نه وو حضور صلے الله علیه وسلم خپله د نکاح خطبه اووے اوخپله ئے نکاح اوترله - حضرت علیؓ ته چه خبر اورسید و نو قبوله ئے کړه - داجنج وو چه د واده ځلمے خپله موجود هم نه وو. بیاچه د رخصتئ وخت راغلو - نو حضورؐ خپلے خادمے اُمِّ اَیْمَنؓ ته اووے چه فاطمهؓ علیؓ کره اورسوه - بس نه د ولئ وَه نه د ول سورنا وو - نه ځلمے په آس سور وو - نه کنډه کونډه وَه نه د ډزے اوچغے نارے وے - بی بی فاطمے څادر په سَر کړو - خادمه ورسره شوه علیؓ کره ئے اورسوله -

جهیز ئے ورکړے وو - خو د وړه نه چه خپل کور ئے په تباه کړے وے جهیز ورکول نارواوئ دی - خو په کومه طریقه چه نن صبا ورکولے شی - دا یقیناً ناروا واده - د جهیز یو یو شے تولو خپلو خپلوانو ته بښیلے شی په جامو ئے د و مره لیس کتار ئے تپلی وی چه کپړه ئے پکښے نه ښکاری داسے پرق وهی چه ستړکے وړته بریښی - دا اسراف هرکله نشی جائز کیدے - خلقو په دے رسم کښے دا اصلاح کړی ده - چه تول څیزونه نه ښئ صرف بند هند وقونه میدان کښے کیدی چه تولے عزیزان ولی ئے اوویني ځما په خیال دا چل د هغے نه هم خراب دے - په بښیلو کښے خلقو ته د خرچ یو خاصه اندازه معلومه شی - د هغے مناسب شابا شے ئے اوشی - اودے -

Scanned with CamScanner

کښے خو پته نه لګی - خو هر څوک وائی خدائے خبر څه څه به وی پکښے - په دے کښے خو نقس ته د کبر او لوئی ډیره موقع په لاس ورځی - صحیح طریقه دا ده - چه د ولئی سره د جهیز سامان مه استوئی - کور ته محفوظ کیدئی چه د واده کنړه ختم شی - جینئ د اوسے نه او وځی - کور کښے په کرزیدو شروع اوکړی نو چنل سامان ورواستوئی - او کنجیانے ورکړئی چه دا ستا شے دے چه هغه ته په چنل لاس سنبال کړی - د محبت طریقه دادَه او باقی توله ریا او نوم ناموس دے - نو د جهیز سامان چه د ولئی سره لاړ شی - جینئ تر خبرې بزی هم نه - کنجیانے ته هم سخرانے ته حواله شی - هغوئ تر د خوښے څیزونه خپلو کښے اوویشی - یا د بے پروانی په وجهه مات کړه یا ورک را ورک شی - او دغه شان عمر ته د جنګ جګړے بنیاد شروع شی -

اوس د بی بی فاطمےؓ د اوسے حال واورئی - په صبا حضور صلے الله علیه وسلم د حضرت علیؓ کورته ورغلو - او حضرت علیؓ ته ئے اووے لږے اوبه راکړه - هغه را ورسے - بیا ئے بی بی فاطمےؓ ته اووے ته هم لږے - اوبه راکړه - هغے هم ورته را وړے - نو په دواړو ئے د اوبو سړیکے - واچولے او دعا ئے ورته اوکړه - اولاړو - دے نه معلومه شوه چه حضرت فاطمه د واده په صبا په کور کښے کرزیده - درے ورځے لکه د بټ په کټ کښے نه وه ناسته - اوس خو دا مصیبت دے چه جینئ درے ورځے په کټ کښے بند یوانه ناسته وی - نه چا سره خبرے کولے شی - نه څه کار پسے پاخیدے شی - بلکه ضروری حاجت ته (بولو منیازوته) هم بے د چا د امداد نه نشی تلے - یو کس ئے د متے نه نیولی بوزی - دا سے سخته قیدی وی چه د حرکت اجازت ورته نه وی - لکه چه بنیادم نه وی د کانړی بت وی - په دے قید کښے ورنه مونځونه هم قضا شی - اول خو

ډیرے کمے بنځے پورہ مونځ ګوزارے وی - خوکہ څوک وی هم په دے وړو
کښے ئے ننشی کولے - افسوس دے په دا سے حیا پردہ چہ دِ ګناہ سبب شی
ډیرے جینکئ په دے قید کښے دا سے ناجوړہ شی چہ مړګ تہ اوړسی -
مونږ چہ څۀ کار کوو افراط تفریط (کمی زیاتی) نہ خالی نۀ وی - یاخو
دا سے سخته حیا پردہ چہ مانځه تہ هم ننشی پاخیدے - یا بیا دا سے بے ستری
چہ دِ لرے لرے خپلوانو نہ هم ستر نۀ وی - بنځے کہ چرته په ګاډی کښے
ځی نو هم صرف په دے عذر مونځ قضا کوی - چہ خپله راته قبلہ نۀ وَہ معلومه
او چا نه موټر کولے نشو - یا اوبه نۀ وے دِ پردے په وجهه موږ چا
نہ غوښتے نۀ شوے - د قبلے یا اوبو په پتوس خو ئے پرده خرابیږی لیکن که
لاړ کښے ترڅۀ شے کله وړ شی یا څۀ حادثه پیښه شی نو دومره شور به -
جوړه کړی چہ ملک به په سَر واخلی - دے وخت کښے ئے بیا پرده نۀ وی
یاده - اصل خبره دادَه چہ دِ دنیا وی تاوان ویره ئے په زړه کښے وی - او
دِ آخرت دِ تاوان ویره زړونو کښے نشته - دِ ګناه دِ انجام نه خبر نۀ دی
دِ ګاډی په حادثه کښے خو به څۀ لږ تکلیف یا لږ تاوان اوشی - دا لږ
تکلیف دے تیر به شی - لیکن دِ یو مونځ قضا کولو په عوض کښے به په
کالونو دا سے سخته سزا خوړی چہ دوزخیان به هم ترامان غواړی
نا وے عاجزے ته خو دا عذر وی - چہ خپله پاخیدے نشی او بل څوک
ئے دِ اوبو فکر نۀ کوی - دِ کور خلق په نورو کارونو مشغول وی
دِ دنیا کارونه خو وړته بنۀ یاد وی - دِ خوراک څکاک او نور دود
دستور په کارونو کښے خو هیڅ فرق نۀ راولی خو مونځ ورنه هیروی
یا دلرئ - په دے مونځ قضا کولو یواځی ناوے نۀ ده ګنهګاره دِ کور
دِ ټولو خلقو په غاړه ښولی دَه - ټولو ته به دِ غفلت سزا ورکولے شی
غرض دا چه پرده کښے افراط (زیاتے) تر دے حده دے - چه که فرض

Scanned with CamScanner

مونځ قضا شی خیر دے خو چه پرده کښے کمے راشی او بیا تفریط (نقص) تر دے حده دے - چه چاته په شریعت کښے دِ پردے حکم دے - هغوته هم پرده نه کیږی -

دا دِ ناوے دِ نکاح نه مخکښے په کوټ کښے قید کول - یا نکاح نه پس په کټ کښے قید کول فضول دستورونه دی - په شریعت کښے ټے هیڅ ثبوت نشته - تاسو واوریدو چه حضرت فاطمهؓ دِ وادهٔ په صبا څپله او به راواخستے - نه ورته خادمے راوړے نه سهیلئ -

څنه خلق وائی - پخوانو علمانو دے دستورونو ته بد نه وے - اوس نوی نوی مسئلے راپیدا شوے - دِ دے جواب خو مخکښے ټیر شوے دے - چه نصیحت هلهٔ یاد پاتے کیږی چه څوک ورته ترجمه اوکړی - او دِ چا ورباندے عمل ته نیت وی - پخوانو علمانو به ترضرور خلق منع کړی وی - خو چا په عمل نه دے کړے - بلکه منع کړی ټے دی دِ فقهے په کتابونو کښے لیکلی دی - چه دِ وادهٔ په کښو کښے دیر غلط دستورونه او بدعتونه وی - بنځو ته پکښے شرکت جائز نه دے - شامی اوکورنئ دا مسئله پکښے لیکلی ده - لیکن غضب دا دے چه دے دستورونو ته څوک بدعات اوخراب رسمونه نه وائی - بلکه ضروری کارونه ټے کښی - نو دوئی ته به اوس څوک څه اووائی - سوا دِ دے نه چه جهالت او دِ قلب موت دے -

یادلرئ = دِ ګناه کار که څوک ګناه نه کښی نو په دے نه خلاصیږی - په نه وم خبر هم نه خلاصیږی - حرام وحلال او جائز ناجائز نه څان خبرول - فرض دی - یادلرئ = کوم کار چه دِ ګناه وی هغه به خپل اثر ضرور بنکاره کوی یو سړے که زهر په دے خیال اوخوړی چه دا دارو دی - نو آیا هغه - زهر به نقصان نه کوی - هرګز نه - ضرور به خپل اثر کوی - یو سړے چه یو کار غلط کښی خو بیا ټے هم کوی په څه وجهه ټے پریښوے نشی - هغه نه

ئے دِ ترک کولو هیڅ طمع نشی کیدے۔ که څوک ورته دِ ترک کولو نصیحت کوی۔ نو ورته وائی دے کار کښے څۀ خرابے نشته نو ولے ئے پریدم۔ داسے بنده به همیشه په ګناهونو کښے مبتلا وی تر مرګه به ئے دِ توبے توفیق۔ اونشی۔ چه هغه ئے غلط ګڼړی نه نو توبه به ترڅنګه اوباسی۔

غرض داچه دا خیال دِیر غلط اوخراب دے چه په دے دستورونو کښے څۀ خرابے نشته۔ دا خیال دِ زړۀ نه اوباسئ۔ او دا دستورونه هم پریدئ۔ دا دستورونه معمولی ګناه مۀ ګڼړئ۔ ځکه چه دِ دے بنیاد په کبر او فخر دے کوم چه دِ ټولو ګناهونو بلکه دِ شرک هم بنیاد دے۔

دا مِ یوځو مثالونه دِ کبر درته بیان کړم نور خپله سوچ اوکړئ هر هغه کار چه بنیاد ئے کبر وی لکه غیبت اوحسد وغیره دِ دے دِ ترک کولو کوشش اوکړئ۔

دِ چا غیبت څوک هلۀ کولے شی چه ځان دِ هغے بنده نه زیات ګڼړی په مریض پورے هغه سړے خندلے شی چه چپله سوغ جوړه وی۔ یو مریض بل مریض پورے هچرے نۀ خاندی دا ځان دِ بل نه زیات ګڼړل کبر دے۔

دغه شان دِ بل په بنۀ حالت چه چاته غصه ورځئ کوم ته چه حسد ویلے شی۔ دا هم په دے وجهه چه دا خیال ئے وی چه زۀ دِ دے بل نه دِ بنۀ حالت زیات حقدار یم۔ هم دا ځان لوئ ګڼړل کبر دے۔ غرض دا چه دِ اکثرو ګناهونو جړه دَه۔ دِ زړۀ نه ئے ویستل پکار دی۔ چه ټول ګناهونه ختم شی۔

لوئ الله تعالے ځان دِ پاره خاصه کړی دَه۔ دِ بل چا ور کښے څۀ حق نشته۔ نو څوک چه لوئ نۀ پریدی هغه نۀ پوهیږی چه دا دِ چا حق وو او ما چاته ورکړو۔ هغۀ نۀ دِ نفس حق اوپیژند و۔ او نه ئے دِ الله حق اوپیژند و نو دِ دۀ نه زیات جاهل بل نشته۔

Scanned with CamScanner

دا سه سړے یعنی کبرجن هڅړے ګناهونو نه ننشی خلاصیدے - که دیوے نهٔ ځان بچ کړی بله کښے به ګیر شی - ځکه چه دِ ګناهونو اصل څړے ئے په زړهٔ کښے بنخے وی -

ځکه الله موبز ته داسے علاج اوښیلوچه دے ته څوک خیال کوی نو نهٔ به غټه ګناه کولے شی نهٔ وړه - هغه علاج دا دے چه الله تعالے موبز ته خپل یوخاص صفت اوښیلوچه څوک دا خیال اوساتی چه دا صفت بے دِ الله نه بل هیڅا ته په هیڅ حالت کښے او هیڅ شکل کښے ثابت نشی نو هغه به هیشه دِ ګناهونو نه بچ شی - دِ الله تعالے هغه خاص صفت - دے عظمت (لوئی) ارشاد دے - وَلَهُ الْكِبْرِيَاءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ - (په اسمانونو اوزمکه کښے لوئی صرف الله ته حاصله دَه) دا دِ ټولوګناهونو نه بچ کیدو دِ پاره یو قاعده کلیه دَه - یعنی چه لوئی اوعظمت خالص دِ الله تعالے صفت شو - نونفس دِ پاره څهٔ پاتے شو - عاجزی اوانکساری دِ نفس حق دے - داخبره چه چا اوپیژنده هغهٔ ځان هم اوپیژندو او الله ئے هم اوپیژندو - نو دِ دهٔ نه لوئے عالم اومحقق بل نشته - دغه شان خلقو دِ پاره ویلے شوی دی - اُولٰئِكَ هُمْ اُولُوالْاَلْبَابِ (هم داکسان دِ عقل خاوندان دی) کله چه بنده دِ زړهٔ نه دِ ټولوګناهونوجړه (لوئی) اوباسی او دِ ټولو عبادتونوجړه (عاجزی) وړکښے پخه بنخه شی نوهغهٔ هرڅهٔ بیا مونتو - هغه به شپه وړز مخ په وړاندے روان وی - دِ دے خبرے سړه سره په دے هم ځان پوهه کړئ چه داقاعده کلیه په ډیرو مختصرو الفاظو کښے بیان شوی وُ - کله کله په تفصیل پوهیدو نه بغیر وړاندے عمل ګران شی - یعنی ترڅوچه دِ هرهر کار متعلق دا معلومه نشی چه دِ دے بنیاد په کبر دے دِ هغے پریښول اسان نهٔ وی - دے دِپاره اسانه طریقه دا دَه چه دِ اخلاقیاتو کتابونه ګورئی بلکه دِ چا پوهه

Scanned with CamScanner

عالم نه ئے سبقاً سبقاً وائی - اوخرک چه لوستے نهٔ وی هغه دِ دِ باعمل علمانو په مجلس کښے کینی او دِ داسے خبرو دِ ورنه تپوس نه کوی او وعظ دِ اوری۔

بنځو دِ پاره یا دلرل پکار دی - چه څنګه دِ کور دِ کارونو کښتونی څمځئ دِ پاره ئے وخت مقرر کړے وی - دغه شان هره ورځ څهٔ وخت دینی کتاب لوستو یا اوریدو دِ پاره هم مقرر کول پکار دی - لیکن ډیر افسوس دے - بنځو سره هډو دا احساس نشته - سړے بیا هم کله کله وعظ واوری یا دِ څهٔ خبرے تپوس اوکړی - لیکن بنځے دِ بل په خوله هم تپوس نهٔ کوی - حالانکه دِ بنځو څنه مسئلے دومره کرانے دی چه جواب ورکول ئے م دِ هر عالم کار نهٔ دے - مثلاً دِ پاکئ اوناپاکئ دِ مسئلو نه ئے دِ فقهے قول کتابونه پک دی - او ډیر گران گران - صورتونه پکښے پیښیږی - لیکن بنځے ئے هډو پروا نهٔ ساتی - دِ هغوئ خو په دے عمل دے - چه نهٔ مونځ کوی او نهٔ تر قضا کیږی - څنه خوئے دِ شرمه تپوس نهٔ کوی - اوخرک چه پکښے څهٔ لږے ډیرے تعلیمیافته دی هغوئ ئے خپله دِ مقامی شر بو په ورځو ورځو کتابونو کښے گوری او چه څهٔ غلط سلط ئے څهٔ فکر ته راشی په هغے عمل کوی - او دِ شرمه دِ چا پوهه بنده نه تپوس نشی کولے - لیکن که څهٔ پټ مرض ورته اولگی نو بیا دانه وائی چه پریږده که مړه شم خو چاته ئے ویلے نشم هغے ته خو به ضرور داسے څهٔ طریقه راپیدا کړی چه علاج ئے هم اوشی اوحیا پرده هم پاتے شی - لیکن دِ مسئلے په تپوس کښے داسے طریقے نهٔ لټوی څکه چه دِ آخرت فکر ورسره نشته - نن صبا خو دِ مسئلے تپوس هیڅ گران نهٔ دے - په هر بنار کښے دینی مدرسے شته او په هره مدرسه کښے دارالافتاء ضرور وی - دِ خط په ذریعه تپوس کولے شئ - که چاته خپله

Scanned with CamScanner

خط نۀ وړځی - بل تعلیم یافته زنانه باندے خط لیکلے شی - لیکن دومره خواری خو هغه څوک کوی چه دِ آخرت غم وی وړسره - داغفلت پریدلی دِین دِ دنیا نه نړیات ضروری اوګڼلی - دنیا فانی دَه اودِ آخرت عمر نۀ خنمید ونکے دے - کومه طریقه چه موبنز مخکښے بیان کړی دَه چه دینی کتابونه ګورلی یا اوریدلی په دے کښے دِیرے فائدے دی - په ګورکښے چه دِ مسئلو خبرے کیږی - واړۀ ځے هم اوری او بیا ورته ټول عمر یادے وی - په دے طریقه دِ وړو هم اصلاح اوشی - دِ وړو اصلاح هم دِ تاسو ذمه واری دَه - حدیث شریف دے - کُلُّکُمْ رَاعٍ وَ کُلُّکُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِیَّتِہٖ (په تاسو کښے دِ هریو په ذمه څۀ ذمه واری او دِ هغے به ترټولو کیږی) که دِچا نوکر یا نوکرۀ مونځ نۀ کوی نو هغه خو ګنهګار دی لیکن دِ مالک نه به ځے هم پټوس کیږی - چه تاوړته ولے نۀ وے چه مونځ کوه ځنه خلق وائی چه موبنز خو به وړته وے لیکن هغوئی نۀ مسئله - په دے نۀ خلاصیږئ - دِ ستاسو باوړچی که په کټوئی کښے مالکه زیاته اچوی نو آیا په یوځل دوه وینا به ځے پریدئ او دغه شان دړنه مالکه به خوړئ که بیا بیا به ځے منع کوئ - داسے خو به هچرے او نۀ کړئ - که په نرمئ نۀ پوهیږی په سختئ به وړته اووائی اوکه بیا هم سَم نشو نو دِ نوکرئ نه به ځے اوباسئ - دِ مالکے دِ پاڅۀ خو نوکر اوباسئ خو دا راته اووائی چه په مونځ نۀ کولو هم چرے ویستے دے - دِ دین دومره خیال هم نشته - لکه په کټوئی کښے دِ مالکے حالانکه مالکه دِ مانځۀ په مقابله کښے هیڅ شے نۀ دے - دِ مالکے پټوس درنه په آخرت کښے نۀ کیږی - او دِ نوکر دِ مونځ نۀ کولو پټوس به درنه کیږی -

یادلرئ خپله هم دِ دین خیال ساتئ - او چه په چا موښ رسی هغه هم دیندار کړئ - دِ تاسو په کوشش چه څوک دیندار شی - تاسو به هم

Scanned with CamScanner

وړسره په ثواب کښے شریک ئی۔ دِ دے طریقه هم دا ده چه څنګه موږ دِ دنیا
دِ بے شمیره کارونو دِ پاره وختونه مقرر کړی دی۔ دغه شان دِ دین
دِ کارونو دِ پاره هم په شوارونو کښے څه وخت مقرر کړئ۔ کوم بنځے چه
خپله لوستے شی په دے وخت کښے دِ دین کتاب لولی او خپله اصلاح دِ
کوی۔ او څوک چه نشی لوستے دِ چا لوستی نه دِ اوړی۔ او خپل مکان۔
کښے کله کله دِ وعظ انتظام کوئ۔ کتاب کښے چه کومه مسئله پوهه نه شئ
دِ عالمانو نه دِ چا په خوله یا که خپلو کښے مو عالم وی نو خپله وړنه
تپوس ونه کوئ۔ په دے طریقه به درته ټوله ضروری مسئلے معلومے
شی۔ چه دینی کتابونه لولئ دِ ړواجونو بدی به ..هم درته معلومه
شی۔ او دِ کوم شی بدی چه معلومه شی نو کله خو ئے په زړه کښے هغے
نه دِ بچ کیدو اراده هم پیدا شی۔ په دے طریقه که مولږ غوند ے
کوشش اوکړو نو دِ پیر زر به ترقی اوکړئ او ړو ړو به ټول ړواجونه
او دِ ګناه کارونه ختم شی۔ او دِ زړه نه به کبر هم اووځی۔ په دے آیت
مبارک کښے الله تعالے په دے طریقه دِ ټولو خرابیو علاج بنیلے دے۔ چه
دا یو صفت یعنی لوئی په الله تعالے پورے خاص کړئ۔ بل هیڅانه لوئی نه
دَه پکار دا یو بنیادی خبره دَه دِ دے په زړه کو نو جز ئیات کیدے شی۔
دا ټول اجمالاً او تفصیلاً په الله پورے خاص اوګڼړئ۔ زړه دا نه وایم چه ټول
کامل عالمان اوصوفیان شئ۔ بلکه څومره موقع چه په لاس درځی بیدار
اوسئ۔ غافل کیږئ مه۔ څنګه چه ړوپئ او کالی جامے دِ هرچا دِ خوښے
شے دے۔ او هرڅوک ورپسے خپل کوشش کوی۔ لیکن دا یقینی دَه چه
هرڅوک دِ خپل پوره خواهش هومره مال نشی حاصلولے۔ څوک مالدار شی
او څوک غریب وی۔ لیکن بیا هم هرڅوک خپل پوره کوشش جاری ساتی
څومره مقدار چه حاصلولے شی هغه ضرور حاصلوی۔ دغه شان دین

Scanned with CamScanner

دِ پاره هم په خپل وَس پوره کوشش پکار دے په څومره کوشش چه لږ-
غوندے مال حاصلیږی- دِ هغے نه په کم کوشش ډیر دین حاصلیلے شی
بے همته کیږئ مهٔ - نو دیر کار به اوشی - چه تاسو یو برخه کوشش کړئ
الله تعالے به د ربانده لَس برخے رحم کوی -

مخکښے م دغے مضمون کښے الله تعالے فرمائی - وَ هُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ -
(هغه غالب او دِ حکمت خاوند دے - دے سره الله تعالے خپل بندیان
بیدار وی - څوک چه دِ بدیو نه بچ کیدو کوشش نهٔ کوی - او پهٔخان
کښے هیڅ عیب نهٔ وینی چه په نرمئ نهٔ پوهیږی نو ورته وائی نهٔ عزیز
(غالب) هم یم که په رضا نهٔ منځ کیږئ نو خلاصیدے رانه نشئ چه
څومره چم څنبسه وی سزا به درکړم - او که په یو گناه سمدستی سزا اونهٔ
خورئ نو بے غمه کیږئ مَه - زهٔ حکیم هم یم - دِ څهٔ مصلحت په وجهه
به م مهلت درکړے وی -

څنه خلق رشوت اخلی او وائی دِ رشوت پیسه په مونږ بنه راځی
نو جناب په دے مهٔ دهوکه کیږئ - دِ الله غضب مهٔ هیروئ - اول خو
دِ گناه سزا په دنیا کښے هم رسی او که دنیا کښے دِ څهٔ مصلحت په وجهه
سزا نه بچ شی هم آخرت خو دارالجزا دے هلته بچ کیدل نشته - بلکه دنیا
کښے سزا بهتره دَه - دِ آخرت سزا ډیره سخته دَه - دِ آخرت دِ سختو نه -
څان بچ کول پکار دی - الله تعالے فرمائی - وَ لْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ -
لِغَدٍ ط - (هر نفس دِ دا خیال لری چه صبا یعنی آخرت دِ پاره ئے څهٔ سامان
تیار کړے دے) - یعنی آخرت دِ پاره ئے دِ نیکیو څومره پنکه جمع کړی دَه
او دِ آخرت دِ سزا نه بچ کیدو دِ پاره ئے څومره کوشش کړے دے - م
دغه شان آخرت یادولو دِ پاره نبی کریم صلے الله علیه وسلم فرمائی -
زُوْرُوا الْقُبُوْرَ وَ اَکْثِرُوْا ذِکْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ (مقبرو ته څئ او مرګ دیر

Scanned with CamScanner

ډیر یاد وئی۔

دِ دے نه دِ بنځے دا مطلب نهٔ اخلی چه زیارتونو ته تلهٔ جائز دی دِ بنځو بهر ته وتو کښے ډیرے خرابئ دی۔ مطلب خو آخرت یاد ول دی دِ قبرونو په لیدو مرګ یادیږی او دے سره په آخرت کښے دِ اعمالو حساب یادیږی۔ دغه کار په کتاب کښے دِ قیامت په حالاتو کښو یا اوریدو هم کیږی۔ تش په دے یاداشت کار نهٔ کیږی۔ چه یو ورته به موږ هم مرو داخو هرچاته معلومه دَه۔ مطلب دا دے چه بنده څهٔ کار کوی نو دا سوچ ورته پکار دے۔ چه قیامت کښے به رانه دِ دے پوښتنه کیږی که ناجائز وو نو سزا به راکولے شی۔ دا خیال چه پیدا شی نو بیا څوک دِ ګناه کار نشی کولے۔ دا خبره همیشه یاده لرئ۔ او که په ناپوهئ درنه دِ ګناه څهٔ کار اوشی نو سمدستی توبه اوباسئ او الله نه معافی غواړئ۔ او همیشه دا دعا کوئ چه یا الله دِ نیکیو توفیق راکړے اوس دعا او کړئ چه الله تعالے موږ تولو ته نیک عمل توفیق راکړی آمین.

وصلی الله تعالے علی خیر خلقه سیدنا محمد وعلی آله واصحابه وبارک وسلم.

دعوات عبدیت

دوبیم جلد

خلورم وعظ

حیاتِ طیّبہ

(پاکیزہ ژوند)

له ارشاد اتو دِ حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه

Scanned with CamScanner

تعارف

داوعظ حضرت تھانویؒ دِ تھانہ بھون پہ جامع مسجد کښے پہ۔ رجب (۱۳۲۹ھ) کال کښے دِ جمے پہ ورز دِ جمے دِ مانځہ نہ پس تر مازیگر پہ مہیر پہ ناستی کړیدی او مولوی عبداللہ صاحب قلمبند کړے دے۔



Scanned with CamScanner

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ نَحْمَدُہٗ وَنَسْتَعِیْنُہٗ وَنَسْتَغْفِرُہٗ وَنُؤْمِنُ بِہٖ وَنَتَوَکَّلُ عَلَیْہِ وَ نَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّھْدِہِ اللّٰہُ فَلَا مُضِلَّ لَہٗ وَ مَنْ یُّضْلِلْہُ فَلَا ھَادِیَ لَہٗ وَنَشْھَدُ اَنْ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ لَاشَرِیْکَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَرَسُوْلُہٗ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہٖ وَبَارَکَ وَسَلَّمَ۔ امابعد۔ فاعوذ باللہ من الشیطان الرجیم۔ بسم اللہ الرحمن الرحیم مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَکَرٍ اَوْ اُنْثٰی وَھُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْیِیَنَّہٗ حَیٰوۃً طَیِّبَۃً وَلَنَجْزِیَنَّھُمْ بِاَحْسَنِ مَا کَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ط۔

(ترجمہ۔ چاچہ نیک عمل او کړو۔ نارینہ وی که زنانه او هغه وی ایماندار بیشکه موږ به پاکیزه ژوند ورکړو۔ او موږ به بهتره بدله ورکړو د هغو نیکو کارونو چه دوئی کول)۔ په دے آیت مبارک کښے الله تعالے خپلو تابعدارو بندیانو ته د ډیر غټ انعام ورکولو وعده کړی ده۔ او د هغے انعام کتلو طریقه ئے هم ورته بنیلی ده۔ د دے آیت مبارک په مطلب پوهیدو نه مخکښے په یو بله خبره ځان پوهه کړئ۔ بیا به ئے درته په مطلب پوهیدل آسان شی۔

هغه خبره دا ده۔ چه دنیا کښے د هر هوښیار سړی د کار یوخامی غرض وی۔ څوک د مال طلبکار وی۔ څوک د عزت۔ څوک په درویشۍ مین وی۔ څوک په علم مین وی۔ د چا تجارت خوښ وی۔ د چا زمیدارے سره مینه وی۔ څوک د باغونو لګولو شوقی وی۔ څوک په ښو ښو بنګلو

مین وی۔ څوک دِ قیمتی موټر و شوقین وی۔ غرض داچه دِ هر دنیادار څخه نه څخه شوق وی۔

لیکن په دے مخلوق کښے څنه کسان دِ الله طلبگار هم شته چه هغوئی دا فضول شوقونه نۀ لری۔ لیکن که څوک غور او کړی او په شور نظر او کوری نو په اصل کښے دِ دے ټولو کسانو مطلوب یو دے۔ اختلاف صرف دِ هغے شی دِ حاصلولو په طریقه کښے دے۔ هغه شے دے ارام و راحت حاصلول۔ چا داخیال او کړو چه ارام و راحت په دیر مال حاصلیږی چا داخیال او کړو چه دیر مال په تجارت حاصلیدے شی نو هغه په تجارت کښے اولګیدو۔ چا داخیال او کړو چه نه دا شے په علم حاصلیدے شی نو هغه په علم پسے شو۔ چا په بل څۀ کښے او ګنړلو نو په هغے پسے شو۔ تاسو به حیران وئ چه دِ دے دومره خلقو چه په جدا جدا لارو روان دی مطلوب یو شے څنګه کیدے شی۔ موږ خو وینو چه دِ هرچا غرض بیل بیل دے۔ نو دِ دے په جواب کښے درته نۀ یو مثال پیش کوم۔ په دے به ښۀ پوهه شئ۔ یو سړی ته لسّ سوالګری راغلو۔ یو تر روټئ او غوښته بل پخے وریژے۔ دریم پیسے۔ څلورم روپئ۔ پنځم غله۔ شپږم اوړۀ۔ اوم وریژے۔ اتم نیږے۔ نهم اوبه وریژے۔ لسّم حلوا۔ نو دلته خو په ظاهره دوئ بیل بیل شے اوغوښتو خو مطلوب دِ ټولو خیټه مړول دی چا خیال او کړو چه دِ پخولو خواری به څوک کوی۔ هغۀ تیار شے اوغوښتو لکه روټئ یا پخے وریژے۔ چنړے او نیږے۔ چا داخیال او کړو چه اوم شے ښۀ دے په چټل طبیعت به ئے پوخ کړم۔ هغۀ اوبه وریژے غله یا اوړۀ اوغوښتو۔ چا اوبه چه پیسے وی نو هر شے په خوړے شی هغه پیسے یا روپئ اوغوښتے۔ نو دِ دے لسو والړو مطلوب یو شے دے خیټه مړول۔ دغه شان دِ دے مختلفو خلقو مطلوب هم یو شے دے یعنی ارام و راحت حاصلول۔

Scanned with CamScanner

چا دا شے په زمیداره کښے اولیدو چا په تجارت یا ملازمت کښے - چا دا خیال - اوکړو چه دا شے په ډیر مال کښے دے - نو د مال کټلو مختلفے طریقے ئے اختیار کړے - چا په جاه کښے اوګڼلو نو د جاه د حاصلولو په تکل کښے شو - چا دا خیال اوکړو چه د دے دنیا مزے تولے فانی دی - اصل مزے د آخرت دی چه خمیدل ئے نشته - نو هغۀ درویشی خوښه کړه -

غرض داچه د دے مختلفو کارونو تولو مقصود یو دے - یعنی ارام وراحت حاصلول - یو بل مثال واوړئ - تاجران د مختلفو څیزونو تجارت کوی - څوک د رخت - څوک د کریانے - څوک د میناړئ - څوک د لوښو - څوک د پیزار یا نورو څیزونو کاروبار کوی - دغه شان بیا څوک دکان ته مال راوړو پیسے کراچئ ته ځی - څوک لاهور ته اوڅوک پنډئ ته - خو غرض د تولو یو دے یعنی زیاته نفع حاصلول - چاته په یو کار کښے - فائده زیاته ښکاری - چاته په بل کار کښے - دغه شان چاته د یو مارکیټ نه مال راوړو کښے زیاته فائده ښکاری چاته د بل مارکیټ نه - دغه شان چاته په یو کاروبار کښے فائده زیاته ښکاری - چاته په بل کاروبار کښے

غرض داچه کار و نه جدا جدا دی خو مقصود ئے یو دے یعنی زیاته فائده حاصلول - خو طریقے ئے ورته جدا جدا خوښے کړی دی - هر چا په خپل فکر د زیاتے فائدے واله کار خوښ کړے دے - د دے مثالونو نه دا خبره صفا واضحه شوه - چه خلق په ظاهره د مختلفو څیزونو طلبګار ښکاری - خو مقصود د تولو یو دے - صرف طریقے ئے ورته د خپل خیال مطابق جدا جدا خوښے کړی وی چونکه د خلقو خیالات مختلف دی نو لاړے ئے مختلفے خوښے کړے او کله کله په خپلو کښے یو بل ته په غلطه هم ولګئ -

د خوشحالئ او راحت په طلبګارو کښے ماشومان هم دی - او هغوئ هم ورته لاړے بیلے بیلے خوښے کړی وی - چاته پټنګ الوتل خوند ورکړی

کوی - چاته پنډوس کول - جینکئ په کوډیو لوبولو خوشالیږی - څنه - واړه دِ شکو یا خاورو کورکی جوړ کړی - موږ ته دِ دولئ داکارونه بے فائدے ښکاری - لیکن چیله که مکان جوړولو دِ پاره څان په قرضونو کښے ډوب کړو - نو داکار راته بے فائدے نۀ ښکاری - ځکه چه چیل مکان راته پائیدار او دِ نړیات اړام وراحت ذریعه ښکاری او دِ وړو دِ لوبو کورونه راته ناپائیدار او بے فائدے ښکاری -

نو معلومه شوه چه سړه دِ دے چه مقصود یو دے - درجے ئے مختلف دی - په څنه درجه کښے قابل اعتبار دے او په څنه کښے بے اعتباره او بے قدره دے -

نو دِ دے ټول تقریر نه موږ ته دوه خبرے معلومے شوے - (۱) مقصود یو دے اړام وراحت خو دِ حاصلولو په طریقو کښے ئے اختلاف دے - (۲) دِ دے مقصود څنه افراد قابل اعتبار دی - او څنه دِ اعتبار قابل نۀ دی - اوس داخبره صفا کول غواړی چه دِ مقصود کوم افراد قابل اعتبار دی او دِ هغے دِ حاصلولو کومه طریقه صحیح دَه - نو دِ دے دواړو خبرو فیصله خو هغه څوک کولے شی - چه دِ څیز ونو په حقیقت او دِ هغے په فائدو پوره پوره خبر وی - او خود غرضه هم نۀ وی - که علم ئے کامل نۀ وی ناقص وی یا علم ئے کامل وی خو خود غرضه وی نو هغه هرګز موږ ته دِ دے دواړو خبرو صحیح فیصله نشی کولے نواوس داکتل پکار دی چه دا دواړۀ خوبئ په چا کښے دی - چه دِ هغۀ په خبره عمل اوکړو - نو موږ دا وینوچه په مخلوق کښے خو دا دواړه خوبئ نشته علم ئے هم ناقص دے او خود غرضه هم دی - څوک چه کوړے څۀ څیز غرض به ئے ضرور وی - که څوک او وائی چه دِ قوم څنه هډردان داسے شته چه خلقوته بے غرضه فائدے رسوی - نو زۀ وایم چه دولئ کښے هم

دوہ قسمه دی - دِ چا فطرت دا سے وی چه بل تہ فائده ړسولو باندے
ئے زړۂ خو شالیږی او خوښ ئے دِ ثواب په نیت کوی - نو دا دِ زړۂ
خوشالی حاصلول او ثواب کښل هم یوغرض دے - نو بے غرضه کار نشو -
دغه شان موږ پلار یا نور خپل خپلوان که چا سړۂ خۂ بنیګړه کوی نو ټول
ئے دِ خپل زړۂ خوشالولو دِ پاړه کوی - که څوک اووائی چه ځنه خلق غریبانو
سړه دا سے پټ امداد کوی - چه نه تر خلق خبر شی او نۂ هغه سړے خبر شی
چه دا امداد ړاسړه چا اوکړو دے کښے خۂ غرض کیدے شی - دا خو بالکل
بے غرضه دے - دِ دے جواب دا دے چه هغه به دا امداد یا دِ ثواب په
خیال کوی او یا دِ خپل زړۂ خوشالو دِپاړه - نو دا هم یوغرض دے - کار
بے غرضه نۂ دے - غرض دا چه په مخلوق کښے دا سے هیڅوک نشته چه
بے غرضه وی او علم ئے هم کامل وی -

دا سے پاک ذات یو دِ الله تعالے دے چه دِ کامل علم شان ئے دادے
چه عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ دے - یعنی په پټو او څرګندو ټولو څیزونو عالم
دے - او بے نیازه دا سے دے - چه هیڅ تہ ئے هیڅ حاجت نشته - مخلوق
ټول هغۂ تہ محتاج دے - مولانا رُوم وائی چه الله تعالے فرمائی -

من نکردم خلق تا سودے کنم - بلکه تا بر بندگان جودے کنم

(الله تعالے فرمائی - ما مخلوق دے دِ پاړه نۂ دے پیدا کړے چه څۂ فائده
تر واخلم، بلکه دے دِپاړه م پیدا کړے دے چه مهربانی په اوکړم) یعنی زړۂ
تر فائده نۂ اخلم - زړۂ ورته فائده ړسوم - دِ الله تعالے فائدے ته څۂ
حاجت نشته موږ خو څۂ شی نه فائده دے دِ پاړه اخلو - چه موږ کښے
خوښ کیږے وی - په دے فائده هغه کیږے پوره کول غواړو - دِ الله تعالے
تمام صفات کامل دی - څه کیږے پکښے نشته - نو دِ څۂ څیز نه دِ فائدے -
اخستو ضرورت هم ورته نشته - که دِ الله تعالے هم دِ څۂ څیز نه فائده

Scanned with CamScanner

اختتل مقصود وی- نو دِ دے مطلب به دا شی چه نعوذ بالله ذات باری کښے څۀ صفت ناقص وو- دِ بل څیز په واسطه ئے کامل کړو- او دا محاله ده دِ الله تعالے ټول صفات کامل او اکمل دی - نه دِ الله تعالے برابر دِ چا علم شته او نۀ دِ هغۀ په شان څوک بے نیازه شته- نو دِ دے دواړه وخبرو فیصله مونږ ته یو الله کولے شی بل څوک ئے نشی کولے- نو په دے آیت مبارک کښے مونږ ته الله تعالے دِ دے دواړه وخبرو فیصله کړی ده-

حاصل ئے داد ے چه اے بندیانو تاسو چه څنګل مقصود یعنی ارام وراحت په مختلفو څیزونو کښے لټوئ- څوک په مال کټلو لګیا ئی - څوک جائیداد ډیروئی - څوک دِ ډیر اولاد خواهش مندئی - دا ټولے خبرے غلطے دی - مونږ دے ته دِ حقیقی راحت حاصلولو طریقه بنیو- هغه دا ده چه څوک نیک کارونه کوی په دے شرط چه عقیده ئے صحیح وی پوخ ایماندار وی- نو هغۀ ته به مونږ مزیدار څوند ورکړو او دِ دے نیکو کارونو به بهتره جزا هم ورکړو- په دے کښے دا دواړه خبرے فیصله شوے - دا هم معلومه شوه چه صحیح غرض او قابل اعتبار مقصود کوم یو دے - او دا هم معلومه شوه چه دِ هغے دِ حاصلولو طریقه څۀ ده - نو صحیح غرض دوه څیزونه دی- حیاتِ طیبه (مزیدار څوند) او اجر او دِ حاصلولو طریقه ئے هم دوه څیزونه دی- صحیح عقیده (ایمان) او نیک عمل- او دِ حیاتِ طیبه او اجر حاصل یو دے - یعنی لذت او مسرت (خوند او خوشالی) څکه چه مزیدار څوند چه څۀ ته ویلے شو- دِ هغے تکمیل په اخروی اجر کیږی- څکه چه دِ کوم څوند نه پس چه اخروی اجر نۀ وی هغه مزیدار څوند نۀ دے - څکه چه هر کله چه بنده ته دا معلومه شی چه دا خوشالی صرف په دے عارضی څوند کښے ده مړ ئے نه پس به همیشه څوند کښے بیا تکلیف نه وی نو په هغۀ به دا خوشالی هم نۀ لګی - لکه یو سړے که په ښه مزیداره بنګله کښے

ناست وی دِ خوراک څکاک انتظام ئے هم بنهٔ وی۔ هرقسم سهولت ورته حاصل وی۔ لیکن یو فوجداری مقدمه په روانه وی۔ او دا ورته معلومه شی چه په فلانی تاریخ به پانسی کیږی۔ نو هغهٔ ته به دا ظاهری ارام وراحت هیڅ خوند نهٔ ورکوی۔ بلکه بد به په لګی دِ دنیا دِ ټول شرونه هم دغه حال دے۔ دلته کهٔ هرڅومره ارام وراحت وی۔ هرچاته دا معلومه دَه چه دا ټول څیزونه عارضی دی۔ یوه ورځ به رانه پاتے کیږی او تش لاس به ترڅم۔ نو دا ارام به چاته څهٔ خوند ورکړی؟ بلکه دنیاکښے دولت کهٔ چا سره ډیر وی اوکه چا سره لږ وی هرحالت پریشان کن دے لکه یو شاعر ویلی دی ؎

اِذَا اَدْبَرَتْ کَانَتْ عَلَی الْمَرْءِ حَسْرَةً ۔ وَاِنْ اَقْبَلَتْ کَانَتْ کَثِیْرًا هُمُوْمُهَا

(دا دنیا کهٔ چانه مخ واړه وی هم بنده ته افسوس او ارمان ورځی۔ اوکه چاته را مخکښے شی او مال ئے ډیر شی) هم پریشانئ ئے ډیرے شی)۔ لکه چه ویلی شوی دی۔ ډیر مال بد ئے حال۔ یعنی کهٔ چا سره مال کم وی هم ارمان او افسوس کوی خفه وی۔ اوکه مال ورسره ډیر شی هم غمونه اوپریشانی ئے ډیرے شی۔ په دنیا کښے حقیقی راحت په هیڅ حال کښے هم نشته۔

یو میلمهٔ نه چا تپوس اوکړو۔ کور کښے دِ خیر خیریت وو؟ هغهٔ ورته اووے۔ ماکره خو دِ خیره کښے واړهٔ دی۔ دِ چا ستړکے خوږ وی دِ چا تبه وی۔ چالاس بنپه مات کړی وی۔ په چا خوځهٔ وی خیریت به هغه چاکړه وی چه سپیرهٔ وی۔ واړهٔ ورکړه نهٔ وی۔ غرض داچه دا دنیا دِ پریشانئ ځائے دے۔ دِ ارام وراحت ځائے نهٔ دے۔ کهٔ چا کښے احساس وی نو واقعی دِ تکلیفونو ځائے دے۔ هیڅ ارام پکښے نشته۔ کهٔ یوڅو ورځے پوره شی بل نیمګړے وی۔ کهٔ یو پریشانی ختم شی بله سَر راپورته کړی۔ مثلاً کهٔ چا واده کړے وی۔ او مال دولت ئے ډیر وی۔

شوند ئے بنه په ارام وی خو نارینه اولاد ئے نهٔ وی نو هغهٔ سره هر-
وخت دا غم وی چه دا مال به م چاته پاتے شی- کله دا خیال کوی چه وقف
ئے کړم- کله وائی چه خوک متبنّی کړم- (خوک خوښے کړم) که چرته ئے په
دعا کانو او دارو کانو او خواروزارو هلک اوشی نو بیا په دے فکر
کښے وی چه بنه په درنه دسونه ئے سرکلے او سنت اوکړم او په بنه
شان ئے پرورش اوکړم چه څلے شی په شان شوکت ورته وادهٔ اوکړم
او دغه شان ورباندے ټول عمر په دے فکرو نو کښے تیرشی- الله-
یاد ولو ته او دِ خپل آخرت غم کولو ته اوزکار نشي- یو شاعر وائی -

وَمَا قَضٰی اَحَدٌ مِنْهَا لُبَانَتَهٗ لَا یَنْتَهِیْ اِرَبٌ اِلَّا اِلٰی اِرَبٍ

(په دے دنیا کښے هیڅا هم دِ خپلو خواهشاتو تکمیل او نکړے شو- یو
خواهش پوره شوے نهٔ وی چه بل سَر راپورته کړے وی- ختمیدلئے
نشته- برخلاف دِ دے چاسره چه هیڅ نهٔ وی هغه بےغمه وی- لکه چا-
ویلی دی-

لنګګے زیرلنګګے بالا نے غمِ دزد نے غمے کالا

(یو خادر نه لنګ وهلے یو په سَر کړے- نور ورسره هیڅ نشته وی- نو
نهٔ ورسره دِ غل خطره وی نهٔ دِ څهٔ کمیدو)- یو مالدار سړے وو-
دِ هغه صرف یو څوښے وو- هغه ناڅاپی ناجوړه شو مړشو- نو پلار ته
ئے بیا چل جائیداد او مال دولت هیڅ خوند نهٔ ورکولو- سودائی شو
هرڅهٔ نه ئے زړهٔ موړ شو- رشتیا دَه- وَاِنْ اَقْبَلَتْ كَانَتْ كَثِيْرًا هُمُوْمُهَا
(مال که دِیر شی غمونه ئے هم دِیر شی)-

نو حاصل دا شو چه دِ دنیا نعمتونه که دِیر شی خو چه ورسره دِ -
آخرت خوشالی نهٔ وی نو هیڅ هم نهٔ وی- په رشتیا مزیدار څوند
هغه دے چه دِ آخرت اجر هم ورسره وی ځکه الله تعالے فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً

Scanned with CamScanner

طَيِّبَةً سره دا هم فرمائی وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ ۔

خلاصه داچه الله تعالے فرمائی - اے په دنیا کښے تکړے وهونکو - تاسو هریو دِ قابل اعتبار مقصد طلبکار ئے خو پیژنئ ئے نه او دِ حاصلولو په طریقو کښے هم غلطئ کوئ - نږۀ درته بنیم چه قابل اعتبار مقصد حیات طیبه حاصلول دی - او دِ حاصلولو طریقه ئے دَه - ایمان او نیک عمل یعنی دِ الله تعالے دِ اطاعت فائده دَه دائمی خوشالی - دا یو دعوه دَه - او دا سے دعوه دَه چه موږ نه چپله دِ دے صداقت نۀ مشاهده کولے هم ئے راته په یقین پکار وو - ځکه چه دا دِ هغے ذات فیصله دَه چه دِ کامل علم خاوند او بے غرضه بے پروا بادشاه دے - بیا دِ دے صدق خو لکه دِ نمر څرګند دے - او هره ورځ لیدے شی - او په بیا بیا لیدو نو رهم پخیږی - لکه چه موږ نه ئے سروستو تفصیل سره بیان کړو - فی الحال دِ حیات طیبه تفسیر عرض کوم - څرونده ونه درے دی - دِ دنیا څرونده[1] دِ آخرت څرونده[2] - دِ عالم برزخ څرونده[3] - نو دلته کوم څرونده مراد دے دِ آخرت څرونده اګرچه چا لیدلے نۀ دے - لیکن هغه اسمانی مذهبونه بلکه حکماء او فلاسفه ئے هم منی - منکر ورځنه ډیر کم دی - دِ اسلام نه علاوه نور مذهبونه ئے هم منی - نو په دے کښے ډیر بحث ته ضرورت نشته لیکن دِ برزخی څرونده منکر ډیر دی - تر دے چه دِ مسلمانانو په فرقو کښے هم معتزله تر منکر دی - په احادیثو کښے راغلی دی چه بنده مړشی نو په قبر کښے ورته سوال جواب دِ پاره دوه فرشتے منکر او نکیر راځی که بنده نیک وی - نو ډیر بنه شکل کښے ورته راشی او ډیر په نرمئ تر پتوسونه کوی چه هغه صحیح جوابونه ورکړی نو قبر ورته دومره اړت شی څومره چه نظر کار کوی - دِ جنت خوشبویه هوا ورته راځی - او ورته اووایی شی - نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوْسِ - (دِ ناوی په شان په قدر

عزت او په اسلام اوده شه) - اوکه هغه بنده کافر وی نو دا فرشتے ورته په ډیر هیبت ناک شکل کښے راشی او ډیر په قهر او غضب ورنه پوسونه کوی - هغه ورته د هر پوس په جواب کښے وائی لَآ اَدْرِیْ - نیم خبر چه صحیح جوابونه ورنکړی نو قبر ورباندے داسے راتنګ شی چه پښتئ ئے په یوبل کښے ننوځی - په کرښه ونوځے وهی او ماران لړمانان پرے راختے شی - په قسم قسم عذابونو کښے گیر وی - معتزله او مغربی تعلیمیافته کسان د دے احادیثو نه بالکل انکار کوی - او[1] وائی چه موږ نو خو قبر پرانزو نه پکښے ماران لړمانان او نه پکښے کرښه ونه وی - بل[2] وائی که څوک په قبر کښے بنخ نکړے شی - زمږے یا بل څه څنګلی څناورے اوخوړی - یاګنړ څناورے اوخوړی - نو د څناورو په خیټو کښے به ورسره څنګه سوال جواب کیږی او هلته به ماران لړمان چرته وی - موږ نو دا نشو منلے - اصل خبره دا ده چه

جنګ هفتاد و دو ملت همه راعذر بنه - چون ندانند حقیقت ره فسانه زدند

(د اسلام په دعویدارو کښے دوه[72] یا فرقے ټولے معذورے اوګڼه چه په حقیقت پوهه نشو نو د ځانه ئے خبرے جوړے کړے) - اصل وجهه دا ده چه خپله پوهیږی نه عالم نه وی او د عالمانو نه تپوس نه کوی چه هغوئ ئے په حقیقت پوهه کړی - په تپوس ورته ځان بدی بنکاړی نو په ګلپوډو سړ شی - حالانکه د امن او سلامتیا لار دا ده چه په کومه خبره څوک خپله پوهه نشی - نو د چا پوهه نه تپوس اوکړی -

د دے ټولو شکونو او شبهاتو وجهه دا ده چه دوئ قبر صرف هغه دوغل ته وائی چه مړے پکښے کیښوے شی - حالانکه احادیثو کښے د قبر نه مراد عالم برزخ دے - او د عالم برزخ د دے دوغل سره هیڅ تعلق نشته - عالم برزخ خو هغه حالت دے کوم وخت چه د عالم دنیا

Scanned with CamScanner

او عالمِ آخرت تر مینځه دے - یعنی بنده چه مړ شی - هغے وخت نه تر قیامته پورے کله چه به ټول بنیادم دوباره ژوندے کیږی - دے وقفه ته عالمِ برزخ ویلے شی - په دے کښے که دا مړے په قبر کښے وو نو هغه ئے عالم برزخ دے - سوال جواب به ورسره کیږی او که ډنګلی ځناور په خیټه کښے وو نو هلته به ورسره کیږی - لیکن شریعت کښے دِ مړی دفن کولو حکم دے - ځکه عالمِ برزخ نه په قبر سره تعبیر شوے دے - او په دفن کولو کښے ډیرے فائدے دی -

(۱) - یو حز داچه دِ مړک نه پس هم دِ روح څه تعلق دِ خپل خاکی بدن سره وی - لکه ته دلته ئے اوستا کور په لاهور کښے وی - نو سره دِ - دومره فاصلے دِ خپل کور سره ستا یو تعلق شته - (دِ هغے په وراندو به خفه کیږے او په آبادئ به ئے خوشالیږے) - نو که مړے په قبر کښے دفن نشی (او سوزولے شی) نو روح به ئے بے آرامه وی - او دِ بدن په دے سوزیدو به خفه وی - لکه ته پشاور کښے ناست ئے او لاهور کښے ستا پلار اوړ او لګی نو ستا په زړه به دلته اوړ بلیږی - بے آرامه به ئے یالکه دِ یو بنده څه سامان په یو ځائے کښے پروت وی څه په بل ځائے کښے وی - نو دِ هغه زړه پریشان وی - دغه شان که دِ بدن څه اجزاء منتشر شی نو روح پریشان وی -

(۲) - او بله فائده ئے دادَه - چه باطنی نفع ئے جاری پاتے شی - یعنی که دا سړے صاحبِ کمال وی - نو باطنی فیض ئے دفن کیدونه پس نور هم زیات شی په نسبت دِ دے که اوسوزولے شی یا په بل څه وجهه ئے دِ بدن اجزاء خواره واره شی -

(۳) - او یو حکمت پکښے دا هم دے چه نر موښ بدن چه دِ کومو عناصرو نه جوړ دے - په هغے کښے نر یا ته حصه دِ خاورے دَه - نو عقل هم داغواړی

Scanned with CamScanner

چه د بدن اجزاء د چنل غالب عنصر سره یو خائے شی۔

یو بزرګ ویلی دی۔ بنیادمو نه مخکښے په دے نړۍ پیریان آبادوو شاید چه د هغوئ په شریعت کښے د سونړولو حکم وو۔ ځکه چه د هغوئ غالب عنصر اور دے۔ نو د بدن اجزائے د چنل غالب عنصر اور سره یو خائے کیده۔ هندوانو داخبره یاده کړی ده چه هغوئ به مړے سونړولو او داسوچ نے نه دے کړے چه د هغوئ غالب عنصر اور وو۔ اونړۍ غالب عنصر خاوره دے۔ غرض داچه د عالم برزخ متعلق څومره شکونه چه دی د ناپوهئ په وجهه دی چه د قبر حقیقت نے نه دے پیژندلے۔

چونکه د عالم برزخ د حالاتو نه کثرت سره انکار کیږی۔ ځکه الله تعالے موږ ته په دنیا کښے د عالم برزخ یوه نمونه پیدا کړی ده (هغه خوب دے) په خوب کښے بنده وینی چه مار اوخوږم۔ چا په کوتک اوولم په دریاب کښے ډوب شوم وغیره۔ او هغه ته پوره درد او تکلیف اورسی حالانکه بنده په نرمه ګرمه بستره کښے پروت وی۔ وړسره ناست۔ وینی خلق هیڅ اونه وینی لیکن هغه تکلیف محسوس کوی۔ کله په خوب کښے بنده وینی چه په تخت ناست یم بادشاه شوے یم۔ خدمتګارم خدمت ته تیار ولاړ دے۔ د ارام وراحت ټول سامان موجود دے حالانکه په خاوره کښے په نرمکه پروت وی۔ نه تخت وی نه خادمان اونه د ارام نور سامان۔ داسے که چاته داچنل خوب لیدل بیان کړی۔ نو هیڅوک تر عقلی دلیل نه غواړی۔ او نه ئے تردید کوی۔ هیڅوک۔ ورته دا نه وائی چه ته داسے خوب نشی لیدے۔ بلکه که څوک ورته دلیل اوغواړی نو بے وقوف به وګڼلے شی۔ ورته به اوویلے شی چه داسے بنکاری چه تاچرته خوب نه دے لیدلے۔ تاته د خدائے پاک داسے مزیدار خوب اوښئی چه پته دې نه وی۔ اوس په نشے پوهیدے۔

Scanned with CamScanner

نو موبنږ دوئ تر وایو چې د عالِم برزخ حقیقت به درته د مړک نه
پس معلوم شی - اوس په نشئ پوهیدے - لکه چا ویلی دی ے

پرسید یکی کہ عاشقی چیست گفتم چون ما شوی د انی

ا چارانه تپوس اوکړو چې عاشقی څۀ شے دے - ما وړته اووے چې دِما
په شان شے او به ئے پیژنے) یعنی عشق یو کیفیت دے په الفاظو کښے ئے
اظهار نشی کیدے - کہ چیله عاشق شوے نو او به ئے پیژنے - نړۀ دِ په
نشم پوهَه کولے - غرض دا چې خوب دِ عالِم برزخ یو نمونه دَه - کله خوب
لیدو واله په ظاهره بنۀ په ارام پروت وی - لیکن هغۀ سخت تکلیف
محسوسوی - او کله موبنږ وینو چې په تکلیف کښے وی لیکن هغه ارام
محسوسوی - د غه شان دِ مړی حال هم دے - که قبر ئے پرانستے شی نو
هم هغه شان به پروت وی څنګه چې موبنږ دفن کړے وی - لیکن په
هغۀ دا ټول کیفیات تیر شوی وی -

لیکن دے مثال نه دِ څوک دا خیال نۀ کوی چې څنګه چې دِ خوب څۀ
حقیقت نشته تش خیال دے - دغه شان به دِ عالِم برزخ واقعات هم
تش خیال وی څۀ حقیقت به ئے نۀ وی - ځکه چې موبنږ وایو چې خوب
په دنیا کښے دِ عالِم برزخ یو نمونه دَه - دِ عالِم برزخ مشابهه دے دِ
هغے مماثل نۀ دے - نو دِ عالِم برزخ واقعات تش خیال نۀ دے یو -
حقیقت دے - تفصیل ئے دادے - چې دا خو ظاهره دَه چې دِ بدن نه روح
اوونو نو بیا دِ څۀ تکلیف احساس نشی کولے - نو جسم ته څو عذاب او
ثواب یا تکلیف او ارام هیڅ نشته - لیکن دِ روح تعلق دِ بدن سره بالکل
ختم شوے نۀ دے - دِ هغے روح تعلق په وجهه ئے وړ سره یو خاص
تعلق اوس هم شته - کہ بدن ته څوک تکلیف رسوی نو روح ته په -
تکلیف رسی - لکه دِ کوم په وړانیدو یا دِ بنده دِ خپلو جامو پیژار په

خرابیدو چه بنده ته تکلیف رسی - سړه یې دے چه دا خیزونه یې بنده یې بدن نه جدا دی - یې بنده یې بدن یوحصه نهٔ دَه - نو یې مړی یې جسم سړه هم یې هغهٔ یې روح اوس یې دے نه زیات تعلق نشته څومره چه زمونږ یې خپل کور یا جاهے پیزار سړه دے - لیکن احادیثونه معلومیږی چه یې برزخ عذاب او ثواب به یې مړی جسم ته ورکولے شی - ټول برزخی واقعات سوال وجواب یې جسم سړه تعلق لری - دے یې پاره به یې مړی روح ته یو بل جسم ورکولے شی - دے ته جسم مثالی ویلے شی - نو یې برزخ ټول واقعات او سوال جواب دے جسم مثال سړه تعلق لری او یې جسم مثال حقیقت دادے چه یې دے ظاهری دنیا نه علاوه یو بله دنیا دَه مستقله چه عالم مثال ورته ویلے شی - صوفیانو ته ئے انکشاف کیږی - او یې قرآن و حدیث یې اشاراتو نه ئے هم وجود معلومیږی - په دے عالم مثال کښے یې دے دنیا یې ټولو خیزونو او یې موږنو یې ټولو اعمالو او افعالو څخه شکلونه دی - په خوب کښے بنده یې عالم مثال دا شکلونه وینی - لکه په خوب کښے څوک او وینی چه نهٔ کراچئ ته لاړ هم - هلته داسے بنکلے وے او داسے بازارونه وو - یې کراچئ یې ټولو بازارونو او بنکلو شکلونه په عالم مثال کښے موجود دی نو دا خوب لیدونکے ئے په خوب کښے وینی -

(حضرت تهانوی فرمائی) ما په دے موضوع یو کتاب الفتوح فی احکام الروح لیکلے دے - هغے کښے یې عالم مثال متعلق پوره تفصیل دے - که هغه چا اوکتو نو هیڅ شک شبهه به ئے پاتے نشی -

بهرحال یې دے تقریر مقصود دادے چه یې دے دنیا او عالم آخرت نه علاوه یو بل عالم هم شته چه عالم برزخ ورته ویلے شی - نو څوونکو نه درے دی - یې دے دنیا څوونکو[1] - یې آخرت څوونکو[2] - او یې دے دواړو نه مینځ یې برزخ څوونکو[3] - اوس په دے کښے اختلاف دے چه دلته یې حیات

طیبه نه کوم شروند مراد دے۔ دِ برزخ که دِ دنیا۔(حضرت تھانوی رحمۃ اللہ علیہ)
نه واِیم چه درے واړه مراد دی - یعنی کوم سړے چه نیک کارونه کوی
او عقیده ئے هم صحیح وی - هغه ته به په دے دنیا کښے هم پاکیزه -
شروند ورکړے شی او په برزخ کښے به هم په ارام وی او په آخرت کښے به
هم دِ نیکو اعمالو بهترینه جزا ورکړے شی - دِ آخرت شروند به ئے هم په
ارام وراحت وی - او یو معنیٰ ئے دا هم کیدے شی چه دِ حیات طیبه نه
دنیا وی شروند مراد دے - او برزخ او آخرت دواړه په لَنَجْزِيَنَّهُمْ
کښے راغلو - ځکه چه عالمِ برزخ کښے چه څۀ واقعات پیښیږی هغه هم دِ -
اعمالو جزاء دَه -

غرض دا چه دِ دوو څیزونو وعده دَه - حیات طیبه او بهترینه جزا
په کومه چه دِ حیات طیبه تکمیل کیږی - په دے دواړو کښے یو څیز یعنی
حیات طیبه خو موږ په دلائلو ثابتولے شو - بلکه په سترګو لیدے شی -
دلیل دا دے چه دا عامه قاعده دَه چه دِ چا صداقت یو ځل ثابت شی
دِ هغه بیا هره خبره منلے شی - او په هره خبره ورنه دِ ثبوت دپاره دِ
دلیل مطالبه نۀ کیږی نو هرکله چه مونږ دا یقین دے چه الله تعالے
په هره خبره کښے صادق دے نو په دے وعده کښے هم یقیناً صادق -
دے - نو دا یقینی دَه چه نیکانو ته به دواړه څیزونه ورکړی -

او مشاهده دا دَه چه خلق دوه قسمه دی - تابعدار او نافرمانه
نو تاسو او کوم ئے چه دے دواړو کښے په ارام وراحت او قدر عزت
څوک دی ؟ نافرمانه او دِ دنیا طلبګار سړے خوک دِ دنیا سامان وسامان -
دیرهم وی - بیا هم هر وخت پریشانه وی او په غمونو او فکرونو کښے
ډوب وی - اطمینان او سکون ئے په نصیب کښے نۀ وی - هر وخت دِ
مال نور زیاتولو په فکر کښے وی او دِ موجود مال دِ بچ کولو په غم کښے

اخته وی نړۍ ته هیڅ وخت په ارام نۀ وی - او د الله تابعدار بندیان په هرحال کښے چه وی په اطمینان او خوشال وی - شاید چه څوک دا خیال اوکړی چه نړۍ خرهم تابعداریم - مونږ کوم - سوشړے نیسم - زکوة ورکوم - لیکن په اطمینان نۀ یم پریشان یم - د دے مثال داسے دے لکه یو سړی د چا بنائست صفت کړلو چه مخ ئے سپین زلیږی - ستړکے ئے. تړے تړے اوغټے دی - غاښونه ئے د پیر مزیدار دی وغیره - خو چه بل سړے نزدے ورغلو نو پوښه ئے بوړۍ ده - زه ټول بنائست ئے پوښے یوړو - که نور اندامونه ئے ټول بنائسته دی خو دے یوعیب ئے ټول بنائست خراب کړو - اوس ورته څوک بنائسته نشی ویلے - د غه حال نړیوبن د دین هم دے - دوه څلور کارونه د اسلام اوکړو نو څان دیندار اوګڼړو - داوعده داسے دیندارو سړ ده چه پوره دیندار وی - ټول کارونه ئے د شریعت د احکامو مطابق وی - کامل ایماندار هغه دے چه ټول اعمال ئے د اسلام په ټول پوره وی - نو داوعده د کامل ایمانداروی یعنی کامل تابعدارو سړ ده اونړه دایقین سړه ویلے شم چه داسے کسانو ته به حیات طیبه ورکولے شی بلکه کامل تابعدار ته پریشانی نزدو هم نشی راتلے په کامل اطاعت کښے یوه خبره بله هم قابل غور ده - د عامو خلقو داخیال دے - چه څوک ظاهری احکام - مونځ سوشړه - زکوة حج پوره کړی او د حرامو حلالو خیال ساتی بس هغه کامل تابعدار دے - اخلاق ئے هرڅنګه چه وی - نه - دایا دلرئ کامل دیندار هغه دے چه ظاهر او باطن دواړه ئے پاک وی - والله موږ کښے چه څوک دیندار ګڼلے شی په هغو کښے د اکثرو حالت داسے دے - اَلْسِنَتُهُمْ اَحْلٰی مِنَ السُّکَّرِ وَ قُلُوْبُهُمْ قُلُوْبُ الذِّئَابِ - (په خوله د شکرنو نړیات خوابړه وی او نړو رونه ئے د شرمخانو وی) یعنی د فرض مونځونو

بلکه نظلونو به هم پابندی کړی - سړوتړے به نیسی - ښیره به ئے لویه وی
پینځے به ئے کټړنه پرته وی - دِ قمیص لمن به ئے رنګون نه ښکته ظاهری
حالت به ئے په شرع ښځه برابر وی لیکن اخلاقی حالت به ئے صفر وی -
زړه به ئے دِ کبر حسد او کینے نه پاک وی - خنه پکښے داسے دی چه وی
غټ کبرجن خرځان متواضع ګڼی خکه چه دِ تواضع په معنیٰ نه پوهیږی
یر هلک کړیا وے پکښے دِ تواضع بیان لږ غلی استاذ ورته اوړے تواضع
څه ته وائی - هغه ورته اوړے داچه دِ چا ملهٔ راشی - چائے شربت
او پان سګرټ ورته پیش کړی - تانده چلم په اوسکوی ښځه خدمت ئے
اوکړی - دے ته ویلے شی چه دِ ملهٔ ئے ښه خاطر تواضع اوکړه - عام
خلق خو تواضع هم دے ته وائی - اوکوم چه خان ډیر پرهه ګڼی معنیٰ
ئے دے ته وائی چه هرچا سره په نرمئ خبرے اوکړی - تواضع داشے نه
دے - دا دِ تواضع نقل دے - دِ تواضع حقیقت دا دے چه بنده په خپل
زړه کښے خپل خان دِ هرچانه کم اوګڼی - داصفت اوس په دنیا کښے
تقریباً ختم شوے دے - هسے په ظاهره خو په تحریر او تقریر کښے خانته
ذلیل الفاظ استعمالونکی ډیر دی - خانته به نالائقه - ناکاره - اوحقیر
پُرتقصیر او عاصی پُرمعاصی لیکی - لیکن که په دے وخت کښے ورته چا -
اووے - واقعی ته ډیر نالائقه ئے نو بیا ئے تماشه اوکړئ چه څنګه اوږه
لمبه کیږی - که په هغه ساعت وضعدارئ دِ پاره غلے شی خو په زړه کښے
به ئے خوږلو ته جوړ شوے وی او موقع به ورته لټوی - البته که واقعی
څوک په زړه کښے هم خفه نشی - رنګ ئے هم بدل نشی نو داسے سړے
واقعی واقعی متواضع دے - دا ئے پوره امتحان دے - لیکن داسے خلق اوس
چرته دی - نن صبا خو په ظاهره هرڅه برابر وی - خوزړه ونه خالی وی
بس دغه حالت دے ـه

از برون چو گور کافر پُر حُلَل
وندرون قهر خدائے عزوجل
از برون طعنه زنی بر بایزید
وز درونت ننگ میدارد یزید

(ظاهر ته چه ئے گورے دِ کافر دِ قبر په شان ظاهر ئے په کالو پوکړ یعنی بنهٔ ښائسته وی - لیکن دننه پکښے دِ الله قهر و غضب وریږی - ظاهری حالت خو ئے دِ بایزید غوندے لوئے بزرګ نه هم بنهٔ ښکاری خو باطنی حالت ئے داسے وی چه یزید غوندے ظالم هم تر نفرت کوی) -

خلاصه داچه ظاهر او باطن دواړهٔ ئے صفا کړی نهٔ وی نو هغه - داسے دیندار کیدے نشی څنګه دینداری چه الله تعالے غواړی او چاسره چه ئے دِ دے دوو څیزونو وعده کړی ده -

الله تعالے څنګه دینداری غواړی دِ هغے خلاصه درته په یو څوجملو کښے بیانوم - تفصیلی بیان که ئے څوک کوی نو عمر به ئے ختم شی او بیان به پوره نکړے شی - خلاصه ئے الله تعالے خپله داسے فرمائی - لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ - (تاسو دِ پاره دِ رسول الله څرونډ بهترینه نمونه ده) - یعنی په اختیارې کارونو کښے دِ څرونډ هغه طریقے اختیار کړئ څنګه څرونډ چه رسول الله صلے الله علیه وسلم تیر کړے دے - کو یا الله تعالے مونږ ته رسول الله یو نمونه راستولی ده چه بیله بیله جنړه به درته څه ښیم چه داسے او کړئ او داسے او کړئ خو دا یو نمونه دِ م در واستوله ځان د غه - شان کړئ - په اخلاقو - عاداتو - خوراک - څکاک - کیناستل - پاڅیدل - خوب او ویښته - جامه پیژار هرڅهٔ کښے داسے شئ څنګه چه څا حبیب دے -

اوس تاسو خپله سوچ او کړئ که په دے کارونو کښے یو کار کښے هم څهٔ کمے وی نو نمونه سمه نهٔ ده - دِ دے مثال داسے دے لکه ته یو درزی

Scanned with CamScanner

دیو کوټ کړه ورکړے - او ورسره خپل یو کوټ ورکړے چه دِ دے په شان کوټ ساته جوړ کړه - نو اوس هغهٔ ته دِ دے ویناض ورت نشته چه اوښ دوالے ټے دومره پکار دے - لستونۍ ټے دا سے اوکړه او جیبونه - دا سے - بس چه دِ دے کوټ په شان وی هغه به صحیح وی - اوکه یو شے پکښے بدل وی هم ته به ټے په مخ ورا وولے چه ظالمه ماخو نمونه هم درکړے وَه بیا دِ ولے غلط جوړ کړو - مزدوری خو ټے لاړه - اوځهٔ عجیبه به نهٔ وی که دِ کپړے تاوان هم ترا وغواړی -

نو جناب عالی اوس چه موښ دِ قیامت په ورځ دِ الله تعالے په دربار کښے پیش شو او ځ موښ اعمال هم پیش شی - نهٔ مو مونځ روژه په مسنون طریقه برابر وی - او نهٔ مو ظاهری شکل صورت په شریعت برابر وی نو څهٔ عجیبه به نهٔ وی که سزا راکړے شی - دِ انعام څهٔ طمع کیدے شی؟

دِ مثال په طور یو واقعه رایاده شوه - وائی چه اورنګزیب عالمګیر چه په تخت کیناستو دِ شاهی دستور موافق ټے نو لوا میرانو وزیرانو عالمانو او نورو په فن کښے ماهرانو استاذانو ته انعامونه ورکړل یو بهروپیه (نقلی) هم دِ انعام په طمع راغلو - خو عالمګیر عالم سړے وو دهٔ ته ټے انعام ورکول جائز او نهٔ کنړل خو صفا جواب ټے هم نهٔ ورکړلو (دِ شاهی آداب خلاف وو) په څهٔ چل ټے سره خصتولو ورته ټے او وے اوس خو ما او پیژندے (دِ بهروپی کمال دا دے چه شکل دا سے بدل کړی چه څوک ټے او نه پیژندے شی) که په دا سے شکل کښے راغلے چه نهٔ دِ او نهٔ پیژنم نو غټ انعام به درکړم - هغه بیا دِ بړ څله په بدله بدله جامه کښے راغلو خو هغهٔ به او پیژندو عالمګیر نه ټے انعام وانهٔ خسته شو -

بیا څهٔ موده پس عالمګیر دِ دکن په مهم روان شو - په سفر کښے دِ عالمګیر

دا قاعده وَه چه په لار کښے پراؤ سړ نږدے به چرته مشهور پیر فقیر
وو- دِ هغهٔ ملاقات ته به ضرور ورتلو- په دے سفر کښے ئے په یو
ځائے کښے واورېدو چه دلته یو کامل درویش اوسی - اول ئے خپل وزیر
ورواستولو چه اندازه ئے واخلی چه واقعی کامل دے که نه - وزیر واپس
شو- بادشاه ته ئے پیر صفتونه اوکړل چه پیر کامل ولی دے - هغه
لاغوښتل خو بے ادبی دَه - که بادشاه خپله ورشی نو ښه به وی -
عالمگیر خپله ورغلو دِ تصوف دِځنه کړانو مسئلو چه عالمگیر ته پکښے شک
وو- پټوسونه ئے ترې اوکړل او ښهٔ شافی جواب ئے واورېدو- تسلی ئے
ئے اوشوه او دېرانش ئے په اوکړو- چه واپس کیدو- نو دِ اشرفیو یو تهیلی
ورته پیش کړه- هغهٔ تهیلی ته لته ورکړه اخوا ئے اوغورزوله - ورته
ئے اووے-ولے مامِ دِ ځان په شان دنیا دار کړے ؟ دِ بادشاه اعتقاد په
نورهم زیات شو- او په قوله لار ئے وزیر سره هم دِ دے فقیر دِ کمال
خبرے کولے - چه لښکر ته راورسیدو نو هم هغه درویش ورته راځکښے
شو دوه لاسی سلام ئے اوکړو او انعام ئے اوغوښتو- بادشاه حیران
شو چه داځهٔ معامله دَه - خرچه سوچ ئے اوکړو نو وے پیژندو چه دا
خو هم هغه بهروپی دے - دا پیره ئے خطا کړے وو نو انعام ئے ورکړو
خو پټوس ئے ترې اوکړو چه دیره کښے زِم دِ پیر رقم درکولو نو هغه دِ وانهٔ
خستو- او دا لږ انعام دِ واخستو دا ولے ؟- هغه ورته اووے هلته زِم دِ
درویش شکل جوړ کړے وو نو هلته رقم اخستل مناسب نهٔ وو-

نو عرض دادے چه موږ نن خو دِ هغے نقلی نه هم لاندے یو- دِ دینداری
نقل هم پوره نشو کولے-

حاصل دا چه کامل دیندار هغه دے چه ظاهر او باطن دواړه ئے پاک وی
یادلرئ اعمال دوه قسمه دی- ظاهری او باطنی= ظاهری خو دا مونږ

روژه، زکوة اوحج دی۔ او باطنی اخلاق حسنه۔ صبر۔ شکر۔ قناعت۔ رضا۔ حلم وغیره دی۔ اود دے په مقابله کښے اخلاقِ رزیله۔ حسد۔ کینه۔ ریا۔ شهرت۔ کبر۔ حرص۔ غصه وغیره اخلاقِ رزیله دِ نړۍ نه ویستل پکار دی او اخلاق حسنه پیدا کول ضروری دی۔ داکار دِ پیرانو درویشانو په صحبت کښے کیږی۔ عالمان خو وړته ظاهری احکام اوښئ دِ دے اخلاقو صحیح کولو نوم درویشی او تصوف دے۔ نن صبا خو درویشی کشف وکرامت ته ویلے شی۔ (حضرت تهانویؒ فرمائی) زهٔ دِ یو پیر صاحب په دے خبره دِ پیر حیران شوم۔ چه یو صوفی ته ئے اووے۔ وظیفے اومراقبے خو کوے خوځهٔ وینے هم که نه (یعنی څهٔ انوار وغیره) هغه وړته اووے زهٔ خو هیڅ نهٔ وینم نو دے وړته وائی دِ یره ښه ده ثواب ورته کوه دِ پرافسوس دے۔ دے پیر صاحب دِ ثواب هیڅ قدر او نکړو۔ بس دِ دے وړزے نه ږم ترعقید پورته شوه۔ څوک چه دِ الله رضا پریدی او۔ انوار و پسے کړئ دِ هغوئ مثال دا سے دے لکه چه دِ وزارت کرسئ۔ پریدی او کوډ چاری شروع کړی۔ ځکه چه دِ کشف مطلب څنه غیر مقصود ی څیزونه لیدل دی۔ نو داځهٔ کمال نهٔ دے۔ کمال دا دے چه ظاهر او باطن ئے دواړه دِ شریعت په تله پوره اوخیژی۔ نو داځما یقین دے چه دِ دا سے سړی به حیات طیبه نصیب شی۔ او هیڅ قسم پریشانی او تکلیف به وړته نهٔ وی۔ که څوک اووائی چه موږ خو وینو چه په نیکانو او بزرګانو دِ یره سختے راځی۔ نو مزید ارشروند ئے چرته دے۔ زهٔ وایم بیشکه په ظاهره په دِ نړۍ و خلقو نه نړیات تکلیفونه راځی۔ خو هغوئ تر دا تکلیف هم خوند وړ کوی۔ په تکلیفو کښے هم مطمئن وی نږۍ ئے پریشان نهٔ وی۔ دِ دے مثال دا سے دے۔ لکه څوک په چا مین وی او محبوب ئے دِ یره موده نهٔ وی لیدلے۔ دِ لیدو ئے دِ یر ارمانی وی۔ ناڅاپه چرته یو وړز ئے هغه محبوب راشی وړ غاړه وځی۔ سینه په سینه شی او دومره زور و

کړی چه پښتئ ئے اوبریښی- لیکن که هغه ربښتونے عاشق وی- نو دا درد به ور باندے خوښ لګی او دومره به خوشال وی چه په جامو کښے به نه ځائیږی- په دے وخت کښے چه دِ دهٔ پښتئ ښهٔ درد کړی- که محبوب ورته اووائی که تاته تکلیف وی چه درنه جدا شم- هغه به ورته اووائی چه ملحو دا ورز دِ خدایه غوښته- اوس دِ چرته پریدم که مرم هم به درنه جدانشم ؎

اسیرت نه خواهد رهائی زِ بند شکارت نه جوید خلاص از کمند

(دِ ستا قیدی دِ قید نه خلاصے نهٔ غواړی- دِ ستا ښکار دِ دام نه دِ خلاصیدو کوشش نهٔ کړی)- که محبوب ورته اووائی چه تاته تکلیف دے نو تا به پریدم دا مخامخ دِ رقیب ولاړ دے هغهٔ ته به غاړه وځم- نو دے به ورته وائی چه ګوره دے دا سے اونکړے ؎

نشود نصیب دشمن که شود هلاک تیغت- سیر دوستان سلامت که تو خنجر ازمائی

(دشمن ته دِ خدائے پاک دا عزت ورنکړی چه دِ ستا په مبارکه توره هلاک شی- دِ ستا دِ توړے دِ ازمیښت دِ پاره دِ خدائے پاک دِ دوستانو سرونه ډیرلری)- اووائی به ؎

سر بوقت ذبح اپنا اس کے زیرِ پائے ہے- کیا نصیب اللہ اکبر لوٹنے کی جائے ہے

(نهٔ څومره خوښ قسمته یم دا خو دِ خوشالئی نه دِ ګډه دا وخبره دَه چه دِ ذبح کولو په وخت محبوب خپله مبارکه ښپه ځما په سر کیښوه- اووائی به ؎

مزے جو موت کے عاشق بیان کبھی کرتے- مسیح وخضر بھی مرنے کی آرزو کرتے

(عاشق ته چه دِ محبوب دِ لاسه مړ ځومره مزه ورکوی که دِ دے- بیان ئے چرته کړے وے نو عیسیٰؑ او خضرؑ به هم ارمان کړے وو چه کاش موږ هم دِ محبوب دِ لاسه مړهٔ وی)- او ګورئ خلقو ته خو مړ دِ ټولونه غټ مصیبت ښکاری- لیکن دِ خدائے عاشقانو ته دِ مړ نه غټه خوشالی بله نشته- یو عاشق وائی ؎

Scanned with CamScanner

خرم آن روز کزین منزل ویران بروم - راحتِ جان طلبم وز پئے جانان بروم
نذر کردم اگر آید بسر این غم روزے - تا درِ میکده شادان وغزلخوان بروم

(۱) ر دا د نیا بے محبوبه ویجاړه دَه - هغه به څنګه دِ خوشالئ ورځ وی چه زړهٔ دِ دے ویجاړے نه روان شم (مړشم) روح م پاته ارام شی اوچل جانان ته اورسم) - (۲) (ما نذر منلے دے که دا دِ غم ورځے ختم شوے - (یعنی دے دنیا نه دِ تلو وخت راغلو) نو تر میکدے یعنی دِ محبوبِ حقیقی تر درباړه به خوشال خوشال په سندرو ویلو روان یم) - دا ارمانونه خو ئے دِ مړګ دِ راتلو نه مخکښے وی لیکن عین دِ وفات په وخت کښے ئے څهٔ حال وی - یو بزرګ دِ وفات په وخت ویلی دی ؎

وقت آمد آنکه من عریان شوم - جسم بگذارم سراسر جان شوم

(هغه وخت راغلو چه دِ بدن دِ دے قید نه خلاص شم - دا خاکی بدن پریدم اوخالص روح پاتے شم) - په حضرت ابن فارضؒ چه دِ وفات وخت راغلو اتهٔ واړهٔ جنتونه ورته منکشف شو چه دا ستا مقام دے هغه ترمخ واړولو اوئے وے -

اِنْ کَانَ مَنْزِلَتِیْ فِی الْحُبِّ عِنْدَکُمْ - مَا قَدْ رَأَیْتُ فَقَدْ ضَیَّعْتُ اَیَّامِیْ

(که څما درجه دستا په محبت کښے تاسو دغه وی کومه چه ما اولیده خو ما چنل عمر هسے برباد کړو) - یعنی څما مقصد خو ستا دیدار وو - چه هغه په دے کښے نشته - نو تش جنتونه به څهٔ کړم - دے نه پس ورباندے حق تعالے خپله تجلی واچوله - نو روح ئے دِ بدن نه پرواز اوکړو) اوس کورئ چه دا حضرات دِ مړګ په سختو کښے هم پریشان نهٔ وی نو په لوبه ښنده یا غریبئ کښے به څهٔ پریشان شی - دِ حضرت بهلولِ دانا نه چا پوښتنه اوکړه چه څهٔ حال دے هغهٔ ورته اووے دِ هغے بنده دِ خوشالو به څهٔ پوښتنه کوے چه په دنیا کښے څهٔ کیږی دِ هغه دِ رضا مطابق کیږی - هغے سړی

Scanned with CamScanner

ورته اووے په خبره دِ پوهه نشوم - په مخلوق کښے به داسے خوش نصیبه څوک وی چه هرکار دِ هغه په رضا کیږی - حضرت بهلول ورته اووے چاچه خپله اراده دِ الله په اراده کښے فنا کړی وی - نو په دنیا کښے چه دِ الله په اراده څۀ کیږی (او دنیا کښے هرکار دِ الله په اراده کیږی) هغه دِ هغۀ دِ ارادے اورضا موافق وی - مطلب داچه ما خپل خواهش ترکۀ کړے دے - خپله رضام دِ الله په رضا کښے فنا کړی دَه - هغه چه م په کوم حال کښے ساتی په هغے راضی اوخوشالیم -

اصل خبره دادَه چه پریشانی په دوو خبرو پیدا کیږی - یو داچه دِ چا لاس کښے چه کار وی هغۀ سره ځے مینه نۀ وی - بل داچه څۀ کار ځے خلاف اُمید اوشی - دۀ یوخیال کړے وی او اوشی بله - مثلاً موبږ داخیال کړے وی چه دے کاروبار کښے به نفع اوشی او اوشی نقصان نو بنده پریشان شی - دِ چا داطمع وی چه حُوئے م اوشی او اوئے شی لور نو پریشان شی - یابل داسے خلافِ اُمید کار اوشی - نو بنده پریشان شی چاچه خپله اراده فنا کړی وی - خپله رضا ځے دِ خپل مولیٰ دِ رضا تابع کړی وی - هغۀ دِ پاره دِ پریشانۍ هیڅ وجهه نشی کیدے - خپل مالِک چه ځے په کوم حال کښے ساتی هغے کښے خوشال وی - حضرت بهلول ته چا اووے غله کرانه شوه - هغۀ ورته اووے هیڅ پروا نشته - زموږ په ذمه دادی چه دِ خپل مالِک عبادت اوکړو - او دِ هغۀ په ذمه دا دی چه دِ خپلے وعدے مطابق رزق راکړی - (دِ رزق ذمه وار موشته که کران شی اوکه ارزان شی زموږ په څۀ) -

یو بزرګ دِ خپلے توبے اورجوع الی الله قصه داسے بیانوی چه یو کال قحط وو - غله نۀ پیدا کیده - ټول خلق پریشان وو - په دے حال کښے م یو غلام م اولیدو چه ډیر بے فکره روان وو - سندرے وے او خوشال وو -

Scanned with CamScanner

ما ورته او وے۔ دے قطعئ کښے څنګه بے فکره ئے۔ هغه راته او وے څما مالګ د دوو کلو خاوند دے۔ موبز سړه دِ غلے ګودامونه ډک دی۔ هیڅ غم راسړه نشته څما زړه دیکه اوخوړه۔ ذهن ته ږم داخیال راغلو۔ چه اے نفسه دِ چا دِ مالګ چه صرف دوه کلی دی۔ هغه دومره بے فکره دے او دستا مالِک دِ ټولے دنیا دِ ټولے زمکے اواسمانونو مالګ دے نو تهٔ ولے پریشان ئے په هغه وخت ږم توبه اوویسته اوخپل خالق ته ږم رجوع۔ اوکړه پریشانی ختم شوه۔

ډیر افسوس دے چه نن صبا معامله اپوټه ده۔ مال ګټل اوشپه ورځ په دے سوچونو کښے ډوب اوسیدل خو ترقی ګنډلے شی اوخان خپل۔ مالګ ته سپارل اوبے فکره اوسیدل کمزوری ګنډلے شی۔ خان دِ قوم خیرخواه ګنډی۔ لیکن څوک چه شپه ورځ مال ګټلو اوخپلو خواهشاتو پوره کولو کښے ډوب دی۔ هغه به دِ قوم خیرخواهی څهٔ اوکړی۔ هغه په خپلو فکرونو کښے ډوب دی دِ بل فکر ته کله اوزګاریدے شی۔ اصل خیرخواهان پیغمبران او دِ دین بزرګان دی۔ الله تعالے فرمائی۔ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ اَنْ لَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ط (یعنی اے محمّد صلے الله علیه وسلم ته چه شپه ورځ دا فکرونه کوے چه دا خلق ایمان ولے نهٔ راوړی چه دِ دوزخ دِ اور نه بچ شی۔ نو شاید چه دِ دے غمه به تهٔ خپل خان هلاک کړے)۔ او دِ بزرګانو خو دا طریقه ده ؎

طریقت بجز خدمتِ خلق نیست　　به تسبیح وسجاده و دلق نیست

(تصوف دا نهٔ دے چه کند واغوندے تسبیح را واخلے په مصله کښی بلکه اصلی تصوف دادے چه دِ خدائے دِ مخلوق خدمت اوکړے)۔

حضرت شاه اسحاق صاحب رح ته یو سړے راغلو چه فلانی حاکم سړِم کار نښتے دے۔ سفارش خط دِ هغه په نوم راکړه چه کار راته اوکړی۔ هغه حاکم دِ

Scanned with CamScanner

شاه صاحب سخت مخالف وو- خو شاه صاحب ورته سفارښی خط اولیکلو هغه چه حاکم ته خط ورکړو هغه چوبړ مچوبړ کړو واپس ئے ورکړوچه شاه صاحب ته ئے یوسه او ورته اووایه دے نه دِ ډیوے باتئ جوړ کړه هغے سړی هم داخبره شاه صاحب ته یوړه- شاه صاحب ورته اووے که په دے دِ تاکارکیږی نوځما په هیڅ اعتراض نشته- هغه کاغذ ئے ډیوے ته اوښوو اوئے سوزولو- داجواب چه هغه سړی ته اورسیدلو نو ډیراش په اوښو- الله تعالے ورته هدایت اوکړو- توبه ئے اوویسته اودِ شاه صاحب په خدمت کښے حاضرښو- معافی ئے اوغوښته- دِ شاه صاحب دِ اخلاص یوے جلے دومره کار اوکړوچه لس کاله ریاضت دومره کار نشوکولے- اوس اووائی چه داسے بے غرضه بل ته دِ خیر سولو دِ پاره دومره قربانی څوک کولے شی- داسے کسانو ته دِ ننی زمانے ترقی یافته بے همته وائی- یو بزرګ نه چا پوښتنه اوکړوچه ته به رزق دِ کوم خائے نه خوړے- هغه ورته اووے- دادنیا دِ الله کور دے- او موږ دِ الله میلمانه یو په احادیثو کښے میلمستیا درے ورځے دَه- اودِ الله یووړځ زموږ دِ زړو کالو برابر دَه- لکه چه فرمائی- اِنَّ یَوْمًا عِنْدَ رَبِّکَ کَاَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ- (دِ ستاسو په شمار چه زړ کاله شمیرلے شی دادِ الله په نزد یو ورځ حسابیږی)- نو درے زړ کاله پوړے خو میلمستیا دَه او دے نه پس رانه بیا پوښتنه اوکړه- دے خبرو نه خما- مطلب دادے چه دِ دنیا په کارونو کښے دومره مه ډوبیږئ چه دین ته موشاشی- بلکه په قدر دِ ضرورت مال کتئ او داسے اخلاق پیدا کړئ څنګه چه زموږ مشران وو مال کتل بدکار نه دے- ځنه بزرګان ډیر مالدار وو- خو دِ هغوئی مال یواځئ ځان دِ پاره نه وو- دِ خدائے دِ مخلوق دِ خدمت دِ پاره وو- هغوئی مال دِ الله امانت ګڼلو بے ځایه

Scanned with CamScanner

او بے اجازته ئے نۀ خرچ کولو۔

حضرت سلیمان علیه السلام بادشاه وو۔ حضرت یوسف علیه السلام دِ مصر حاکم وو۔ حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق دِ مسلمانانو خلفاوو دِ ټول عالمِ اسلام امیران وو۔ لیکن دِ هغوئی خپله داحال وو۔ چه یو کال په مصر کښے قحطی وَه ۔ نو یوسف علیه السلام به خپله هم په مړه خیټه سره وتئ نۀ خوړه ۔ اوکه په بزرګانو کښے څوک خوش خوراکه اوخوش لباسه مونټے شویدے نو هغے هم داکار دِ الله په اجازت کولو۔ مثلاً که یو سړی ته دا معلومه شی چه دِ هغۀ په غاړه دِ هدایت ذمه واری دَه دِ وعظ تقریر یا تدریس و تحریر په ذریعه نو که هغه مقوی خوراک خوری دے دِ پاره چه دِ ماغ ئے قوی وی او همت ئے بنۀ وی نو دا خدمت به په صحیح طریقه کولے شی۔ دا نفس په مثال دِ یو مزدوردے او دا دِ ماغ یو سرکاری مشین دے چه دِ هدایت کار تراختے شی نو که دے مزدور ته مزدوری بنۀ ملاویږی۔ او دِ دے مشین دِ تیلو ضروری مرمت او صفائی خیال ساتلے شی نو تر ډیره وخته به بنۀ کار اوکړے شی ۔ نو دِ نفس دا خدمت یعنی بنۀ خوراک په دے وجهه نه دے چه دا زموږ نفس دے۔ بلکه په دے وجهه دے چه دا په سرکاری کار کښے مشغول دے ۔ په دے معنیٰ څۀ بنۀ ویلی شوی دی ؎

نازم بچشم خود که جمالے تو دیده است ۔ افتم به پائے خود که بکویت رسیده است

هر دم هزار بوسه دهم دست خویش را ۔ کو دامنت گرفته بسویم کشیده است

(په خپلو سترګو فخر کوم چه ستا دیدن ئے کړے دے۔ په خپلو بښپو پریږدم چه ستا کوڅے ته ورسیدلی دی۔ هر وخت خپل لاسونه بنکلوم چه دے لاسو ستا لمن نیولی دَه مانه ئے را بنکلے ئے)۔ نبی کریم صلے الله علیه وسلم فرمائیلی دی ۔ اِنَّ لِنَفْسِکَ عَلَیْکَ حَقًّا وَلِزَوْجِکَ عَلَیْکَ حَقًّا۔ (بیشکه ستا

دِ نفس په تاحق دے او دِ تا دِ کور واله په تاحق دے) او فرمائی۔ اَلْمُؤْمِنُ الْقَوِیُّ خَیْرٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِیْفِ۔ (طاقتور مسلمان دِ کمزوری مسلمان نه بهتر دے)۔ اوځنه هغه بزرگان چه دِ خلق خدمت ورته نه دے حواله شوے هغوئ سره صرف دِ خپل نفس دِ اصلاح فکر وی۔ دِ هغوئ مذاق دا دے ؎

احمد تو عاشقی به مشیخت تراچه کار ؏ دیوانه باش سلسله شد شد نه شد نه شد

(اے احمد ته عاشق ئے پیرئ سره ستا څه کار دے ؏ یو مخیزه په خپل کار کښے لګیا اوسه سلسله چلیږی اوکه نه دِ دے پروا مهٔ کوه خپل کار ته زور ورکړه) او دِ دے سلسلے صاحبان فرمائی۔

خلق می گوید که خسرو بت پرستی می کند ؏ آرے آرے میکنم باخلق عالم کار نیست

(اے خسرو خلق وائی چه خسرو بت پرستی کوی ؏ او تاسو ئے دغه شان اوګڼئ۔ دِ خلقو په خبرو دِ خسرو هیڅ کار نشته) خلقو سره ئے هیڅ تعلق نشته۔ دِ هغه تعلق خو الله سره دے او الله دِ هغهٔ په حال بنهٔ خبر دے۔ دِ مخلوق په خبرو ئے هیڅ کار نشته۔ داسے عاشقان دِ بدنامئ نه نهٔ ویریږی۔ او یو هغه ډله ده چه دِ محمولی شک نه هم ځان ساتی۔ یو ځل رسول کریم صلے الله علیه وسلم مسجد نبوی کښے معتکف وو۔ دِ حضور صلے الله علیه وسلم بی بی حضرت صفیهؓ په خپل کار پسے حضورؐ ته راغلی وه۔ چه واپس تله حضورؐ ورسره دِ جمات تر ورهٔ راغلو۔ مخامخ دوه کسان راروان وو۔ حضور صلے الله علیه وسلم آواز ورکړو۔ او دریږئ یو خبره واورئ۔ دا صفیهؓ ده په خپل کار پسے راغلی وه۔ دا خبره په هغوئ ډیره درنه اولګیده عرض ئے اوکړو یا رسول الله۔ زمونږ ډیره ډیره توبه ده مونږ په تاسو څنګه بدګومانی کولے شوه حضورؐ او فرمائیل۔ شیطان دِ بنیادم په رګونو کښے لکه دِ وینے ګرځی۔

Scanned with CamScanner

ما سره فکر شوچه هسے نه شیطان ستاسو په زړونو کښے شک واچوی او ایمان موخراب کړی- غرض داچه دِ الله تعالے دِ دوستانو شانونه مختلف دی- دا دِ کلونو سرکاری غنچے دی- پکښے هرڅۀ شته- کلاب- چنبه- رامبیل وغیره او ورسره اغزی هم شته- غرض داچه چا چه څنګل هرڅۀ الله ته اوسپارل- او دِ څنګل نفس خواهشونه ئے فنا کړل- څنګله رضائے دِ الله دِ رضا تابع کړه- هغه هیڅوے په هیڅ کار نشی پریشان کیدے همیشه خوشاله او په آرام وراحت وی-

که څوک اوولئی چه موږ خو وینو په پیغمبرانو او ولیانو ډیرے سختے راغلی دی او ډیر غمجن شوی دی- یعقوب علیه السلام ډیره موده دِ یوسفؑ په جدائی خفه وو- ایوب علیه السلام باندے بیمارئی کښے ډیرے سختے راغلی دی- یوسف علیه السلام تر رونړو ډیر تکلیف ورکړے دے جواب ئے دادے چه په دے صاحبانو سختے راغلی دی- خو هغوئی پکښے پریشان شوی نۀ دی- پریشانی بیل شے دے اوغم بیل شے دے- غم دِ کمال منافی نۀ دے- دا دانسانی فطرت تقاضا او عین کمال دے- دِ څنه بزرګانو په حالاتو کښے راغلی دی- چه دِ څوئے دِ مرګ خبر ورته راغلو خو هغۀ دِ خفګان په ځائے اوخندل- او دِ نبی کریم صلے الله علیه وسلم څوئے ابراهیم چه وفات شو- نو حضورؐ غمجن شو او دِ سترګو مبارکو نه ئے اوښکے- او بهیدے- ظاهره دَه چه کمال هم دغه دے- کوم چه دِ نبی کریم صلے الله- علیه وسلم حالت وو- وجهه ئے دا دَه چه څوک غمجن شوی نۀ دی- هغوئی دِ الله دِ حق خیال خو ساتلے دے لیکن دِ اولاد دِ حق خیال ئے نۀ دے ساتلے او څوک چه غمجن شو خو صبر ئے اوکړو- واویلا او شور فریاد ئے اونکړو- هغۀ دِ دواړو حق ادا کړو- دِ الله په دوستانو چه غمونه راځی په هغے کښے حکمت دادے چه دِ صبر فضیلت حاصل کړی او درجے

7-15- 8-30 25-31

Scanned with CamScanner

ئے اوچتے شی۔ او صبر .ے دِ غمه نشی کیدے۔ بل حکمت پکښے دادے چه غم
سړ دِ قلب تصفیه اوشی۔ که څوک او وائی چه غمجن شو نو حیات خو
طیب پاتے نشو۔ اصل خبره دادَه چه دِ غم دِ واقعے دوه حیثیته دی۔ په
یو اعتبار خو مصیبت او تکلیف دے۔ او په بل اعتبار چه دا واقعه دِ محبوب
دِ طرفه دَه دِ خوشئ او رضا شے دے۔ دِ الله دِ دوستانو نظر هر وخت
په دے وی چه دا واقعه دِ الله دِ طرفه دَه نو هر مصیبت چه وی هغوئ
ئے په خوشالئ برداشت کړی۔ دِ الله په رضا راضی وی او هیڅ وخت کښے
پَه هیڅ تکلیف کښے پریشان کیږی نه۔ په اطمینان کښے ئے څۀ فرق نه
راځی۔ نو په حیات طیبه ئے څۀ اثر نۀ پریوځی۔ طبعی تکلیف رسیدل۔
بیله خبره دَه۔ دِ دے حقیقت کوم چه دِ الله تعالے په فضل نن په ذهن
کښے راغلے دے۔ دِ یو مثال په ذریعه دا سے واضح کیدے شی چه دِ بنۀ
څیز دوه درجے دی۔ یو[1] دا چه مفید م وی او مزیدار هم وی او بل[2] دا چه
مفید وی خو مزیدار نۀ وی۔ لکه ویلے شی دا طیب خوراک دے۔ یعنی
خوندناک هم دے او بدن ته فائده من هم دے۔ او ویلے شی۔ دا طیب[1] دارو
دی۔ دِ هغے مطلب دا وی چه فائده من دی مریض ته به شفا درکړی که
خوند ئے تریخ وی هم۔ دِ دارو دا تریخ والے اگرچه دِ طبیعت خلاف وی
لیکن دِ فائدے په غرض برداشت کولے شی او دِ دارو په طیب کیدو ئے
څۀ اثر نۀ پریوځی۔ تارخۀ دارو هم خلق په خوشئ خوړی اوخکی۔ نو غم دِ دارو
په شان تریخ دے۔ تارخۀ دارو هم په خوشئ څکه خوړے شی چه نتیجه
ئے چه صحت دے ــــ خوند ناکه دَه۔ دغه شان دِ غم نتیجه هم چه دِ
صبر فضیلت او اوچتے درجے دی خوند ناکه دَه۔ نو دِ چا چه په دے
نظر وی۔ او دا ئے یقین وی چه دِ صبر په وجه به راته اوچتے درجے
حاصلے شی هغه په هغے غم هم خوشاله وی۔

Scanned with CamScanner

الحمد لله په دے مثال ټول شبهات ختم شو۔ خلاصه دا شوه چه په کاملانو که هر څومره ظاهری مصیبت او غم راشی ـ لوبزه ـ تنده یا بل څه تکلیف راشی ـ چونکه د هغوئ نظر د دے په نتیجه وی نو هغوئ ورکښے خوشاله وی۔ پریشان کیږی نه هغوئ د الله تعالے ربښتونی عاشقان وی الله تعالے سره ئے بے اندازه ډیره مینه وی ـ او الله تعالے سره د ملاقات په انتظار وی ـ نو په هغوئ هره سخته اسانه وی۔ په دنیا کښے تاسو اوګورئ که څوک په چا مین وی۔ او خبر شی چه په دے وخت به ږم محبوب ملاقات ته بلی ـ او راښه خوشال دے په خوشالئ به راسره خبرے کوی نو هغه به د هغے وخت په انتظار کښے هره سخته په خوشالئ برداشت کړی۔ اصل کښے سخته اسانونکے شے محبت دے۔ نو د الله دوستان هم الله سره د ملاقات په انتظار وی ـ او په دے خیال چه الله راښه راضی دے یا په دے کار به راښه راضی شی هر مصیبت په خندا برداشت کوی ـ داټول د محبت ـ برکت دے۔ والله هم داشے دے چه اصحاب کرام ئے په ټول امت کښے ممتاز کړی دی ـ او هم د دے دولت برکت دے چه د مونږ د پاکو مشرانو د نیکئ ذکر خیر تراوسه کیږی ـ د ترقئ اصل سبب د الله او رسول الله محبت دے۔ نن صبا خلق د اصحابو او نورو مشرانو مسلمانانو د ترقئ ذکر کوی او په خپل خیال ئے د حاصلولو کوشش هم کوی ـ لیکن دے نه نه ئ دی خبر چه د هغوئ د ترقئ اصل سبب څه وو۔ دوئ مال جمع کولو او مذموم ـ جاه حاصلولو ته ترقی وائی او د ترقئ اصل سبب ئے هیر کړے دے۔ اصحابو چه کوم فتوحات حاصل کړی وو۔ هغه د مال او جاه په خاطر نه وو۔ د الله د دین خورولو د پاره او د دین د خدمت د پاره وو۔ د دنیا د هغوئ نه وه پکار هغوئ د دین خدمت کولو مال او اقتدار حاصلول ئے غرض نه وو۔ او نه ئے د مال سره مینه وه ـ باقی په اصحابو او نورو مخکینو

Scanned with CamScanner

مشرانو کښے هم د هرچا شان جدا جدا وو۔ بادشاهان هم پکښے تیر شوی دی او فقیران هم۔ حضرت سلیمان علیه السلام بادشاه وو۔ او حضرت عیسیٰ علیه السلام چنل ذاتی کور هم نۀ لرلو۔ حضرت ابوبکر صدیق رضؓ او حضرت عمر رضؓ د اول عالم اسلام خلفاء وو۔ حضرت عثمان رضؓ غټ تاجر وو۔ لیکن حضرت ابوذر غفاری رضؓ درویش وو۔ خان سره ئے مال ساتل حرام ګڼل۔ حضرت ابوذر رضؓ ته حضور صلے الله علیه وسلم فرمائیلی وو۔ زهٔ تاد پاره داخو بنوم چه د دووکسو ترمینځ فیصله هٔ کوه (ثالث هٔ جوړیږه) او د یتیم د مال متولی کیږه هم مه۔ زهٔ په تاکښے ځنه کمزورئی وینم۔ یعنی د تعلقاتو ذمه واری نشے برداشت کولے۔ داخو د حضرت ابوبکر او حضرت عمر نه ووچه په مدینه کښے به په نرمکه په پونړی ناست وواو د شام عراق فارس وروم انتظام ئے چلولو۔

غرض داچه په پیغمبرانو او اصحابو او ولیانو کښے د هرچا رنګ جدا جدا دے۔ او هغوئی د پاره هم دغه رنګ مناسب وو۔ ځنه کسان د مالدارئی نه ویریدل چه حق به ئے ادا نکړے شو۔ زکوة۔ عشر قربانی۔ د غریبانو امداد وغیره د مال د پرحقونه دی۔ دا دومره جنجال به څوک پوره کوی۔ چه مال نۀ وی بے غمه به خپل عبادت ته فارغ یو۔ دا سے کسانو ته الله تعالے مال نۀ ورکوی۔ همیشه ئے تش لاس ساتی۔ لکه حضرت ابراهیم ادهم رحمة الله علیه خپله بادشاهی پریښوه۔ فقیری ئے خوښه کړه۔ شاه ابوالمعالیؒ به همیشه په فقیرئی اولوبزه کښے وخت تیرولو۔ یوه ورځ د هغۀ پیر و مرشد ورکړه میلمهٔ شو۔ شاه صاحبؒ کور نۀ وو۔ بی بی ئے پیرصاحب په ډیر عزت کینولو۔ خو لکه د همیشه ئے نن هم فاقه وه۔ د خوراک ورکړه څۀ نۀ وو۔ نۀ پیسه وَه چه د بازاره ئے څۀ راوړے وے۔ د کوانډیانو کره ئے خدمتکاره واستوله چه

Scanned with CamScanner

اوړهٔ قرض کړی - خوچا ورنکړو چه بیا به ترڅهٔ وصول کړو - پیرصاحب چه خدمتګار په بیابیا تلورتلو اولیده نو تپوس ئے اوکړو چه څهٔ چل دے ولے پریشانه ئے - بی بی صاحبه نړهٔ کښے اووے چه د پیرصاحب نه به حال څهٔ پټوم - صفائے ورته اووے - چه اوړه را کړه ننشته - اوګوانډیانو قرض رانکړو - پیرصاحب ورته یو سروپئی ورکړه چه د دے اوړهٔ بازار نه راواوغواړه او ماته ئے اوښیه - هغه د نن صبا پیرانو په شان نهٔ وو - چه هروخت د موریدنه د څهٔ رابنکلو په طمع وی - او داخیال نهٔ کوی چه دوئ ته به هم د څهٔ ضرورت وی - خدمتګاره بازار نهٔ اوړهٔ راوړهٔ نو بی بی صاحبه د پیرصاحب خدمت کښے پیش کړو - پیرصاحب یو تعویذ اولیکلو بی بی صاحبه ته ئے اووے - چه دا تعویذ د اوړو په چاټئ کښے اوړو کښے پټ کیده - اوړه وندنے اوباسه مه - اوچاټئ نه اوړهٔ راخله دا به خلاصیږی نه - پیرصاحب خو رخصت شو - شاه صاحب چه کورته راغلو - څهٔ وخته ئے سروټئ اوخوړه - نو بی بی صاحبه نه ئے - تپوس اوکړو چه څهٔ چل دے - اوړهٔ کوم ځائے نه راوړے فاقه ولے نشته - هغه ورته د پیرصاحب د تعویذ خبره اوکړه - چه دا د هغے تعویذ برکت دے شاه صاحب ورته اووے څافاقه اختیاری دَه (په خپله رضا دَه) اضطراری (په مجبورئ) نهٔ دَه - اوس دا موقع سخته د پریشانئ وَه که تعویذ اوړو کښے پریدی - نو د خپل مذاق خلاف دے - اوکه لږے کوی ئے نو د پیرصاحب بے ادبی کیږی لیکن دے حضراتو ته الله تعالے باطنی نور ورکړے وی په دا سے حالاتو کښے صحیح فیصله کولے شی - بی بی صاحبه ته ئے اووے هغه تعویذ راوړه چه څه ئے پټکی کښے په خپل سَر کیدم د پیر صاحب د تعویذ څائے څا سَر دے - د اوړو چاټئ نهٔ دَه - باقی پاتے اوړهٔ ئے په فقیرانو خیرات کړل او خپله ئے بیا فاقه شوه - او شکرونه ئے اوویستو

الله تعالے خپل بندیان بنهٔ پیژنی - څنه ورته معلوم دی - که ورسره مال نهٔ وی نو پریشان به وی - او که ورسره وی نو حق ئے ادا کولے شی - دا سے کسانو ته فراخ مال ورکوی - غرض دا دِ الله دِ دوستانو جدا جدا حیعتونه دی - او هریو په خپل حال کښے خوشال دے - هغوئی وائی -

به دُرد وصاف تراحکم نیست دم درکش ے که آنچه ساقی ئے ماریخت عین الطاف ست

(ته دِ دنیا تلے درکړے شی او که صفا شراب غلے شه ساه راکاږه - دِ اعتراض اجازت نشته - ځکه چه دِ ازل ساقی چه څهٔ را کوی دِ هغه مهربانی دَه) - زمونږ ورباندے څهٔ حق نشته - او وائی ے

تو بندگی چو گدایای بشرط مُزدمکن ے که خواجه خود رَوشِ بنده پروری داند

(ته نهٔ دِ فقیرانو په شان دِ مزدورئی عبادت مکوه + ځکه چه زمونږ مالك خپله دِ بندیانو په پرورش بنهٔ پوهیږی) - او دِ قبض په حالت کښے وائی - (یعنی دِ انوارو دِ کمی یا عبادت کښے زړه نهٔ لګیدو په حالت کښے) -

باغبان گر پنج روزے صحبتِ گل بایدش ے برجفائے خارِ هجران صبر بلبل بایدش

(اے باغوانه که ته څو ورځے دِ گل په مجلس کښے تیروول غواړے + نو دِ جدائی دِ ازغو په ظلم درته دِ بلبل په شان صبر پکار دے) - او وائی -

اے دل اندر بند زلفش از پریشانی منال ے مرغِ زیرک چون بدام افتد تحمل بایدش

(اے زړهٔ دِ محبوب دِ زلفو په قید کښے دِ پریشانئ نه فریاد مهٔ کوه - هوښیار مارغه چه دام کښے گیر شی نو دیر تړپونه نهٔ وهی) - او بیا وائی ے

فراق و وصل چه باشد رضائے دوست طلب ے که حیف باشد ازو غیر او تمنائے

(دِ جدائی او ملاقات خیال پریږده - صرف دِ دوست رضا غواړه + چه دِ محبوب نه دِ هغهٔ دِ رضا نه علاوه بل څهٔ طلب کول قابل افسوس دی) -

(حضرت فرمائی) اوس زهٔ وایم چه دِ چا داحال وی هغه به په څهٔ پریشان شی - هغه خو هروخت او په هرحال کښے خوشال وی ځکه چه داحال ئے

دِ محبوب خوښی دے - او هغه دِ محبوب په رضا راضی دے او هم داحیاتِ طیبه دے - دے نه علاوه صرف پریشانی او نامرادی دَه - لیکن

این سعادت بزور بازو نیست تا نه بخشد خدائے بخشنده

(دا کامیابی په زور ښتی حاصلیدے - داخو دِ الله تعالے فضل دے چه په چا اوشی) -

البته داخیال مهٔ کوئ چه دا اوچته مرتبه اوس څوک ښتی حاصلولے - موښ خو دنیا دار یو دیر فکر ونه دی راسره - دا شیطانی خیال دے - او په دے وجهه پیدا کیږی چه دِ خلق دا خیال دے چه دا مرتبه هلهٔ حاصلیدے شی چه بنده دِ دنیا هڅل کار ونه ترک کړی - بال بیخ سره تعلق پریدی تسبیح راواخلی او دِ جمات په یو کوټ کښے کینی - شپه و ورځ عبادت کوی بل هیڅ کار نهٔ کوی - هرگز نه - دِ هرچا مناسب بیله بیله طریقه دَه لیکن دِ دے دِ پوره تفصیل دِ پاره دیر وخت پکار دے - بیا هم ترسره نهٔ رسی - ځکه چه هر بنده څنله دا ښتی معلومولے چه ما دِ پاره کومه طریقه مناسب دَه (حضرت فرمائی) نږهٔ تاسوته یو خلاصه خبره بنیم چه دیر پریشان ښتی بس یو کامل پیر خوښ کړئ - بیعت ورنه اوکړئ اوچل ځان ورته اوسپارئ هغه چه درته کومه طریقه بنئ په هغے عمل کوئ - څیلے رائے ته پکښے دخل مهٔ ورکوئ او دیر پتوسونه هم مهٔ کوئ انشاء الله کامیاب به شئ ـه

بود مورے هوسے داشت که بکعبه رسد دست بر پائے کبوتر زد و ناگاه رسید

(یومیږے وو دِ بیت الله شریف دِ زیارت ارمان ئے وو - (لیکن کمزورے وو دومره اوبرد مزل ئے ښتو کولے - خو همت ئے اوکړو دِ حرم شریف دِ کونترے ښیو پورے او ښښتو او هغه به یو پرواز حرم شریف ته اورسولو) - نو موښ هم کمزورے یو په څنله دا اوبرد مزل ښتو سره رسولے - که دِ یو ولی الله ملن مرا وینوه نو انشاء الله محروم به نهٔ پاتے کیږو - کامیاب به شو - اوس دعا اوکړئ چه الله تعالے څنل محبت او دِ هغهٔ دِ رضا حاصلولو اونیکو اعمالو توفیق راکړی - آمین - وصل الله تعالے علی خیر خلقه سیدنا محمد واله واصحابه اجمعین - برحمتک یا ارحم الراحمین

Scanned with CamScanner

دعوات عبدیت

دویم جلد

پنجم وعظ

تسہیل الاصلاح

(اصلاح اسانول)

له ارشاد اتورد حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمۃ اللہ علیہ

Scanned with CamScanner

تعارف

داوعظ حضرت تھانوی رح خپل کلی سرہ نزدو جلال آباد نومی کلی کښے په ۱۱/ شعبان ۱۳۲۱ھ کال په یوه نیمه گهنټه کښے کړے دے۔او مولوی عبدالله صاحب قلمبند کړے دے۔



بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ نَحْمَدُہٗ وَ نَسْتَعِیْنُہٗ وَ نَسْتَغْفِرُہٗ وَ نُؤْمِنُ بِہٖ وَ نَتَوَکَّلُ عَلَیْہِ وَ نَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَ مِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّھْدِہِ اللّٰہُ فَلَا مُضِلَّ لَہٗ وَ مَنْ یُّضْلِلْہُ فَلَا ھَادِیَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنْ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ لَا شَرِیْکَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَ رَسُوْلُہٗ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہٖ وَ بَارِکْ وَسَلِّمْ۔ اما بعد۔ فَقَدْ قَالَ اللّٰہُ تَبَارَکَ وَ تَعَالٰی یٰٓاَیُّھَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰہَ وَ قُوْلُوْا قَوْلًا سَدِیْدًا یُّصْلِحْ لَکُمْ اَعْمَالَکُمْ وَ یَغْفِرْ لَکُمْ ذُنُوْبَکُمْ وَ مَنْ یُّطِعِ اللّٰہَ وَ رَسُوْلَہٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِیْمًا۔

دا یو آیت مبارک دے چہ اللہ تعالے پکښے موبز تہ دِ یو ډیر اہم مضمون خبر اکړے دے۔ حاصل ئے دا دے۔ چہ دا یو عامہ قاعدہ دَہ چہ بندہ کوم کار کوی پہ ھغے کښے دِ ھغہٗ غرض پہ دے دوو خبرو کښے یوہ خبرہ ضرور وی۔ یا بہ دَفعِ مَضرَّت کوی (یعنی ځان نہ بہ څہٗ تکلیف لرے کوی) یا جَلبِ مَنفَعَت (یعنی ځانتہ څہٗ فائدہ حاصلول۔ یعنی یا بہ ځان نہ څہٗ تکلیف لرے کوی۔ یا بہ ځان تہ څہٗ فائدہ حاصلوی۔ لکہ یو بندہ خوراک خوری نو دِ خوند او طاقت حاصلولو دِ پارہ دا جلب منفعت شو۔ او یو بندہ دارو څکی۔ دِ څہٗ مرض ختمولو دِ پارہ نو دا دفعِ مضرت شو۔ دغہ شان مثلاً یو سړے نوکری کوی یا زراعت یا تجارت کوی نو دِ مال کمولو دِ پارہ دا ھم جلب۔ منفعت دے۔ او کہ یو سړے مکان جوړوی نو دے دِ پارہ چہ دِ کرمنځی یعنی او باد باران نہ بچ شی نو دا ھم جلب منفعت دے۔ او کہ څوک چاتہ رشوت

Scanned with CamScanner

ورکوی دے د پاڑہ چہ د سزا نہ بچ شی۔ نو دا د دفع مضرت شو۔ غرض داچہ څہ کارچہ څوک کوی نو دے دوو خبرو کښے یوہ بہ ئے ضرور مقصود وی دا خبرہ خو دومرہ واضحہ دہ چہ دے نہ ھیڅوک انکار نشی کولے۔ البتہ د یو کار پہ فائدہ یا نقصان کښے اختلاف کیدے شی۔ خلاصہ داچہ فائدہ حاصلول خو ھرڅوک غواړی لیکن اختلاف پہ دے کښے راشی چہ یو سړے یو کار مفید ګڼی او کوشش ورپسے کوی او بل سړی تہ ھغہ کار مفید نہ بنکاری بلکہ نقصانی ئے ګڼی او ځان تر بچ کوی لکہ یو سړے دا کوشش کوی چہ تھانیدار یا تحصیلدار یا د پټی شم۔ پہ دے کښے خپل عزت ګڼی۔ او یو سړے د دا سے عھدو نہ د بچ کیدو کوشش کوی چہ دے کښے پہ غریبانو ظلم زیاتے کیږی۔ څنہ خلق بادشاھئ حاصلولو د پارہ پہ ورکونو خلق قتل کړی دی او څنہ کسان داسے وو چہ بادشاھئ تہ ئے لتہ ورکړی دہ۔ بادشاھی ئے پریښی دہ او فقیری ئے خوښہ کړی دہ لکہ حضرت ابراھیم ادھم رحمۃ اللہ علیہ۔ د دے وجہ دا دہ چہ د چا نظر پہ دنیا وو نو بادشاھی ئے د ارام وراحت او قدر عزت شے ګڼلو۔ او د چا نظر پہ آخرت وو۔ نو دائے یو نقصانی شے ګڼلو ځان ئے تر بچ کولو۔ او س موږ تہ پہ دے غور پکار دے چہ کوم شے مفید دے د حاصلولو کوشش ئے پکار دے۔ او کوم شے مضر دے ځان تر بچ کول پکار دی۔ نو د غور نہ پس عقل دا وائی چہ پہ مفید څیز ونو کښے دوہ صفتونہ ضرور ی دی۔ یو دا چہ فائدہ ئے پائیدار وی۔ دویرہ موده پاتے کیدونکی وی۔ زر نہ ختمیږی۔ دویم دا چہ فائدہ ئے خالصہ فائدہ وی څہ قسم ضرر ورسرہ مرګ ے نہ وی۔ لکہ د یو۔ څیز فائدہ څلورو کالو پورے وی۔ او د بل تراتو کالو وی۔ نو ھر ھوښیار بندہ بہ دا دویم شے خوښوی۔ او مثلاً دوہ کورونہ وی۔ یو د پرلوئے بنائستہ پہ سارو سامان پورہ وی او بل ورکوتے او بے ډولہ وی۔ کہ یو سړی تہ

اوویلے شی چہ پہ دے دواړو کښے یوخوښ کړہ - خودا لوئے بہ یو هفتہ پس خالی کوے - اودا وړ کوتے بہ هیشه ستا وی - بلکہ تا نہ پس بہ دِ ستا دِ اولاد وی چرے بہ ئے نہ خالی کوے - نو ظاهره دَه چہ هوښیار بنده بہ داوړ کوتے خوښ کړی ځکہ چہ دا پائیدار دے -

نو معلومہ شوہ چہ فائده هغہ قابلِ اعتبار دَه چہ پائیداړ وی - هم دغہ شان کہ هغہ لوئے کوړ سړ څہ تکلیف مرکړے وی - مثلاً کاونډے ئے بنہ نہ وی جګړ مار وی یا بل څہ تکلیف وړ سړ مل وی - بیا بہ هم وړوکے مکان خوښولے شی - نو دا قاعده ثابته شوہ چہ فائده هغه قابلِ اعتبار دَه - چہ خالصہ فائده وی څہ تکلیف وړ سړه مرکړے نہ وی - او - پائیداړ وی - زړ نہ ختیږی -

همدغہ شان هغہ ضړ دفع کول دِ یرضروړی دی دِ کوم اثرچہ تر دِیره وخته پاتے کیږی او کوم چہ خالص ضړ وی - دِ فائدے پکښے هیڅ هوړت نہ وی - اوکوړئ کہ دِ سفر پہ دوران کښے څوک یوخائے کښے یوے شپے دِ پاړہ دیره شی - او هغے خائے کښے ئے څہ شے دِ طبیعت خلاف وی - نو دِ هغے دِ سمولو څہ خاص ضرورت نہ کیږی - وائی چہ یوشپہ دَه تیره بہ شی - برخلاف دِ دے - کہ څنګل دِ مستقلے استوګنے پہ کوړ کښے ئے څہ شے پہ طبیعت سم نہ وی نو دِ هغے دِ سمولو بہ وړ سړ دِیر فکر وی ځکہ چہ دلتہ وړتہ هیشه اوسیدل دی - او دِیره موده دِ طبیعت خلاف شے برداشت کول گران وی - او پہ سفر کښے عارضی دیره وی - تکلیف ئے هم عارضی وی لږ وخت دِ پاړہ وی - اولږ وخت هرڅنګه تیریدے شی نو دِ دے تکلیف دِ لرے کولو څوک زیات کوشش نہ کوی - نو دا خبره ثابته شوہ چہ دِیر وخت پاتے کیدونکے تکلیف او خالص تکلیف لرے کول دِ عارضی اولږ تکلیف پہ نسبت دِیر ضروړی دی -

Scanned with CamScanner

اوس موږ ته داکتل پکار دی چه دِ دنیا نفع او نقصان خو هرڅوک پیژنی - لیکن الله او دِ هغهٔ رسول موږ ته دِ یوبل نفع نقصان خبرم راکړے دے - چه دِ مړک نه پس به پیښیږی - نو اوس موږ ته دِ نفع نقصان دوه قسمونه معلوم شو - د نیاوی او اخروی - نو اوس داکتل پکار دی چه آیا دنیاوی فائده خالصه او دیره پائیداره ده که اخروی - او دِ دنیاوی نقصان اثر دیر پاتے کیدونکے دے که دِ اخروی - نو داخو یقینی معلومه ده چه دنیا فانی ده - نو فائده به ئے هم زر ختمیږی او تکلیف هم دِ آخرت شوند دائمی دے او نفع نقصان ئے هم دائمی دے - فائده ئے هم پائیداره ده - او تکلیف ئے هم نهٔ ختمیدونکے دے - دغه شان فائده ئے خالصه فائده ده تکلیف پکښے هیڅ نشته او تکلیف ئے خالص تکلیف دے دِ فائدے پکښے هیڅ صورت نشته -

د نیاوی فائده که دِ اعلیٰ درجے وی هم خالصه نهٔ وی څهٔ ناڅهٔ تکلیف ورسره ضرور وی - اول ښهٔ خوراک اوګورئ دیر خوندناک وی خو دیر په تکلیف حاصلیږی - دیر مشقت کول غواړی - اول به ورته پتے جوړوے بیا به ورکښے تخم کړے او بیا به ئے تر پخیدو هر قسم حفاظت - او خدمت اوبهٔ خوړ وغیره کوے - بیا چه فصل پوخ شی - ریبل - غوبل کول - پاکول بیا اوړهٔ کول - او بیا پخول نو دومره تکلیفونه پس چرته دِ خوراک قابله شی - روټئ تیاره شوه - لیکن کیدے شی چه عین دِ خوراک په وخت درته چرته نه دِ خفګان څهٔ خبر راشی - نو دِ خوراک په خوند به پوهه نشی - هرڅهٔ به ګډوډ شی - یا داچه هغه خوراک پوره هضم نشی خپته کښے درد جوړ کړی - یا بد هضمی پیدا کړی - نو بدن ته به - پوره فائده ورنکړی -

دِ دنیا بادشاهان او امیران په ظاهره دیر په مزو کښے ښکاری - لیکن

Scanned with CamScanner

هغوئ سړه چې د ومړه پریشانئ وی چه هغه خوشالی په لکی نه - دِ دنیا بله غټه خوشالی اولاد حسابیږی اول خو په ډیر وسوال زاړه او منښتو چرته پیدا شی بیا په خواړو زارولوئ کړے شی - او اکثر نافرمانه - اوخیژی - مور پلار ته دِ ارام په ځائے ډیر تکلیفونه جوړ کړی - غرض داچه دِ دنیا هره خوشالی چه گورے خالصه نئ دَه - څئ تکلیف او غم به ور سره ترلے وی - حق تعالے خپله فرمائی - اَمْ لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰی فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰی - (آیا انسان چه څئ غواړی هغه حاصلولے شی؟ (یعنی نه) آخرت او دنیا دواړه دِ الله په اختیار کښے دی)-

داخیال مهٔ کوئ چه دنیا و آخرت دواړه دِ الله په اختیار کښے دی نو څنګه چه دنیا نرموښ په اختیار کښے نهٔ دَه - دغه شان آخرت هم نرموښ په اختیار کښے نهٔ دے - نو دواړه وکښے فرق څئ پاتے شو - دِ ستا مقصود خو دِ دنیا بے رغبتی او دِ آخرت رغبت وو - نو هغه خو حاصل نشو - فرق ئے دادے چه الله تعالے فرمائی - مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ط - (څوک چه صرف دنیا غواړی نو موښ چه څومره غواړو او چاته غواړو ورته ئے کړو خو ورسره به ورته دوزخ هم مقرر کړو چه پکښے به ذلیل وخوار وراچولے شی - او څوک چه آخرت غواړی او څل پوره کوشش اوکړی او ایماندار هم وی نو دِ دوئ دِ کوشش به قدر کیږی - یعنی دِ حق نه نړیات به ورکولے شی) - اوګورئ دِ دنیا متعلق خو څومره چه څوک کوشش کوی دِ هغے په مقدار دِ ورکولو وعده نشته ارشاد دے څومره چه نرموښ خوښه وی هغه هومره به ورکوو - هغه هم نولوته نه چاته چه موخوښه وی - او دِ آخرت متعلق وعده دَه - چه

Scanned with CamScanner

دِ هغه دِ کوشش نه به ژیات ورکولے شی - د واړهٔ ځایه جمله شرطیه دَه -
لیکن یو سړ دِ کامیابۍ وعده دَه او بل سړ وعده نشته - نو معلومه شوه
چه دِ الله په اختیار کښے خو دواړه دی - لیکن آخرت دِ پاړه کوشش کوونکی
سړ دِ کامیابۍ وعده دَه - او دنیا دِ پاړه کوشش کوونکی سړ دِ کامیابۍ
وعده نشته - نو په دے کښے کوشش فضول دے - لیکن موږ اپوټه چلیږو
دِ کوم دِ پاړه چه دِ کامیابۍ وعده نشته - یعنی دنیا کښے خو پوره کوشش
کوو - دِ هغے په اسبابو - نوکرئ - تجارت - زراعت وغیره خو دا موږ یقین
دے چه دِ دے فائده به ضرور راسی - لیکن آخرت دِ پاړه دِ کامیابۍ
چه یقینی وعده دَه دِ هغے اسبابو مونځ - روژه - زکوة - حج وغیره
ته موږ توجهه نشته -

خلاصه داچه دِ دنیا هره خوشالئ سړ غم تړلے دے - او خوشالۍ ئے
ناپائیداره دَه او دِ آخرت خوشالی خالصه خوشالی دَه هیڅ غم ورسره
نشته - اوچه الله تعالے ئے په خپل فضل دِ چا نصیب کړی دائمی خوشالی
دَه ختمیدل ئے نشته - لکه فرمائی - وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ
الْأَعْيُنُ - (او په دے جنت کښے تاسو دِ پاړه هر هغه شے موجود دے
چه ستاسو زړه ونه ئے غواړی او تاسو ته ئے لیدل خوند درکوی) بل
ځائے ارشاد دے - لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ - (په جنت
کښے نهٔ تکلیف وی او نه ستومانی) - نو دِ آخرت خوشالی پائیداره هم دَه
او خالصه هم دَه - (الله دے زموږ نصیب کړی آمین) -

که څوک او وائی په دنیا کښے موږ وینو چه چا سړ مال دولت او دِ عیش
و آرام سامان ډیر وی - نو نور خلق ورسړ حسد کوی او دِ کینے په اوړ
کښے سوزی - موږ دا منو چه په جنت کښے به ډیر آرام او ډیر نعمتونه
وی - لیکن جنت کښے به هم دِ اعمالو په مناسبت مختلف درجے وی - ظاهره

Scanned with CamScanner

دَه چه دِ کمے درجے والو وبه دِ اوچتے درجے نعمتونو ته ارمان راځی۔ نو حسد به ورسره کوی نو خوشالی خالصه چرته پاتے شوه۔

دِ دے جواب دادے چه په جنت کښے به حسد نۀ وی۔ دِ کمے درجے جنتیانو ته به هم دِ هغوئ دِ توقع نه زیات نعمتونه حاصل وی۔ اوپه خپلو نعمتونو به دومره ډیر خوشال وی چه بل چاته به ئے ارمان نۀ راځی چه حسد ئے ورسره پیدا شی۔

که څوک او وائی چه یا به بل سړے دِ ځان نه افضل ګڼی یا به ئے افضل نۀ ګڼی۔ که افضل ئے ګڼی نو ضرور به ئے ورته ارمان راځی او حسد به ئے ورسره پیدا کیږی۔ او که افضل ئے نۀ ګڼی نو داجهل دے۔ او دا خپله یو عیب دے۔

جواب ئے دادے چه افضل به ئے ګڼی خو دِ هغے درجے ارمان به نۀ کوی۔ ځکه چه خپل اعمال به ورته معلوم وی او دِ هغۀ اعمال به هم ورته معلوم وی او په دے به هم پوهیږی چه دا درجے دِ اعمالو په مناسبت دی او دِ اعمالو وخت اوس تیر دے۔ نو دا درجه نۀ نشم حاصلولے نو اوس به په خپله درجه خوشال وی۔ نۀ به چا سره حسد کوی او نۀ به ورسره څوک حسد کوی۔ بل جواب دِ دے نه لطیف دے۔ هغه دا چه جنت کښے به هر سړے دِ کامل عبدیت په مرتبه کښے وی۔ قول باطنی مقامات به ئے حاصل کړی وی۔ او په هغو کښے یو مقام رضا هم دے۔ نو په مقام رضا کښے به هغه په خپلو نعمتونو دومره خوشال او دومره مستغرق وی چه دِ نورو نعمتونو ته به ګورې هم نه۔ لکه دنیا کښے موږ او ښوچه څنه طبیعتونو باندے قناعت دومره غالب وی۔ چه دِ دنیا وی ترقیٔ سامان ته ګورې هم نه۔ بلکه نفرت ترکوی۔

(حضرت تهانویؒ فرمائی) دِ پولیس یو سپاهی ماته معلوم دے چه

Scanned with CamScanner

افسانو ترقی ورکوله خو هغهٔ نهٔ قبلوله مرکزو به ورپورے خندل خودِ هغهٔ په پروا نهٔ وَه په چل حال خوشال وو- دِ نړیا تو حرمی ئے نهٔ وو دِ بند یانو طبیعتونه ډیر مختلف دی - دِ هرچا چل مذاق دے - نو هر کله چه دے دنیا کښے دا سے قناعت پسند کسان شته نو په آخرت کښے څهٔ بعیده دَه - البته - یو شبهه پاتے شوه په احادیثو کښے راځی چه جنتیان به دِ یو بل ملاقات ته ځی نو یو جنتی به دِ ځان نه دِ اوچتے درجے یو جنتی ته ملاقات ته لاړ شی - دِ هغهٔ نوجامو ته به ئے نړهٔ اوشی - نو دهٔ ته به هم سمدستی هغه شان جامے راوړے شی - نو دے نه خو معلومیږی چه دِ جنتیانو به دِ یو بل نعمتونو ته ارمان راځی - دِ کوم په وجهه چه - حسد پیدا کیږی -

دِ دے جواب دادے چه دا ارمان به صرف دِ یوخاص څیز ترحدهٔ وی دِ مرتبے په باره کښے به نهٔ وی - او دا ارمان به ئے په هغه وخت پوره شی - نو دِ حسد کنجائش پاتے نشو - او په جامو کښے مساوات دِ وجهے نه درجه کښے مساوات نهٔ لازمیږی - جامے خو یو معمولی شے دے نو مرتبے ته به ئے ارمان راځی نه - او دِ جامو ارمان به ئے پوره شی نو دِ حسد کنجائش نشته - خلاصه داچه دِ جنت خوشالئ خالصے دی څه تکلیف ورسره نشته - او دِ دنیا یوه خوشالی هم دِ غمونو او فکرونو نه خالی نشته -

اوس دِ دنیا تکلیف واخلئ - دِ دنیا تکلیف که هرڅومره سخت وی ختمیدونکے دے - که بیماری وی نو اول خو په دنیا کښے خدائے پاک حمت ورکړی - که نهٔ وی په مرګ خو نوټ تکلیفونه ختم شی - دغه شان که غریبی وی یا بل څهٔ تکلیف وی - هغه هم ختمیدونکے دی بل داچه دِ دنیا هر تکلیف خالص تکلیف نهٔ دے څهٔ ناڅهٔ دِ فائدے

Scanned with CamScanner

تصور پکښے کیدے شی - لکه بیماری واخلئ - دے کښے دنیاوی فائده خو
داکیدے شی که دے سروغ وے چرته جنګ جګړه کښے به شریک شوے
وو - یا به بے عزته شوے وو - یا به هسپتال ته یا به جیل ته لاړوو
دِ دے تکلیف نه خلاص شو - او دینی فائده پکښے دادَه چه په بیماری
ګناهونه معاف کیږی - او دِ دیرو ګناهونو نه بنده بچ کیږی -
غرض داچه دنیاوی تکلیف ختمیدونکے هم دے او خالص تکلیف نهٔ
دے - څهٔ دنیاوی او دینی فائدے پکښے هم شته - برخلاف دِ دے -
اخروی تکلیف نهٔ ختمیدونکے هم دے او خالص تکلیف هم دے - دِ فائدے
پکښے هیڅ صورت نشته - نو دنیاوی فائده ختمیدونکی هم دَه او
خالصه فائده نهٔ دَه - ضرر ورسره مرګ وے - او دنیاوی ضرر -
ختمیدونکے هم دے - او خالص ضرر هم نهٔ دے - څهٔ ناڅهٔ فائده پکښے
وی - او دِ آخرت فائده نه ختمیدونکی دَه او خالصه فائده دَه - ضرر
ورکښے هیڅ نشته - او اخروی ضرر نهٔ ختمیدونکے دے او خالص
ضرر دے - فائده پکښے هیڅ نشته -
اوس تاسو خپله فیصله اوکړئ چه دِ حاصلولو قابل کومه فائده -
دَه - او دِ کوم ضرر نه ځان بچ کول ډیر ضروری دی - نو په چا
کښے چه عقل وی او په اللهؒ او رسول الله ﷺ ایمان راوړے وی او
ربښتونے ځمنی نو هغه به هم دا فیصله کوی چه دِ آخرت فائده -
حاصلول او دِ آخرت دِ تاوان نه ځان بچ کول پکار دی -
اوس دا کتل پکار دی چه دِ آخرت فائده په څهٔ حاصلیږے شی
او دِ آخرت دِ تاوان نه څنګه بچ کیدے شی - نو په دے پوهه شئ
چه آخرت کښے دِ نعمتونو ځائے جنت دے او دِ جنت دِ حاصلولو ذریعه
نیک عمل دے - او په آخرت کښے دِ تکلیفونو ځائے دوزخ دے - او

Scanned with CamScanner

دونرخ نه دِ بچ کیدو ذریعه دِ نافرمانیو او ګناهونو نه بچ کیدل دی۔

خلاصه داچه نیک عملونه کوئ او ګناهونو نه ځان ساتئ - که مخکښے چانه څۀ غلطئ شوی وی - هغے نه په اخلاص توبه او باسئ او الله تعالے نه معافی او غواړئ - یعنی دوه خبرے مطلوب دی - دِ عمل[1] اصلاح یعنی نیک کارونه کول او ګناهونو نه بچ کیدل - دویم[2] دِ کړی ګناهونو نه په اخلاص توبه ویستل او بیا دِ پاڼ دِ نۀ کولو پخه اراده کول - لیکن دا اسان کار نۀ دے - پخوا هم ګران وو - اوس صبا خو دیر ګران شوے دے - بلکه خبره تر دے حده رسیدلی دَه - (حضرت تهانوی فرمائی) یو اخبار کښے ما لیدلی وو - چه مونږ دِ اسلام ترقی پنده کړی دَه - دِ یو خلق مسلمانیدل غواړی خو چه دا واوړی چه پنځه وخته به مونږ کوی او یو میاشت به روژے نیسی نو داخیال پریدی - نو پکار دَه چه دِ مانځۀ دا پابندی ختم کړے شی - دِ مسلمانانو شمیره به زیاته شی — (نعوذ باالله) دے جا هلانو ته او ګورئ - چه مونږ روژه پکښے نۀ وی هغه به څنګه اسلام وی - او داسے په نوم مسلمانان که دیر شی نو څۀ دے نه معلومیږی چه دے خلقوته مونږ دیر ګران کار دے -

(حضرت فرمائی) دِ دیوبند مدرسے ته یو طالب نوے نوے - راغلے وو - دیره موده ئے منطقیانو سره تیره کړی وَه - دِ مونږ دیر - پابند نۀ وو - دلته دیوبند کښے دِ جمع دِ مانځۀ دیر خیال ساتلے شی - اکثر طالبان پنځه وخته مونږ دِ مدرسے جامع مسجد کښے باقاعده - اماماتئ سره کړی - چه دِ مانځۀ وخت به شو - نو هغه به هم مرکز وځان سره روان کړو - یوه ورځ وائی چه په نبی کریم صلی الله علیه وسلم خو معراج کښے پنځوس مونځونه فرض شوی وو - لیکن بیا پنځو ته راغلو نو معاف شو - خو داسے معلومیږی چه دیوبند کښے هغه شان پنځوس دی

معلومیږی داچه هغه ته مونځ ډیر ګران وو - او داخو الله تعالے خپله فرمائی - اِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخَاشِعِيْنَ - (بیشکه مونځ ګران دے مګر څوک چه الله نه ویریږی هغو ته اسان دے) (حضرت فرمائی) په دے وجهه نږۀ مونځ ګوذار ولی ګنړم - ډ الله تعالے لوټے فضل دے چه څوک ډ مانځه پابندی کوی - دغه شان سړۍ هم عامو خلقو ته ډیره ګرانه دَه په کاپیو کښے یو سړے وو - بنه سړۍ جوړ وو خو سړۍ ټے نۀ ښوه هډوچړے ښولی ټے نۀ وَه - ماورته اووے سړۍ ولے نۀ ښیسی سړۍ خو فرض دَه او ډیره ضروری دَه - ماته ټے اووے چه نږۀ ټے ښوے ننګ دومره لوبړه تنده برداشت کول ناممکن دی - ما ورباندے زور اولګولو چه ازمیښت ډ پاره خو یوه اونیسه - هغۀ اوښوه اوترمابنامه ټے اورسوله - بیا ډاډه شو - داپته ورته اولګیده چه داخیال ټے - سراسر غلط وو - ځنه خلق ډ حج نوم واورې نو رَدْ بَدْ شروع کړی وائی چه هلته په لار کښے بدوان قافلے لوټی اوخلق وژنی اوډیره سخته ګرمی وی - ډ اوبو هم تکلیف وی - ډیر مصیبتونه بیان کړی نه چپله لارهی وی نۀ ټے ډچا پوهه بنده نه پتوس کړے وی - ډ بے همته خلقو خبرے ټے اورسیدلی وی او همت ټے بیالے وی - نږۀ دوټے نه پتوس کوم - آیا دے وطن کښے په میلو کښے یا ډ بنادیو په ګنړه ګونړه کښے ډ اوبو یا خوړاک ډ کمی تکلیف نه پیداکیږی - داسے واقعات خو هرځائے کښے وی - بلکه که ډ هغے ځائے هغے ګنړے او هجوم نه اوکتے شی - نو څومره حادثے چه هلته کیږی ډ دے ګنړے تر نظره ډیرے کمے دی - په دے وطن کښے که ډ هغے په لسه ګنړه جوړه شوه نو بے شمارحادثے به کیږی - بلکه دلته خو بے ګنړے هم په لار کښے ډ شوکو واقعات کیږی موږ دا نۀ وایو لکه څنګه چه ځنه جاهلان وائی چه بدوانو ته قافلے

لوټل جائز دی خکه چه دوئی دِ حلیمې اولاد دے - داخو دیره غلطه خبره ده- لوټ مار هیڅانه جائز نه دے - بدوان که لوټ مار کوی نو بد کوی ګنهګار دی - البته دا به ضرور وایو چه دِ حج سفر دِ عشق سفر دے په دے لاره کښے که سختی راځنی نو عجیبه به وی - دِ دنیاوی محبوب ملاقات کښے چه څومره مشکلات پیښیږی خلق ئے په خوشئ برداشت کوی - نو آیا دِ حقیقی محبوب ملاقات دا سے ویړیا دے چه بے تکلیفه به کیږی

منازد عشق را کنج سلامت خوشا رسوائی ئے کوئے ملامت

(دِ عشق سره دِ امن او سلامتیا کوټ نه جوړیږی - بلکه دِ بدنامئ - کوڅه کښے خوشاله وی -

عشق مولیٰ کے کم از لیلا بود کوئے گشتن بهر وے اولیٰ بود

(دِ الله عشق دِ لیلا دِ عشق نه کم خو نه دے - دِ مولیٰ په عشق کښے خو په کوڅو کښے دَړ په دَړ ګرځیدل زیات بهتر دی) - یو بزرګ د و مره همتی و و چه درے ځله[۳۳] ډیرش حجونه ئے کړی و و - په مدینه منوره کښے یو بنګالے مهاجر و و - منظور احمد صاحب هرکال به ئے حج کولو - مکے معظمے ته به تلو او بیا به مدینے منورے ته واپس راتلو - داځکه کم درے سوه میله لاره ده په هغه زمانه کښے موټرے لاره نه وه پیاده سفر وے یا دِ او بنانو قافلے وی سفره یرګران و و - حضرت حاجی امداد الله صاحب چه به هغه اولیدو - نو بیا بیا به ئے داشعر وے -

ز هے سعادتِ آن بندهٔ که کرد نزول
گهے به بیتِ خداؤ گهے به بیتِ رسول

(هغه بنده ډیر خوش قسمته دے چه کله دِ خدائے کورته راځی او کله دِ خدائے دِ رسول کورته) اوځنه خلق داسے م شته چه بیت الله شریف سره نزدے باندے و کښے اوسی خو حج ئے په قسمت کښے نه وی - وائی

چه یو بد وی مکے سړه نزدے چرته اوسیدو خو دِ حج په وړاندو کښے چرته مکے ته نۀ وو راغلے- یوځل چرته دِ حج په وړاندو کښے څۀ کار پسے مکے ته راغلو- چه داګنړه ئے اولیده - نو چانه ئے ټپوس اوکړو چه څۀ چل دے نن داد دومره ګنړه ګونډه ولے دَه ؟ داخلق ولے راغونډ شوی دی ؟ الله اکبر- دومره نزدے اوسیدو او دومره هم نۀ وو خبر چه داخلق ولے راغونډ دی - دِ حج نه خبر هم نۀ وو نوادا کړے به ئے څۀ وو-

دغه شان زکوة وړکول هم اکثر وخلقو ته ګران کار دے-خلویښت سړه روپو کښے چه زر روپۍ زکوة اوباسی نو ساه ئے اوزی حالانکه خلویښتمه حصه دیره کمه دَه - په تیرو قومونو خلورمه حصه زکوة فرض وو دا په مسلمانانو دِ الله تعالے خاص رحمت دے چه دومره لږ زکوة ئے په فرض کړے دے - خو دیرو خلقو ته دا هم ګران وی -

نن صبا جدید تعلیم یافته کسان داغواړی چه دِ شریعت احکام دِ عقل موافق وے - والله- دا دِ الله تعالے غټ احسان دے چه دِ شریعت احکام ئے دِ عقل په تقاضا نۀ دی راستولی - وړنه عقل خو داغواړی چه خلویښتو ړو روپو کښے ئے صرف یو زړ ځانته پریښی وے او یو کم خلویښت ئے په غریبانو ویشلے وے - ځکه چه دِ غریبانو شمار دیر زیات دے - او بنیادم تول یو ړوندۍ او دِ آدم علیه السلام اولاد دے نو عقل داغواړی چه تولو کښے دِ معاشی مساوات وی - او نن صبا دِ مساوات نعره پورته کیږی هم دیره - نو عقل دا کله برداشت کوی چه یوکس سړه دِ خلویښت سړه وی او نور روپۍ دِ ئے په مړه خیټه ړوتئی هم نۀ مومی - نو دا رحمت نۀ دے نور څۀ دی چه صرف

خلویښتمه زکوة ئے مقرر کړے دے - او یوکم خلویښت ئے تاسو ته د ساتلو اجازت درکړے دے - که څوک اووائی چه د عقل تقاضا د زیات زکوة وه - نو شریعت د دے اعتبار ولے اونکړو - دے نه خو معلومیږی چه د شریعت احکام د عقل خلاف دی - جواب ئے دا دے چه په دے کښے د تمدن حفاظت شویدے که زکوة زیات مقرر شوے وے - او د ټولو خلقو حالت یکسان وے - نو د ضرورت په وخت به خادم نه پیدا کیدو - نه به مزدور وو نه به نائی دهوبی وو نه بهنګی - کذاه به ډیره ګرانه شوی وه - دے نه به درته پته اولګی چه د شریعت په حکمونو کښے څومره فائدے دی شریعت چه زموږ څومره هدردی کړی هغه زموږ په کمزورۍ عقل کښے نه راځی -

غرض داچه د شریعت ټول احکام خلقوته ګران ښکاری - د کولو کار که چاته ګران وی - خو یوخبره ده - حیرانتیا په دے ده چه د کومو کارونو ——— چه د نه کولو حکم دے هغه هم ورته ګران دی - حالانکه د یو کار کول که ګران دی خو څه مشقت به وی پکښے یا څه تاوان به وی پکښے - لیکن نه کول خو ډیر اسان دی - هیڅ تکلیف یا تاوان پکښے نشته -

او ګورئی یو معمولی غوندے کار غیبت دے چه شریعت منع کړے دے په نورو ګناهونو کښے به څه لذت یا څه دنیاوی فائده وی - په غیبت کښے خو هیڅ لذت یا فائده نشته - بیا هم ترخلق نه منع کیږی -

غرض داچه د شریعت احکام که د کولو دی او که د نه کولو دی دواړه خلقوته ګران دی نو هرکله چه یو کار نه کول هم چاته ګران وی نو چرته چه ډیر کارونه کول وی لکه موجوده شریعت کښے چه دی - هغه خو به ورته غټ مصیبت وی - په اوریدو به ئے هم -

Scanned with CamScanner

زړهٔ ریښتیا چه دا په څه بلا واوړیدو - اوس یو فلسفی خو دِ دا معمه حل کړی چه دا مصیبت به څنګه اسانیږی - که دِ دنیا ټول فلسفیان راجمع شی او دا مشکل حل کول غواړی په مودو سوچونه کړی هم حل به ئے نکړے شی -

لیکن الله تعالے په خپلو بندیانو ډیر مهربانه دے - په دے آیت مبارک کښے ئے موږ ته دِ دے مشکل حل ډیر په اسانه طریقه په دوو ټکو کښے بیلے دے - دِ دے اجمال تفصیل دا دے - چه په دے دومره تقریر تراوښه موږ دا ثابته کړه چه دوه څیزونه مطلوب دی - نیک اعمال کول اوګناهونو نه بچ کیدل دِ دے دواړو دِ حاصلولو اسانه طریقه دا دَه - چه صرف دوه کار اوکړئ - اِتَّقُوا اللّٰه - زړهٔ کښے دِ الله ویره پیدا کړئ - قُوْلُوْا قَوْلاً سَدِیْدًا - صحیح خبره کوئ - که دا دوه کارونه مو اوکړل نو الله تعالے به دِ ستاسو دِ عملونو اصلاح اوکړی - اوګناهونه به درته معاف کړی - بس دواړه مطلوبه حاصل شو -

دِ تقوی معنیٰ دَه دِ الله خوف او دا دِ زړهٔ کار دے - او صحیح خبره کول دِ شریعت کار دے نو دِ طریقت یا تصوف خلاصه دا شوه چه زړهٔ او شریعت سم کړئ ټول کارونه به موسم شی - دِ زړهٔ متعلق یو مختصر غوندے کار دے زړهٔ کښے دِ خدائے ویره پیدا کړئ بس ټول کارونه به موسم شی - لکه څوک چاته اووائی دِ کاډی دا پنځوس ډبے په یو وخت دِ یو ځائے نه بل ځائے ته بوزه - هغه به پریشان شی چه دا خو ګران کار دے دا به څنګه کیږی - یو پوهه سړے ورته طریقه اوښئ چه اوس ټول پنځوه ډبے یو بل پورے اوچت - ا بخن به ئے په یو ځائے راکاږی - والله - دِ شریعت دا سے بے نظیره تعلیم دے چه یو حکیم یو فلسفی یو هوښیار ئے مثال نشی پیش کولے او ولے به نۀ وی - دا دِ

داسے علیم ذات نسخه دَه څوک چه دِ بنیادم دِ یو یو رګ نه خبر دے هر مرض او هر حالت ئے ورته معلوم دے - م دِ هغے مناسب علاج ورته تجویز کوی۔

اوس داکتل پکار دی چه دِ دے دوا او انداموښو (زړهٔ اوشلے) دِ اعمالو په اصلاح کښے او دِ ګناهونو په معافئ کښے څومره دخل دے نو دِ غور نه پس معلومیږی - چه زمونږ دِ کارونو ترتیب داسے دے چه اول په زړهٔ کښے دِ یو کارخیال پیدا شی بیا بنده دِ هغے دِ پاره ظاهری اسباب اولټوی - او بیا ور باندے عمل اوکړی - ګویا زړهٔ دِ ټول بدن دِ پاره انجن دے۔ که زړهٔ سم وی نو هر کار سمیږی بلکه که دِ یر غور اوکړے شی نو دِ دنیا دا ټوله کارخانه دِ زړهٔ په خیال روانه دَه دا دِ اسمان سره خبرے کوونکی اوچت اوچت بلډنګونه دا لوئے لوئے کارخانے - دا شنهٔ شنهٔ باغونه دا نهرونه او قسم قسم خیزونه ټول دِ انسانی زړهٔ دِ خیال په برکت پیدا شوی دی - دِ دے ټولو خیزونو اصلی انجن خیال دے - ځکه خو حدیث شریف کښے راځی - اِنَّ فِی الْجَسَدِ مُضْغَةً اِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ کُلُّهٗ وَ اِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ کُلُّهٗ - (دِ بنیادم په بدن کښے دِ غوښے یو ټوټه دَه - کله چه دا روغه وی بدن ټول روغ وی اوچه داخرابه شی بدن ټول خراب شی) - او طبّی قاعده هم دا دَه چه دِ زړهٔ مرضونه دِیر خطرناک دی - زړهٔ ټول بدن ته صفا وینه رسوی - که زړهٔ مضبوط وی بدن ته پوره وینه رسوله شی نو بدن مضبوط او دِ مرضونو نه محفوظ وی او که زړهٔ کمزورے شی - او قسم قسم مرضونه پکښے راپیدا شی -

هرکله چه دا ثابته شوه چه دِ زړهٔ په سمیدو ټول کارونه سمیږی نو اوس داکتل پکار دی چه دا زړهٔ به په څهٔ سمیږی - دِ زړهٔ هم دِیر

کار ونه دی - که الله تعالے فرمایلے وے - چه د زړهٔ تول کار ونه سم کړئ نو بنه دیانو ته به ډیره ګرانه شوی وَه - خو الله تعالے په خپلو بنه دیانو ډیر مهربانه دے په ډیرو کار ونو کښے ئے ړا ته یو مختصر - غوښتے کار اوښیلو - فرمائی چه صرف خُدا ویره په زړهٔ کښے پیدا کړئ نو هر کار به موسم شی - او د دے وجهه داده چه مونږ وینو چه په دنیا وی حاکمانو کښے د کوم حاکم نه چه څوک ویریږی د هغهٔ د حکم خلاف ورزی نشی کولے بیا هم حاکم د هر کار نه نهٔ خبریږی په پته تر خلق څهٔ خلاف ورزئ کولے شی - لیکن الله تعالے خو نه هومره د زړهٔ د - حیالا تر نه هم خبر دے - د الله ویره چه په زړهٔ کښے پیدا شی - بیا یو یو ګناه یعنی د الله تعالے د هیڅ یو حکم نا فرمانئ نهٔ په څرګنده کولے شی نه په پته - چه د اعمالو اصلاح اوشی بنده د زړهٔ و ګناهونو نه توبه او باسی او د بیا د پاڼه ئے د نهٔ کولو پخه اراده اوکړی - نو زړهٔ ګناهونه به هم ختم شی - نو معلومه شوه چه د تقوئ (یعنی زړهٔ کښے د الله ویره پیدا کیدل) - د عمل په اصلاح او ګناهونو ختمولو کښے پوره دَخل دے - او تقوئ د اعمالو د اصلاح او ګناهونو ختمولو د پاڼه د علّتِ تامه حیثیت لری -

اوس په دے پوهیدل پکار دی چه د هر کار د پاڼه څهٔ مَوَانِعْ (رکاوټونه) وی - او څهٔ د هغے د حاصلولو اسباب او ذرائع وی - نو د تقوئ د پاڼه هم دا دواړه شته - مونږ اول موانع بیانوو - بیا به ئے ذرائع بیان کړو - نو موانع ئے صرف دوه څیزونه دی - (۱) د ایمان کمزورے یا نشت (۲) د نفس وشیطان ملسون -

الحمد لِلّٰه مونږ تول مسلمانان یو نو ایمان خو شته دا یو مانع خو ختم دے - لیکن د نفس وشیطان تیر ویستل یو عامه فتنه ده - شیطان مونږ

تولو ته په زړهٔ کښے دا کینولی دَه چه لږے وړزے شروند دے- دِ زړهٔ
ارمانونه پوره کړه - په آخر عمر کښے به توبه اوباسے الله تعالے غفور
ورحیم دے - معاف به دِ کړی - لکه الله تعالے خپله فرمائی - قُلْ یٰا-
عِبَادِیَ الَّذِیْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰی اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ یَغْفِرُ
الذُّنُوْبَ جَمِیْعًا اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ط - (اے رسول الله صلے الله علیه
وسلم ځما هغه بنده یانو ته چا چه په خپلو ځانونو زیاتے کړے دے (یعنی
ګناهونه ئے کړی دی اووایه چه دِ الله دِ رحمت نه نا امیده کیږئ مَه
بیشکه الله ټول ګناهونه معاف کړی بیشکه هغه ډیر بخشونکے ډیر مهربانه
دے)-

یا دلرئی الله تعالے بیشکه غفور ورحیم دے - لیکن دِ دے مطلب دانهٔ
دے کوم چه عام خلق ته نفس وشیطان بنائسته کړے دے - بلکه دِ دے
مطلب دا دے چه دِ چانه چه په ناپوهئی یا په غلطئی څهٔ غلط کار ونه شوی
وی - او هغه وربانده بښیانه وی او بیا دِ پاڅه ترِ دِ بیخ کیدو په فکر
کښے وی - او په دی پریشانه وی چه آئنده دِ پاڅه خو به ترځان بیخ
کوم لیکن دِ دے کړی ګناهونو به څهٔ چل کیږی - دِ دے سزا نه به څنګه
بچ شم - دا سے کسانو ته الله تعالے تسلّی ورکوی چه تاسو دِ الله تعالے
دِ رحمت نه نا امیده کیږئ مَه چه په اخلاص توبه اوباسئ او بیا دِ پاڅه
ګناهونو نه ځان بچ کوئ نو کړی ګناهونه به درته الله تعالے معاف
کړی - هغه ډیر مهربانه دے - دِ دے آیت مبارکهٔ په شانِ نزول کښے
په تفسیرونو کښے وضاحت سره دا بیان شوے دے - چه دا آیت مبارکهٔ
دِ دا سے خلقو په حق کښے نازل شوے دے - چا څه چه دِ کړی ګناهونو
فکر وو - مستقبل دِ پاڅه ورکښے دِ معافئی په طمع دِ ګناهونو کولو اجازت
نشته - اوس چه ئے څوک مستقبل دِ پاڅه دلیل کښے پیش کړی - دا سَراسَر

Scanned with CamScanner

غلطی دَه۔

یادلرئ دِ توبے مثال دِ مرهو دے اوکناهونه دِ اوږ په شان دی مرهم خو دِ دے دِ پاڑه وی چه که ناڅاپی څوک چرته په اوږ او سوږی نو په مرهو ئے علاج اوکړے شی۔ دے دِ پاڑه نه دے چه په دے دا دِ چه مرهم ږا سړه شته۔ څوک په قصد په اوږ ځان او سوږوی۔ چه بیا به په مرهم اولګوم۔ داسے خو هیڅوک هم نه کوی۔ یاکه دِ چاړه دِ هاضمے دارو (نمک سلیمانی وغیره وی) وی نو هغه ته دانه دی پکار چه په دے طبع هره الا بلا اوخوږی چه که خیته کښے هم درد شو نو تلے به واچوم۔ که داسے کوی نو یو وږز به دِ ځانه لاس اووینځی۔ دغه شان څوک چه دِ توبے په طبع کناهونه کوی۔ نو څه عجیبه نه دَه که دِ ایمان نه ئے کوتے اوخیژی۔ ناڅاپی مړ شی او توبے ته هلو جوړ نشی۔ غرض داچه دِ توبے په طبع کناهونه کول غټه بے وقوفی دَه۔

دِ دے قول بیان نه دا ثابته شوه چه دِ کناهونو معاف کولو او دِ اعمالو دِ اصلاح اسانه طریقه داده چه دِ الله ویره په زړه کښے پیدا کړئ قول کار ونه به موسم شی دِ شربے سمیدل هم په دے کښے راځی۔ لیکن بیا هم دِ شربے دِ اصلاح ذکر مستقل اوشو په دے کښے څه راز دے؟ الله تعالے داسے اوښه فرمائیل۔ اِتَّقُوا اللّٰهَ یَسْدُدْ لَکُمْ لِسَانَکُمْ وَ یُصْلِحْ لَکُمْ اَعْمَالَکُمْ۔ (الله نه اووېرېږئ هغه به ستاسو شربه سمه کړی او دِ اعمالو اصلاح به اوکړی) بلکه اوئے فرمائیل۔ اِتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِیْدًا۔ په اِتَّقُوا اللّٰهَ ئے عطف کړو۔ او دا ئے دِ طریقت یو مستقله حصه کړه په دے کښے راز داده چه اعمال ډیر دی ځنه دِ لاسو بښیو کار ونه دی ځنه دِ ستړکو غوږونو او نورو اندامونو او ځنه هغه دی چه په شربه کیږی۔ او په دے دواړو کښے (یعنی دِ نورو اندامونو

Scanned with CamScanner

په کار ونو او دِ ژبے په کار ونو کښے) فرق دے۔(۱) یو داچه نور تول انداموونه په کار کولو ستړی کیږی۔ لیکن ژبه نه ستړی کیږی۔ که دِ سحر نه تر مابنامَه په خبرو لګیا وی یو پوټے نهٔ ستړی کیږی دا بیله خبره دَه چه په ډیرو خبرو نږهٔ کښے بے رونقی راشی۔ او نورو خبرونه ئے نفرت اوشی خبری بس کړی۔ لیکن چنله په ژبه هیڅ اثر نه کیږی۔ نو دے نه معلومَه شوه چه دِ ژبے کار دِ نورو انداموندِ کار نه زیات دے۔ نو کناهونه به ئے هم ډیر وی۔

(۲)۔ یو خو دا فرق شو بل فرق دادے چه دِ ژبے مثال دِ نږهٔ او نورو انداموندِ تر مینځه دِ برزخ دے څه مشابهت ئے دِ نږهٔ سره دے اوڅه ئے دِ نورو انداموندِ سره دی۔ دا مشابهت ئے خِلقی هم دے او باطنی هم۔ خِلقی خو دادے چه نږهٔ دِ بدن دننه پټ دے او نور انداموند څرګندی او ژبه په یو حیثیت پټه دَه او په یو حیثیت څرګنده دَه۔ دِ دے دواړو حیثیتو نو اعتبار شریعت هم کړے دے۔ دِ پټ اندام په حیثیت ئے داحکم دے سروڼه دار چه تو کانړی تیروی نو سروڼهٔ په نهٔ ماتیږی لکه چه دِ بدن دننه څهٔ شے دِ یو ځائے نه بل ځائے ته لاړ شی۔ دِ بهر نه څهٔ دننه نه دے لاړ۔ او دِ څرګند اندام کیدو په حیثیت ئے داحکم دے۔ چه سروڼه دار که دِ ژبے په سَر دِ څهٔ شی خوند اوڅکی نو سروڼهٔ په نهٔ ماتیږی۔ لکه چه شے دِ بدن نه بهر بهر پاتے شو دننه نهٔ دے لاړ چه سروڼه په ماته شی۔ او دِ دے ظاهری اندام کیدو په حیثیت په فرض غسل کښے خوله کنګاول فرض دی۔ او دِ قلب سره باطنی مشابهت ئے دا دے چه څنګه دِ قلب په اصلاح دِ تول بدن اصلاح کیږی۔ دغه شان دِ ژبے په اصلاح هم دِ تولو اعمالو اصلاح کیږی څوک چه خاموش ناست۔ وی دِ هغهٔ دِ لاسه هیڅ ظلم نهٔ کیږی۔ نهٔ ئے چا سره جنګ جګړه راځی

اکثر جنګونه د ژبے د لاسه جوړیږی - په دے تقریر د دے حدیث شریف مطلب هم واضح شو - حدیث شریف دے - اِذَا اَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ فَاِنَّ الْاَعْضَاءَ کُلَّهَا تُکَفِّرُ اللِّسَانَ فَتَقُوْلُ اِتَّقِ اللّٰهَ فِیْنَا فَاِنَّمَا نَحْنُ بِکَ فَاِنِ اسْتَقَمْتَ - اِسْتَقَمْنَا وَاِنْ اِعْوَجَجْتَ اِعْوَجَجْنَا - (په بنی آدم چه صباشی د هغه ټول اندامونه ژبے ته قسم ورکوی چه زمونږ په حق کښے الله نه اوویریږه مونږ ټول په تا پسے یو چه ته سمے ئے مونږ هم سم یو - او چه ته کږه شوے مونږ ټول هم کږه شو -

(۳) دریم فرق په ژبه او په نورو اندامونو کښے دا دے چه ژبه د قلب ترجمانی کوی - په ژبه چه څه اویلے شی نو د سړی د زړه حال تر معلوم شی چه د دۀ په زړه کښے څه دی - که څوک چپ وی نو هیڅ پته نۀ لګی چه د دۀ په زړه کښے څه دی - څۀ کول غواړی د خبرو نه پته لګی چه داسړے خاکسار دے که کبرجن او حریص دے که قانع - هوښیار دے که کم عقل - او د دوست دے که دشمن - د لاسو ښپو د حرکت نه د دوست او دشمن پته نۀ لګی - په ظاهره د دواړو - حرکات یو شان وی - که قتل شوے وی هم دا فیصله نشی کیدے چه قاتل یقینی دشمن وو - کیدے شی چه دوست وو په خطا تر قتل شوے وی لکه اوس اوس د یو سړی د لاسه بے اختیاره ټوپک خلاص شوے وو بل سړی ئے په لګیدلے وو مړ وو - دغه شان وهل ټکول هم کله په دشمنئ وی او کله د تربیت د پاره د دوست پلار یا استاد د لاسه وی - نو یو طرف مُعَیَّنْ کولو د پاره د دلیل ضرورت وی په خلاف د ژبے چه د دے نه د زړه حال خپله معلومیږی د بل دلیل ضرورت نۀ وی -

(۴) څلورم فرق ئے دا دے چه تعلقات دوه قسمه دی یو د چنل خان

سړه او بل د نورو خلقو سړه - د نورو خلقو سړه د دوستئ د شمئ - استاذ شاګردئ وغیره تعلقات ټول د ژبے په ذریعه جوړیږی او ظاهره خبره ده چه مونږ ته په نیکو اعمالو کښے د بل د امداد ضرورت دے - استاذ یا مرشد مونږ ته بنئ چه دا کار بنه دے کول ئے پکار دی او دا بد دے ځان ترساتئ - د بل د امداد نه بغیر خو مونږ مونځ قدرے هم نشو زده کولے - د مانځه سبق او د مانځه چل به راته څوک بنئ او د قرآن شریف تلاوت به راته څوک بنئ نو هلهٔ به مونځ او تلاوت کولے شو - د سړے د فرضیت او د زکوة د اهمیت نه به موخوک خبروی هلهٔ به دا فرض ادا کولے او دا ثواب کټلے شو - غرض داچه ټول نیک اعمال به راته څوک بنئ - او بل ته بنیل د ژبے په ذریعه کیږی نو په دے لحاظ ژبه د ټولو اعمالو وسیله ده - او ټول د ژبے په برکت کیږی - ځکه الله تعالے د ژبے اصلاح د طریقت یو مستقله اهمه حصه او کړځوله اګرچه تقوئ سړه چه کومه اصلاح کیږی د ژبے اصلاح هم د هغے یو غټ فرد دے -

نو خلاصه دا شوه چه زمونږ په ذمه دوه خبرے دی - (۱) زړۀ کښے د الله ویره پیدا کول (۲) د ژبے اصلاح کول - چه دا دواړه قسم شی نو د ټولو کارونو اصلاح به اوشی - اوزړۀ ګناهونه به معاف شی - د - اصلاح نسبت الله تعالے ځانته اوکړه - چه تاسو دا دوه کاره اوکړئ نوزړۀ به ستاسو عملونه سَمْ کړی حالانکه په ظاهره د عمل اصلاح د بنده کار دے - په دے نسبت کښے دے ته اشاره ده چه بنده د په خپله اصلاح نه ږیږی نه چه ما چنل اعمال سم کړو - بلکه څۀ چه کوی الله تعالے ئے کوی - زمونږ پکښے صرف دومره کار دے چه مانځۀ ته اودریږو باقی څنګه چه د اصلاح مفهوم دے - یعنی دا سے مونځ کول چه قلب پکښے

حاضر وی او خشوع خضوع سره د مانځه ټول حقوق ادا کړے شی۔ دا توفیق ورکول د الله کار دے د بنده د وس شے نه دے۔ او په دے نسبت کښے یو لطیفه نکته بله هم ده - ګویا فرمائی - عمل خو تاسو اوکړو هرڅنګه چه مو اوکړو - ظاهره ده چه قبول حقوق به ئے نه وی ادا۔ شوی - خو مونږ به ئے فرشتو باندے په عملنامه کښے کامل اصلاح۔ شده اولیکو۔ او تاسو ته به ئے پوره اجر درکړو - یعنی مونږ به ئے خپله اصلاح اوکړو - لکه یو ماشوم ته چه پلار او وائی دا شے راوړه او هغه دروند وی ماشوم ئے نشی راوړے۔ نو پلار ے خپله راوچت کړی - د هغے ماشوم لاس ورسره اولګوی او هغه ځائے ته ئے یوسی بیا شاباشے ماشوم ته ورکړی چه دومره ګران کار د اوکړو۔ انعام هم ورکړی - دغه شان زمونږ نیک اعمال مونږ سره وشړه وغیره هم دی - خپله ئے توفیق را کوی خپله ئے اصلاح کوی - بیا خپله ورباندے مونږ ته غټ اجر را کوی - الله اکبر - څومره عظیم رحمت دے - بل شے کوم چه په اِتَّقُوا اللّٰه مرتب فرمائی هغه یَغْفِرْ لَکُمْ ذُنُوْبَکُمْ دے - په ظاهره داسے پکاړه وه چه فرمائیلے وے - یَجْتَنِبْکُمْ ذُنُوْبَکُمْ - (یعنی ګناهونو نه به مو بچ کړم - دا سے ئے او نه فرمائیل ځکه چه د ګناهونو نه بچ کیدل خو په یُصْلِحْ لَکُمْ اَعْمَالَکُمْ کښے را غلو - پرا ګناهونه پاتے وو - د هغے متعلق ارشاد دے چه د نورو ګناهونو غم مه - کوئی هغه به هم درته معاف کړم -

اوس درته د الله نه خوف حاصلولو طریقه بښیم د کوم په ذریعه چه د قبولو اعمالو اصلاح کیږی هغه طریقه ګویا د قبول وعظ خلاصه ده او هغه هم درته زه د ځانه نه وایم - الله تعالے فرمائی - وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ - (هر نفس ته پکار دی چه دا فکر کوی چه صباد پاره

Scanned with CamScanner

ځۀ واستول - یعنی هرچاته دِ آخرت فکر پکار دے - او دِ آخرت دِفکر طریقه دا ده چه یو وخت مقرر کړئ - مثلاً ماښام دِ اودۀ کیدو په وخت کښے هره ورز بلاناغه یو ساعت په دے غور کوئ - چه آخرت څۀ شے دے او مړک نه پس به څه کیږی - په موښ به څۀ څۀ حالتونه تیریږی - او څۀ څۀ به راپیښیږی - دِ ځنکدن سختے - دِ حشر هیلان کښے حساب دِ پاڑه راجمع کیدل دِ اعمالو تول وغیره وغیره - ماښام چه کټ کښے پریوځئ دا سوچ کوئ چه مړک حق دے - یوه ورز به دا سے راشی چه نۀ به دے دنیا نه روان شم - دا مال دولت جائیداد دا چل چلوان او یاران دوستان هرڅۀ به رانه پاتے شی - نۀ به یک یواځی په دے اوبدد سفر روان شم - چل چلوان به م په چلو لاسو قبر کښے کیدی - دِ خاورو څلے به را باندے جوړ کړی یواځی به م پریدی تول به رانه لاړ شی - دِ سوال جواب دِ پاڑه به دوه فرشتے راشی - که عمل م نیک وی - په ښائسته شکل کښے به راشی په خندا خندا به رانه ټپوسونه اوکړی او نۀ به پوره پوره صحیح صحیح جوابونه ورکړم - که خدائے مَه کړه عمل م خراب وو نو فرشتے به راته په ډیر هیبتناک شکل کښے راشی - او په ډیر درونده هیبتی اواز به رانه په قهر قهر ټپوسونه کوی او څه به وار خطا شی هیڅ جواب به نشم ورکولے -

نو اے نفسه په دے وخت کښے به دِ هیڅوک نۀ پکار یږی - بے دِ چل نیک عمل نه چه یو هغه به دِ مړکړے وی - که جوابونه دِ سَمْ - ورکړل خو سبحان الله - جنت طرف ته به درته کړکئ انزاده شی دِ جنت خوشبویه یخه هوا به درته راځی - دِ حشر تر ورځے به پدا ارام پروت ئے - او خدائے مَه کړه که عمل دِ خراب وو - صحیح جوابونه

Scanned with CamScanner

دِ ورځ نهٔ کړل - نو بیا به قبر درته دِ دوزخ یوه کنده شی - دِ دوزخ دِ اور لښے به درته راځی - دِ حشر تر ورځے به په دے مصیبت کښے کیږے -

بیا دِ حشر په ورځ به ورښی ورستی ټول بند یان دِ قبرونو نه پورته شی دِ اعمالو دِ حساب دِپاره به ټول مخلوق دِ حشر په میدان کښے دِ الله په دربار کښے حاضر شی - هرچاته به خپله علمنامه په لاس کښے ورکړے شی - دِ دنیا دِ ټول ژوند دِ ټولو کارونو حساب به ورسره کیږی - که دِ چا اعمال نیک وی نو علمنامه به په ښی لاس په عزت ورکولے شی - اوچه دِ چا اعمال خراب وی نو علمنامه به په کس لاس دِ شا مخے ورکولے شی - لاس به ئے شاته نیولے وی - بیا به په پل صراط تیریدل وی - نیکان به ورباندے دِ اعمالو په مناسبت تیر شی جنت ته به اوړسی - څوک به لکه دِ بجلئ په شان په تیز رفتار دِ سترګو په رپ کښے تیر شی - څوک به لکه دِ هوا په شان - څوک لکه چه په آس سوړ وی او څوک لکه چه پیاده په منډه روان وی - څوک پیاده په روړو قدم لکه دِ بیمار - بهرحال جنت ته به پورے وځی - او دِ چا چه اعمال خراب وی هغه به ورنه دوزخ ته پریوځی -

نو اے نفسه چه دا دومره سختے درته پرتے دی نو تهٔ ولے دا سے غافله ئے بیدار نه شه - صبا دِ پاره دِ نیک عمل توښه تیاره کړه - چه تل عمرې ژوند دِ په آرام شی - تا ولے دا واقعات هیر کړی دی په ګناهونو زړه ور ئے - که ته خپله دِ ځان غم نهٔ کوے نو څوک به دِ غم کوی دِ ځان نه څوک خیرخواه نشته - ویښ شه صبا دِ پاره دِ ځان غم اوکړه -

(حضرت تهانوی رح فرمائی) که دغه شان سوزانه څوک یو ګهنټه یمه په دے وا قعاتو غور کوی - نو ځما یقین دے چه څو ورځے کښے به ئے

Scanned with CamScanner

د الله ویره پیدا شی او بیا به تاسو اوو ینئ چه د اِتَّقُوا اللّٰهَ سره د اعمالو اصلاح څنګه کیږی - بنده بیا د ګناهونو نه توبه اوباسی - اوپه نیکئ کښے پوره پوره کوشش کوی او دغه کوشش مطلوب دے - په دے آیت مبارک پسے ارشاد دے - وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا - (او څوک چه د الله اورسول تابعداری کوی بیشکه هغه غټه کامیابی حاصله کړه - د يُطِعْ په لفظ کښے دے ته اشاره ده چه بنده په خپله خوښه د زړهٔ نه تابعداری اوکړی - دالفظ د طَوْعٌ نه جوړ دے معنیٰ ئے ده د د زړهٔ په خوښه د چا ـــ خبره منل - او د زړهٔ په خوښه کار د مینے او محبت نه بغیر نهٔ کیږی -

نو دے کامیابئ حاصلولو د پاره په زړهٔ کښے د الله ؒ اورسول الله مینه پیدا کول ضروری شو او د مینے پیدا کولو طریقه دا ده چه د الله تعالے نعمتونه یاد ساتئ - او په دے سوچ کوئ چه الله تعالے په موږ خورا مهربانه دے موږ ته ئے خورا بے شماره نعمتونه راکړی دی - او په موږ ئے خورا بے حسابه احسانونه دی د محسن او منعم سره مینه فطری ده - انشاء الله خو ورځو کښے به اوو ینئ چه سړ نه تر بښو به د الله تعالے په مینه کښے ډوب ئے - دے سره په زړهٔ کښے د الله تعالے د مینے سره سره د خپلے - نالایقئ احساس هم پیدا کیږی - چه الله تعالے په موږ دومره مهربانه دے - نو موږ دیر نالائقه یو چه بیا هم د هغه نافرمانی کوو -

د نبی کریم صلے الله علیه وسلم د تابعدارئ حکم هم دے - دا په خوښه تابعداری هم بے محبته نشی کیدے حضور صلے الله علیه وسلم - سره د محبت پیدا کولو طریقه هم داده - چه دا سوچ کوئ چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم د اسلام د اشاعت د پاره خورا تکلیفونه برداشت

Scanned with CamScanner

کړی دی - او هغه په خپل امت خومره مهربانه وو - کله چه په دے طریقه د الله ﷻ او رسول الله ﷺ محبت په زړهٔ کښے پوخ شی نو تابعداری د زړهٔ نه او په اسانه کیږی - یو خوا محبت وی او بل خوا خوف دا دواړهٔ چه یو ځائے شی نو دین د نیا دواړه سَمْ شی او هم داغټه کامیابی دَه -

اوس دعا اوکړئ چه الله تعالے موبز ټولو ته د خپلو اعمالو د اصلاح او په زړونو کښے د الله ﷻ او رسول الله ﷺ محبت او د الله خوف پیدا کولو توفیق راکړی او دا دواړه نعمتونه مونصیب کړی -

آمین

وصلی الله تعالے علی خیرخلقه سیدنا محمد وعلی آله واصحابه اجمعین
برحمتک یا ارحم الراحمین -



دعوات عبدیت

دویم جلد

شپیزم وعظ

احکام العشرة الاخیرة

(د رمضان د آخرو لسو ورځو احکام)

له ارشاداتو د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه

Scanned with CamScanner

تعارف

داوعظ حضرت تھانوی رح په خپله خانقاه جامع مسجد تھانه بھون کښے په یو ویشتم ر مضان ۱۳۲۹ ھ کال کښے د جمعے د مانځه نه پس ق مانه یکره په مهر په ناسته کړے دے او مولوی سعید احمد صاحب قلمبند کړیدے۔



بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ نَحْمَدُہٗ وَنَسْتَعِیْنُہٗ وَنَسْتَغْفِرُہٗ وَنُؤْمِنُ بِہٖ وَنَتَوَکَّلُ عَلَیْہِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّھْدِہِ اللّٰہُ فَلَا مُضِلَّ لَہٗ وَمَنْ یُّضْلِلْہُ فَلَا ھَادِیَ لَہٗ وَنَشْھَدُ اَنْ لَّا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ لَا شَرِیْکَ لَہٗ وَنَشْھَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَرَسُوْلُہٗ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ وَبَارِکْ وَسَلِّمْ۔ اما بعد۔ فاعوذ با لله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم۔ شَھْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْ اُنْزِلَ فِیْہِ الْقُرْاٰنُ ھُدًی لِّلنَّاسِ وَبَیِّنَاتٍ مِّنَ الْھُدٰی وَالْفُرْقَانِ۔ دا دِیو آیت مبارک ټوټه ده۔ په دے کښے الله تعالے دِ رمضان شریف یو فضیلت بیان کړے دے۔ په تیره جمعه دِ رمضان ضروری آداب اوحقونه بیان شوی وو۔ نن به دِ رمضان دِیوے خاصے حصے یعنی دِ آخری لسو ورځو متعلق بیان کیږی۔ په ظاهره دِ دے آیت مبارک دِ آخری عشرے سره څه خاص تعلق نه ښکاری۔ خو که غور اوکړو نو په دے آیت مبارک کښے چه الله دِ رمضان کوم فضیلت بیان کړے دے دِ هغے تعلق دِ رمضان دِ دے آخری ورځو سره دے۔ الله تعالے فرمائی۔ دا داسے میاشت ده چه هوبنه پکښے قرآن نازل کړے دے۔ هغه قرآن چه پکښے ټول مخلوق دِ پاره هدایت او واضح احکام دی۔ دِ دے آیت نه دومره خو معلومه شوه چه قرآن شریف په دے میاشت کښے نازل شوے دے۔ ظاهره ده چه دِ رمضان دِ میاشتے دیرش ورځے

Scanned with CamScanner

دی - نو دِ دے آیت نه دا نهٔ معلومیږی چه په دے دیرشو ورزو کښے
په کومو ورزو کښے نازل شوے دے - لیکن دے سړ چه یو بل آیت مبارک
مرکړے کړو - نو دِ دواړو دِ مجموعے نه به دِ وخت تعین اوشی - هغه
آیت دا دے - اِنَّا اَنْزَلْنَاهُ فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ - (مونږ دا قرآن شریف دِ قدر
په شپه نازل کړے دے) دے نه معلومه شوه چه قرآن شریف دِ شپے نازل
شوے دے - پاتے شو دا شک چه شاید دا شپه دِ بلے میاشتے وی دِ رمضان
نهٔ وی - نو دے آیت مبارک نه خو هم تعین اونشو - جواب ئے دادے چه
احادیثونه دا ثابته دَه چه شبِ قدر په رمضان کښے دے او دِ دے نه علاوه
هم که مونږ سوچ اوکړو نو چله دِ قرآن شریف دِ دے دواړو آیتونونه
داثابتیږی چه دا شبِ قدر په رمضان کښے دے -

دِ قرآن کریم نزول په دوه قسمه شوے دے - یو تدریجی نزول چه
په درویشت کاله کښے بزلبز دِ ضرورت مطابق یو یو دوه دوه آیتونه
نازل شوی دی - دِ کوم ثبوت چه دِ تاریخ اواحادیثونه علاوه چله
دِ قرآن شریف نه هم کیږی - الله تعالے فرمائی - وَقَالَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا لَوْلَا
اُنْزِلَ عَلَیْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً کَذٰلِکَ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَکَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِیْلًا -
(او کافران وائی چه دا قرآن په (حضور صلے الله علیه وسلم) ټول په یوځائے -
ولے نازل نشو - (لکه نور اسمانی کتابونه چه یوځائے نازل شوی دی) هم دغه
شان بزلبز به نازلیږی چه ستاسو زړهٔ ورباندے مضبوط شی او ښهٔ یاد شی
درته) -

دا آیت مبارک دِ عیسایانو او مشرکانو دِ دے اعتراض په جواب کښے نازل
شوے دے چه که حضرت محمد صلے الله علیه وسلم هم دِ نورو رسولانو په
شان برحق رسول وے - نو په دهٔ به هم لکه دِ نورو رسولانو اسمانی
کتاب په یوځائے نازل شوے وو - لکه موسیٰ علیه السلام او عیسیٰؑ ته چه په غونډ

کتابونه ورکړی شوی وو- دې دمے په جواب کښے الله تعالے فرمائی مونږ
دا قرآن دغه شان لږ لږ نازلوو- چه سره رو په زړه کښے مضبوط ځائے اونیسی
اویاد ساتل او ورباندے عمل کول درته اسان شی - او واقعی که څوک
غور اوکړی نو څومره مضبوطیا-حفاظت اوپوهه چه په لږ لږ نازل کیدو
کښے دَه - دومره په یو ځائے نزول کښے نشوه کیدے - په یو ځائے نزول
کښے به امت ته دِ احکامو په جزئیاتو پوهیدل اوورباندے عمل کول
ګران شوی وو- ځکه چه په یو ځائے نزول کښے خو به کلیات بیان شوی وی
جزئیات به په هغے څیله منطبق کول وو- او ترڅو پورے چه رسول الله-
صلے الله علیه وسلم ژوندے وے دِ هغۀ نه په پوښتنه به جزوی احکام
معلومیدے شو- لیکن دِ هغه دِ وفات نه پس به خبره دِ امت اجهاد ته
پاتے وه - او په دے کښے دِ دیرو غلطیو اواختلافاتو امکان وو- څنګه چه
دِ یهودیانو اوعیسایانو سره اوشوه-

دِ دے مثال داسے دے لکه یو مریض طبیب ته دِ خپل مرض حال -
احوال بیان کړی او ورسره اووائی چه زړۀ علاج دِ پاره دلته دیره کیدے
نشم- او نه بیا بیا راتلے شم چه دِ حالاتو دِ تبدیلئ خبر درکړم خو یو
څو نسخے راته په یو ځائے اولیکه - څنګه چه حالاتو کښے فرق راځی - دِ
مرض کمی زیاتی مناسبت به زړۀ څیله ځانته نسخه بدلوم - په داسے وخت
کښے طبیب هرڅومره دیر ماهروی او په دیر غور نسخے اولیکی خو دِ دے
مریض علاج دِ هغے مریض په شان نشی کولے - کوم چه طبیب سره دیره
شی - او هغه ورته څیله دِ مریض دِ حالت بدلیدو په مناسبت نسخو کښے
تبدیلی کړی ځکه چه په اول حالت کښے ورته طبیب دِ مرض دِ تبدیلئ
دِ مختلفو حالاتو مناسب مختلفے نسخے اولیکی - لیکن دِ حالت دِ تبدیلئ
او دِ هغے مناسب نسخه لټول دِ مریض کار وی- دِ کوم دِ رائے چه دِ

Scanned with CamScanner

مرض په وجهه هیڅ اعتبار نشته لکه چه مشهور قول دے رَأْیُ الْعَلِیلِ لِعَلِیلٍ
د بیمار رائے هم بیمار وی - کیدے شی چه مریض کښے د صفراء زیاتے وی
هغه ئے د سودا زیاتے اوګڼی یا مرض کښے تخفیف د سختے حیلے نه محکښے
لږه وقفه وی او دے ئے د مرض کمے اوګڼی - د دے مثال نه دا
واضحه شوه چه څومره کامله او پوره فائده چه په جزئی حالاتو لیدلو
او د هغے مناسب نسخه کښے تبدیلئ کولوکښے ده - دومره په کلیاتو
کښے نشته - نو دا په امت محمدی باندے د الله تعالے غټ احسان دے
چه خپل پاک کلام ئے د حالاتو مناسب لږ لږ په درویشت کاله کښے
نازل کړو - چه د امت عالمان وربانده سنه پوهه شواو د احکامو
اسباب او شان نزول ئے سنه په ذهن کښے محفوظ کړو - دلته په
ظاهره دوه شکونه کیدے شی -

(۱) هرکله چه په تدریجی نزول کښے دوه فائدے دی - او غوند نازلیدو
کښے دومره نقصان دے - نو بیا تیرو امتونو ته کتابونه غوند ولے راغلی
دی - دے نه معلومیږی چه یا د هغوئ د فائدے خیال نه دے ساتلے
شوے - یا د تاسو د اخبره غلطه ده - د دے جواب دا دے چه د وړاندو
قومونو شریعتونه د خاص قومونو د پاره او د لږے مودے د پاره
وو - په دے موقع به د هغوئ نبیانو یا د نبیانو خاص اصحاب
به هغوئ سره موجود وو - نو د جزئیاتو احکام ئے هغوئ نه معلومولے
شو - په یوځائے نازلیدو کښے وړته ډیر نقصان نه وو.

(۲) دویم شک دادے چه سره د دے چه قرآن شریف لږ لږ تدریجاً
نازل شوے دے - بیا هم په قرآن پوهیدو او هغه نه احکامو راویستو
کښے د عالمانو او مجتهدانو اختلاف موجود دے - نو د تدریجی نزول
هغه فائده حاصله نشوه کومه چه تاسو بیانوئ - د دے جواب دا دے

Scanned with CamScanner

چه د دے امت په اختلاف او د سابقه امتونو په اختلاف کښے د یو فرق دے هغوئ نه د یوے غټے غټے غلطئ شوی دی او دے امت نه غټے غلطئ نه دی شوی ځکه چه د آیتونو شانِ نزول او د هغے وخت حالات محفوظ دی - د کومو چه معنیٰ مرادی متعین کولو کښے خامی دخل دے ظاهره ده چه معنیٰ مرادی متعین کولو نه پس د غلطئ امکان د یو کم وی - او چه شان نزول معلوم نه وی نو معنیٰ مرادی متعین کولو کښے غټے غلطئ کیدے شی -

او دا شک کول نه دی پکار چه معنیٰ مرادی متعین کولو نه بغیر سابقه امتونو ته حکم څنګه متوجهه شو - او د شریعت اتباع وربانده څنګه فرض شوه - ځکه چه په دا سے موقع به هغوئ ته څنګه نبی معنیٰ مرادی متعین کړله چه د دے الفاظونه د الله تعالے دا مراد دے او تاسو ته داحکم درکوی - لیکن هغے قومونو د خپلو نبیانو کلام محفوظ کړے نه دے - لکه مسلمانانو چه احادیث څنګه محفوظ کړی دی - بل دا چه اظهار خو د پټوس په موقع کیږی او دے قومونو د بے توجهئ په وجهه د خپلو نبیانو نه د احکامو د وضاحت پټوسونه د یو کم کول -

او د دے امت په مجتهدانو کښے چه د معنیٰ مرادی متعین کیدو نه پس هم اختلاف راغلے دے نو په دے کښے د مسائلو د توسیع او په - احکامو کښے د وسعت حکمت دے - چه امت ته وربانده عمل اسان شی - او دا مطلب دے د اِخْتِلَافُ اُمَّتِیْ رَحْمَةٌ (خما د امت اختلاف - رحمت دے) نو د دواړو قومونو د اختلاف فرق واضح شو - داخو تر مینځه هسے یوضمنی خبره راغله اصل خبره داوه چه د قرآن شریف نزول دوه قسمه شوے دے - یو تدریجی یعنی لږ لږ د ضرورت[۱] مطابق نازلیدل - او دا تدریجی نزول په درویشت[۲۳] کاله کښے مکمل

شویدے - بل د فعی نزول - یعنی غوندہ پہ یو خائے نزول - ظاهره دَه
چہ په دے آیت مبارک کښے وہ ښے نزول مراد نہٗ دے - حُکہ چہ هغه
خو په یو شپه کښے نہٗ دے شوے - بلکہ په درویشت کالہ کښے شوے
دے - نو دِ دے نہ دویم نزول مراد دے - دا نزول په عالم غیب
کښے دِ لوح محفوظ نہ دِ دنیا اسمان تہ شوے دے - او دا دواړہ اگرچہ
دِ یرعالم یعنی عالِم بالا اجزاء دی لیکن دِ دے دواړو ترمینځ دومرہ
ډیره فاصله ده - چہ صحیح اندازہ ئے نشی لگیدے - دا سے نسبت ئے
دے لکہ دِ یو خاځکی او سمندر - یعنی دا عالِم دنیا یو خاځکے دے او
عالم غیب یو سمندر دے او دا دنیا یو قطره - دِ کشف خاوند انولیکلی
دی - چہ دِ دے دواړو عالمونو نسبت دا سے دے - لکہ دِ مور دِ رحم
او عالِم دنیا وہ وکے بچے اول دِ مور په خیټه کښے په رَحِمْ کښے -
اوسی او م دغه بن خائے دِ هغه دنیا وی - هغه وخت ډیر وسیع
بنکاری او هغے سرہ ئے دومره مینه وی - چہ کہ چا تر پتوس کولے
نو هچرے به ئے دے عالم تہ راتلل نہ وو خوښ کړی - لیکن چہ بهر
تہ راا ووځی او دِ دے عالم رونق او فراخی اووینی نو بیا وخت
هغه دنیا یو تور غار بنکاری - او دا دنیا ئے خوښ شی - دا حال دِ
دے دنیا دِ مخلوق م دے په دے دنیا کښے قید دے دِ هغے عالم
نه خبر نہٗ وی - نو دا خپله دنیا ورته فراخه او رونه بنکاری
چہ څوک ورته دِ دے دنیا نه دِ تلوالئ نوخفه کیږی او پریشان
کیږی - دِ دے دنیا نه تلو ته ئے زړہ نہٗ کیږی حُکہ چہ دِ هغے دنیا
دِ ابادئ او رونق نه خبر نہٗ وی - او څوک چہ الله تعالے دِ بلے
دنیا دِ حالاتو نه خبر کړی دی دِ علم یا دِ کشف په ذریعه او چاچه دِ
هغے عالم مشاهده کړی دَه هغوئی دِ دے عالم نه هغے عالم ته دِ تلو

Scanned with CamScanner

په انتظار وی او تمنا ئے کوی - لیکن دے نه دِ څوک دا خیال نۀ کوی
چه کوے صاحب کشف اولیاء دِ غیرصاحب کشف نه افضل دی - ځکه چه
دِ دے افضلیت وجهه به ئے یا دا اشتیاق وی یا کشف - نو اشتیاق -
خو ئے دِ فضیلت سبب ځکه نشی کیدے چه دۀ دِ عالمِ غیب نهتونه -
اولیدل او لیدلی شی ته ضرور رغبت پیدا کیږی - داځۀ دِ کمال -
جنړه نۀ دَه - بنائسته باغ - خوشبویه ګلونو او خوږو میوو ته دِ هر
چا زړۀ کیږی او کشف هم دِا فضیلت شے نۀ دے - ځکه چه دا اختیاری
نۀ دے - نو دِ کمال او مقبولیت دلیل نۀ دے - دا خو دِ روحانی
ریاضت او مجاهدو ثمره دَه چه ډیرو غیرو مسلمانو ته هم حاصله وی
او دِ مړۀ نه پس خو به هرچا ته کشف حاصل شی - البته اهل کشف په
دے لحاظ ضرور افضلیت لری چه په دنیا کښے هغوئ ته کوم ذوق وشوق
حاصل وی هغه نورو ته نۀ وی حاصل - او دِ کشف دِ حقیقت نه دا ته
دا هم معلومه شوه چه ځنه جاهلان چه کشف ډیرلوئے شے ګڼی او وړپسے
وی داځومره غټه غلطی دَه - بلکه که څوک غور اوکړی نو په دے به
پوهه شی چه بغیر دِ کشف نه عمل کول نریات کمال دے - ځکه ئے الله
تعالے صفت فرمائی - اَلَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ (هغه کسان چه ایمان راوړی
په نالیدو) او حضور صلے الله علیه وسلم اصحابو نه پوښتنه اوکړه - اَیُّ الْخَلْقِ
اَعْجَبُ اِیْمَانًا - (دِ کومو خلقو ایمان ډیر عجیبه یعنی ډیر ښۀ دے) اصحابو
عرض اوکړو یارسول الله دِ فرشتو - حضورؐ اوفرمائیل دِ هغوئ دِ
ایمان نۀ راوړلو وجهه کیدے شی چه هر وخت دِ الله تعالے احکام
او دِ الله تعالے کلام اوری - اصحابو عرض اوکړو چه بیا دِ پیغمبرانو
حضورؐ اوفرمائیل دِ پیغمبرانو ایمان په ځۀ عجیبه شو چه هر وخت په وحی
الهی نازلیږی - اصحابو عرض اوکړو چه بیا نو مونږ - حضورؐ اوفرمائیل

Scanned with CamScanner

ستاستو ایمان په څۀ عجیبه شوچه هر وخت دِ خدائے رسول وینئ دِ هغه
خبرے او نصیحتونه اورئ۔ آخر اصحابو عرض اوکړو چه داخوش قسمته
څوک دی۔ حضورؐ اوفرمائیل۔ دا هغه خلق دی چه نۀ ئے نړۀ لیدلے یم
نه ئے ځاخبرے اورسیدلی دی نه ئے د وحی نزول لیدلے دے۔ مانه پس
به پیدا شی صرف یوځو لیکلی کاغذونه به اووینی او ایمان به راوړی
یعنی په کاغذ لیکلی شوی آیتونه اواحادیث به او وینی او ایمان به
په راوړی۔ دا په تالید و ایمان تړلو نه عجیبه دے۔ دے حدیث۔
مبارک بیانولو نه ځما مطلب دادے چه دِ مکاشفے په نسبت دِ عدمِ۔
کشف حالت نه یات بهتر دے۔ لیکن دِ دے مطلب دا نۀ دے چه۔
مطلقاً عدمِ کشف والـه دِ اهل کشف نه بهتر دی۔ کیدے شی چه اهلِ
کشف دِ نورو فضائلو په وجهه دِ غیر اهلِ کشف نه بهتر وی۔ لکه
انبیا علیهم السلام چه دِ نبوت دِ درجے په وجهه دِ تړلو اولیاؤ نه
افضل دی۔

خلاصه داچه کومو خلقو ته چه عالمِ غیب منکشف نۀ دے۔ هغوئ دِ دے
دنیا نه په تلو پریشان کیږی۔ دِ جالینوس متعلق دامشهوره دَه چه مړ
کیدو په وخت ئے داوصیت اوکړو۔ چه ځما په قبر کښے یو سوړے۔
پریدئ چه دِ دنیا هوا راباندے لګی۔ لیکن غیر اهلِ کشف که دِ کامل
ایمان خاوند وی۔ نو اګرچه طبعاً به وېرته دِ دے دنیا نه تلل ګران
بښکاری او مړګ به ئے خوښ نۀ وی لکه حضرت عائشےؓ چه فرمائیلی دی
کُلُّنَا نَکْرَهُ الْمَوْتَ۔ (هیڅ څوک مړګ نۀ خوښوی) لیکن دِ مړګ نه پس
چه هغه عالم اووینی دِ هغے دِ وسعت اوروښتانه نه خبر شی نو دا
عالم به ئے هیر شی او دا سے حال به ئے شی لکه بچے چه دِ مور دِ خپلے
نه ازادے دنیا ته راوځی۔ دِ هغے عالم متعلق حکیم سناٹی وائی۔

اسمانهاست در ولایت جان۔ کارفرمائے آسمانِ جهان۔
دُرّرَہِ سروح پست وبالااهااست کوه هائے بلند وصحراهاست

(دِ سروح په دنیا کښے دِ یو اسمانونه دی چه دِ دے دنیا دِ اسمان کار چلوی۔ دِ سروح په لاړ کښے دِ یو سے لوړے شروع دی۔ اوچت اوچت غرونه او لوئے لوئے صحرا کانے دی) غرض داچه عالمِ غیب دِ یو وسیع دے۔ قرآن شریف په هغے کښے دِ یو خائے نه بل خائے ته غونډ نازل شوے دے۔ یعنی دِ لوحِ محفوظ نه اسمانِ دنیا ته دِ لیلة القدر په شپه غونډ نازل شوے وو۔ هم دِ دے متعلق قرآن شریف کښے ارشاد دے شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْآنُ (دِ سرمضان میاشت هغه میاشت دَه چه قرآن پکښے نازل شوے دے) بل خائے ارشاد دے۔ اِنَّا اَنْزَلْنَاهُ فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ۔ (داقرآن شریف موږ دِ قدر په شپه کښے نازل کړیدے) دواړو آیتونو کښے نزول دفعی مراد دے حُکه چه تدریجی نزول خو نهٔ په یو میاشت کښے شوے دے نهٔ په یو شپه کښے۔ اودا دواړه آیتونه چه یو خائے شی نو دا تر ثابتیږی چه لیلة القدر په سرمضان کښے دے۔ که لیلة القدر په سرمضان کښے او نهٔ مِلے شی نو دِ دواړو آیتونو ترمینځه به تعارض راشی او دا ناممکن دے۔ اود احادیثو نه ثابته دَه چه په سرمضان کښے بیا په آخرو لسو شپو کښے په تاکُ شپو کښے دے۔ نو ثابته شوه چه قرآن شریف دِ سرمضان په آخره عشره کښے نازل شوے دے۔ نو دِ آخرے عشرے دا فضیلت دِ قرآن شریف نه ثابت شو۔ او دا یو عظیم فضیلت دے حُکه چه قرآن شریف یو عظیم الشان کتاب دے۔ نو داچه په کوم وخت کښے نازل شوے دے هغه وخت به هم دیر مبارکُ او بختور وی۔ دِ دے فضیلت قدر دِ څوکُ دِ عاشقانو نه معلوم کړی۔ چه په کوم وخت چه عاشق

د محبوب د خط دیدار اوکړی - هغه وخت په خوښه خوښ لګی - او خومره قدرئ کوی نو خداوند کریم خو حقیقی محبوب دے او قرآن شریف د دے حقیقی محبوب کلام دے - نو د دے د نزول وخت به خومره قدرمن او مبارک وی او په عاشقانو به خومره خوښ لګی - مولانائے روم فرمائی ؎

گفت معشوقے بعاشق اے فتا - تو بغربت دیدۂ بس شهرها -
پس کدامی شهر ازانها خوشتر است گفت آن شهرے که : روے دلبر است

(یو معشوقے عاشق نه تپوس اوکړو چه اے خوانه تهٔ خو مسافرئ کښے په ډیرو کلو کړزیدلے ئے - نو کوم شهر په دے ټولو کښے ډیر ښائسته - دے - هغهٔ وړته او وے کوم شهر کښے چه خدا محبوب اوسی هغه ټولو کښے ښائسته دے) - اوګورئ که یو عاشق ته د کوهی په ویښ کښے د محبوب دیدار نصیب نشی - نو هغهٔ باندے به د هغه کوهی ویښ د ښائسته باغونو نه ښه لګی - او که څوک غوښ اوکړی نو کوم وخت چه مبارک ګنړلے شی اکثر د حنل مظروف د برکت په وجهه مبارک ګنړلے شی - یعنی چه هغے وخت کښے څه مبارک کار شوے وی په دے وجهه - مبارک ګنړلے شی - د جمع ورځ د نورو ورځو نه مبارکه ګنړلے شی چه په دے کښے د دعا قبلیدو یو داسے وخت دے چه نورو ورځو کښے نشته - خلق د جمع په فضیلت اعتراض کوی او وائی چه په جمعه کښے څه خصوصیت دے - د نورو ورځو په شان یو ورځ ده - دا د بیر فضول اعتراض دے - د ظاهری مشابهت په وجهه دا نه لازمیږی چه دواړهٔ د په هرڅهٔ کښے یو شان وی - آیا که د یوکس د بنځے اوخوښ شکلونه یو شان وی او اتفاقاً جامے اوکالی ئے هم یو شان وی نو آیا د دے ظاهری مشابهت په وجهه به وړته په دواړو کښے د حلال او حرام فرق

Scanned with CamScanner

پاتے نشی - څنګه تعلقات چه بنځې سړی ساتی داسے به ورته خوږ سړی هم جائز شی ؟ آیا دِ دهٔ سړه کښے به دواړو ته یوشان مینه راشی - دامنم چه بنځې سړی هم مینه وی او مور خوږ سړی هم مینه وی - خو دا دواړه مینے بالکل جدا جدا قسم دی - دِ بنځې په مینه کښے چه کوم فطری خواهش پیدا کیږی - هغه دِ مور خوږ په مینه کښے هرګز نشی پیدا کیدے - بلکه - طبیعت ورته نفرت کوی - په خوب کښے هم که چرته داسے واقعه اووینی نو پریشان شی او ځان په دے کنده خیالانو دیر ملامته ګڼی - حالانکه دِ داسے خوب تعبیر خراب نهٔ دے - دِ دے تعبیر دادے چه داسے بنده به خاکسار او متواضع شی - ځکه چه په خوب کښے معانی چنل مناسب شکل اختیار وی - په داسے قسم خوب کښے دِ مور نه مطلب نه مکه وی په - اعتبار دِ خاکسارئ دِ صفت او دِ صحبت نه ځے مراد فائده اخستل وی نو دا اشاره شوه دے ته چه دے بنده کښے به دِ خاکسارئ خوښئ - پیدا شی -

یو بزرګ ته چا دغه شان خوب بیان کړے وو - او هغه ورته دا تعبیر بیان کړے وو - که چا جاهل ته ځے ویلے وے نو خدائے خبر چه څهٔ خراب تعبیر به ځے ورته بیان کړے وو - څکه حدیث شریف کښے راځی (چه چنل خوب صرف هوښیار دوست ته بیانوئ) یعنی جاهل ته او - ناشنا ته ځے بالکل مهٔ بیانوئ - او دوست ته هم صرف هوښیار دوست ته ځے بیانوئ - چه صحیح تعبیر بیان کړے شی - اوچه ستا دوست وی نو که صحیح تعبیر ورته نهٔ وی معلوم نو غلے به شی او کړ پرے به نهٔ جوړ وی او که کم عقل دوست وی یا دشمن وی نو غلط تعبیر به ورته اوکړی او تابه نور هم پریشان کړی -

حضرت مولانا فضل الرحمن ګنج مراد آبادی رحمة الله علیه یوځل دا

دامقوله نقل کړی وَه - تاآنکه بامادرجفت نشود وبرادرخورد را نکشد عارف نشود - یوصاحب عرض اوکړو - اوله حصه خوئ ماهم لیدلی دَه خودویمه حصه م نهٔ دَه لیدلی - حضرت وړته اوفرمائیل دغه خودرکښے کے دے دِ اولے مطلب دے دِ خاکسارئ خوئ پیدا کول او دِ دویمے حصے مطلب دے نفس مغلوب کول - او دا دواړه صفتونه پیدا کول - عارف دِ پاره - ضروری دی - نو سړه دِ دے چه دِ دا سے قسم خوب تعبیر ډیر اعلیٰ دے بیا هم که څوک دا سے خوب اوویني نو پریشان شی - په ویښه خوئ تصور هم نشی کیدے - دے نه معلومه شوه چه دِ مور خور مینه بل قسم دَه او دِ بنځے مینه بل قسم دَه - دِ دواړو نوعه جدا ده - او دِ دے فرق نه دا م معلومیدے شی چه احادیثو کښے چه په ظاهره تعارض ښکاری - حقیقت کښے تعارض نشته - ځکه چه دِ محبت اقسام مختلف دی - په ځنړ روایاتو کښے راغلی چه حضورؐ ته حضرت عائشهؓ زیاته محبوبه وه په ځنو کښے راځی چه حضورؐ ته حضرت فاطمهؓ تولو کښے زیاته محبوبه وَه - او په ځنو کښے راځی چه حضرت ابوبکر صدیق سړے ډیره مینه وَه - په دے تولو کښے څه تعارض نشته - ځکه چه دِ محبت اقسام مختلف دی - په بیبیانو کښے ئے حضرت عایشهؓ زیاته خوښه وه - او په اولاد کښے ئے حضرت فاطمه سړه ډیره مینه وَه او په اصحابو کښے ئے حضرت ابوبکر صدیقؓ تولو نه زیات خوښ وو - نو دے تولو ځایونو کښے دِ محبت اقسام جدا جدا دی ځکه ور کښے تعارض نشته په یو وخت تول جمع کیدے شی -

خلاصه داچه دِ ظاهری مشابهت په وجهه دا نهٔ لازمیږی چه هرڅهٔ کښے دِ یو شان وی - دِ فضیلت نور اسباب پکښے پیدا کیدے شی - نو دِ جمع ورزکه په ظاهره دِ نورو ورزو په شان دَه - لیکن په دے کښے یو خاص وخت دا سے دے چه هغے کښے دعا قبلیږی په دے وجهه دِ نورو

ورځو نه افضله دَه نو معلومه شوه چه په ظرف کښے د مبارک مظروف په وجهه برکت راځی۔

اوس په دے پوهه شئ چه دا کار به یا د الله تعالے د طرفه وی یا به د بنده کار وی۔ د الله تعالے کار وینه خو ټول د خیر او مفید دی لیکن څنه پکښے بنده د پاره ډیر مفید وی او څنه لږ کم په دے مناسبت به ئے برکت کښے هم کمے زیاتے راځی۔ مثلاً تورات هم د الله تعالے کلام دے او قرآن شریف هم د الله تعالے کلام دے۔ لیکن قرآن شریف ئے آخری کلام زیات مبارک او زیات مفید دے نو د نزول قرآن وخت به هم د نزول تورات د وخت نه زیات مبارک وی۔

اوکه دا کار د بنده د طرف نه وو۔ نو د بنده کار خو کله عبادت وی او کله گناه او په هغے کښے هم کمے زیاتے شته۔ نو د کوم درجے کار چه وی د هغے مناسب به ورکښے برکت یا خرابے راځی۔ نو کوم وخت کښے چه ئے۔ ډیر عبادت او بنهٔ عبادت کړے وی خشوع او خضوع سره هغه وخت به ورته زیات بختور وی او کوم وخت کښے چه ئے وڅه گناه کړی وی هغه لږ خراب او کوم وخت کښے چه ئے غټ گناه کړی وی هغه وخت به ورته ډیر سپیره وی۔

غرض دا چه د آثارو فرق اول په اعمالو کښے راځی بیا د هغے په وجهه په زمانه کښے راځی۔ نو چونکه د رمضان شریف په دے آخره عشره کښے قرآن شریف نازل شوے دے۔ او دا یو ډیر عظیم الشان او ډیر مبارک کتاب دے نو دا زمانه هم ډیره مشرفه او ډیره مبارکه دَه۔ نو جناب والا آیا د مجازی محبوب د ملاقات او د خط خبر رسید و زمانه خو مبارکه گڼلے شی۔ او د حقیقی محبوب د کلام نازلیدو زمانه به مبارکه او محبوبه نه وی؟

Scanned with CamScanner

علاوه د دے نه چه دا د حقیقی محبوب کلام او د ډیر مشرف او مبارک دے۔ دا هم کتل پکار دی چه دے پاک کلام زمونږ زړونه څومره روښانه کړی دی۔ او څومره فائدے ئے راسره سولی دی۔ که دا صرف د الله کلام وے۔ الله سره ئے تعلق وے او مونږ سره ئے څه تعلق نه وے۔ او زمونږ په زړونو ئے راټوله نه پریوتے نو بیا به تر مونږ څنګه فائده اخسته اوکولے ئے که د دنیا نور په څه وجهه زمونږ د ستړګو نه پناه شی مثلاً وریځ کښے پټ شی۔ څو ورځے په هغه وریځ او باران وی اسمان نه شین کیږی نو بندیان څومره تنګ شی او پریشان شی۔ دا ولے؟ دا ځکه چه الله تعالے مونږ ته یو راټوله راکړی وَه او څه وخت د پاره ئے راباندے بنده کړه۔ او دا فضل ئے اوکولے چه دا راټوله ئے د کوم څیز نه راکړی هغه مونږ نه کروړونه میله لرے دے۔ د دومره لرے نه د هغے شغلے مونږ ته راځی او قسم قسم فائدے راکوی۔ که دے شغلو ته لار کښے څه حجاب راغلو نو نمر خو به بیا هم چپله روښانه وی خو مونږ به ئے د فائدو نه محروم شو۔

دغه شان د الله تعالے کلام هم د الله تعالے قدیم صفت دے او د۔ نمر نه زیات روښانه دے او د هغے هم لکه د نمر په شان شغلے دی چه هغے ته کلام لفظی ویلے شی۔ دا شغلے مونږ ته راځی او زمونږ۔ زړونه روښانه کوی۔ نو جناب عالی که آسمان کښے نمر وے خو شغلے ئے مونږ ته نه راځی دے نو مونږ به تر څنګه فائده اخستے وه۔ هم دغه شان که د الله تعالے کلام نفسی قدیم وے خو د هغے د کلام لفظی۔ شغلے مونږ ته نه راځی دے نو مونږ به تر څنګه فیضیاب شوی وو۔

چونکه کلام الله د ذاتِ خداوندی سره خاص تعلق لری۔ په دے وجهه الله تعالے د قرآن شریف په تلاوت خوشالیږی۔ دا تلاوت بے

پوهے وی که سړه دِ پوهے وی۔ په خلاف دِ نورو ژبانی عباد تونو لکه دعا او ذکر هغه که بے پوهے وی۔ نو دیر محبوب نهٔ دے۔ لیکن دِ قرآن تلاوت په هرحال محبوب دے۔ دِ امام احمد ابن حنبل رحمة الله علیه واقعه دَه چه هغهٔ په خوب کښے الله تعالے نه پوښتنه اوکړه چه تاته دِ قُرب دِ تولونه غټه ذریعهٔ دَه۔ ارشاد اوشو دِ قرآن تلاوت امام صاحب عرض اوکړو په پوهه که بے پوهے۔ ارشاد اوشو۔ په پوهه وی که بے پوهے هرڅنګه چه وی دِ قُرب ذریعه دَه او دا یواځے دِ خوب خبره نهٔ دَه۔ احادیثو نه هم دا ثابتیږی۔ لکه چه ارشاد دے۔ دِ قرآن دِ تلاوت په هرحرف باندے لس نیکئ لیکلے شی۔ ظاهره دَه چه حروف الفاظ دی نو بے پوهے الفاظو ویلو ته هم تلاوت ویلے شوے دے۔ نو معلومه شوه چه تلاوت بے پوهے هم مقبول دے۔ او ثواب ئے شته۔ اګرچه سړه دِ پوهے به نزیات مقبول وی او ثواب به ئے دیر وی۔

دے نه دِ فن صاحب روښان خیالو داغلطی هم څرګنده شوه چه دوئ وائ۔ هرکله چه دِ کلام الله په معنیٰ او مطلب څوک نهٔ پوهیږی نو دِ تشو الفاظو دِ تلاوت ئے صحیح فائده نشته۔ نو هغوئ دِ خبر شی چه دِ قرآن شریف تلاوت که بے پوهے وی فائده ئے شته۔ ځکه چه دِ تلاوت فائده یواځے دا نهٔ دَه چه موبنږ ئے په معنیٰ پوهه شو او په احکامو ئے عمل اوکړو۔ بلکه یو فائده ئے دا هم دَه چه دِ قرآن شریف په تلاوت موبنږ نه الله راضی کیږی او دِ الله قُرب په حاصلیږی۔

دا خبره دِ عقل او عادت د واړه موافق دَه۔ اوګورئ۔ یو مصنف که څوک اووینی چه دِ هغهٔ یو کتاب ګوری۔ پوهیږی په نه خو صرف په دے وجه ئے ګوری۔ چه دِ دے مصنف کتاب دے نو دِ هغے مصنف به ور سره په زړهٔ کښے ضرور مینه پیدا شی۔ او دیر قدر به ئے اوکړی

Scanned with CamScanner

دایو فطری جنبره دَه -

حاجی مولانا امداد الله صاحب مهاجر مکی یوځل دهلی کښے په لاړ روان وو- په یو دکان باندے ئے کښیناوه اولیده - چه وهابی نزدے شو یو سړی د حاجی صاحب کتاب درد نامهٔ غمناک دیر په سوز اوشوق وے - خلق هغے اوریدو ته راجمع وو- حاجی صاحب تر ئے غم خوند ورکړو یو ساعت ورته اودریدو او دے سړی نه دیر خوشاله شو دعائے ورته وکړه - هغه سړے په چنل شوق لګیاوو خبر هم نه وو چه مصنف ولاړ دے - د غه شان ئے یوځل پانی پت کښے هم دیو سړی نه د چنل کتاب اشعار دیر په شوق- اوریدلی وو- او دیر ورته خوشال شوے وو- دا کتاب اګرچه د شعر په لحاظ د اوچتے پائے نه دے - لیکن د نهه د سوزه ویلی شوے کلام دے نو اثر ئے دیر دے -

د غالب د زمانے واقعه دَه چه یو شاعر چه آشفته تخلص ئے دے چنل یو شعر استاذ ته د اصلاح د پاره پیش کړو- شعر دا وو سه

حالِ آشفته چه دانی بے خبر ؏ درخیال زلف عنبر بوئے تو

(اے بے خبره ته د آشفته د حال نه څه خبر ئے - چه د یار د عنبر بویه زلفو په خیال کښے څومره پریشان دے)- د استاذ د اصلاح نه پس شعر دا سے شو سه

حالِ آشفته پریشان تر شده ؏ درخیالِ زلف عنبر بوئے تو

(د ستا د خوشبویه زلفو په خیال کښے د آشفته حالت دیر خراب شو) غالب ته چه دا دواړه شعر ونه اوریدل نو اوئے وے - استاذ صاحب قال دے او شاګرد صاحب حال دے - یعنی د شاګرد په کلام کښے کوم درد او د تلمیح کوم خوند چه وو د استاذ اصلاح مزه ورکه کړه- استاذ

ئے الفاظ مزیدار کړل خو هغه لطف ئے ورک شو - واقعی کومه خبره چه د زړهٔ د سوزه اوشی هغے کښے ډیر اثر وی - مولانائے روم په دے شعر کښے د خپل درد او استغراق اظهار کړے دے - او د هغهٔ په اشعارو کښے د قافئے او نورو شعری خامیو باندے اعتراض کوونکو ته ئے جواب ورکړے دے - فرمائی -

قافیه اندیشم و دلدار من ع گویدم مندیش جز دیدار من

(زړهٔ چه قافئے د پاره سوچ کوم نو خپل محبوب راته وائی چه بے د ما د دیدار نه بل سوچ مکوه) - مطلب داچه خُما په اشعارو کښے که - چرته شاعرانه خامی وی نو هغهٔ قابل گرفت نهٔ دَه - زړهٔ معذور یم شاعرانه نکاتو ته سوچ کول - پوره توجهه دے خوا کول غواړی اوهلته زړهٔ د محبوب په دیدار کښے مستغرق یم پوره توجهه دے خوا نهٔ شم ورکولے په دے خبره چه غور او کړئی نو درته به معلومه شی چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم ته د شاعرئ مَلَکَہ وُرکولو کښے یوه وجهه دا هم وَه - غیرت خداوندی دا کله جائز گڼلے چه د هغهٔ محبوب د هغهٔ نه علاوه بل څهٔ ته توجهه اوکړی -

او دغه راز دے چه اکثرو پوهه صوفیانو خپلو مریدانو ته په خاصه معلومه طریقه توجهه ورکول بند کړی دی - حُکم چه په دے طریقه په مرید کښے یو خاص کیفیت پیدا کولو د پاره دا سے استغراق ضروری دے چه په دے وخت کښے ئے ټوله توجهه دے القاء طرف ته وی - او زړهٔ د بل هرقسم خیالاتو نه خالی کړی تردے چه په دے وخت کښے حق تعالے طرف ته توجهه هم کمزوری پاتے شی نو دا سے خاص استغراق د الله تعالے حق دے - او هغهٔ ته په دے غیرت ورځی او ډیر بد په لگی چه د الله د مینے یو دعویدار الله

نه غیربل خیز ته دا سے کامله توجهه اوکړی نو یو نقصان خو ئے دا شو چه په دا سے توجهه تر الله ناراضه کیږی۔ او بل غټ نقصان ئے دا دے چه په دے طریقه چه شیخ خپل تصرفات او وینی ۔ نو په خو وړو زړے کښے ئے په ښه ډوبه کښے لوئی راشی ۔ او کبر د نولونه غټه ګناه ده۔ دریم داچه په دے طریقه تصرف کښے ئے په عوامو کښے شهرت اوشی۔ او د شهرت اسباب که د ترک کولو قابل وی ۔ نو ترک کول ئے ضروری دی (په دے وجهه پوهه صوفیانو دا طریقه ترک کړے ده ۔ څلورم که د شیخ جسمانی طاقت کمزوړے وی په دے طریقه توجهه ورکولو ناجوړه شی۔

دا څلور نقصانونه خو ئے خپله شیخ ته دی ۔ او مورید ته ئے دا نقصان دے چه د شیخ په اسره خپله کار پریدی نو یات ریاضت نه کوی نو د هغه نسبت صرف انګاسی شی ۔ لکه په شیشه کښے چه د بل شی عکس ښکاری خپل محنت سړه حاصل کړے شے نه وی۔ او انګاسی شے پائیدار نه وی۔ د شیشے د مخے نه که هغه شے لرے شی بیا هیڅ نه وی۔

که د چا شک وی چه په دے طریقه توجهه خو احادیثو نه ثابته ده لکه په ورته نبئ وحی کښے چه جبریل علیه السلام خپله سینه پورے حضور اکرم صلے الله علیه وسلم جنت کړے وو ۔ او پوره زور ئے ورکړے وو د حدیث شریف الفاظ دی۔ فَغَطَّنِیْ فَبَلَغَ مِنِّی الْجُهْدَ ۔ (سینه پورے ئے جنت کړم او بنه پوره نه ورته راکړو) ۔ نو د دے دوه جوابه دی ۔ یو خو داچه د غَطَّ معنیٰ توجهه ورکول بے ثبوته دی د غَطَّ معنیٰ ده سینه په سینه کیدل نه چه توجهه ورکول ۔ او که او منو چه دا معنیٰ ئے ده بیا هم دا ویلے شو چه ممکنه ده چه د ملکوتی طاقت

په وجهه جبریل علیه السلام ته په توجهه کښے د دومره استغراق ضرورت نۀ وی چه د حق د توجهه نه غافل شی بیا پکښے څۀ نقصان نشته۔ او که څوک او وائی چه د اثر قبلوونکی د استعداد په وجهه ممکنه دَه چه شیخ ته هم هر وخت په توجهه کښے د کامل استغراق ضرورت نۀ وی۔ نو موږ به او وایو چه اثر اچوونکی ته خو په هرحال د کامل استغراق ضرورت دے البته اثر قبلوونکے به کله د ښۀ استعداد په وجهه زر اثر قبول کړی او کله به دیر وخت اخلی۔ البته شیخ نه د فیض اخستو دوه شکلونه نور هم دی (چه هیڅ نقصان پکښے نشته)۔

۱ یوخو د شیخ د اختیار نه بهر دے۔ هغه داچه د شیخ د ذات یا برکات فیوض تولے دنیاته بغیر د هغه د ارادے او توجهه نه ورسیږی۔ لکه باران چه اوشی نو د زمکے هرے سوغے توته کښے د شینکی توکولو طاقت پیدا شی۔ په دے کښے د باران د ارادے څۀ ضرورت نشته۔ یا لکه نمر چه را اوخیژی نو شفلے چه ئے په څۀ شی پریوځی هغه سوبنانه شی نمر ته ئے د سوبنانه کولو د ارادے ضرورت نشته۔

۲ اوبل کار اختیاری دے۔ یعنی د مرید د حالت ښۀ کیدو د پاره دعا کول۔ او د مرید د حالاتو نګرانی کول او په مینه محبت ورته نصیحت کول او په نرمئ ئے د حالاتو اصلاح کول۔ د لغوی معنیٰ په اعتبار دے ته هم توجهه ویلے شی۔ لیکن په اصطلاحی معنیٰ یعنی د تصوف کولو په معنیٰ توجهه نۀ دَه۔ نو دے کښے څۀ نقصان نشته۔ بلکه دا مسنون طریقه دَه۔ د تصرف په معنیٰ توجهه ورکولو کښے نقصان دا دے چه د ذات باری نه ورکښے غفلت راځی دے کښے دا نقصان نشته۔ په دے طریقه کښے التفات الی الله نور زیاتیږی۔ نو دا طریقه

Scanned with CamScanner

مسنونہ دَہ اگرچہ پہ دے کښے م توجہ الی الخلق وی۔ لیکن دا دِ توجہ الی الخالق نہ غفلت نۀ راولی۔ بلکہ دِ دعا خو حقیقت توجہ الی الخالق دے اگرچہ دِ مخلوق دِ فائدے دِ پارہ وی۔ او دا نفع م خالصہ دِ اللہ دِ رضا دِ پارہ وی او پہ نگرانئ تعلیم و تربیت او نصیحت کښے م توجہ الی الخلق وی لیکن پہ داسے انداز کښے وی چہ توجہ الی الخالق کښے مانع نۀ وی۔ بلکہ دا توجہ م دِ خالق پہ حکم او دِ خالق دِ رضا۔ دِ پارہ وی نو پہ دے کښے توجہ الی الخلق شتہ لیکن غیبت عن الخالق نشتہ۔

خلاصہ داچہ دِ توجہ دوہ قسمہ دی۔ یو د تصرف پہ معنیٰ چہ ھغے کښے غیبت عن الحق لازمیږی او دویم پہ معنیٰ د دعا او اصلاح حالات پہ دے کښے غفلت عن الحق نشتہ بلکہ التفات الی الحق دے۔ وړنئ توجہ کا ملانو صوفیانو ترک کړی دَہ۔ او دویمہ مسنونہ او مطلوبہ دَہ۔ البتہ پہ اول قسم کښے کہ غرض خالصہ بل نہ فائدہ رسول وی خپلہ بزرگی او خپل طاقت بنکاړہ کول نۀ وی نو جائز دَہ۔ لیکن دِ دے باریک فرق پہ وجہ کا ملانو ترک کړی دَہ۔ او کہ غرض تر صرف دِ خپل طاقت اظہار وی نو مذمومہ او قابل ترک دَہ۔ غرض داچہ دِ تصرف پہ معنیٰ توجہ خپلہ فی نفسہ نۀ مطلوب دَہ او نۀ مذموم بلکہ بنۀ والے یا بد والے پکښے دِ نیت پہ وجہ راځی۔ کہ نیت خالص دِ اللہ دِ رضا دِ پارہ بل نہ فائدہ رسول وی۔ نو دِ دے بنۀ نیت پہ وجہ ورکښے بنۀ والے راښی۔ او پہ دویمہ معنیٰ یعنی التفات او اصلاحِ احوال پہ معنیٰ فی نفسہ عبادت دے او دِ پیغمبرانو اتباع دَہ۔ حکہ چہ پیغمبرانو بہ خپلو اصحابو او امت تہ پہ دے طریقہ توجہ ورکولہ۔ نو پہ دے طریقہ کښے ھیڅ خطرہ نشتہ۔ او دِ تصرف پہ

Scanned with CamScanner

معنیٰ توجهه سالک ډیاړه نقصانی دَه - خصوصاً په ابتدائی وړاړو کښے خولۍ اراده اوخیال هم نقصان رسوی - ډیو بزرګ قصه دَه چه چل یو مورید سړے ډیر کاله خواری اوکړه - ډیرے وظیفے ئے ورته بدلے رابدلے کړے خو هغۂ ته څۂ فائده نۂ رسیده - روحانی ترقی ئے نۂ کیده - آخر تر هغه بزرګ یو ورځ پتوس اوکړو چه تۂ دا وظیفے اوریاضت په څۂ غرض کوے - هغۂ ورته اووے حضرت ځما اراده دادۂ چه زهۂ خپله اصلاح اوکړم نو بیا به نور وخلقو ته هم فائده رسوم - شیخ ورته اووے - دے خیال نه توبه اوباسه - ډاوسه نه ډ په زهۂ کښے ډلونۍ خیال دے او ډ خالق په ځائے ډ په مخلوق نظر دے - کله چه هغه ډ دے خیال نه توبه اوویسته نو فوراً ئے فائده محسوسه کړه - نو معلومه شوه چه ډ فائدے رسولو په غرض مخلوق ته توجهه چه په ظاهره یو ډیر کار بنکاری - ډ سلوک په ابتدا کښے سالک ډپاړه خطرناک دے - ډ دے واقعے نه دا هم معلومیږی چه کامل شیخ په هیڅ وخت کښے ډ مورید ډ اصلاح نه مایوس کیږی نه لکه دے بزرګ چه ورته ډیر موده وظیفے بدلولے رابدلولے خو شړلو ئے نه - دائے ورته نۂ وے چه تاکښے صلاحیت نشته دالار پریږده - بلکه ډ مرض معلومولو په کوشش کښے ئے تر هغے لګیا وو چه آخر کامیاب شو - (او چه مرض معلوم شی نو علاج اسان شی) کامل شیخ ډ کامل طبیب په شان ډ مرض معلومولو کوشش کوی - او آخر کامیاب شی - لیکن ناقص پیر په داسے وخت کښے وار خطا شی خپله هم مایوس شی او بل هم ناامیده کړی - ځکه حافظ شیرازی فرمائی ؎

بندۂ پیر خرابات کلطفش دائم است ۔ زانکه لطفِ شیخ وزاهد کاهست وگاه نیست

(زهۂ ډ شراب خانے ډ مالک غلام یم چه مهربانی ئے هیشه دَه - ډ شیخ

Scanned with CamScanner

وزاهد مهربانی خوکله وی او کله نهٔ وی)- په دویمه مصرع کښے د
شیخ نه مراد ناقص شیخ دے څکه چه کامل شیخ نه خوکه په کشف معلومه
شی چه داسړے بد بخته دے هم نهٔ مایوس کیږی - بلکه د نیک بختئ-
دعا ورته کوی چه خدائے پاک ئے قسمت بدل کړی او کامیاب شی -
لیکن نبی که د وحی په ذریعه معلومه شی چه د دے سړی په نصیب کښے
ایمان نشته خاتمه به ئے په کفر وی - نو هغه وخت کښے د هغه د هدایت
نه مایوسه کیدل د الله په حکم دی - او د دے نه دا هم معلومه شوه
چه هرسړے د ارشاد د منصب قابل نهٔ دے - دیرتش په نوم مرشدان
داسے دی چه د هغوئ غرض صرف جاه حاصلول وی - څکه حدیث
شریف دے - لَا یَقُصُّ اَمِیْرٌ اَوْ مَامُوْرٌ اَوْ مُخْتَالٌ (یعنی د وعظ و
نصیحت او اصلاح کار د هغهٔ څوک کوی چه یا خو چله د مسلمانانو مشر
(امیر) وی یا امیر د دے کار د پاره مقرر کړے وی (مامور) وی
او یا به متکبر او نفس پرور وی چله به دے کار ته رامخکښے شوے
وی) څکه چه مسلمانانو د هدایت عامه کار د مسلمانانو د امیر (خلیفه)
کار دے هغه به ئے یا چله کوی یا به ورته څوک قابل سړے مقرر
کوی - نو چه نهٔ امیر وی نهٔ امیر مقرر کړے وی او د مسلمانانو د -
اصلاح کار شروع کړی نو هغه به څان چله په سور وکښے شماری نو
غاوره او کبرجن به وی داشک د څوکئ نهٔ کوی چه خبره داسے شوه
نو نن صبا خو تول واعظان او پیران په دے درسیم قسم کښے را غلو -
څکه چه نهٔ د مسلمانانو امیر شته او نه د امیر د طرفه مقرر (مامور) شته
تول د څانه لګیا دی - د دے جواب دادے چه د فقهی مسئله داده چه
کوم ځائے اسلامی حکومت نهٔ وی - امیر یا امیر مقرر کړے حاکم -
موجود نهٔ وی نو هلته چه د هغے علاقے پرهیزګار او پوهه مسلمانان چه سړے

د څه مذهبی کار د پاره مقرر کړی نو دا دا سے ده لکه امیر چه مقرر کړے وی - د مسلمانانو دا اجماع د امیر قائم مقام شی - او که غوراوکړے شی نو امیر چپله د مسلمانانو په اجماع منتخب کیږی - نو هغه چه جاته څه عهده ورکوی - که یا د عامو مسلمانانو د طرف نه د نماینده په طور ورکوی - نو هغه عهده مسلمانان چپله هم ورکولے شی - یعنی هر کله چه عام مسلمانان خپل امیر منتخب کولے شی - نو د امیر نائب هم منتخب کولے شی - نو پوهه او دیندار مسلمانان چه څوک قابل سړے د جمعے د امامتی د پاره او د وعظ و نصیحت و هدایت و اصلاح د پاره مقرر کړی نو دا دا سے شوه لکه چه د امیر د طرف نه مقرر شوے وی - دغه شان د وقف د انتظام او نورو دا سے اجتماعی کارونو د پاره هم پوهه او دیندار مسلمانان په اتفاق سره یو قابل بنده مقرر کولے شی - دے کښے څه حرج نشته - البته چه پوهه او دیندار و کسانو مقرر کړے نه وی او د دے کار اهل نه وی په چپله خوښه وعظ نصیحت ته او دریږی نو دا د وعظ په رنګ کښے گمراهی خوروی د ی -

په سهار نپوره کښے یو جاهل د جمعے د مانځه نه مخکښے اودریدو تپوس ئے اوکړو - دلته څوک وعظ کوی که نه - چا وړته اووے نه نو د سنتو نه پس ئے اعلان اوکړو - ویږو ! - مانځه نه پس لږ حصار شئ وعظ به کیږی - چه مونځ ئے خلاص کړو نو وعظ ته اودریدو څه غلط سلط اعوذ باالله بسم الله ئے اووے او د سورت یٰسین ابتدائی آیتونه ئے تلاوت کړو بیا ئے د هغے ترجمه دا سے شروع کړه - اے محمدؐ ته پیر بناسته ئے - اے محمدؐ که ته رسول نه وے پیدا کړے نو دا زمکه اسمانونه به هم نه وو پیدا کړی - دا دنیا هم د تا د مخه پیدا کړی ده دا ئے اووے او کینا ستو بیا ئے اووے - اے سړو نو ستړے یم

نن دا وعظ کافی دے - نور به بیا شی - په دے مجلس کښے یو نابینا عالم هم ناست وو - دۀ چه دا عجیبه وعظ ختم کړو - نو هغۀ ورته تپوس او کړو - ستا تحصیل څومره دے - یعنی علم دِ څومره کړے دے څومره کتابونه دِ ویلی دی - هغه خو جاهل وو په خبره پوهه نۀ شو جواب ئے ورکړو حُما تحصیل هاپور دے - دِ علم خو ئے داحال وو چه دِ تحصیل په معنیٰ پوهه نشو - دا مطلب ئے تر واخستو چه دِ کوم حُائے او سید و ونکے ئے - تحصیل تهانړه دِ کومه دَه - داحال دے وعظ داسے کسانو ته پاتے شو - نو دا اګرچه یو فضول کار دے دِ خلقو وخت خرابول دی - لیکن دا سے واعظانو نه اسلام ته دومره نقصان نۀ رسی څومره چه دِ هغے فاسقانو نه رسی چه بناسته الفاظ ئے یاد کړی وی او په دِ پرجوش او خوش آوازئ تقریر کوی - دِ صوفیانو اصطلاحی جملے ئے یاد کړی وی - په معنیٰ ئے نۀ پوهیږی خو حُائے په حُائے ئے استعمالوی او دِ حافظ صوفیانه اشعار خوش اوازئ سره وائی او په خلقو اثر اچوی - دا سے خلقو امت ته غټ نقصان رسولے دے - دِ داسے خلقو متعلق یو شاعر ویلی دی ؎

حرف درویشان بدُزد دَر مَرد دِ دُون
تا به پیشِ جاهلان خواند فسون -

(رذیل سړے دِ درویشانو خبرے راپتے کړی چه په جاهلانو اثر واچوی) او هم دغه شان کسانو دِ پاڼه حدیث شریف کښے دِ مُختَالٌ لفظ را غلے دے غرض داچه حدیث شریف نه صفا معلومیږی چه وعظ عبادت دے - خوکه دِ چا نیت خراب وی نو هم دا عبادت ګناه شی - صوفیان په دے راز پوهه شوی دی نو دِ سلوک په ابتدا کښے ئے سالک باندے وعظ بند کړے دے چه دِ نفس دِ اصلاح نه وړاندے نیت صفا کولے نشی -

فاسد اغراض (لکه شهرت وغیره) په غالب شی - نو محلومه شوه چه هر چا کښے د ارشاد اهلیت نشته - نو مرشد کیدل د هرچا کار نه دے۔ او کومو ئ د کامل شیخ دا شان وی لکه پورتنئ قصه کښے ئے د مورید پټ مرض څنګه معلوم کړو چه ذکر شغل کښے ئے نیت لوئے جوړیدل و او بیا ئے په خلقو نظر وو - دغه شان اصطلاحی توجهه یعنی د تصرف په معنئ توجهه هم عبادت دے چه د مخلوق فائده ده پکښے لیکن د کاملانو په نظر کښے عبادت نه دے - حکه چه په دے کښے په دے وخت کښے خپله پوره توجهه مخلوق طرف ته کول غواړی - او د دوئ په نظر کښے غیر الله ته لږ غوندے التفات هم گناه ده ۔

به هرچه از دوست وامانی چه گفز آن حرف چه ایمان
به هرچه از یار دور افتی چه زشت آن نقش چه زیبا

(چه ته په د حقیقی محبوب نه لرے و وځے هغه ټکے که د کفر وی که د ایمان (یو برابر دی) چه ته په د یار نه لرے و وځے هغه نقش بنائسته وی که بدرنګ (یو برابر دی) -

خلاصه داچه نفس توجهه اګرچه سبه شے دے (چه د یو بنده اصلاح په کیږی) لیکن چه د حق تعالے نه په لرے والے راځی په دے وجهه خرابه شوه - دغه شان په مراقبه کښے د شیخ تصور هم اوس اکثرو کاملانو ترک کړے دے - چه د شیخ په تصور کښے د مورید زیاته توجهه شیخ طرف ته وی نو ذات باری ته ئے توجهه کمزوری شی - او دا غیر الله ته التفات د کاملانو په نظر کښے جرم دے - یو عارف والی ؒ

یک چشم زدن غافل ازاں شاه نباشی ۔ شاید که نگاهے کند آگاه نباشی

(د هغے حقیقی بادشاه نه ستر کو رپ قدر ے هم غافل نشے هسے نه چه هغه دربانده ے د کرم نظر اوکړی او تا غافل بیا موهی) یعنی کیدے

شی چه کوم وخت کښے دا موږ ید ے شیخ په تصور کښے د وب وی ۔ م
دے وخت کښے که دے الله تعالے ته متوجهه وے نو الله تعالے به په رحم
کړے وو۔ کامیاب شوے به وو۔ د غفلت په وجهه محروم پاتے شو
هدے محرومئ ته اشاره دَه وائی ؎

هرآن کو غافل از حق یک زمان است ع دران دم کافر است اَمّا نهان است

(څوک چه د حق تعالے نه لږ وخت هم غافل شو۔ په دے وخت کښے کافر
دے خو پټ دے)۔ د کفر نه مراد فقهی کفر یعنی د اسلام نه وتل نه
دی بلکه اصطلاحی کفر یعنی ناشکری انکار او نافرمانی دَه) څکه تر
د کا ملا نو طبیعت سخت نفرت کوی ۔ د دے مثال داسے دے لکه د۔
حلال څار وی لږے چه د غوښیانو نه مبنۍ صفا کړے شی نو حلال دے
خو هم ئے جائز دی ۔ لیکن لطیف مزاج بنده ته وړ نه کړکه ضرور
وړځی۔ حرام وړ ته نشی ویلے خو خوښ ئے نشی ۔

نو اصل خبره دادَه چه په زړه کښے دوه خیالونه په یو ځائے نشی
راتلے ۔ لکه په یو تیکی کښے چه دوه تورے نه ځائیږی۔ نو په کومه توجهه
کښے چه د مخلوق خیال غالب شی هغے کښے د خالق خیال ضرور مغلوب
کیږی نو دے ته به څنګه مطلوب او محبوب اووایے شی۔

د حضرت ابراهیم ادهمؒ واقعه دَه۔ چه کله ئے ډیره موده پس خپل
خوئے شیخ محمود اولید و نو خوشال شو۔ په دے وخت کښے وړ ته غیبی
اواز اوشو ؎

حُبِّ حق هو دل میں یا حب پسر + جمع ان دونوں کو تو هرگز نه کر

(په زړه کښے به یا د الله مینه وی یا د خوئے۔ دا دواړه مینے هرګز نشی
جمع کولے) آخر وړ نه داحجاب هم لرے شو۔ او خوئے ئے په هغه ځائے
وفات شو۔ دے نۍ دا خیال مۍ کوئ چه د اولاد سره مینه محبت جائز

Scanned with CamScanner

نۀ دے - بلکہ څومرہ قدر چہ مشرعی حد دے جائز دے - یعنی چہ دِ اللہ
دِ محبت نۀ زیات نۀ وی - دومرہ محبت خو مسنون دے - نو شیخ
سرہ هم دومرہ محبت پکار دے چہ دِ اللہ په محبت غالب نۀ وی - داسے
نہ څنګہ چہ نن صبا دِ جاهلانو په څنډ فرقو کښے رواج دے (چہ دِ
خدائے نہ ګے پیر سرہ محبت زیات وی) - دغہ شان بال بیخ سرہ
هم دومرہ مینہ جائز دَہ چہ دِ اللہ په مینہ غالب نۀ وی - (چہ دِ بال
بیخ دِ پارہ دِ شریعت دِ احکامو نافرمانی او نکړی) - ارشاد دے -
لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ - (دِ مال او اولاد مینہ
دِ تاسو دِ اللہ دِ یاد دونہ غافل نۀ کړی) دِ اللہ تعالے دِ مهربانیونہ
قربان شم - چہ موبز تہ ئے دا حکم نۀ دے راکړے چہ دِ مال او -
اولاد سرہ قطعی مینہ مۀ کوئ - ځکہ چہ دا مینہ فطری دَہ - بنیادم تر
منع کیدے نشی - نو صرف دومرہ پابندی ئے اولګولہ چہ دِ مال اواولاد
په مینہ کښے دومرہ مۀ وبیزئ چہ اللہ درنہ هیر شی -

کہ څوک اووائ چہ توجهہ دومرہ ناکارہ شے شو - او دِ توجهہ غرض
روحانی اصلاح دَہ او دا یو ضروری کار دے - نو دِ توجهہ ترک کولو په
وجهہ به یو ضروری کار پاتے شی - دِ دے حل به څنګہ وی - نو جناب -
عالی! دِ دے حل دادے - چہ دِ توجهہ چہ کوم غرض دے یعنی روحانی
اصلاح - دِ دے کہ بله څنګہ طریقہ نۀ وے نو دا مشکل به هلۀ پیدا کیدو -
دِ اصلاح نورے طریقے هم شته - کہ هم دا یو طریقہ ئے وے نو پیغمبرانو
به هم دا طریقہ خوښہ کړی وَہ - بلکہ بله طریقہ ئے دِ دے نہ زیاتہ ښکہ
او بے خطرے شته کومہ چہ چنله پیغمبرانو خوښہ کړی وَہ یعنی دِ تعلیم
و تربیت او نصیحت او شفقت او دعا طریقہ - په دے طریقہ کار هم کیږی
او څنګہ خطرہ هم پکښے نشته نو دِ روحانی اصلاح مسنون طریقہ دادَہ - په

Scanned with CamScanner

دے عمل پکار دے - نو دِ توجهه په ترک کولو دِ اصلاح ضروری کار نشی پاتے کیدے -

خبره دِ کوم ځائے نه کوم ځائے ته اورسیده - (حضرت فرمائی) ماوے چه دِ مصنف مخکښے چه څوک دِ هغهٔ کلام ذوق وشوق سره وائی نوکه هغهٔ ئے خپله دِ مضامینو په مطلب پوره نهٔ پوهیږی هم مصنف ته ئے اوریدل خوند ورکوی - او ورباندے خوشالیږی - لکه حاجی صاحب چه چنل نظم درد نامهٔ غمناک په اوریدو خوشال شوے وو - دغه شان دِ الله تعالے کلام چه مومن په شوق سره وایو او الله تعالے ئے اوری نو هغه په مومن نه خوشالیږی - او الله تعالے ئے اوری یقیناً ځکه چه په زړه کښے او اسمانونو کښے هیڅ شے هغهٔ نه پټ نهٔ دے - دِ قرآن کریم ارشاد دے - مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَ لَا خَمْسَةٍ اِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ ۝ - (هیڅ درے کسه پټے خبرے نهٔ کوی مګر الله دِ هغوئ څلورم وی اونهٔ پنځه کسه مګر الله دِ هغوئ شپږم وی) - یعنی هر څوک چه په هرځائے کښے څه پټے خبرے کوی - الله ترخبریږی - الله نه هیڅ شے پټ نهٔ دے - هغه خو دِ زړونو دِ حال نه هم خبر دے - نو پټے خبرے نه خو به ضرور خبریږی - او بل ځائے ارشاد دے - مَا تَكُوْنُ فِيْ شَاْنٍ وَّ مَا تَتْلُوْا مِنْهُ مِنْ قُرْاٰنٍ وَّ لَا تَعْمَلُوْنَ مِنْ عَمَلٍ اِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا اِذْ تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ ط (تاسو په هرحالت کښے چه ئے او څومره تلاوت چه کوئ او څهٔ کار چه کوئ - مومن ورباندے خبر یو کله چه تاسو په هغے کښے مشغول ئے او دِ ستاسو دِ رب نه په اسمانونو او زړه کښے دِ ذرے برابر شے هم پټ نهٔ دے) - یعنی الله تعالے زړه مومن په هرحال هر عمل او هره خبره دے هیڅ ترپټ نهٔ دی - زړه مومن تلاوت اوری

نو ضرور په موږ نه خوشالیږی او نه موږ په حالت د سحم توجه کوی -
حدیث شریف کښے راځی چه الله تعالے په هیڅ عبادت دومره نه متوجهه
کیږی څومره چه د قرآن په تلاوت متوجهه کیږی - شاید چه دِ چا داشک
پیدا شی چه د حضور اکرم صلے الله علیه وسلم په زمانه به قول خلق د -
قرآن شریف په معنیٰ پوهیدل نو ښه په پوهه او په صحیح طریقه به ئے
تلاوت کولو - دا ارشاد د هغے حالت موافق دے - دے نه دا نه ثابتیږی -
چه بے پوهے تلاوت باندے به هم الله تعالے دغه شان خوشالیږی - د دے
جواب دا دے چه قرآن شریف صرف عربو د پاره نه دے راغلے قولے دنیا د پاره
راغلے دے - او په هغه وخت کښے هم قول اصحاب عرب نه وو عجم هم
وو پکښے - یو حدیث شریف دے - چه یوځل نبی کریم صلی الله علیه وسلم -
مسجد نبوی ته تشریف راوړو - د اصحابو یو ډله اوه اته کسان په تلاوت
کښے مشغول وو - څه عرب ووڅه غیر عرب چه قرآن شریف ئے ښه نشو
لوستے د حضورؐ په راتلو هغوئ لږ غوندے غلی شو - نو حضور صلے الله
علیه وسلم او فرمائیل - اِقْرَأُوْا کُلٌّ حَسَنٌ (تلاوت جاری وساتئ قول
ښه ئی) په حدیث شریف کښے چیله دا الفاظ دی چه څنو پکښے تلاوت
ښه نشو کولے - بیا هم حضورؐ وفرمائیل چه حَسَنٌ اووے - نو معلومه شوه چه
حسن کیدو د پاره خالص د عربو په شان ویل ضروری نه دی - که څه
کهے پکښے وی بیا هم په ثواب حاصلیدے شی - او په لفظی او معنوی کهی
کښے څه فرق نشته - دا خو حدیث شریف شو د کشف نه هم د دے تائید -
کیږی - لکه مخکښے د امام احمدؒ واقعه بیان شوی ده چه په خوب کښے
وفرمائیل شوچه د قرآن شریف تلاوت په پوهه وی که بے پوهے
د الله تعالے قرب په حاصلیږی - هرکله چه احادیثونه دا ثابته شوه چه د
قرآن شریف په تلاوت الله تعالے خوشالیږی نو اوس په دے پوهه

Scanned with CamScanner

منئ چه د الله تعالے د خوشالیدو دا مطلب نۀ دے - چه ټول هوښ په شان د ټولو موافق کار باندے ئے طبیعت خوشاله شی - ځکه چه دا یو انفعالی کیفیت دے او الله ـــــ تبارک وتعالے د انفعال او طبیعت نه پاک دے په الله تعالے باندے د صفاتو اطلاق د غایت په اعتبار کیږی د مبادیو په اعتبار نۀ کیږی - به هرحال د قرآن په تلاوت د خوشالیدو مطلب دادے چه - هوښ ته په اجر او ثواب راکوی - او دا یو غټه فائده ده افسوس چه نن صبا د پیرو خلقو دا غټه فائده ترک کړی ده - بلکه کلام الله چه د الله د رضا حاصلولو ذریعه وه - د نفس او هوا و هوس غلامانو ورته د دنیا طلبئ ذریعه جوړه کړی ده - د قرآن شریف په تلاوت پیسے اخلی - او داخرکنده دین فروشی ده - او غټ جرم دے - لیکن د قرآن شریف تعلیم ورکول په دے مډ قیاس کولئ - د قرآن شریف په درس ورکولو تنخواه اخیستل جائز دی - ځکه چه دا د شریعت قانون دے چه د هغوس نفقه په هغه چا لازمه ده چا د پاره چه هغوس وی - نو چا چه خپل ټول وخت د دین خدمت ته ورکړے وی او ځان ئے دے خدمت د پاره قید کړے وی - حلال رزق د پاره د محنت کولو وخت ورسره نۀ وی نو د هغه نفقه په ټولو مسلمانانو واجب ده - که څنه مسلمانان ئے ورنکړی - نو د فرض کفایه په طور به د ټولو غاړه خلاصه شی - پاتے شوه داخبره که د دے حیثیت د نفقے وی نو بیا تنخواه ولے مقرر کولے شی - په قدر د ضرورت نفقه کافی ده - د دے جواب دادے - چه اصل حکم خو دا دے لیکن د نفقے په تعین کښے به هره میاشت جګړه راتله کارکوونکی به وے چه په دے میاشت کښے څما مثلاً پنځوس روپئ لګیدلی دی - او منتظم به ورته وے چه خرچ د ضروریات کړے دے دے نه په کم کښے د ګذاره کیده - نو د دے اختلاف په وجه به په

تعلیم کښے حرج نشتلو - په دے وجهه د نفقے په طور یو خاص رقم مقرر کولے شی - کار کوونکے هم په هغے کښے دننه د گذارے کوشش کوی - او منتظم هم بے فکره وی - لکه څنگه چه د اوبو د پاکئ د پاره اصل شرط دیر والے دے - لیکن فقهاؤ د عوامو د اسانئ د پاره وړتیو مقدار مقرر کړے دے - یعنی چه حوض لس لاسه اوږد اولس لاسه پلن او دومره ډوب وی چه په چونگ کښے تر اوبهٔ راخستے شی - نو دا د ماءِ کثیر په حکم کښے دے - دا سے او بهٔ نهٔ پلیتیږی -

په درس باندے تنخواه اخستو د جواز د پاره دا تقریر د احنافو په اصولو بالکل برابر دے - لیکن دا د هر مُعَلِّم د پاره نشی چلیدے صرف د هغے کسانو د پاره دے چه هغان د دین خادم ګڼی او علم د مال ګټلو ذریعه نهٔ جوړوی - د دے شناخت دا دے - چه که په موجوده تنخواه ئے گذاره کیږی - او د بل هغے نه وړته د زیاتے - تنخواه پیشکش اوشی - او د دے نه علاوه بل څهٔ خاص مصلحت په نظر نه وی چه پریښو کښے نهٔ وی - نو که دے سره نظر نه وی چه پریښو ترقئ پسے لاړو نو معلومه شوه چه د دنیا طلبگار دے - او که پاتے شو - نو معلومه شوه چه غرض ئے د دین خدمت او خلقو ته فائده رسول دی او تنخواه د نفقے په طور اخلی نو دهٔ د پاره دا معاوضه نفقه دَه او اخستل ئے جائز دی - او د هغے بل د پاره نهٔ دَه - غرض دا چه په تعلیم باندے اجرت اخستل جائز دی - او تراویحو کښے د قران شریف - ختم باندے چه د اجرت اخستو کوم عام رواج جاری دے - دا ناجائز دے - حُکه چه تراویح عبادت دے او په عبادت اجرت اخستل جائز نهٔ دی - حافظ صاحب فرمائی ؎

دام تزویر مکن چون دگران قرآن را - (لکه د نورو خلقو قرآن نه د ټکئ

Scanned with CamScanner

جال مۀ جوړه وَه) دغه شان په قبر تلاوت کولو باندے اجرت اخستل هم جائز نۀ دی - په دے کښے او دِ قرآن په درس کښے دِیو فرق دے دِ قرآن درس دِ اسلام په شعائرو کښے دے - او فرض دے - نو دے خدمت دِ پاڅ څوک مقرر کول او نفقه ورکول ضروری دی - لیکن په تراویحو کښے دِ قران شریف ختم او په قبر تلاوت فرض نۀ دے نو دے دِ پاڅ دِ زیات اهتمام ضرورت نشته که بے معاوضے ورته څوک تیار یدل نۀ دَه - کنی پریښودل ئے نۀ دی - البته څلۀ تراویح یا پنج (پنځه) وخت مونځ دِ شعائرو نه دے - دے دِ پاڅ که بے - معاوضے امام نۀ پیدا کیږی - نو په تنخواه ورته امام مقرر کول ضروری دی - ځکه مونږ دِ دے قولو خبرو مطلب دِ قرآن شریف عظمت او عزت ثابتول دی - نو چه دا سے دِ عزت او عظمت والہ کلام په دے میاشت کښے نازل شوے دے - ځکه دا میاشت هم دیره مبارکه او مشرفه دَه - دِ کلام پاک په صفت کښے یو بزرګ ویلی دی ے

چیست قرآن اے کلامِ حق شناس + رونمائے رب ناس آمد به ناس
حرف حرفش راست در بر معنئے + معنئے در معنئے در معنئے -

(اے په قرآن پوهید ونکیہ نۀ پیژنے چه قرآن څۀ شے دے - دا قرآن خلقو ته دِ خلقو دِ رب شان بنیونکے دے - دِ دے دِ هر هر حرف څلۀ معنیٰ دَه - بلکه په معنیٰ کښے هم معنیٰ دَه -) - رونمائے ځکه ورته او وے - چه په دنیا کښے خو څوک بلا واسطه دِ الله تعالے دیدار نشی کولے - نو دِ الله تعالے دِ کلام په لوستو به دِ هغۀ دِ دیدار خوند اخلی - په دے موقع درته یو قصه اوروم دے نه به ئے درته - حقیقت معلوم شی - وائ چه یو ځل دِ ایران دِ یو بادشاه ذهن ته اتفاقاً یو مصرعه راغله - دُرِ ابلق کسے کم دیده موجود (بزګ مرغلره

Scanned with CamScanner

به چا ډیره کمه لیدلی وی)یعنی برګه مرغلره به چا نه وی لیدلی- ډیر کوشش ئے اوکړو خو بله مصرعه ئے ورسره جوړه نه کړے شوه- درباری شاعران ئے راوبلل چه دے سره مصرعه اولګوئ- ټولو په کوشش - اوکړو خو هیڅوک کامیاب نشو- بادشاه ډیر خفه شو- شاعرانو باندے ئے ډیرے دهګے دَړَ کے اوکړے په دے وخت هندوستان کښے د اورنګ زیب عالمګیر بادشاهی وَه- او ایران سره ئے ډیر ښه - تعلقات وو- د ایران شاعران د بادشاه د مطالبے نه مجبور شو- دا مصرعه ئے دهلی ته واستوله چه کا ورسره مصرعه برابرکړه نو موږ به د بلا نه خلاص شو- د دهلی شاعرانو هم په وَټ اوکړو- خو کامیاب نشو- د اورنګ زیب لور زیب النساء هم شاعره وَه او مخفی ئے تخلص وو- هغے ته هم داخبر اورسیدو- نو هغے هم په سوچ شروع کړو- په دے سوچ کښے په تخت ناسته وَه ستړکو کښے ئے رانجه اچول مخامخ ورته آئینه لګیدلی وَه - رانجه تارخه وو- ستړکو نه ئے اوښکه پریوته په رانجو خړه شوی غوندے وَه- د دے په لیدو ئے فوراً - ذهن ته بله مصرعه راغله- مګر اشک بتانِ سرمه آلود - نو شعر داسے پوره شو دُرِ ابلق کسے کم دیده موجود مګر اشکِ بتانِ سرمه آلود-

(برګه مرغلره به چا نه وی لیدلی- لیکن د معشوقے د ستړکو په رنجولو اوښکه یو داسے مرغلره ده)- دا مصرعه ئے عالمګیر ته واستوله - بادشاه ډیر خوشال شو- عالمګیر ایران ته واستوله- د ایران بادشاه هم ډیر خوشال شو- او د ایران شاعران هم خوشال شو- او د دے شاعر قدر ئے په زړه کښے پیدا شو- اولیدو ته ئے لیواله شو- د ایران بادشاه عالمګیر ته اولیکل چه دا شاعر خو دربار ته راواستوه - عالمګیر ډیر پریشانه شو - که نوم ورته لیکی هم شرم دے - اوکه ئے نه لیکی د تعلقاتو د -

Scanned with CamScanner

خرابیدو خطره دَه - آخر ئے لور ته اووے دِ ستا شاعرئی په دے غم اخته کړے یم دِ دے جواب به هم دِ ایران بادشاه ته ته ور کړے - هغے ورته اووے دِ دے په جواب کښے ایران ته داشعر واستوه -

درسخن مخفی منم چون بوئے گل در برگ گل ٭ هرکه دیدن میل دارد درسخن بیند مرا

(نه ٔ پرځیلو خبر وکښے داسے پته یم لکه دِ گل خوشبوئی دِ گل په پاڼو کښے څوک چه مالیدل غواړی خُا په کلام کښے مالیدے شی) - داشعر چه ایران ته اور سیدو هغوئی پوهه شوچه دا کلام دِ مستورانو دے - نو دِ را ستولو مطالبه ئے پریښوه - دغه شان چه څوک دِ الله تعالے لیدل غواړی په کلام الله کښے ئے لیدے شی - دِ کوم شان چه دادے - چه معنیٰ در معنیٰ در معنیٰ دے - څومره چه ئے څوک دیر تلاوت کړی اوځومره چه پکښے دیر غور وفکر کړی دومره ور باندے نور یات علوم منکشف کیږی لکه چه حدیث شریف دے - لَا تَنْقَضِیْ عَجَائِبُهٗ - (دِ دے عجائبات نه ختمیږی) دِ کلام الله غټ کمال خو دا دے - چه نالوستی ته هم خوند ور کړی او عالم ته هم دِ ظاهربینو هم خوښ دے او دِ اهلِ باطن هم ٭

بهار عالم حسنش دل وجان تازه میدارد ٭ به رنگ اصحاب صورت را به بو ارباب معنی را

(—— دِ کلام الله دِ بناسټ په سپرلی نړۀ اوروح دواړۀ تازه کیږی + په ظاهری بناسټ ئے ظاهربین خوشالیږی اوپه باطنی خوشبوئی ئے دِ اهلِ باطن زړونه تازه کیږی) -

دِ دے حدیث شریف بله ټکړه دَه - لَا یَخْلَقُ مِنْ کَثْرَةِ الرَّدِّ - په دیر استعمال زړیږی نه - یعنی په بار بار ویلو تر زړۀ نه هیریږی - او دا خو مشاهده دَه څومره چه څوک تلاوت دیر کړی دومره دیر خوند ور کړی - زړۀ تر هیریږی هیڅرے نه - که څوک اووائی چه دالطفئے دِ خوش آوازئی په وجه دے نو موږ به اووایو چه اشعار خو م

Scanned with CamScanner

په خوش آوازئ ویلے شی - خو چه یو غزل چا یو ځل اوریدلے وی بیا دوباره اوریدل ئے خوند نه ورکوی - او که چاته اشعار د قرآن نه زیات خوند ورکوی نو موږ به او وایو چه دے یا د قرآن اوریدو قابل نه دے - اول د ډیر کانو په مجلس کښے چنل ادراک سم کړی نو بیا د په اشعارو او قرآن کښے موازنه او کړی - چه کوم د یر خوند ورکوی - قرآن خو قرآن دے که څوک مکے معظمے ته لاړو هلته ئے مانځه کښے تکبیر واوریدو کوم چه د قرآن یو ټکړه ده - نو پته به وته اولګی چه قرآن څه شے دے - هلته خو تکبیر داسے لګی چه سم لکه د قصاب د چرے زړه پریکوی -

او که تلاوت چاته خوند نه ورکوی نو پریدی دے نه - لکه څنګه چه د ځنو کم عقلو دا خیال دے چه تلاوت به هله کوو چه په مزه ئے پوهه شو - دا ډیر غلط خیال دے -

د دے مثال داسے دے لکه څوک چاته اووائی - چه مقویات خوړه چه زړ بالغ شے او د بلوغ په مزو پوهه شے - او هغه وړته اووائی چه نه اول ما پوهه کړئ چه د بلوغ خوند څنګه وی هلته به مقویات - او خورم - دا احمق به څوک څنګه پوهه کړے شی بے دے نه چه وړته اووائی چه بالغ شے خپله به ئے په خوند پوهه شے دغه شان د دے نابالغه پیرانو هم داجواب دے - چه د قرآن په خوند پوهیدو د پاره بل چل نشته بے د دے نه چه همت او کړه د یر د یر تلاوت کوه چه قلب د د عالم طفلئ نه اووځی سن بلوغ ته اورسی نو خپله بهئے خوند پوهه شے - البته داضروری ده چه داخاص روحانی بلوغ هلته حاصلیږی چه تلاوت او تولو اعمالو کښے اخلاص وی - د نفسانی خواهش تابعداری پکښے بالکل نه وی خالص د الله او د هغه د رسول تابعدار وی

Scanned with CamScanner

دِ طریقت بلوغ هم دا دے ـه
لکه یو عارف وائی ـه

خلق اطفال اند جز مستِ خدا
نیست بالغ جز رهیده از هوا

(بے دِ هغه چا نه چه دِ الله په مینه مست وی- نور ټول خلق نابالغه دے- بے دِ هغے چا نه چه دِ نفسانی خواهشاتو نه ځان خلاص کړے وی بل هیڅوک بالغ نشته)-

داغلطی دِ اکثرو سالکانو نه کیږی- چه دِ سلوک په ابتدا کښے هم دا- غواړی چه ذکر خوند ورکړی او چه مزه نه ورکوی نو پریشان شی او ذکر ورنه پاتے شی- داغته غلطی دَه- په ذکر کښے دِ لذت راتلو صرف یوه طریقه دَه- چه دِیر دِیر ذکر کوه- ذکر چه خومره دِیر شی نور خیالات کمزوری شی او ذکر کښے لذت پیدا شی- دِدے مثال داسے اوکړئ لکه دِ شاعرئ په فن کښے چه دا ملکه پیدا شی چه دِ بنهٔ شعر په اوریدو ئے طبیعت خوشال شی- آخر دا ذوق کله او څنګه پیدا کیږی- ظاهره دَه چه دِیره موده کښے او دِیر مشق نه پس پیدا کیږی- په ابتداء کښے دا کیفیت هرګز نه وی- اوګورئ بچے چه اول مدرسه کښے په سبق کینولے شی- مدرسے ته تلل ورته دِیر ګران وی تښتی پټیږی- په وهلو ټکولو لاس ینولے بوتلل- غواړی څهٔ موده پس ئے رو رو ورسره طبیعت اولګی- اوبیا څهٔ موده پس ئے ورسهٔ شوق شی- په خبره پوهیدو سلیقه ئے پیدا شی- بنه خبره خوند ورکوی-

دا سے خو یو شاعر هم نهٔ کوی چه دِ غالب او مؤمن په شان شعر نشی ویلے نو شاعری پریږدی- بلکه مشق جاری ساتی او دِ

Scanned with CamScanner

بنهٔ شعر ویلو کوشش کوی - آخر دِ بنهٔ شعر ویلو مَلَکه حاصله کړی او دا سے خو یو شاګرد هم استاذ ته نهٔ وائی چه زهٔ به دِ شعر ویلو کوشش هلهٔ شروع کړم چه ستا په شان دِ شعر په لطف پوهَ شم (نه بلکه په شروع کښے مات کړو اشعار جوړ وی خو مشق جاری - او ساتی - څهٔ موده پس بنهٔ شاعر شی - نو آیا دِ قرآن شریف تلاوت زده کول دا سے اسان دی چه دِ سکول دِ سبق او دِ شاعرئ دِ سبق هومره مشکلات به هم پکښے نهٔ وی - څنګه چه دِ سکول په سبق او دِ شاعرئ په سبق کښے په شروع کښے مشکلات وی - بیا رو رو اعلی درجه کمال حاصل کړی - دغه شان باطنی کیفیات هم دی په شروع کښے پکښے مشکلات وی - خوچه څوک استقلال سره همت او محنت اوکړی نو کامیابی حاصله کړی - ارشاد باری دے - كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ (تاسو هم مخکښے دغه شان وئ خو اللّٰه تعالے دربانده احسان اوکړو) -

اندرین رَه می تراش وی خراش ع تا دِم آخر دمے فارغ مباش
تا دِم آخر دِم آخر بود ــ ع که عنایت باتو صاحب سِرّ بود

(دِ طریقت په دے لارکښے تر آخره محنت جاری ساته + تر آخرے ساه یو ساعت مهٔ غافل کیږهَ - شاید چه دا آخری ساه هغه ساه وی چه اللّٰه تعالے دربانده مهربانه شی) -

حضرت حاجی امداد اللّٰه صاحب مهاجر مکی به په دا سے موقع دا شعر بیا بیا وے ــه

یابم اورا یا نه یابم جستجوئے میکنم
حاصل آید یا نه آید آرزوئے میکنم

(نهٔ وئے بیا مومم که نه خوچل کوشش کوم - په لاس راځی اوکه نه خو

Scanned with CamScanner

ارمان ہم دے)۔ هرڅهٔ چه وی خو زموږ کار صرف طلب دے۔ ځکه چه زموږ اختیار دومره دے ۔ حصول زموږ په اختیار کښے نهٔ دے فائده رسول ﷺ د الله کار دے ۔ موږ ته څنګل کار (یعنی طلب) جاری ساتل پکار دی ۔ فائده رسول ﷺ د الله کار دے ۔ که موږ استقلال سره څنګل کار جاری او ساتلو نو الله تعالے به کامیابی راکړی ۔ محروم کوی به مونه ۔

فراق و وصل چه باشد رضائے دوست طلب ﷺ کحیف باشد ازو غیر و تمنائے

(د جدائی او وصال خیال مهٔ کوه د محبوب رضا غواړه ۔ چه د محبوب نه د هغهٔ د رضا نه علاوه بل شے غوښتل قابل افسوس دے)۔ یوبل بزرګ وائی ے

اُرِیْدُ وِصَالَهٗ وَ یُرِیْدُ هَجْرِیْ
فَاتْرُکْ مَا اُرِیْدُ لِمَا یُرِیْدُ

(زهٔ د محبوب وصال غواړم او هغه مانه جدائی غواړی نو زهٔ څنګل خواهش د هغه د خواهش د پاره پریدم ۔ یعنی چه د هغهٔ هجر خوښ دے نو زهٔ د هغهٔ په رضا راضی یم د وصال خواهش پریدم)۔

او که داسے نهٔ کوئ یعنی د الله په رضا نهٔ راضی کیږئ ۔ نو آیا تاسو الله سره انتقامی کار وائی کول غواړئ ۔ چه الله د تاسو مراد نهٔ پوره کوی نو تاسو به ئے هم ذکر نهٔ کوئ ؟ که د یو مرداړے بازاری بنځے سره د چا مینه وی ۔ هغه مرداره ورباندے څنګه څنګه نخرے کوی څومره څومره ازمیښتونه په کوی ۔ لیکن په دے تنکولو د هغهٔ مینه نوره هم زیاتیږی ۔ داسے هیڅرے نهٔ کوی چه د تکلیف په وجهه تر لاس واخلی نو آیا د محبوب حقیقی مینه د یو مسلمان په زړهٔ کښے د یو بازاری معشوقے هومره هم نشته ۔ داخو ډیره د افسوس خبره ده ے

Scanned with CamScanner

(آیا د خدائے مینه د لیلیٰ د مینے نه کمه ده څه - د خدائے د مینے د پاره خو په کوڅ کښے در په در ګرځیدل ډیر بهتر دی)۔

د یو بزرګ واقعه ده چه یو شپه وړته غیبی اواز اوشو چه تا هرڅومره عبادت چه کړے قبلیږی نه - دا اواز ئے یو مرید هم اوریدلے وو - بله شپه چه هغه بزرګ بیا عبادت ته پاڅید و نو بیا وړته دغه شان اواز اوشو - چه څو شپے دا سے اوشوے نو مرید دے خپل پیر ته اووے - ته هم عجیبه سړے ئے - هلته د څوک پتوس هم نه کوی او ته د وړپوړے هغه شان ټبلے - چه عبادت د نه قبلیږی نو ځان څه له کړوے - پیر وړته په جواب کښے اووے

توانی ازان دل بپرداختن　　چو دانی که بے او توان ساختن

(د هغه چانه زړه اړولے شی چه څوک پوهیږی چه د ده نه بغیر ګذاره کولے شم)۔ مطلب داچه د الله عبادت پریدم نو کوم خوا لرم شم بل خدائے شته چه هغه ته وړ شم د هغه عبادت اوکړم — قبلوی ئے اوکه نه خو هم دغه یو در دے پکښے به پروت یم - چه بل در شته نه - نو چرته لاړ شم - په دے جواب وړته رحمتِ خداوندی متوجه شو - او غیبی اواز وړته اوشو

قبول است گر هنر نیست　　که جز ما پناهِ دگر نیست

(اګرچه ستا عبادت د قبلیدو قابل نه دے - خو چه ما نه بغیر د بله اړ نشته نو قبولیم کړو - نو صاحبانو سالک ته خدا سے کیدل پکار دی -

طلبګار باشد صبور و حمول　　که نشنیده ایم کیمیا ګر ملول

(د خدائے طلبګار ته پکار دی چه صابره او برد باره وی - ما کیمیاګر چرته خفه نه دے لیدلے -)

افسوس دے چه د خدائے طلبګار د مال د طلبګار هومره حوصله هم نه

لری۔ د کیمیا په تلاش کښے خو کیمیاګر په کالونو خوار او زار کړی۔ عمرونه برباد کړی۔ جائیدادونه تباه کړی۔ خو په ارام نه کینی او نا امیده کیږی هم نه هر ځل ناکامئ نه پس د کامیابئ په طمع بیا بیا کوشش کوی۔ که د خدائے طلبګار کښے دومره همت هم نه وی نو دا خو ډیره د افسوس خبره ده۔ د سالک خو داحالت پکار دے ؎

برند برائے دلے بارها　　خورند از برائے گلے خارها

(د یو زړه خوشالولو د پاره د ډیر پیسے پوره کوی۔ او د یوګل د پاره ډیر اغزی برداشت کوی)۔

د هغوئ خو داحالت وی۔

خوشا وقت مشریدگان غمش　　اگر ریش بنند وگر مرهمش
گدایان از بادشاهی نفور　　بامیدش اندر گدائی صبور
دَما دَمْ شراب الم در کشند　　اگر تلخ بینند دَم در کشند

(د هغهٔ په غم عجین هر وخت خوشاله وی۔ که د هغهٔ د لاسه زخم وینی اوکه د نخم مرهم (په هرحال کښے خوشال وی) د هغه د در فقیران۔ بادشاهئ نه نفرت کوی۔ د هغهٔ د دیدار په طمع فقیرئ کښے صابره وی۔ د بادب د هغهٔ په مینه کښے د عمرونو شراب څکی + که تارخهٔ په لکی هم ساه بنده کړی۔ (عزنهٔ کوی) څوک چه صرف د مرهم طلبګار وی نخم نهٔ برداشت کوی هغه حقیقی طلبګار نهٔ دے۔ حقیقی طلبګار خو د وصل په طمع په تکلیفونو صبر کوی۔ فریاد نهٔ کوی)۔

د یو حقیقی طالب قول دے ؎

اگرچه دورافتادم بدین امید خورسندم ع که شاید دست من بار دیگر جانان من گیرد

(اګرچه اوس لرے پریوتم خو په دے طمع خوشال یم + چه شاید محبوب م بیا د لاسه اونیسی خان ته م راکاږی)۔ حقیقی طالب ته که زړه له

اوویلے شی چہ دوزخی ئے بیا م دِ اللہ دِ رحمت نہ مایوسہ کیږی نہ اوکہ زہ حُلہ ورتہ اوویلے شی جنتی ئے بیا م ناراستہ کیږی نہ عبادت پریدی نہ۔ بلکہ دِ شکر ئے پہ طور ئے ہمت نور ہم زیات شی۔ دِ ھغے دربار خو دا حال دے ہ

اے برادر بے نہایت درگھے است کہ ھرچہ بہ وے می رسی بروئے مُ ایست (اے سورہ دِ ھغے دربار دِ درجاتو خُہ انتہا نشتہ۔ کوے درجے تہ چہ اور رسیدے پہ ھغے بس کوہ مہ نور پہ بڑہ دِ تلو کوشش جاری ساتہ۔ درجات دِ قرب خداوندی لامحدود دی۔ دا منازل دِ ختمیدو نہ دی۔

دیو سړی متعلق لیکلی شوی دی۔ چہ ھرہ ورز بہ ورتہ دا۔ آواز را تلو چہ تہ بہ کافر مرے۔ چہ دِ یر حُلہ ورتہ دا سے آوازاوشو نو خپل پیرتہ ئے حال اوکے۔ ھغہ ورتہ اوکے خفہ کیږہ مہ۔ دا د شنام محبت دے (دِ مینے کنځل) دِ مینے چیرچار۔ دِ محبوبانو عادت دے۔ چہ عاشقان تنگوی۔ قسم قسم از میبنتونہ پہ کوی۔ چا بنہ ویلی دی ہ

بدم گفتی وخورسندم عفاک اللہ نکوگفتی + جواب تلخ می زیبد لبِ لعل شکرخارا

(بد دِ را تہ اوکے خوزہ پہ خوشالیم۔ خدائے دِ معاف کړہ دِ یر بنہ دِ اوکے۔ دِ سر وخوږ وشونہ وسہ ترخے خبرے خوند کوی) دا یو قسم امتحان دے چہ پہ عاشق کیږی۔ لیکن دا ھلہ برداشت کیدے شی چہ حقیقی او پورہ پورہ مینہ وی۔

بس دِ دے محبت حاصلولو کوشش اوکړئ۔ او دا پہ دوہ کارہ حاصلیږی۔ دِ ذکر کثرت او دِ اھلِ اللہ صحبت۔ خدائی خلقو سرہ کیناستو باندے۔ دِ غیر اللہ محبت دِ زړہ نہ اوځی او دِ ھغے پہ ځائے دِ اللہ ورسول محبت ځائے نیسی۔ او دا حالت ئے شی ہ

(۱) عشق آن شعله ست کوچون برفروخت
هرکه جز معشوق باقی جمله سوخت
(۲) تیغ لا در قتلِ غیرِحق براند
ورنگر آخر که بعد لا چه ماند
(۳) ماند الا الله و باقی جمله رفت
مرحبا اے عشق شرکت سوخت رفت

(۱) عشق یو داسے لمبه دَه کله چه دابله شی + نو معشوقے نه علاوه نور هرڅه اوسیږی۔
(۲) دِ لا په توره دِ الله نرغیو هرڅه قتل کړه + بیا اوکوره چه دِ لا نه پس څه پاتے شو۔
(۳) الا الله یعنی یوالله پاتے شو نور هرڅه لاړو فنا شو + شاباش عشقه خالص توحید پاتے شو شرکت او سوزیدو۔

په دے تقریر دِ سلوک ترتیب په دے طریقه معلوم شو۔ چه اول څوک دِ الله عاشق اولټوه هغهٔ سره دیره شه۔ خپل ځان ورته حواله کړه۔ دِ هغهٔ په هدایت کار شروع کړه۔ او دِ ثمراتو طمعهٔ مهٔ کوه که خپله درته څهٔ محسوس شو نو هغه دِ الله فضل اوګڼه۔ عبادت دِ لذت دِ پاره مهٔ کوه۔ که لذت پکښے نهٔ وی نو عبادت ترک کوه مَه۔ بلکه نور ئے زیات کړه۔ ذکر دیر دیر کوه۔ دِ قرآن شریف۔ تلاوت هم ذکر دے۔ که تلاوت په صحیح طریقه نشے کولے۔ نو ترجمهٔ دِ صحیح ادا خپل پوره پوره کوشش کوه۔ که پوره کامیاب نشوے هم زړهٔ مات کیږه مَه۔ کوشش جاری اوساته۔ دغه شان هم قبلیږی په الفاظو خو به کرفت هغه چا سره کیږی چه صحیح کولے ئے شی۔ خو دِ صحیح کولو کوشش نهٔ کوی۔ او څوک چه پوره کوشش نه پس هم په صحیح ادا قادر نهٔ وی هغهٔ سره کرفت نشته اصل لهونه خو به دِ زړهٔ کیږی۔ که یو شاګرد سړے په صحیح ادا قادر نهٔ وی

غلط ئے وائی خو په اخلاص ئے وائی - نو د الله سره د هغے صحیح ادا
نه په زړه درځے نو یات مقبول دے - کوم چه د ریا او خپل کمال څرګندولو
د پاره لوستے شی -

په دے موقع ماته د یو سړی واقعه رایاده شوه - د هغه ماسره
تعلق وو (یعنی بیعت وو) یو ورځ ئے راته اووے زهٔ م غواړی
چه د چا فقیر نه بیعت شم - زهٔ په دے خبره خفه شوم او نصیحت م
ورته اوکړو - په خبره م پوهه کړو چه دلته ستا فائده دَه نقصان
د نشته هغه غلے شو - بس خبره ختم شوه - څو ورځے پس م ورته
په توقه پټوس اوکړو چا فقیر نه بیعت شوے - هغه راته په جواب
کښے اووے - بس اوس خو م د تاسلی نیولی دَه - دا په اخلاص د تا
په ما باندے د زړګونو حضرت - حضور او جناب نه خو ښ اولګیدو
ځکه چه په ساده ګئ او اخلاص وو - په دے موقع د جمله معترضه
په طور یو بله خبره هم ضروری ګڼم - هغه داچه اصلاح وترتیب
څنګه چه په نرمئ او شفقت کیږی - دغه شان کله کله اصلاح د پاره
سختی هم ضروری وی - دغه وجهه دَه چه ځنه بزرګان تیز مزاجه
مشهور دی - په دے بنهٔ پوهه شئ چه هغوئ سخت مزاجه هرګز نهٔ
وو - خبره دا دَه چه ځنه وخت کښے ځنه کسان که په نرمئ پوهه کوے
نو اثر په نهٔ کیږی او نهٔ ورته دیره موده یاده پاتے کیږی لیکن م
دا خبره که ورته په سختئ اوکړے نو د کاږی کرښه شی نو په
دے سړی زما د سختئ دا اثر اوشو چه هغه تردد او پریشانی ئے
ختم شوه او ستړکے ئے اوغړیدے - غرض داچه کوم ځائے په صحیح
ادا څوک قادر نهٔ وی هلته غلط وبل هم خوابنهٔ لګی لکه د حضرت
موسیٰ علیه السلام د زمانے د یو شپون کی قصه مشهوره دَه - چه په

زمکہ نامست وو پہ ویرہ مینہ ئے پہ جوش کښے اللہ سرہ خبرے کولے

تو کجائی تا شوم من چاکرت
چارقت دوزم کنم شانہ سرت

(یا اللہ تہ چرتہ ئے چہ زہ دِ خدمت اوکړم۔ شلیدلے جامے درتہ۔ اوکنډم او سر درتہ کومنز کړم)۔ او نورے داسے خبرے۔ اتفاقاً موسیٰ علیہ السلام پہ دے لارچرتہ تلو۔ داخبرے ئے واوریدے۔ وہ نہ ئے تپوس اوکړو۔ داخبرے چاسرہ کوے۔ ھغہ وہ تہ اووے ھغے اللہ سرہ چہ دا زمکہ او اسمانونہ ئے پیدا کړی دی۔ موسیٰ علیہ السلام وہ تہ اووے۔ چپ شہ کم عقلہ خدائے دِ چا خدمت تہ۔ محتاج نہ دے۔ داخو تا دِیرے خرابے خبرے اوکړے۔ شپونکے دِویرے او رپیدو او دِیر خفہ شو۔ موسیٰ خو ھغہ تہ خبرے اوکړے او پہ مخہ لاړو۔ وحی پہ راغلہ چہ اے موسیٰ دا دِ څہ اوکړہ۔ حُما بندہ دِ ما نہ جدا کړو۔ ھغہ ماسہ پہ مینہ خبرے کولے او تا منع کړو دا واقعہ مولانا ئے رومؒ مثنوی کښے داسے بیانوی ؎

(۱) این نمط بے ہودہ میگفت آن شبان + گفت موسیٰؑ باکیست گفتت اے فلان
(۲) گفت با آن کس کہ مارا آفرید + این زمین وچرخ ازاوآمد پدید
(۳) گفت موسیٰ ؑ ئے خیرہ سرشدی + خود مسلمان ناشدہ کافر شدی
(۴) گفت اے موسیٰ دہنم دوختی + وز پشیمانی تو جانم سوختی
(۵) وحی آمد سوئے موسیٰ از خدا + بندۂ مارا چرا کردی جدا
(۶) تو برائے وصل کردن آمدی + نے برائے فصل کردن آمدی
(۷) (ھغے شپونکی دغہ شان فضول خبرے کولے + موسیٰؑ تر تپوس اوکړو دا خبرے چاسرہ کوے۔ (۲) ھغہ وہ تہ اووے ھغہ ذات۔ سرہ چہ موبنز ئے پیدا کړی یو او دا زمکہ او اسمانونہ ئے پیدا کړی

Scanned with CamScanner

دی - (۳) موسیٰؑ وړته اووے ہائے افسوس تہٗ خو برباد شوے - تہٗ خو مسلمان پاتے نشوے کافر شوے - (۴) شپونکی وړته اووے اے موسیٰؑ تا خو خُما خوله بنده کړه - او بنپیمانئ باندے دِ خُما زړهٗ اوسوو - (۵) په موسیٰؑ دِ الله نه وحی راغله چه اے موسیٰ خُما بنده دِ ماته ولے جدا کړو (۶) تهٗ خو دے دِ پاره راغلے ئے چه خُما بندیان ماته راوړسوے - دے دِ پاره نهٗ ئے چه ماته ئے جدا کړے -

موسیٰؑ دیر پریشان شو په منډه وړغلو شپونکی نه ئے معافی اوغوښته - شپونکے په بل کیف کښے وو موسیٰؑ ته ئے اووے - دا سے کوزار دِ راکړے دے چه دیر لوے دِ اوړسولم آفرین دِ تا په مټو آفرین بردست وبازو ئے تو - دے واقعے نه به درته معلومه شوی وی چه که په ناپوهئ دِ چا دِ خولے نه غلط خبره اووځی خوچه په زړهٗ کښے ئے مینه وی او خبره ئے په مینه او په اخلاص کړی وی نو الله تعالے الفاظو ته نهٗ کوړی دِ بنده زړهٗ ته کوړی مینے او اخلاص ته کوړی - لیکن دا رعایت هغه چاته دے چه کوشش نه پس هم په صحیح ادا قادر نهٗ وی - او څوک چه کوشش نهٗ کوی سره دِ قدرته ئے غلط وائی هغه ګنګار دی -

دیره دِ افسوس خبره دَه - نن صبا دِ الفاظو دِ صحت هم څوک کوشش نهٗ کوی اکثر طالبان درسِ نظامی ختم کړی عالم شی - خو قرآن صحیح لوستل نړده نهٗ کړی - دِ هغوئ داخیال وی چه په کتاب کښے مودِ حروفو مخارج اوصفات اولوستو داکافی دی دِ دے نه دِ نړ یاتی ضرورت نشته - حالانکه داخیال غلط دے - قرآن شریف تر هغے صحیح نشی لوستے تر څو چه ئے استاذ نه زده نکړی - او پوره مشق ئے اونکړی - صحیح ادا صرف په کتاب لوستو نهٗ کیږی - دِ

ځنې خلقو داخیال دے چې موږ د قرأت مشق نه دے کړے نو موږ د پاره غلط لوستل جائز دی۔ او موږ معذور یو (حضرت فرمائی) لیکن دا عذر داسے دے لکه چې مایو طالب نه او وے حاجی جی را اوغواړه۔ هغه راته حافظ جی راوستو ماورته او وے احمقه ماخو درته ۔ حاجی جی یاد کړے وو۔ هغه راته په جواب کښے او وے ما د قرأت مشق نه دے کړے د دواړو په فرق پوهے نه شوم ۔ نو آیا داعذر د قبلیدو دے ۔ نو څنګه چې هغه په لږ فکر دے غلطئ نه پیځ۔ کیدے شو۔ دغه شان دوئ م په لږ محنت غلطیونه پیځ کیدے شی داخو هسے بهانے دی ۔ اصل خبره دادّه چې د الله محبت او د الله ویره په زړونو کښے نشته۔ که نن اعلان اوشو چې څوک په قرأت کښے بنه قرآن واورووی ۔ هغه ته پنځه سوپئ انعام ورکولے شی ۔ نو اوبه کورئ چې نن به پوله د قرأت مشق شروع کړی او څه لږ ډیر چې زده کړی نو انعام حاصلولو ته به روان شی۔ لیکن افسوس دا دے چې د الله رضا حاصلولو د پاره داخواهش او جوش نشته ۔ داخو کهے وو د زده کوونکو اوس زیاتے واورئ د اصلاح کوونکو ۔ چې څوک بالکل په زده کولو قادر نه وی هغه م مجبوروی او وائی چې د مخارجو د صحت نه بغیر د قرآن ویلو هیڅ فائده نشته ۔

مشهوره ده چې یو پیر صاحب د خپل یو باندیسی موږید نه پتوس اوکړو چې د روژے نیت درښئ او کړه هسے په څان نهږے تیروے هغه ته د نیت عربی الفاظ نه ورتلل ۔ نو ورته ئے او وے ماته خو نیت نه راځئ ۔ پیر صاحب ورته اوفرمائیل روژه بے نیته نه کیږی ۔ دا سے وایه ۔ وَبِصَوْمِ غَدٍ نَوَيْتُ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ ۔ هغے عاجز

Scanned with CamScanner

دا الفاظ چرته اوریدلی وو- نه ئے په شبه اوریده یادئے نه کړے
شو نتیجه دا شوه چه صبا ئے روژه او نه نیوه - صباام هغه پیرصاحب
تر بیا پوښتنه اوکړو- نو په جواب کښے ئے ورته اووے - بے نیته-
روژه کیږی نه او نیت ماته نه راځی - نو نن زم روژه نه ده
نیولی -

غرض زم دادے چه څوک صحیح کولے شی - هغه باندے صحیح
کول ضروری دی - او چه څوک ئے په صحت قادر نه وی هغه
معذور دی - هرڅنګه چه ویلے شی جائز دے او ثواب ئے پوره کیږی
خُنه خلق وائی حُما آواز ښکته نه دے - زه قرائت څُکه نه کړه کوم
داسے کسانو ته یاد ساتل پکار دی چه ښائسته آواز دا نه دے - چه
په وزن وزن لکه د غزلو او ویلے شی - بلکه ښائسته اواز دادے
چه اوریدونکے دا محسوس کړی چه د دۀ په زړۀ د یولوئے عظمت
والا عظمت خوړ دے - خبره د یره لرے وته - اصل مقصود زم داوو
چه هرکله قرآن شریف داسے معظم او مشرف دے نو په کومه میاشت
کښے چه دا قرآن شریف نازل شوے دے هغه به ضرور د د یر عزت
او شرف والا وی خامی بیا دا آخری لس ورځے چه پکښے لیلة القدر
دَه - څُکه چه هرکله د رمضان ټوله میاشت د نزول قرآن په وجه
مبارکه شوه - نو د رمضان خامی هغه حصه په کومه کښے چه د نزول
دا واقعه شوی دَه هغه به ضرور د نورو حصونه زیاته برکتی
وی - څُکه چه په نوره میاشت کښے برکت صرف د دے حصے په
وجه راغلے دے - نو هرکله چه د قرآن شریف نزول په لیلة القدر
کښے شویدے - او لیلة القدر څنګه چه د احادیثو نه ثابته دَه د رمضان
په آخرو لسو شپو کښے دَه - نو ضروری شوه چه دا آخره عشره د

زیاته افضله وی۔

نو دِ دے آخرے عشرے یو فضیلت خو دا شو چه قرآن شریف پکښے نازل شوے دے۔ بل فضیلت ئے دادے چه په دے لسو شپوکښے یو شپه هغه م دَه دِ کومے متعلق چه الله تعالے فرمائی۔ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ۔ (لیلة القدر دِ زرو میاشتو نه بهتره دَه) دِ احادیثو نه ثابته دَه چه لیلة القدر دِ آخرے عشرے په تاکو شپو کښے دَه۔ (یعنی ۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹) او په هُغه احادیثو کښے مطلق آخره عشره راغلی دَه۔ دِ تاکو قید پکښے نشته۔ دواړه حدیثونه چه یوځائے شی نو معلومیږی چه اکثر په تاکو شپو کښے وی۔ لیکن کله کله په ناتاکو کښے هم وی۔ نو مُنکړه کسانو ته خو پکار دی چه دا آخرے لس شپے تولے په عبادت روږے کړی۔ یعنی دِ نورو شپونه پکښے زیات عبادت اوکړی۔ کمزورو ته پکار دی چه کم از کم تاکو شپو کښے دِ چنل عادت نه زیات عبادت اوکړی۔ اوس په تاکوشپو کښے یوه خو تیره شوه (دا تقریر په ۲۱ رمضان شوے دے) نو دِ ۲۱ شپه خو تیره شوه باقی څلور پاتے دی۔ په دے کښے همت کول پکار دی۔ دا داسے دِ خیر و برکت شپے دی چه دِ دے دِ برکتونو نه محروم پاتے کیدل غټه بد بختی دَه۔ بلکه حدیث شریف کښے دی مَنْ حُرِّمَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فَقَدْ حُرِّمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ (څوک چه دِ لیلة القدر دِ برکت نه محروم پاتے شو داسے دے لکه چه دِ هر خیر نه محروم شو) دِ هُغه خلقو دا خیال دے چه دا شپه تولے په عبادت روږول پکار دی۔ که څوک تولے شپه ویښ نشی پاتے کیدے نو بیا ئے هیڅ۔ خیر نشته۔ دا خیال غلط دے۔ چا چه دِ شپے اکثره حصه په عبادت تیره کړه هغه م دِ لیلة القدر فضیلت حاصل کړو اونه وایم تولے

Scanned with CamScanner

شپه سره نزول څه ګران دی - رمضان خو په کال کښے یو ځل راځی
او څه پته لګی چه بل رمضان پورے به څوک ژوندی او څوک به
رخصت شوی وی - په تیر رمضان کښے ډیر داسے کسان موږ سره
وو چه اوس نشته - داسے غټ نعمت د پاره دوه ځلور شپے ویښے
تیرول هیڅ ګران کار نه دے - که څوک ټوله شپه ویښ نشی پاتے
کیدے - نو د شپے نهایته حصه ویښ پاتے کیدل او عبادت کول خو
ضرور پکار دی - او بنه به دا وی چه دا د شپے آخری حصه وی
(یعنی د شپے اوله حصه کښے لږ آرام اوکړی چه عبادت ته تازه شی بیا
پاسی او تر صباخته باقی وخت په عبادت تیرکړی - ځکه چه اول
وخت کښے معده د خوراک نه وکه وی نو بدن کښے سستی وی او عبادت
کښے زړه نه لګی - آخره شپه کښے د خوراک ځمار ختم شوے وی - او خاموشی
وی - سکون وی نو په دعا کښے زړه لګی او عبادت په اطمینان سره کولے شی
او په دے کښے ټوله شپه یو شان دی (یعنی په آخره شپه کښے عبادت
کښے زړه لګیدلو او توجه برابریدلو کښے ټوله شپه یو شان دی - د لیلة القدر
څه خصوصیت نشته - نو ل عمر د شپے په د آخره حصه کښے بنديانو ته د الله
تعالے خاص رحمت متوجه کیږی - ځکه یو عارف ویلی دی - مَنْ لَّمْ يَعْرِفْ
قَدْرَ اللَّيْلَةِ لَمْ يَعْرِفْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ (چاچه د شپے قدر او نه پیژندو
یعنی څوک چه د شپے عبادت نه کوی هغه لیلة القدر نشی پیژندے) ځکه
چه لیلة القدر خو په شپو کښے یوه شپه ده - نو کوم خوش قسمته چه هره شپه
عبادت کوی - دا شپه م پکښے راشی - او څوک چه د شپے قدر نه کوی
غافل وی د شپے عبادت نه کوی نو هغه په لیلة القدر کښے م اوده پاتے
شی - او د دے غټ نعمت نه محروم شی - ځکه څنه عارفانو ویلی دی -
مَنْ اَحْيَى اللَّيَالِيَ كُلَّهَا اَدْرَكَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ - (څوک چه هره شپه په عبادت

روژه وی - ټول کال دِ شپے عبادت کوی - لیلة القدر به بیا موهی) -
ظاهره دغه څوک ټول کال دِ شپے عبادت کوی - دا شپه به هم پکښے راشی
په بوستان کښے یو قصه دَه - چه یو شهزاده ته دِ شپے په یو ځائے
کښے یو قیمتی لعل ورک شو - هغۀ حکم اوکړو چه دِ دے ځائے ټول کانړی
شکے راغونډ کړئ چا ورته اووے - چه په ټولو څۀ کوے - هغۀ ورته
اووے چه ټول راغونډ شی نو هغه لعل به پکښے راشی - که څۀ پاتے
شی ممکنه دَه چه لعل هغے کښے پاتے شی - چا دِیر ښه ویلی دی -

اے خواجه چه پرسی ز شبِ قدر نشانی
هر شب شبِ قدر است اگر قدر بدانی

(اے صاحبه دِ شبِ قدر نښے څۀ پوښے - هره شپه شب قدر دے
که تاسے قدر اوپیژندو -) لیکن دومره همت کسان اوس چرته دی چه
دِ دے بیش قیمته لعل دِ پاره دِ ټول کال شپے روژے کړی - لیکن دومره
همت خو ضرور پکار دے چه دِ رمضان دِ آخرلسو شپو کښے اکثره حصه
عبادت اوکړے شی - ځکه چه دے شپو کښے دِ شبِ قدر غالب گمان
دے - او که څوک دِیر کمزورے یا بے همته وی - نو دِ اوویشتم شپه
خو ضرور روژه ول پکار دی ځکه چه دا شپه اکثر شب قدر وی
(حضرت فرمائی) اوزۀ وایم که اتفاقاً دا شپه شبِ قدر نۀ وی هم چه
څوک ئے په دے نیت په عبادت ویښه تیره کړی - نو انشاءالله هغه
رحیم وکریم بادشاه به ورته دِ شبِ قدر ثواب ورکړی او دا زۀ
دِ خانه نۀ وایم بنیادئے په احادیشو کښے شته - نبی کریم صلی الله علیه
وسلم فرمائیلی دی - اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّاتِ (دِ اعمالو دار مدار په نیت
دے) ممکنه دَه چه په دے عامه قاعده دِ چا تسلّی اوښی - نو یو بل
حدیث شریف دے - اَلصَّوْمُ یَوْمَ تَصُوْمُوْنَ وَالْفِطْرُ یَوْمَ تُفْطِرُوْنَ

وَالْاَضحٰی یَوْمَ تَفَجَّرُنَ - (روژه په هغه ورځ دَه په کومه چه ستاسو د رمضان یقین اوشی - او اختر په هغه ورځ دے په کومه ورځ چه ستاسو د اختر یقین اوشی اولوئے اختر په هغه ورځ دے په کومه ورځ چه تاسو د اختر په یقین قربانئ اوکړئ - نو کله بیا روستو معلومه شی چه ستاسو دا درے واړه تاریخونه غلط وو نو پریشان کیږئ مه - ستاسو روژے او اختر او قربانی درے واړه هم په دے تاریخونو الله تعالے ته قبول دی - ضائع کیږی نه - نو دغه شان زهٔ وایم که د رمضان د اوویشتمه شپه چا د شب قدر په نیت په عبادت - ویښه ستیره کړه او واقعه کښے دا شب قدر نهٔ وَه هم هغهٔ ته به - الله تعالے د شب قدر پوره اجر ورکړی - نو د دے وضاحت نه پس هم که څوک همت نهٔ کوی نو هغه به ډیر کم نصیبه وی - دا د آخرے عشرے دویم فضیلت وو -

(۳) دریم فضیلت ئے دادے چه په دے آخره عشره کښے اعتکاف سنت دے اوکیدے شی چه دا هم د دے دویم فضیلت تتمه وی - لکه څنګه چه څنه مشرانو ویلی دی - چه اعتکاف د شب قدر د فضیلت حاصلولو د پاره دے - او ممکنه دَه چه دا د اعتکاف مشروع کیدو یو زیاتی فضیلت شی - چه د اعتکاف په برکت د شب قدر فضیلت - حاصلیدے شی نور حکمتونه به ئے هم وی - خو خیر زمونږ د حکمتونو سره څهٔ کار دے - موږ ته خو کار کول دی او حکم منل دی - داعقلی علوم نهٔ دی چه په غور او سوچ ئے مصلحتونه معلوم کړے شی - دا طلعامی علوم دی - او د الله تعالے انعام او احسان دے چا ته چه ئے ورکړی - نو ترڅو چه شرح صدر نهٔ وی شوے یو خاص حکمت متعین کول نهٔ دی پکار -

Scanned with CamScanner

په اعتکاف کښے دوه درجے دی یو درجه کمال دَه- هغه داچه د
رمضان په شلم تاریخ د نمر پریوتو نه مخکښے اعتکاف شروع کړی او
د اختر د میاشتے تر ښکاره کیدو ئے جاری اوساتی داپوره لس ورځے
کامل اعتکاف دے- نو داخو اوس ممکن نه دے څکه چه ن یو ویشتم[21]
تاریخ دے دویم داچه پوره لس ورځے اعتکاف اونشی څه کم
اوشی- خو دا نه ده پکار چه څوک پوره اونکړے شی نو ناقص
هم ورپسے پریدی - نه- څومره چه ممکن وی هغه پکار دے- که
لس ورځے نه وی نهه- که نهه هم نه وی اته یا اووه څومره
چه ممکن وی- دا فضیلت پریښول نه دی پکار د اعتکاف یو
فضیلت خو د شب قدر مونډل دی- دویم فضیلت ئے دا دے چه
معتکف ته په دے ورځو کښے هر وخت دومره ثواب ورکولے شی
څومره چه مونږ ګذار ته په مانځه کښے د مشغولیت په وخت ورکولے
شی- یعنی د معتکف قول وخت په مانځه کښے مشغول شمیرلے شی -
هغه ورکښے څه قدرے خوب کوی که خوراک کوی که بل څه ضروری
کار کوی دا وخت ئے قول په مانځه کښے حسابیږی او دومره ثواب
ورکولے شی- د دے دلیل دا حدیث شریف دے چه- لَا یَزَالُ
اَحَدُکُمْ فِی الصَّلٰوۃِ مَا انْتَظَرَ الصَّلٰوۃَ (یعنی څوک چه جمات کښے د
امامتیٔ د مانځه په انتظار ناست وی- هغه ته د انتظار د دے
وخت هم دومره ثواب ورکولے شی لکه چه دا قول وخت ئے مونږ
کړے وی- ظاهره دَه چه معتکف چه په جمات کښے ناست وی- نو د
یو مونځ نه پس د بل وخت د مونځ انتظار کوی- که خوب کوی
هم په دے نیت چه بل مونځ ته تازه شم- که څه ذکر یا تلاوت
کوی هم په دے خیال چه د بل مونځ تر وخته به دا کار کوم- غرض

داچه ناسته ولاړه - وینبه او خوب هرحرکت ئے دِ مانځه په حکم کښے لیکلے شی - او دے تفصیل نه دِ دے حدیث شریف وضاحت هم اوشو چه ارشاد دے - اَلْمُعْتَكِفُ يَعْتَكِفُ الذُّنُوْبَ كُلَّهَا وَ يُجْزٰى لَهُ الْحَسَنَاتِ كُلَّهَا (معتکف دِ ټولو ګناهونو نه بچ شی - او ټولے نیکئ ورته لیکلے شی) دلته الف لام دِ استغراق دِ پاره دے - ظاهر داسے بنکاری چه معتکف خوچه خاصے نیکئ کوی مثلاً سرو ژړه یا مونځ یا تلاوت او ذکر وغیره نو ټولے نیکئ ورته لیکل خو دِ مشاهدے خلاف دی - لیکن خبره - داسے دَه چه کوی خو به خاص نیک کار وی نه لیکن ثواب دِ ټولو نیکیو ورکولے شی - تشریح ئے دا دَه - چه هرکله دِ مانځه انتظار کوی نو دا دِ انتظار وخت دِ مانځه په حکم کښے دے - نو دِ معتکف ټول وخت په مانځه مشغول شو - او مونځ اُمُّ الْعِبَادَات دے - نو داسے شوه لکه چه معتکف ټول عبادتونه کوی - نو دِ ټولو نیکیو ثواب به ورکولے شی - دِ دے نه غټ فضیلت به بل څه وی - دا ټول - تقریر په دے بنا دے چه دِ آخرے عشرے یو فضیلت دا هم دے چه په دے کښے اعتکاف مشروع دے - او دا هم کیدے شی چه په اعتکاف کښے دا فضیلت دِ آخرے عشرے په وجه راغلے وی چه دا وخت مبارک دے دِ قرآن شریف دِ نزول په وجه او په مبارک وخت کښے دِ عبادت ثواب زیات وی - لیکن داخبره زمونږ په مطلب څه خراب اثر نه اچوی - ځکه چه وخت کښے برکت کله ذاتی وی او کله ورکښے دِ بل مبارک څیز دِ وجود په وجه راغلے وی - بهرحال اعتکاف کښے فضیلت دِ آخرے عشرے په وجه راغلے وی او که آخرۍ عشره کښے دِ اعتکاف په وجه دِ اعتکاف فضیلت خو ثابت دے - مونږ ته دا فضیلت حاصلول پکار دی - دِ دے لپاره ضرورت نشته چه دا فضیلت ورکښے په څه

وجهه راغلے دے - دے سړے زموبز څخه کار دے - موبز ته خو دا فضیلت حاصلول پکار دی په هرڅه وجهه چه ورکښے راغلے وی - چاڅخه ښه ویلی دی -

بخت اگر مدد کند دامنش آورم بکف ور گریکشد زهے طرب ورېکشم زهے شرف

(که بخت رم مدد اوکړو لمن به ئے په لاس راشی - که نه ئے څانته را- ښکلم م دِ خوشالئ خبره ده - او که ئے څانته را ښکلو م کامیابی ده) مطلب خو قرب دے که هغه را ښکلم او که ملګرا ښکلو یو خبره ده — موبز ته م دِ اعتکاف دا فضیلت حاصلول پکار دی - فضیلت خو ئے په حاصلولو ثابت دے - اوس دا فضیلت ورکښے دِ آخرے عشرے په وجهه راغلے وی - که آخری عشره کښے دِ اعتکاف په وجهه - دے سړے نه موبز څخه کار نشته -

که یو بیمار ته دِ څلورو توکو نه جوړه دارو فائده ورکوی - نو هغه ته دارو خوړل او فائده حاصلول پکار دی - دے لپاره کښے ورته هیڅ خیر نشته - چه دِ دے دارو کوم جز کوم جز ته - امداد ورکوی او اصل مفید جز کوم یو دے - دا دِ طبیب کار دے دِ مریض کار نه دے - مریض ته خو دارو خوړل او مرض نه ځان خلاصول پکار دی - دالپاره دِ دے فن دِ ماهرانو کار دے ؎

کارکن کار بگذر از گفتار کاندرین راه کار باید کار

قدم باید اندر طریقت نه دم که اصلے نه دارد دَم بے قدم

(کار کوه کار خبرے پریده - دِ طریقت په لار کښے صرف کار پکار یږی دِ طریقت په لار کښے دِ عمل ضرورت دے دِ خبرو ضرورت نشته چه بے عمله تشے خبرے هیڅ فائده نه ورکوی) -

بیا دا بیان خو خالص دِ اخرے عشرے دِ فضیلت متعلق وو - اوس

یو بل اهم مضمون بیانیږی چه د رمضان سره متعلق دے - حدیث شریف کښے راغلی دی چه یوه ورځ رسول کریم صلے الله علیه وسلم کښ واصحابو سره ناست وو - او ئے فرمائیل - رَغِمَ اَنْفُهٗ - رَغِمَ اَنْفُهٗ - رَغِمَ اَنْفُهٗ (پونړه دئے خړه شی یعنی ذلیل د شی) - داجمله ئے درے ځله اوفرمائیله اصحابؓ حیران او پریشان شو چه دا بنیره ئے چاته اوکړه - عرض ئے - اوکړو یا رسول الله دا بد بخته څوک دے - حضور صلے الله علیه - وسلم اوفرمائیل - یو هغه بنده چه په خپل ژوند ئے بوډا کان مور پلار دواړه یا په دواړو کښے یو بیا مونتو - او د هغوئ په رضا ساتلو او د هغوئ د خدمت په برکت ئے جنت او نه کټلو - رسول الله صلے الله علیه وسلم د یو بوډا قید ځکه اولګولو - چه مور پلار ئے خپله تکړه وی - نو د اولاد خدمت ته ئے ډیر ضرورت نه وی او د هغوئ په خدمت څوک ډیر تنګیږی هم نه ځکه چه اول خوئے د اولاد خدمت ته حاجت کم وی - بل که اولاد ئے لږ خدمت اوکړی نو هغوئ په ډیر خوشالیږی - نو رضا ساتل ئے اسان وی - بوډاګان چه خپله کمزورے شی نو خدمت ته ئے حاجت هم ډیر وی او خپله کار نشی کولے نو ړه ئے تنګ وی - او ټول طاقتونه ئے کمزورے شوی وی نو حوصله ئے هم کمه وی - خپله کار نشی کولے او د بل کار ئے خوښیږی نه - نو د خدمت حاجت ئے هم ډیر وی - اوکه څوک ئے بنهٔ خدمت اوکړی هم خوشالیږی ډیر کم - نو راضی ساتل ئے ګران وی - د دا سے مور پلار خدمت کول ډیر ضرورے دی - او د هغوئ د زړهٔ تنګئ په وجه تر څنګه کیدل او نافرمانی کول سخت ګناه دَه - لیکن اکثر خلق د بوډاګانو په خدمت تنګیږی - ځکه چه خپل وړوکوالے ورته یاد نهٔ وی - او

Scanned with CamScanner

چې احتیاج تر هیر وی - چې هغه وخت مور پلار څومره په نیازمنه خوارئ او په مینه محبت لوئے کړی دی - په ځان ئے سخته تیره کړی او اولاد ته ئے ارام رسولے دے -

دا یو هندو قصه مشهوره ده - چې بوډا والی کښے ئے یو وړوکے چل څوئے نه تپوس اوکړو چې بچیه دا پوهے دیوال باندے څه شے ناست دے - څوئے ئے اول خو زړهٔ کښے په دے تپوس خفه شو چې دے فضول تپوس ته ئے څه حاجت وو - خیر خو په زړهٔ ئے تیره کړه وړته ئے اووے بابا کارغهٔ دے - څه ساعت پس تر پلار بیا هم هغه تپوس اوکړو - نو دهٔ وړته په دې قهر اووے - ما زغهٔ دې خراب شوی دی نهٔ چله په قلار کینے نه بل آرام ته پریدے - اوس دې دتر اووے چې کارغهٔ دے کارغهٔ - غلے کینه - هندو منشی راواوغوښتو وړته ئے اووے چې دې فلانی سن وهئ کها ته راواوباسه - په هغے کښے ئے څوئے ته لیکلی او ښیل چې وړوکوالی کښے تا یو څل مانه دې یوے خبرے سل څله تپوس کړے وو - او ما هر څل په مینه جواب درکړے وو - او ته په دویم تپوس داسے بے خوده شوے - که څوک اووائی - چې دې بوډا کانو په خبرو تنکیدل یو طبعی خبره ده که په دے هم گرفت کیږی خوگرانه به شی - دې دے جواب دادے چې په طبعی خبرو الله تعالے گرفت نهٔ کوی - گرفت په اختیاری خبرو کیږی - قرآن شریف څله دې دے فیصله کړی ده - دې مور پلار دې حقونو په ذکر کښے ارشاد دے - رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ إِنْ تَكُونُوا صَالِحِينَ فَإِنَّهُ كَانَ لِلْأَوَّابِينَ غَفُورًا ط (ستاسو رب دې ستاسو دې زړونو په حال ښهٔ خبر دے که ستاسو نیت نیک وی نو هغه رجوع کوونکی معاف کوی) - (مطلب دا چې که دې بوډا مور پلار

د هر وخت تنګ مزاجئ نه ستاسو په ښه ونو کښے څه خفګان راشی نو
دا خو طبیعی شے دے - او که په دا سے وخت کښے مو د خولے نه څه سپ
خبره اووځی نو معذور ئی - لیکن الله تعالے خو ستاسو ښه ونو ته
ګورې - که په ښه کښے مو مور پلار قدر عزت وی او نابعداری
او فرمانبرداری دے باندے غالبه وی - او دا سے کله کله غلطئ -
باندے بښیمانه ئی او الله نه معافی غواړئ نو الله تعالے ډیر -
معاف کونکے دے - هغه به مو معاف کړی - په ظاهره دلته دا آیت
بے جوړ معلومیږی - لیکن د پورتنی تقریر نه به ئے په مطلب پوهه
شوی ئ - او که څوک فکر او کړی نو م د دا سے خبرو نه معلومیږی
چه قرآن شریف د الله کلام دے چه د هر سے خبرے پکښے دا سے پټے -
پټے ګوشے اخستی شوی دی چه د بنیادم په کلام کښے د دا سے -
باریکیو خیال ساتل ممکن نه وی - د غه شان د قران شریف ټول
آیتونه خپلو کښے مربوط دی - خو افسوس دا دے چه اکثر خلق ئے
هسے سرسری تلاوت کوی - د پوهے کوشش نه کوی - په حدیث
شریف کښے د وړ ښئ جلے ځائے خو دا یو سړے شو - حضور صلے الله علیه
وسلم او فرمائیل - (۲) بل هغه سړے دے چه ځما نوم واوړی او درود
را باندے اونه وائ - (۳) دریم هغه سړے دے چه د رمضان میاشت
تیره شی - او دے پکښے د خپل مغفرت څه سامان او نکړی - یعنی نیک عمل
او نکړی - او تر دے اونه باسی چه ګناهونه ئے معاف شی - یو بل
حدیث شریف کښے په رمضان کښے د مغفرت متعلق ارشاد دے
هُوَ شَهْرٌ اَوَّلُهٗ رَحْمَةٌ وَ اَوْسَطُهٗ مَغْفِرَةٌ وَ آخِرُهٗ عِتْقٌ مِّنَ النَّارِ
(دا دا سے میاشت دَه چه وړ ښئ لس ورځے ئے د رحمت دی -
مینځ کښے لس ورځے د بخشش دی او آخری لس ورځے ئے د

Scanned with CamScanner

اوس د عذاب نه د خلاصی دی) نو معلومه شوه چه د رمضان شریف
ټوله میاشت د رحمتونو او بخښنو میاشت ده - نو په دے کښے
مسلمان ته د خپل مغفرت سامان تیارول پکار دی - او د مغفرت
حاصلولو طریقه دا ده چه په دے میاشت کښے عبادت (مونځ او
تلاوت) او نور د نیکئ کارونه ډیر ډیر اوکړی - دے نه دا
هم معلومه شوه چه مغفرت حاصلول یو اختیاری کار دے - لکه چه
د الله تعالے ارشاد دے - وَ سَارِعُوْا اِلٰی مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ
عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَ الْاَرْضُ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِی السَّرَّآءِ
وَالضَّرَّآءِ (او وړ منډه کړئ د خپل رب بخښش ته او دا سے جنت
ته چه پلنوالے ئے د اسمانونو او ځمکے برابر دی تیار شوے دے هغے
پرهیزګارو ته چه د الله په لار کښے خرچ کوی په راحته کښے اوپه
سخته کښے) یعنی بخښش حاصل کړئ او د الله جنت ته په منډه
وړ شئ کوم چه پرهیزګارو د پاره تیار شوے دے - نو څوک چه په
دے لار روان شی او د شریعت په مقرر قانون عمل کوی هغه به
مغفرت او جنت حاصل کړی - او څوک چه د الله تعالے په قانون
عمل نه کوی هغه به تر محروم پاتے شی - نو معلومه شوه چه مغفرت
او جنت حاصلول اختیاری کار دے که مونږ اراده او کوشش اوکړو
نو حاصلولے ئے شو - په دے موقع د بے علمه واعظانو یو غلطی
بنکاره کول ضروری ګڼم - دا بے علمه واعظان اکثر خپلو وعظونو
کښے وائی - الله تعالے ډیر بے پروا پادشاه دے - که اوغواړی
نو په یوه نکته بنده او بخښی اوکه اوغواړی نو په یو نکته بنده
د دوزخ ته واچوی - او دا خبره په دا سے طریقه کوی لکه چه (نعوذ
باالله) د الله په دربار کښے څه قاعده قانون نشته خوچه د چا نه

Scanned with CamScanner

په څۀ خبره راځی شی جنت ته ئے واستوی اوچه ډیچانه په څۀ غلطئ خفه شی دوزخ ته ئے واستوی - په دے قسم خبرو ډیر کسان نا امیده شی - عبادت اوریاضت هرڅۀ پریدی - ځکه چه هغوئ سړه داخطره وی - چه خدائے خبر په څۀ نکته راسره کرفت اوشی او ډ تول عمرخواری مو برباده شی - دغه شان ډیر کسان په کناهونو زړه وړ شی او په هرڅۀ چنل ارمانونه پوره کړی - چه څۀ قاعده قانون نشته - په یو نکته ډ عذاب او ثواب دار مدار دے نو مونږ چنل خواهشونه ولے پریدو او خامخا داځو ورزے څوند ولے بے ارامه کړو ممکنه دَه چه زمونږ څۀ خبره ئے خوښه شی او هرڅۀ راته معاف کړی - کوبا ډ الله تعالے بادشاهی ډ شهر - ناپرسان راجوړه دَه - چه ډ هیڅ کار ئے هیڅ قانون نشته -

ډ ناپُرسانه بنار یو قصه مشهوره دَه چه یو استاذ او شاګرد ډ دنیا په سیل وتی وو یو بنار ته اورسیدو - ډ نوم تپوس ئے اوکړو چا وړته او وے چه دے ته ناپُرسانه بنار وایی شی هلته ئے ډ نرخونو تپوس اوکړو - نو معلومه شوه چه ډ غلے نه واخله تر غوړو اوخوړو پورے هر شے شل سیره ډ روپئ وو - شاګرد ئے ډیر خوشال شو چه دلته خو ډیره ارزانی دَه - استاذ ته ئے اووے - سفر ستومانه کړی یو دلته به څو ورځے ډیره شو - غوړ غوړ خیزونه به ډیر ډیر اوخوړو چه بډ تازه شو بیا به نور سفر کوو لیکن استاذ وړته اووے چه دا بنار خو ډیر بے ډبه دے ډ بنۀ بد تمیز پکښے نشته - دلته حصار یدل ډ خطرے نه خالی نۀ دی - لیکن شاګرد اونۀ منله لټه شو مخکښے نۀ تلو - یوه ورځ په سیل کرزیدو ډ عدالت تماشے ته وړغلو یو مقدمه پیش وَه - ډیر خلق ئے تماشے

Scanned with CamScanner

ته راغونډ شوی وو- دوئی هم ورته اودریدو- په ټپوس معلوم شوه چه یو غل په یو مالدار سړی دعوه کړی وَه- چه موبز دوه- مرکړی د غلا په نیت د کوڅه راوتی وو- د دے سیٹھه کره مو کنډر اوکړو- خُما مرکړے په کنډر ننوتو چه دیوال په راپریوتو او مړ شو- زهٔ اوس د خپل مرکړی د مرګ تاوان غواړم- چهٔ دومره کمزورے دیوال ولے جوړ کړے وو- د سیمهه نه ټپوس اوشو مزهغهٔ اووے- چه ترکاڼ نه د ټپوس اوشی ماخوپوړه مز دورے ورکړی دَه هغهٔ دیوال کچه ولے وهلے دے- ترکاڼ اووے صاحب خُما ګناه نهٔ دَه- ماشکی نه د ټپوس اوشی هغهٔ خته کښے اوبه ډیرے کړے وے خته نرمه وه دیوال ځکه کمزورے راغلو- ماشکی اووے صاحب خُما ګناه نشته- سرکاری مستۍ تهی راخلاص شوے وو- دے خواته راتلو د هیبته خُما د لاسه د مشک خوله خلاصه شوه خته کښے اوبه ډیرے شوے- د ۍ تهی مهاوت نه د ټپوس اوشی قول جرم د هغهٔ دے- مهاوت اووے صاحبه خُما خطهٔ قصور نشته په لار یوه جینئ تیریده د ګونګرو پازیب ټے اچولی وو- د ګونګرو د شڼرا نه ۍ تهی اوویریدو خُما د قبضے نه اووتو قول جرم د دے جینئ دے- جینئ پیش شوه هغے اووے صاحبه پازیب زرګر جوړ کړی دی ماخو ورته د دومره ډیرو ګونګرو نهٔ وو ویلی- زرګر حاضر کړے شو- زرګر خپله عذر پیش نهٔ کړے شو جرم په زرګر ثابت شو- راجا حکم اوکړو د غل په قصاص کښے د زرګر پانسی کړے شی- زرګر عاجز مړے وو- جلاد چه د پانسئ تختے ته بوتلو د پانسئ د پړی کړئ ارته وَه کار ټے نهٔ کولو- جلاد په فریاد

راجه ته راغلو چه دا زما کور خو نشی پانسی کیدے - راجه حکم اودرو
چه په دے حاضرو کسانو کښے څوک غټ څنے اوکوړه چه دِ پانسئ -
کړئ په برابر وی - هغه پانسی کړه - جلاد چه په حاضرو کسانو
نظر واچولو - دا استاذ شاګرد ئے اولیدو چه دیر غوږه زیر ئے
خوږ لے وو بنهٔ څارنهٔ شوی وو - دِ شاګرد په څټ دِ پانسئ
کړئ بنه برابر وَه - جلاد هم دے خوښ کړو - دِ شاګرد واړ
خطا شو - استاذ ته ئے اووے - اوس څهٔ چل جوړه وَه خبره
خطا شوه - استاذ را مخکښے شو - جلاد ته ئے اووے دے پریده
ما پانسی کړه - جلاد حیران شو چه داځهٔ قصه دَه خلق پانسئ نه
ځان خلاصوی او دے وړته چپله را مخکښے کیږی - هغهٔ نه ئے
پټوس اوکړو چه بابا ولے چپل شروند پورے تنګ ئے هغهٔ وړته
په خندا اووے - شروند پورے تنګ نهٔ یم - زهٔ جوتشی یم دِ ستورو
په علم پوهیږم - ماته دِ چپل علم په ذریعه دا معلومه شوی دَه
چه دے وړز باندے چه څوک پانسی شو نیغ به جنت ته حئ دا
هلکهٔ ځما شاګرد دے - زهٔ ئے استاذ یم - نو زهٔ وایم چه جنت ته
تلو حق ځما دے - دے پریده او ما پانسی کړه - جلاد دا عجیبه خبره
راجه ته اوړسوله - راجه اووے چه خبره دا سے دَه نو ما پانسی
کړه - جنت ته تله ځما حق دے - په دے چل ئے دا بے وقوف راجه
دِ پانسئ تختے ته اوخیژولو او استاذ شاګرد دواړه خوشال -
خوشال روان شو -

نو دِ دے بے علمه واعظانو دِ تقریرونو نه خو دا سے معلومیږی
چه (نعوذ باالله) دِ الله تعالے بادشاهی هم دِ ښار ناپوهانو راجواړه
دَه - څهٔ قاعده قانون پکښے نشته - خو څوک به جنت ته استوی

Scanned with CamScanner

اوخوکئ به دوزخ کښے اچوی۔

یادلرئ ۔ الله تعالے هرکار دِ پاڅ یو قانون مقرر کړے دے ۔ دِ ثواب د پاڅ چنل کار ونه دی او عذاب دِ پاڅ چنل ۔ هغه دِ انصاف عدالت دے ۔ بے قانونه پکښے هیڅ کار نۀ کیږی ۔ یذرے ذرے حساب کیږی ۔ دِ وړے نه وړے نیکئ چنل اجر به ورکولے شی ۔ دِ چا یو ذڅ نیکی به نه بربادیږی ۔

یادلرئ ۔ جنت کټلو دِ پاره دا قانون دے ۔ چه تقویٰ اختیار کړئ مغفرت حاصل کړئ نو په منډه جنت ته ورځئ ۔ څه سکاوټ پکښے نشته ۔ دے نه معلومه شوه چه جنت کټل نه موږ په اختیار کښے دے که اختیاری نشی خو دِ سَارِعُوْا څۀ معنیٰ نۀ پاتے کیږی ۔ (تکلیف ما لایطاق به شی) ۔ یعنی دِ دا سے کار حکم به شی چه څوک ئے کولے نشی) او دا محال دے ۔ دِ صریح نص خلاف دے ۔ نو چه موږ ته دِ سَارِعُوْا حکم شوے دے ۔ نو دا ضرور را اختیاری شے دے ۔ نو په رمضان کښے مغفرت او رحمت حاصلول نه موږ دِ وَسْ کار دے نو کوشش پکار دے چه دِ رَغِمَ اَنْف دِ وعید نه ځان بچ کړو ۔ که چا سره داغم وی چه په توبه قائم نشو پاتے کیدے بیا به رانه گناه اوشی او توبه به مومانته شی ۔ نو بے همته کیږئ مَه ۔ اوس ښه په اخلاص او په پوخ نیت توبه اوباسئ ۔ که دِ کمزورئ په وجه درانه بیا گناه اوشوه نو بیا توبه او باسئ ۔ او گورئ که دِ چا جامے اوشلیږی ۔ نو دِ بیا شلید و دِ غمے ئے دغه شان ۔ شلیدلی نۀ پریږدی او ئے گندی او چه څو وړے پس بیا اوشلیږی نو بیا ئے اوگندی ۔ او دغه شان چنل کار چلوی ۔ دغه حال دِ توبے هم دے ۔ نو دِ دے غمه چه بیا به رانه گناه اوشی ۔ توبه

پریښول نۀ دی پکار- توبه ویستل پکار دی - او ترخپله وسه په
ټینګیدل پکار دی اوکه اوښتوه نو بیا توبه دِ توبے وَړ بند نۀ دے
بلکه که دِ وړ زے دے نه سل ځله توبه ماتیږی هم نا امیده کیږ ئ
مه دِ چنل طرف نه سنبۀ په کلکه اراده بیا توبه اوباسئ۔
چا څۀ ښۀ ویلی دی ــ

بازآ بازآ هرآنچه هستی بازآ ــ گر کافر و گبر و بت پرستی بازآ
این درگهه ما درگهه نومیدی نیست صد بار اگر توبه شکستی بازآ

(الله تعالے فرمائی (راوګرځۀ راوګرځۀ هر څنګه چه ئے راوګرځۀ۔
یعنی توبه اوباسه - که کافر ئے که آتش پرست ئے که بت پرست ئے
راوګرځۀ - زما دِ بار دِ نا امیدئ درباړ نۀ دے - که سل دے توبه ماتې
وی بیاهم راوګرځۀ - ځکه چه څوک چه توبه اوباسی دِ هغۀ په زړۀ کښے
دِ الله تعالے عظمت څه قدر ے وی - او دا دِ الله تعالے عظمت دِ
ګناهونو نه دِ بچ کیدو ذریعه دَه - او څوک چه توبه نۀ اوباسی
هغۀ الله تعالے هیر کړے وی - نۀ ئے الله تعالے یاد وی او نۀ ئے
په زړۀ کښے دِ الله تعالے عظمت وی - دا سی سړی نه هره ګناه
چه اوشی څۀ بعیده نۀ دَه -

دا خو وو دِ آخری عشرے دِ فضیلت بیان اوس دِ دے موقع
مناسب یو بله ضروری خبره واورئ - دا خبره دِ هر ځله په وعظونو
کښے شوی او په کتابونو کښے لیکلی شوی دَه - خو اکثر خلق ئے بیا
بیا هیروی ځکه ئے دِ بیا بیا بیان ضرورت دے - هغه دا دَه - چه
دے آخره عشره کښے اکثر و جامتونو کښے په تروایحو کښے دِ قرآن
شریف ختم کیږی - په دے موقع اکثر خلق حافظانو ته څۀ ورکوی
خیر دا ورکول اختسل هم پریدئ - دے نه علاوه په دے موقع

Scanned with CamScanner


اکثرو جاتونو کښے خوابنہٗ ویشلے شی او لوئے جشن وی نو ہم پکښے ډیر بدعات کیږی او ډ خیرات نه پسات جوړیږی - ډ دے کار ونو شرعی خرابئ او نقصانونه م په تفصیل سره څوخو ځله بیان شوی دی - اوس ئے ډ دوباره بیان وخت م نشته اوځنه خاص ضرورت م نشته ځکه چه نقصان ئے هرچاته معلوم شوے دے خبره صرف ډ عمل پاتے دَه - نو اوس زهٗ مختصر داوایم چه داټول غلط سره اجونه پریدئ - دے کښے په غریبانو باندے ډیر بار پریوځی - ځنه غریبانو په دے باندے ځما شکریه م ادا کړی دَه چه که موږ ډ ختم ډ چندے ډ بار نه بچ شو نو ډ غټ مصیبت نه به خلاص شو - دے نه معلومیږی چه غریبان داچنده په خوشئ ننشی ورکولے - داسے چندے ته څوک جائز ویلے شی - (او داسے کار کښے (چه په خوښه اونشی) ثواب ډ کوم ځائے نه راغلو)-(حضرت فرمائی) ځنه مالدارو کسانو ماته ویلی دی که غریبان منع کوے نو خیر دے - مالدارخو پریده ډ خیرات یو موقع دَه چه څهٗ اوکړی - لیکن داخیال بالکل غلط دے ځکه چه ډ مالدارو خوښ کیږی لیکن که هغوئ بند نهٗ کړے شی نوغریبان ئے ډ شرمه ننشی پریښوے نوخبره به ټوله وراته شی - که مالدار ئے م پریدی نو غریبانو ته به ئے پریښول اسان شی - په ځنه جاتونو کښے خوښو ډ پاره عامه چنده نهٗ کیږی څوک مالدارئے په خپله خوښه راوړی - لیکن هغے کښے ورسره نورے خرابئ مرکړے شوی دی - لکه ریا او نمائش - نوم نامونس ډ پاره ویشل او ډکنډے په وجهه ډ تقسیم په وخت کښے شور غوبل او ډجات بے حرمتی داسے ډیرے خبرے دی چه هوښیار بندهٗ ئے خپله پرځانئ

پوهیدے شی۔

(حضرت فرمائی) یو ځل په بریلئ کښے ما چلہ په ترویحو کښے قرآن شریف اورولو د ختم په شپه راته چنل سړے د خوبزو ویشلو خیال بنکاره کړو خو ما منع کړو۔ هغۂ راته اووے دے کښے خو د چندے څۂ خبره نشته۔ زهٔ چنل خرچ کوم او د زړهٔ نه ئے په اخلاص کوم نو دے کښے څۂ نقصان دے خیرچه هغۂ د یرضد اوکړو نو ما هم اووے چه پریده چلہ به ئے په نقصان پوهه شی غلے شوم۔ د ختم په شپه هغه چلہ د ویش انتظام ته او دریدو خوچه د خلکو بے ډبی ئے اولیده نو ډیر پریشان شو۔ د تقسیم نه پس ئے ماته چلہ اووے چه ستا خیال صحیح وو۔ په جمات۔ کښے دا غوبل جوړول غلط کار دے۔ دا احساس د هغۂ د هوښیارئ او اخلاص دلیل دے۔ لیکن ډیر خلق ئے په خرابیو پوهیږی بیا ئے هم پریښوے نشی۔

دا د آخرے عشرے فضائل او احکام وو۔ دا یاد لرئ اوعمل په اوکړئ۔ څوک چه په دے موقع حاضر نهٔ دی هغو ته ئے هم۔ اورسوئ۔ اوس دعا اوکړئ چه الله تعالے موږ ټولو ته په دے عشره کښے د رحمت او مغفرت گټلو توفیق راکړی۔ آمین۔

وصل الله تعالے علی خیر خلقه سید نا محمد وعلی آله واصحابه اجمعین برحمتک یا ارحم الراحمین۔



Scanned with CamScanner

دعوات عبدیت

دویم جلد

اوم وعظ

اِکْمَالُ الصَّوْمِ وَالْعِیْدِ

(دِرسِ وِشے او اختر تکمیل)

له ارشاداتو د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه

Scanned with CamScanner

تعارف

دا وعظ حضرت تھانوی رحمۃ اللہ علیہ په خپله خانقاه جامع مسجد تھانه بھون کښے په ۲۸ - رمضان (۱۳۲۹ھ) کښے په درے نیمے گھنټے کښے په مېر په ناستی کړیدے او مولوی سعید احمد تھانوی قلمبند کړیدے -



بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ نَحْمَدُہٗ وَنَسْتَعِیْنُہٗ وَ نَسْتَغْفِرُہٗ وَ نُؤْمِنُ بِہٖ وَنَتَوَکَّلُ عَلَیْہِ وَ نَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّھْدِہِ اللّٰہُ فَلَا مُضِلَّ لَہٗ وَمَنْ یُّضْلِلْہُ فَلَا ھَادِیَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنْ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ لَا شَرِیْکَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَ رَسُوْلُہٗ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ عَلٰی آلِہٖ وَ اَصْحَابِہٖ وَ بَارِکْ وَسَلِّمْ۔ اما بعد۔ فَقَدْ قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ۔ شَھْرُ رَمَضَانَ ھُوَ شَھْرٌ اَوَّلُہٗ رَحْمَۃٌ وَ اَوْسَطُہٗ مَغْفِرَۃٌ وَ آخِرُہٗ عِتْقٌ مِّنَ النَّارِ۔

د روژے د فضائلو بیان په نیره جمعه تفصیل سره شوید ے نن درته صرف دوه خبرے کوم - یو د روژے متعلق پاتے دَه - اوبله د اختر متعلق دَه - دا حدیث شریف رم څکه خوښ کړو چه دے کښے د دے دواړه خبرو ذکر دے - دا د یو اوږد حدیث شریف یو ټوټه دَه - کوم چه نبی کریم صلی اللہ علیه وسلم د شعبان په آخری جمعه کښے د جمعے په خطبه کښے بیان کړے دے - د دے حدیث شریف راوی صحابی وائی چه نبی کریم صلی اللہ علیه وسلم د شعبان په آخری جمعه دا سے خطبه اوویے چه نور کله ئے دا سے نه وَه ویلی -

حیرانتیا دَه چه مسلمانانو دے خطبے ته خاص اهمیت نه دے ورکړے - د شعبان آخرے جمعے ته ئے خاصه خطبه نه دَه خوښه کړی چه په سنت عمل شوے وے - بلکه د دے په ځائے ئے د رمضان آخری جمعے

ته خاصه خطبه جوړه کړی وه - چه اَلْوَدَاعْ یعنی د رمضان د رخصتولو خطبه ورته وائی - حالانکه په احادیثو کښے د دے هیڅ ذکر نشته اودے خاصے خطبے ته دومره اهمیت ورکولے شی که دا خاصه خطبه چا اونه وے نو دیر بد په مَنی - اګرچه الحمد لله اوس ئے هغه دیر زورکم شوے دے - بیا هم داسے خلق دیر دی چه د رمضان په آخری جمعه دا خطبه ویل ضروری ګڼری - د حیرانتیا خبره خو دادَه چه ځنه عالمان هم په دے غلط فهمئ کښے پراتهٔ دی چه په دے ورته داخطبه ورته ضروری بنکاری -

اوبله غلطی دا کوی - چه وائی اګرچه د رمضان د آخرے جمعے د پاره دا خاصه خطبه مقرر کول بدعَت دے - خو چونکه خلق ئے - اوس یدو د پاره دیر راجمع کیږی - نو پریښول ئے نه ښه نه دی - چه د دے په وجه دیر خلق د جمعے مانځه ته راځی نو په ویلو کښے ئے څه نقصان هم نشته - دا یوه غټه غلطی ده - او یو قسم په الله او د الله په رسول صلے الله علیه وسلم اعتراض دے (چه د داسے یو بنهٔ کار واضح حکم ئے نه دے کړے) -

یادلرئ - د شریعت دا یو عام قانون دے - چه په یو کار کښے که څه فائده وی او څه پکښے خرابے وی - نو که هغه کار چپله بالذات شریعت کښے مطلوب یعنی فرض یا واجب نه وی - نو د دے خرابی په وجه به هغه کار ترک کولے شی فائدے ته به ئے نشی کتے - (د نقصان نه بچ کیدل نړیات ضروری دی) عالمان خو به د دے قاعدے په وجه په خبره پوهه شوی وی - لیکن د عوامو د پوهے د پاره د ورته یو مثال پیش کوم - مثلاً یو سړے د تنګ تکور او ګډا یو مجلس جوړ وی - او وائی چه نه منم چه داسے مجلس جوړول ناروا دی - خو نهٔ

په دے چل خلق راجمع کوم - چه کنې خلق راجمع شی نو بیابه ئے دِ
خپل وجاهت (مخ لحاظ) په وجهه په مونځ کولو مجبور کړم - دغه
شان به په مانځه عادت شی نو بیا به خپله هم مونځ کوی - نو-
اوګورئ په ظاهره داغرض څومره بناښته بنکاری (یعنی خلق
مانځه ته تیاروول) لیکن په دے مجلس کښے که دا یو فائده دَه خو
ورسره نورے خرابئ مرګری دی (یعنی رقص ومسرود) او داکار
په شریعت کښے ممنوع دے - نو شریعت دِ دے لږے فائدے په خاطر
دے سړی ته دِ رقص و مسرود د مجلس اجازت نۀ ورکوی البته
که هغه کار په شریعت کښے بالذات یا بالواسطه مطلوب وی - خو
ورسره څۀ خرابے مرګرے شوی وی - نو شریعت دِ خرابی په وجهه
هغه کار نۀ بندوی بلکه دِ خرابی دِ اصلاح حکم کوی - لکه په عیدګاۀ
کښے دِ اختر دِ مانځه دِپاره اجتماع په شریعت کښے مطلوب دَه - اوس
که خلقو دِ خپلے بدتمیزئ په وجهه دے اجتماع ته دِ میلے مشکل
ورکړے دے - اوځنه ممنوعات ئے پکښے شروع کړی دی - لکه
دول باجے تماشے وغیره چه څنګه عامو میلو کښے وی -

یا لکه نن صباچه عیدګاه ته دِ ورهو ماشومانو بوتلو رواج -
شروع شوے دے څوک چه ګورے یو لکئ به ورپورے تړلی وی
خپله هم په تکلیف وی - او نور خلق هم په تکلیف کړی - خو هیڅ
احساس ورسره نۀ وی - سړه دِ دے چه یو اختر دا سے نۀ دے تیرچه
عیدګاه کښے واړه ورک شوی نۀ وی - یا ئے په ژړا شړا خپل زړۀ او
دِ نورو درد منو نه چولی نۀ وی - بلکه څنه واړۀ خوپه کښے
غُل متیازے اوکړی او هرڅه ګنده کړی او دِیر خلق پریشان کړی -
(حضرت فرمائی) ماته یو قصه یاده دَه نو مونږ په خپلوانو کښے یوسړی

Scanned with CamScanner

په میرتهه کښے خان سړ وړوکے خوئے عیدگاه ته بیولے وو- عین د مانځه په وخت کښے ئے پلار ته اووے ماته غُل راځی - پلار ئے پریشان شو چه اوس څه اوکړم د ښارګوټو خلقو په مینځ کښے د دومره لوئے عیدګاه نه بهر ته وتل څه اسان کار نه وو- مانځه ته وخت هم لږ وو- او بهر هم نزدو دا سے خوشے حُلئے نه وو چه هغه پکښے چپل ضرورت پوره کړے وے - بهرحال څه په خواړو ئے وړوکے - عیدګاه نه اوویستو- بهر ئے یو حلوائی ته څه پیسے ورکړے او هغه وړوکے د خپل تخت د لاندے حاجت ته کینولو- د تخت نه چاپیره بنائسته توکے اویزان وو- ورپاڅه خوابنه پراته وو- او ورلاندے دا تحفه کیښوے شوه- دے سړ راته یو عبرتناک مضمون را مخکښے شو- ښه وښ خلقو د څرونده هم دغه شان حال دے - ظاهرخو مو په خوښو خبرو او بنائسته جامو بنائسته کړے وی - خو باطن مو د ګنده اخلاقو د ګندګئ نه ډک وی - ښه رونه مودِ نفسانی خواهشاتو او ګنده خیالاتو نه ډک وی - د خدائے نه لرے او شیطان ته نزدے یو- یو عارف څه ښه ویلی دی ے

ازبرون چون گور کافر پُر حُلَل ؛ وندرون قهرِ خدائے عزوجل
ازبرون طعنه زنی بر بایزید ؛ وز درونت ننگ میدارد یزید

(په ظاهره خو د کافر د قبر په شان بنائسته په کالو ډک ئی - خو دننه په د الله قهر وغضب ورپرے دی - ظاهری شکل خو ئے د بزرګ کافر وی- په ظاهره د حضرت بایزید بسطامی نه هم لوئے ولی بنکاری- لیکن د باطنی حالت نه ئے یزید غوندے ظالم ته هم شام ورځی)- ظاهری شکل ئے داسے بنائسته جوړ کړے وی چه بنده وائی که وحی بنده نه وے نو اوس به په جبریلؑ وحی راوړی وه

Scanned with CamScanner

یعنی ظاهری شکل ئے په شرع داسے برابر وی - چه ولی نه چه د نبی
کرمان په کیږی لیکن باطن کښے د شیطان هم استاذ وی - په حدیث
شریف کښے راغلی دی - اَلْسِنَتُهُمْ اَحْلٰی مِنَ السُّکَّرِ وَ قُلُوْبُهُمْ اَمَرُّ -
مِنَ الذِّئَابِ یَلْبَسُوْنَ جُلُوْدَ الضَّأْنِ (خبرے ئے د شکرو سه هم زیاتے
خوږے وی - او زړونه ئے د شرمخ نه هم زیات تارخ وی
لیکن د کډے څرمن ئے په ځان راچولی وی) - حضرت فرمائی
غرض هم داوو چه د عیدګاه په اجتماع کښے فائده هم شته لیکن
خرابئ هم ورسره مرګری شوی دی - نو اوس که یو هوښیار
دا اوولئ چه د شریعت د دے عالمے قاعدے په وجهه د عیدګاه
اجتماع هم بندول پکار دی څنګه چه هو د رقص وسرود مجلس بند
کړو - هغه ته به اوویلے شی چه د عیدګاه اجتماع په شریعت کښے
مطلوب ده نو دا به بندولے نشی بلکه د خرابیو د اصلاح کوشش
به کولے شی - (واړه به څوک نه راولی او نور بدعتونه به هم
بندولے شی د میلے شکل به ئے ختمولے شی - اوکه څوک د دے -
اجتماع د مطلوب کیدو منکر وی - لکه نن صبا چه تش د نامے پیران
عیدګاه ته نه ځی په خپلو جماتونو کښے د اختر مونځ کوی - نو
نه به هغوئی ته د احادیثو نه ثبوت ورکړم چه عیدګا ته تلل
ضروری دی -

په مسجد نبوی کښے د یو مونځ ثواب د پنځوسو زرو مونځونو
برابر دے بیا هم نبی کریم صلے الله علیه وسلم هیشه د اختر مانځه
ته عیدګاه ته وتلو چې جمات کښے نه کولو - نو معلومه شوه چه
عیدګاه ته وتل شرعاً مطلوب وی - کیدے شی چه عیدګاه کښے
ئے ثواب د پنځوسو زرو نه زیات وی ځکه ورته نبی کریم

صلے اللہ علیہ وسلم چنل جمات پریښے دے - دِ دے مثال دا سے دے
لکه یو پوښه اوړه پیځ یو ناپوهه ته که یو خوا پوښه اوبل خوا
لس روپئ کیدے نو هغه به په شمیر پسے لاړ شی پوښه به -
پریدی روپئ به واخلی - او پوهه سړے به هغه روپئ پریدی
پوښه به واخلی چه دا یو دِ هغے لسو نه زیات دے نو کیدے
شی په عیدګاه کښے په اجتماع کښے ثواب دِ مسجد نبوی نه زیات
وی - اوکه څوک دا اووائی چه په مسجد نبوی کښے دِ ثواب
زیاتے خاص دے په فرضو پورے - نو دا دلیل دِ اختر مانځه
کښے نه چلیږی - دِ دے جواب دادے چه واجب هم عملاً فرض دی
دِ دواړو حکم یو شان دے - نو دلیل مخدوش نه دے - او دِ
عیدګاه په اجتماع کښے بله خاصه فائده دادَه - چه دِ باندونه او
دِ بنارِ دِ کلو کوڅو نه چه ډلے ډلے مسلمانان تکبیرونه وائی او
په جوش خروش عیدګاه ته راروان وی نو دِ اسلام په بد
خواهانو ئے ډیر رعب او هیبت پریوځی - او دِ اسلام دِ شان
شوکت او طاقت اظهار کیږی او دا دِ ملّت یو عظیم مقصد دے
او دِ دے نه علاوه هم په اجتماع کښے ډیر فائدے دی - یو راز
خو ئے دادے چه دِ ټولے جُمُعَے عبادت چه په یو ځائے دِ الله په
دربار کښے پیش شی - نو په دے کښے څنه مقبول بندیان هم وی
دِ هغوئ دِ برکته الله تعالے دِ ټولے جُمُعَے عبادت قبول کړی - او
دِ دے حِکمت په وجه شریعت کښے دِ جُمعے مانځه ته ډیر اهمیت
ورکړے شویدے - تر دے چه دِ جُمعے مونځ که وسوسو سړه وی
هم دِ ځانته مونځ نه ډیر بهتر دے - ځکه چه جُمعه په شریعت کښے
مطلوب دَه او وسوسے دَفع کول په دومره درجه کښے مطلوب

نهٔ دی - ځکه چه غیر اختیاری دی -

چون طمع خواهد زمن سلطان دین ☆ خاک بر فرقِ قناعت بعد ازین

(چه د دین بادشاه یعنی الله راڅه طمع غواړی - نو د قناعت په سَر خاورې اچوم) - افسوس دے چه ځنه صوفیان هم په دے غلط فهمئ کښے مبتلا دی چه که د جُمعے په مانځه کښے وسوسے راځئ او په خلوت کښے اطمینان وی د ډیرهٔ حضور برابرینی نو ځانته مونځ بهتر دے - د دوئ دا خیال غلط دے - خبره دا ده نهٔ ده شریعت کښے اجتماع ته فضیلت اهمیت ورکړے شوید ے - او ظاهره ده چه کنډه په عیدګاه کښے فضیلت وی - جماتونو کښے دومره - خلق نهٔ راځئ - نو عیدګاه ته تلو کښے ثواب فضیلت دے - او د خرابیو په وجهه عیدګاه ته وتل نشو بند ولے ځکه چه دا اجتماع شریعت کښے مطلوب وَه - د دے خرابیو د اصلاح کوشش به کوو او مونږ به څهٔ اصلاح اوکړو - خپله حضور صلے الله علیه وسلم فرمائلی دی - جَنِّبُوْا مَسَاجِدَكُمْ صِبْيَانَكُمْ - (خپل جماتونه د ډوډو نه بچ کړئ) یعنی واړهٔ جمات ته مهٔ راولئ - که څوک اووائی چه عیدګاه خو د جمات په حکم کښے نهٔ دے - د دے جواب دادے چه دلته د مساجد نه مراد د مانځه ځائے دے - او عیدګاه هم د مانځه ځائے دے او د بندیز علت پاکی ده - چه د ډوډو نه د ناپاکئ خطره ده په مانځه کښے خلل راځئ - ظاهره ده چه دا علت په عیدګاه او جمات دواړو کښے مشترک دے نو حکم دلته هم متعدی شو - دے حدیث شریف نه دا عامه قاعده صفا واضحه شوه چه کوم کار شرعاً مطلوب وی هغه به د خرابئ په وجهه بند ولے نشی د خرابئ اصلاح به کولے شی - دا

خو دِ دے متعلق بیان وو - چه د دوئ دا خبره غلطه دَه چه دِ
خرابیو په وجهه دِ عیدگاه اجتماع بندول پکار دی - پاتے شوه
بله خبره چه یو بدعت دِ څنه فائدو په وجهه ښهٔ ګڼلو کښے
په الله او په رسول الله اعتراض دے - دِ دے تفصیل دا دے
چه بدعت دِ څهٔ فائدے په وجهه ښهٔ ګڼلو مطلب دا دے
چه دِ کتاب وسنت تعلیم نامکمل دے - دِ څنه مفید کار ونو تعلیم
تر پاتے دے - آیا څوک شته چه صفا دا اقرار اوکړی -

ځکه خو نبی کریم صلے الله علیه وسلم فرمائلی دی - کُلُّ بِدْعَةٍ
ضَلَالَةٌ (هر بدعت ګمراهی دَه) په بدعت کښے ښهٔ یو هم
نشته - نو دِ بدعت حَسَنَه په الفاظو مهٔ خطا کیږئ - هغه په
اصل کښے اډو بدعت وی نه بلکه سنت وی - او دا قسم احتمال
په الوداعی خطبه کښے نشته - ځکه چه په شریعت کښے دِ دے
څهٔ بنیاد وے - نو دِ سلفِ صالحین په دور کښے به ئے وجود
وو او که په دیره خوارئ ئے څوک څهٔ مثال را پیدا کړی م
دِ دے بیا څهٔ جواب دے چه په اصل کښے سنت وَه خو اوس
دِ عوامو دِ التزام په وجهه بدعت شو - او بدعت هم سَیِّئَہ چه
ور باندے دِ اور وعید دے - کُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ وَ کُلُّ ضَلَالَةٍ
فِی النَّارِ - (هر بدعت ګمراهی دَه او دِ هرے ګمراهئ سزا اور دے)
او دِ حضور ارشاد عین دِ الله ارشاد دے - ځکه چه دِ الله تعالے
ارشاد دے - وَمَا یَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰی اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْیٌ یُّوْحٰی - (هغه
یعنی رسول الله دِ څانه خبره نهٔ کوی - هغه چه څهٔ وائی هغه -
وحی دَه) -

نو دِ یو بدعت التزام کول - او پکښے فائدے لټول په الله او

Scanned with CamScanner

رسول اللہ باندے اعتراض او دِ هغوئ په قول پورے خندا کول دی۔ (اللہ دِ ترمونږ قول او ساتی آمین) او دا خبره چه دِ حضرؐ ارشاد دِ اللہ ارشاد دے۔ او دِ هغوئ هره خبره وحی ده۔ دے نه دا نه ثابتیږی چه کوئے هغوئ اجتهاد نه کولو اجتهاد ئے ضرور کولو۔ او هغه به ترڅو وحی موقوف وو که څه فرق به پکښے وو نو دِ وحی په ذریعه به ئے اصلاح اوشوه او که وحی به په سکوت اوکړو نو هغه به حجت شو۔ غرض داچه دِ هغوئ اجتهاد هم دِ وحی په حکم کښے وو۔ نو ځکه سړه دِ اجتهاد د موجودګئ داویلی شی چه ؎

گفتهٔ او گفتهٔ اللہ بود گرچه از حلقوم عبداللہ بود

(دِ هغوئ وینا دِ اللہ وینا ده اگرچه دِ اللہ دِ بنده په خوله شوی ده)

دِځنه عالمانو دِ داسے قسم غلطیو په وجهه (یعنی چه په ځنه بدعاتو کښے هم فائدے وینی او حقیقت ترپټ شی) داویلی شوی دی چه تربیت او ارشاد او اجتهاد دِ پاره خاص طور سره دِ احکامو اسرارو او حکمتونه بیانول دِ هرچا کار نهٔ دے۔ دے دِ پاره دِیر زیرکی او خاص صلاحیتونه پکار دی چه دِ ظاهری علومو سره ورته اللہ تعالے خاص استعداد ورکړے وی او دِ اللہ تعالے خاص امداد ورسړه مرکړے وی۔ دا نه چه یوڅو اصطلاحی جملے یاد ے کړی او دِ ارشاد په ګدئ کینی۔ دِ دے علامه دا ده چه دِ امت عالمان دِ هغهٔ اقوال اومنی او دِ امت دِ عالمانو دِ له ورسره مرکړی وی۔

دِ دے قسم غلطیو نه یو دا هم ده۔ چه ځنه خلق والئ دِ جُمعے مونځ اگرچه په باندو کښے نهٔ کیږی خوکه څوک ئے اوکړی

Scanned with CamScanner

نو څۀ حرج ئے نشته - یو عبادت کول بهرحال د نۀ کولو نه بهتر دی (حضرت فرمائی) داسے سړی نه ښۀ دا ټپوس کوم چه که یو سړے دا او وائی چه اګر چه کراچئ کښے حج نۀ کیږی خوکه څوک ئے اوکړی نو بیا هم د نۀ کولو نه بهتر دے - هغه به د دے په جواب کښے هم دا وائی چه کراچئ د حج مقام نۀ دے - نو دغه شان باندے هم د جُمعے د مانځۀ مقام نۀ دے -

غرض داچه په دین پوهیدو د پاره د کتابی علم سره د کامل عقل هم ضرورت دے - په ظاهر بینئ او ساده توب کار نۀ چلیږی او دا وجهه ده چه ټول پیغمبران کامل عاقلان وو - یو نبی هم ساده نۀ وو - ځنه خلق د بزرګانو په صفت کښے وائی چه فلانے بزرګ ډیر ساده دے - یادګرئ - ساده سړے د ډیرو بدیو نه بچ وی نو په سادګئ کښے هم یو فضیلت شته - لیکن ساده کیدل فی نفسه څۀ کمال نۀ دے - ځکه چه ساده سړے د ډیرو فضائلو نه محروم وی - ځکه په نبیانو کښے یو نبی هم ساده نۀ دے راغلے - ټول کامل هوښیاران وو - او دا حقیقت دے چه عقل یو ډیر لوئے نعمت دے - (حضرت فرمائی) د یو کامل صوفی نه ځما مخکښے یو سړی ټپوس اوکړو - د سالک مرتبه زیاته ده که د مجذوب هغۀ د دے یو ډیر عجیبه جواب ورکړو ځما ډیر خوښ شو - ورته ئے اووے - دا دومره خو هرڅوک منی چه عقل دومره غټ نعمت دے چه شریعت شراب څکل په دے وجهه حرام کړی دی - چه دا عقل زائل کوی - او ظاهره ده چه د سالک عقل په ځائے وی او د مجذوب نۀ وی - اوس ته خپله سوچ اوکړه چه د سالک مرتبه زیاته ده که د مجذوب - د علامه سیوطیؒ

Scanned with CamScanner

یو کتاب دے شرح الصدور په دے کتاب کښے هغه یو حدیث شریف نقل کړے دے چه یو حُل نبی کریم صلے الله علیه وسلم حضرت عمرؓ ته اوویے - اے عُمرہ هغه وخت به دِ څهٔ حال وی چه په قبر کښے یواځی پریښوے شی او دوه ناشنا شکله فرشتے درنه دِ توحید و رسالت باره کښے تپوسونه کوی - هغهٔ عرض اوکړو (او څومره خوندناک تپوس ئے اوکړو) چه یا رسول اللهؐ په دے وخت کښے به م عقل په ځائے وی که نه - حضورؐ اوفرمائل - عقل خو به دے وخت کښے نور هم تیز شوے وی - (حُکه چه جسمانی حجاب به نهٔ وی) - حضرت عمرؓ په جواب کښے اوویے چه عقل م په ځائے وی بنو بیا هیڅ خطره نشته انشاءالله صحیح جوابونه به ورکړم - اوکورئ اصحاب کرامو دِ عقل څومره قدر کولو - او څومره غټ نعمت ئے ګڼلو - یومونږ یو چه هر لیونے بے عقله راته بزرګ بنکاری - (حضرت فرمائی) په دے وخت کښے راته یو قصه زیاده شوه اګرچه په کتاب کښے م چرته نهٔ ده لیدلی کیدے شی چه غلطه وی - خو که غلطه وی هم زمونږ مقصد ته په څهٔ نقصان نهٔ رسی - حُکه چه مونږ دِ خپلے خبرے په ثبوت کښے حدیث شریف پیش کړے دے - وائی چه بی بی رابعه بصری چه دفن کړے شوه نو دِ قاعدے مطابق ورته دوه فرشتے سوال جواب ته راغلے - هغے ورته دیر په اطمینان جواب ورکړو کوم الله چه م قول عمر یاد کړے دے - آیا هغه به رانه په دے دوه ګزه غار کښے هیر شوے وی ؟ تاسو دِ خپل ځان غم اوکړئ دیرلرے نه راغلی ئ - چه تاسو ته م یاد دے که نه - سبحان الله - دِ ولیانو څومره غټ اطمینان او سکون وی چه په هیڅ وخت کښے نهٔ وارخطا کیږی - یو بزرګ ویلی دی ؎

Scanned with CamScanner

گرنکیر آید و پرسد که بگو رب تو کیست ؟ گویم آن کس که ربود این دل دیوانه را
(که منکر نکیر راغلو- تپوس ئے کولو چه ستا رب څوک دے- زهٔ به
ورته اووایم څا رب هغه ذات دے چه دا لیونے زهٔ ئے رانه ویړے
دے)- سبحان الله- څنګه په اطمینان سره وائی زهٔ به دا جواب ورکړم
چه هغه ذات چه دالیونے زړه ئے رانه ویړے دے- دا دومره اطمینان
صرف د عقل په وجهه کیدے شی ځکه هغه صوفی دا جواب ور
کړو چه د سالک مرتبه زیاته ده- ځکه چه هغه سړه عقل وی او
مجذوب سړه عقل نهٔ وی- اوس په دے پوهیدل پکار دی چه-
پیغمبران خو ټول د کامل عقل خاوندان وو- لیکن ولیان چه د
پیغمبرانو نائبان دی په هغو کښے څنه خو سالکان یعنی د کامل عقل
خاوندان دی او څنه مجذوبان دی چه مغلوب الحال وی- (عقل
ئے د احوالونه مغلوب شوے وی)- دا دوه قسمه ولے شو- د دے جواب
دا دے- چه پیغمبران خو ټول د ارشاد او تربیت په غرض راستولی
شوی وو چه د خپلو امتونو تربیت او اصلاح او کړی او د شریعت
احکام ورته اوښائی- او دا کار د عقل نه بغیر کیدے نشو ځکه
پیغمبران ټول د کامل عقل خاوندان وو- او په ولیانو کښے څنه د
خلقو د ارشاد او تربیت د پاره مقرر شوی وی- نو هغوئی ته خو
د سلوک مرتبه ورکړے شی- او د کامل عقل خاوندان وی او هم
دا ولیان د پیغمبرانو نائبان دی- او د څنه ولیانو په ذمه د ارشاد
او تربیت ذمه واری نشته صرف خپل کار سړه ئے کار وی په دوئی
کښے اکثر مجذوبان وی- اګرچه کله کله څنه غیر مجذوب هم دا سے
وی چه په ذمه ئے د ارشاد کار نهٔ وی- د هغوئی داشان وی ؎
احمد تو عاشقی به مشیخت تراچه کار ؟ دیوانه باش سلسله شد شد نه شد نه شد

Scanned with CamScanner

(اے احمد تهٔ خو دِ محبوبِ حقیقی عاشق ئے دِ پیرئ سره ستاخهٔ کاردے
تهٔ خو په خپل عشق کښے غرق اوسه سلسله چلیږی اوکه نه)۔(یعنی
بل چاته درنهٔ خهٔ فائده رسی اوکه نه په تاخهٔ ذمه واری
نشته ۔ خپل کار کښے لګیا اوسه)۔ دِ سالکانو حال دوئ نه جدا وی
دِ هغوئ په ذمه دِ خلقو تربیت او اصلاح او روحانی تزکیه وی
او دے دِ پاره دِ ډیر عقل ضرورت دے۔ البته دِ مجذوبانو نه
هم خلقو ته یو قسم فیض رسی ۔ خو دے کښے دِ هغوئ دِ ارادے خهٔ
دخل نهٔ وی ۔ هغه صرف دِ هغوئ دِ مبارک وجود برکت وی ۔
نو دے غیر اختیاری کار دِ پاره دِ عقل خهٔ ضرورت نشته ۔ دِ هغوئ
دِ فیض مثال دِ نمر دِ رڼا دے چه په کوم خیز دِ نمر شغلے پریوځی ۔
هغه روښانه شی ۔ په دے کښے دِ نمر دِ ارادے خهٔ دخل نشته
دغه شان دِ خدائے نیک بندیان چه کوم ځائے کښے وی دِ هغوئ دِ
ارادے نه بغیر مخلوق ته دِ هغوئ په برکت ډیرے فائدے رسی
دِ دے برکت په نسبت ارشاد دے۔ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ
فِيْهِمْ (ترڅو چه ته دلته ئے الله تعالے په دے خلقو عذاب نهٔ راولی)
لکه څنګه چه کله کله دِ دے برخلاف هم کیږی ۔ کوم ځائے چه نافرمانی
ډیره شی ۔ نو دِ نافرمانو په وجهه په هغے قوم عام عذاب راځی
چه ځنه نیکان هم پکښے تباه شی ۔ لیکن دے نه دِ څوک داخیال
نهٔ کوی چه دِ عامے قاعدے خلاف کار اوشو ۔ نیکانو ته دِ بدانو
په وجهه سزا ورکړے شوه ۔ ځکه چه دا خلق په ظاهره نیکان
ښکاری خو په حقیقت کښے پوره نیکان نهٔ وی ۔ خهٔ پټ نقصان پکښے
وی ۔ لکه یو حدیث شریف دے چه جبریلؑ ته الله تعالے حکم ورکړو
چه فلانے کلے تباه کړه ۔ هغهٔ عرض اوکړو چه یا الله په دے کلی

Scanned with CamScanner

کښے خو فلانے سړے هم اوسی چه هڅړے ئے میخ نافرمانی نۀ ده کړی
دیر نیک سړے دے نو هغۀ سره ئے متباه کړم که هغه تر بسه کړم
حکم ورته اوشو هغۀ سړ ئے تباه کړه - هغه هم دِ دولئ مرکړے
دے - دۀ اګرچه خپله نافرمانی نۀ کوله - لیکن نور نافرمانه ورباندے
بد نۀ لګیدل - ما دِ پاړه ئے هغوئ سړ تعلق ختم کړے نۀ وو
نو دے هم ورسړ مرکړے دے - اوکورئ دا سړے په ظاهره څومره
نیک وو چه جبریلؑ هم په خطا شو - لیکن په حقیقت کښے دے هم
په یو عیبه ګناه کښه ګیر وو - چه دِ الله ورسول الله دِ احکامو
سړ ئے پوره مینه نۀ وَه - نافرمانه ورباندے دومره بد نۀ
لګیدل چه تعلق ئے ورسړ ختم کړے وے - که الله ورسول سړ
ئے پوره مینه وے - نو دا ممکنه نۀ وَه چه دِ الله ورسول دِ احکامو
چا خلاف کوله او دۀ ته په غصه نۀ ورتله دۀ په بد نۀ ګڼله
اوکورئ که په یو دیندار بنده دِ شریعت خلاف کارونه بدلکی
او دا سے کسانو نه نفرت کوی - او نږدے نه ورکوی - بد یو نه
ئے منع کوی - نو دِ ښ زمانے هوښیاران وائی - چه دا بد مزاجه
او متعصب دے - په نرمئ ئے پوهه کول پکار دی - (حضرت وفرمائی)
نۀ دا سے خلقو نه ټینګس کوم که یو سړے دِ چا دِ مور خور متعلق
غلط سپکے خبرے اوکړی نو آیا هغۀ ته به په قهر نۀ ورځئ -
او وهلو ته به ئے نۀ جوړیږی - آیا دِ هغۀ قهر ته څوک بے ځایه
ویلے شی - او دا ورته ویلے شی چه په نرمئ به دِ جواب ورکړے
وو - داخو هیڅوک نشی کولے - لیکن عالمانو باندے اعتراض ته
هر سړے تیار دے - او وائی چه عالمان دیر بد مزاجه دی - دیر
زر خفه کیږی او زَدْ بَدْ وائی - لیکن که په انصاف سره اوکتے

Scanned with CamScanner

شی نو یو عالم هم په سَمَه خبره نه خفه کیږی۔ که په سړی تروب څوک د څۀ خبرے پتوس کوی د ځان پوهه کولو او عمل کولو په نیت نو عالم هیڅرے نۀ خفه کیږی او نه غصه کیږی د یر په نرمئ۔ او مینه جواب ورکوی۔ لیکن چه څوک د شریعت په احکامو پورے خندا کوی او بے ځایه اعتراضونه کوی نو عالمان ورته بے اختیاره شی۔ دا سخت مزاجی نۀ دَه دینی غیرت دے۔ نو آیا د شریعت د احکامو دومره قدر او عظمت هم زړۀ کښے نۀ دے پکار۔ څومره چه د چلے مورخوره وی۔ د مورخوره په بے عزتئ خو غیرتی سړے بے واکه شی او د بل مرګ ته تیار شی۔ نو د شریعت په توهین د چا ته غصه قدرے هم نۀ ورځئ۔ او چاته چه نۀ ورځئ هغه حقیقت شناس نۀ دے ځکه په شریعت غیرت نۀ ورځئ۔ یو ځل په زړۀ کښے د الله ورسول محبت او عظمت پیدا کړئ۔ په دے رنګ یو ځل زړۀ رنګ کړئ بیا د چل حالت اندازه واخلئ۔ تش په۔ الفاظو او ریدو څوک نشی پوهیدے چه دا کیفیت څنګه پیدا کیږی څو پورے چه ورباندے حیله تیر نۀ وی چا څۀ ښه ویلی دی ؎

پرسید یکے کہ عاشقی چیست گفتم چون ما شوی بدانی

(چا راته پتوس او کړو چه عاشقی څۀ شے دے۔ ما ورته اووے چه ځما په شان شے او به ئے پیژنے) یعنی دا داسے کیفیت دے چه څو پورے په بنده حیله راغلے نۀ وی پوهیدے په نشی۔ ځکه چه د کیفیاتو۔ اظهار په الفاظو کښے نشی کیدے۔ مثلاً آنګور هم خوږ دے انار هم خوږ دے۔ آم هم خوږ دے اوکنے هم خوږ دے۔ او د هرلو د خوږ والی خوند جدا جدا دے۔ لیکن دا څوک چاته بښلے نشی چه څۀ فرق دے پکښے۔ خو چه څوک ئے اوخوری نو خپله پوهه شی چه

خوندئے جدا جدا دے۔ (حضرت تھانویؒ فرمائی) زهٔ چه څهٔ وایم دا
خو تقلیداً وایم خو الحمد لله دِ چا تقلید چه م خوښ کړے دے حقیقت
شناس وو۔ دِ هغوئ دِ غیرت دا حال وو چه دِ الله ورسول نه لرے
ویستونکے هر شے که هغه ئے هرځومره چه خوښ وو هغه به ئے۔
طاغوت کښلو او ځان به ئے تر بچ کولو۔ او نفرت به ئے ترکولو
دِ حضرت طلحهؓ واقعه دَه۔ چه یوه ورځ ئے په خپل باغ کښے مونځ
کولو۔ دِ کجورو کښ باغ وو۔ او ورکښے انګور خورے شوے وو
داسے چَتَر ئے جوړ کړے ووچه څهٔ ځائے پکښے خالی نهٔ وو یومرغئ
چرته لاندے لاندے راغلی وَه۔ بیا الوتے بهر ته وتے خو پاس ئے
لار نهٔ مونته پریشانه شوه۔ کله به یو خوا تله کله بل خواکه چرته
لاړ بیا موهم۔ دِ حضرت طلحهؓ ورته فکر شو۔ او په زړهٔ کښے دِ
خپل باغ په دے کجورو والی خو شال شو۔ لیکن زړهٔ ئے دِ الله ورسول
دِ محبت او عظمت نه ډک وو دِ حضورؐ دِ فیض په برکت۔ نو
دے خیال راتلو سره مُتَنَبِّهْ شو۔ چه اے طلحهؓ نن دِ تا په زړهٔ
کښے دِ مال محبت دومره دیر شو۔ چه مانځهٔ کښے ئے دِ الله نه غافل
کړے او مال ته ئے متوجهه کړے۔ داخو دیر غلط کار اوشو۔ مانځهٔ
نه پس فوراً دربارِ نبویؐ کښے حاضر شو۔ عرض ئے اوکړو یا۔
رسول الله نن زړهٔ خپل باغ په مانځهٔ کښے الله نه غافل کړے
یم ځان ته متوجهه کړے یم۔ دا باغ اوس زړهٔ خپل ملکیت کښے
نشم ساتلے۔ داخو ما دِ پاره فتنه شو۔ دا دِ الله دِ رضا دِ پاره
دِ الله نه دِ غفلت په کفاره کښے وقف کوم چه هغه باغ ئے دِ
خپل ملکیت نه اوویستو نو هلهٔ ئے زړهٔ په ارام شو۔ دِ دے
صاحبانو دا شان وو۔ اِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوْا فَاِذَا

Scanned with CamScanner

هُمْ مُبْصِرُوْنَ - (که دِ شیطان په وسوسهٔ لږ غوندے هم د نیاته میلان اوشی - سمدستی بیدارشی (الله یاد کړی دِ شیطان اثر ورنه لاړشی بیا دومره خفه وی لکه چه دِ ټولے دنیا بادشاهی ځُ دِ لاسه وتے وی) بلکه دِ ټولے دنیا دِ بادشاهئ په تلو به هم دومره نهٔ وو خفه شوے - لکه په دے لږ میلان چه وړتر صدمه اوږسی - چا ښه ویلی دی ؎

به آنچه از دوست واماني چه کفر آن حرف چه ایمان
به هرچه از یار دور افتی چه زشت آن نقش وچه زیبا

(په کوم کار چه دِ دوست نه ړوستو پاتے شے هغه کار دِ کفر وی که دِ ایمان یو برابر دے - په کوم څیز چه دِ یار نه لرے وځے هغه څیز ښائسته وی که بد رنګ یو شے دے) شاید چه څوک حیران شی چه په دومره معمولی خیال دِ هغوئ زړهٔ ته دومره غټه صدمه ولے اوړسیده - نو په دے پوهه شئ چه دِ هغوئ په نزد ټوله دنیا هم دِ الله نه دِ غفلت په مقابله کښے هیڅ قیمت نهٔ لری - دِ هغوئ محالت خو دا وی ؎

بر دلِ سالک هزاران غم بود گر ز باغِ دل خلالے کم بود

(که دِ زړهٔ دِ باغ نه یو ډکے هم کم شی دِ سالک په زړهٔ بے حسابه غم راځوړ شی) دِ دے باغ یو یو ډکے دومره قیمتی دے چه دِ دنیا ټول مال دولت دِ هغے په مقابله کښے هیڅ هم نهٔ دے - دنیا خوځهٔ چه هغوئ عالمِ آخرت ته توجه هم صرف دے دِ پاره کوی چه هغه دِ رضائے حق مقام دے - دِ هغوئ مطلوب خو صرف رضائے مولیٰ وی - دِ هغوئ شان خو دا وی ؎

با تو دوزخ جنت است اے جان فزاء بے تو جنت دوزخ است اے دلربا

Scanned with CamScanner

(اے محبوبہ چہ تہٗ راضی ئے نو دوزخ هم مادِ پارہ جنت دے۔او چہ ستا دیدار پکښے نہٗ وی نو جنت هم دوزخ دے)۔

مولانائے روم فرمائی ۔

گفت معشوقے به عاشق اے فتیٰ ٔ تو به غربت دیدهٗ بس شهرها
پس کدام شهرے از آنها خوشتر است ٔ گفت آن شهرے که در وے دلبر است

(یوے معشوقے چنل عاشق تہ اووے ۔ اے خوانہ تا خو پہ سفر کښے دیر بنارونہ لیدلی دی۔ نو دا راتہ اووایہ چہ دے بنارونو کښے دیر بنائسته کوم بنار دے ۔ هغہٗ وړتہ اووے کوم بنار کښے چہ خا محبوب اوسی۔ هغہ ټولونہ بنائسته دے) ۔

که خنکل کښے چنل محبوب چا سرہ وی نو هغہ خنکل وړ باندے دِ باغونو نہ خوښ لکی۔ شاید چہ خوک اووائی چہ دا دِ حال دِغلے او دِ محبت دِ جوش خبرے دی۔ حقیقی واقعات به داسے نہٗ وی نو یا دلرئی پہ دے باب کښے صریح نص موجود دے یو حدیث شریف دے چہ یو صحابی حضرت ثوبانیؓ دِ نبی کریم صلے اللہ علیہ وسلم پہ خدمت کښے حاضر شو۔ عرض ئے اوکړو۔ یا رسول اللہؐ که موبنز جنت تہ لاړ شو هم ستاسو درجے تہ خو نشو رسیدے ۔ ستاسو درجہ به موبنز نہٗ اوچته وی۔ نو دِ تاسو دِ دیدار نہ محروم یو۔ او چہ ستاسو دیدار پکښے نہٗ وی داسے جنت به موبنز څہٗ کړو نبی کریم صلے اللہ علیہ وسلم غلے شو څہٗ جواب ئے وړنکړو۔ جواب دِ پارہ ئے دِ وحی انتظار کولو۔ وحی راغله او دا آیت مبارک نازل شو۔ مَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۔ مِنَ النَّبِيّٖنَ الآیہ۔ (خوک چہ دِ اللہ وړسول تابعدار وی هغوئی به (دِ قیامت پہ وړز) هغوکسانو سرہ وی چا باندے چہ اللہ تعالےٰ چنل

Scanned with CamScanner

احسان کړے دے یعنی پیغمبران او صدیقین او شهیدان او نور نیکان)
نبی کریم صلے الله علیه وسلم مخے صحابی تہ په جواب کښے دا آیت مبارک
واورولو او تسلی ئے ورکړه چه اگرچه دِ اعمالو په مناسبت به دِ
درجو فرق وی- لیکن دِ یو بل ملاقات تہ به ورتلے شی- دا
ضروری نهٔ دَه چه عارضی ورتلو دِ پاره دِ هم دِ هغے درجے دِ
اعمالو ضرورت وی عارضی ورتلو دِ پاره اطاعت او محبت کافی
دے- لکه شاهی درباار ته چه خدمتکار دِ خدمت دِ پاره دِ امیرانو
وزیرانو نه مخکښے حاضرشی- حُکه مَعَ الَّذِیْنَ سره مخکښے ذَالِکَ الْفَضْلُ
مِنَ اللّٰهِ سره تصریح اوشوه- چه دا نعمتونه خالص دِ الله فضل دے
دِ خپلو اعمالو مستقل اثر ئے مهٔ کښئ- او په ربنستیا که څوک سوچ
اوکړی- نو څوښ دین- څوښ ایمان- څوښ اعمال- مونځ- روژه
زکوة- حج څومره د نیکئ کار ونه اوخته دِ ثواب درجے چه دی
ټولے دِ نبی کریم صلے الله علیه وسلم دِ تابعدارئ او محبت په برکت
دی- لکه دِ دے آیتونو دِ شانِ نزول نه صفا معلومیږی په کومو
کښے چه ارشاد دے- ذَالِکَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ وَکَفٰی بِهٖ عَلِیْمًا- (دا په
تاسو دِ الله فضل دے- او الله دِ تاسو په حال نهٔ خبر دے) دِ دے
مطلب یا خو دا دے چه دے کښے دِ تاسو هیڅ کمال نشته- دا خالص
دِ الله تعالے فضل او احسان دے چه دِ محبت په بهانه ئے تاسو ته
دِ خپل حبیب سره دِ ملاقات اجازت درکړو- او یا ئے دا مطلب
دے چه په دے ارشاد دِ هغے کسانو ناامیدی ختمول غواړی په
چا چه دِ نا امیدئ غلبه وَه او دا خیال ئے ووچه دِ اعمالو دِ کمی
په وجهه به دِ حضورؐ دِ دیدار نه محروم شو- نو هغوئ ته
تسلی ورکولے شی چه تاسو واقعی دِ دے قابل نهٔ وئ- لیکن دا

Scanned with CamScanner

نعت د تاسو د اعمالو جزا نۀ دَه - داخالص د الله تعالے فضل او - احسان دے چه د پیغمبرانو اوچتے درجے ته د ورتلو اجازت ئے درکړو - سبحان الله - کلام الله هم څۀ عجیبه کلام دے - دوه متعارض خیالات وو - یو تعجب او بل نا امیدی په یوه جمله کښے د دواړو جواب اوشو - ر بنستیا دَه ـه

بهارِ عالمِ حسنش دل وجان تازه میدارد ـــــ
بہ رنگِ اصحاب صورت را بر بو ارباب معنی را

(د قرآن د بنائست بهار زړۀ او روح د واړۀ تازه ساتی - ظاهر بین په چنل ظاهری بنائست خوشالوی او څوک چه حقیقت - شناس دی هغوئ په چنله باطنی خوشبوئ تازه ساتی - د هر طبیعت - هر رنگ او هر مزاج مناسب علاج پکښے موجود دے - نو د حضرت ثوبان رض په دے حدیث شریف جنړه بالکل صفا شوه - چرته هم د حال د غلبے خبرے نۀ دی - حقیقت دے - ځکه چه حضرت ثوبان رض چه کوم خیال پیش کړے وو - د هغے انکار اونشو بلکه او منلے شو او تسلّی ور کړے شوه - نو دا خبره هم د تصوف یو نکته او یو شاعرانه خیال نۀ دے - بلکه منلے شوے حقیقت دے - د دے صاحبانو دا شان (چه د واړه جهانه ورته د الله ج د رضا او د حبیب خدا د دیدار په مقابله کښے هیڅ نۀ ښکاری) په دے شعر کښے ښۀ واضح شوے دے ـه

قیمتِ خود هر دو عالم گفتۀ نرخ بالا کن که ارزانی هنوز

(چنل قیمت د واړه جهانه اوښیلو + نرخ زیات کړه چه په دے قیمت ارزان ئے) د محبت او غیرت خو دا خاصیت دے چه دا کوم ځائے دیره شی نو نور هر څۀ ختم کړی - حضرت ابراهیم ادهم رح په دے

غیرت کښے بادشاهی پریښی وَه - چه په یو وخت کښے دوو طرفو
ته یوشان توجهه ممکنه نهٔ وَه - یوشے ترک کول ضروری وو
نو توجهه الی الله خو دِ ترک کولو شے نهٔ وو - دنیا ترے لته
ور کړه - بادشاهی ئے پریښوه چا ښه ویلی دی ؎

به فراغِ دل زمانے نظرے بے ماه روئے -
به ازانکه چتر شاهی همه روزهائے هوئے

(دِ ښه په اطمینان سره یو ساعت خپل محبوب ته کتل - دِ دے نه
بهتر دی چه په سَرئے دِ بادشاهئ تاج وی او ټوله ورځ
شور غوبل وی) - حضرت ابراهیم ادهمؒ هم دے اطمینان سره
محبوب حقیقی ته متوجهه کیدل غوره کړو او بادشاهی ئے ترک کړه -
لیکن دے نه دِ څوک دِ پیغمبرانو متعلق دا شک نهٔ کوی -
چه دوه طرف ته کامله توجهه نشی کیدے - نو پیغمبران خو مخلوق
طرف ته متوجهه وو - ځکه چه دِ هغوئ دِ بعثت مقصد م دا دے
چه مخلوق ته هدایت اوکړی - نو هرکله چه مخلوق ته متوجهه
وو نو خالق ته توجهه به ئے کامله نهٔ وَه - او داکښے نقصان
دے او نقصان دِ نبوت منافی دے - ځکه چه دِ نبوت مرتبه دِ
کمال دَه - نبوت دومره اوچته مرتبه دَه چه بَشَر دِ پاره دِ دے
نه اوچته مرتبه بله نشته - چه دا اومنلے شی - نو بیا څهٔ وجهه
دَه چه دِ مخلوق نه تعلق قطع کول چه دِ کمال دِ پاره ضروری
دے - پیغمبرانو کښے نشی مونږ - دِ دے شک کښخائش دلته ځکه
نشته چه دِ پیغمبرانو توجهه الی الخلق دِ خالق په حکم دَه نو دوئ
په دے وخت کښے هم دِ حکم خداوندی په تعمیل کښے مصروف
وی نو دِ توجهه الی المخلوق په وخت کښے هم دِ خالق نه غافل

Scanned with CamScanner

نهٔ وی - بلکه په دے توجهه الی المخلوق کښے خپله توجهه الی الخالق موجودهٔ وی- پیغمبران چه امت ته متوجهه وی نو دِ الله تعالے احکام ورسوی - او دا تبلیغ په پیغمبرانو فرض دے- نو دِ دے فرضو ادا کولو په وخت کښے توجهه الی الخالق په کامله طریقه موجوده وی - دِ دے مثال داسے دے - لکه څوک په څه وجهه محبوب ته مخامخ ننئی کتے نو هغه څانته مخامخ آئینه په دا ے طریقه کیدی چه محبوب پکښے ښکاری- نو په دے وخت کښے دے په ظاهره خو آئینے ته کوری - لیکن په حقیقت کښے دِ خپل محبوب مشاهده کوی - دغه شان پیغمبرانو دِ پاره هم دِ تبلیغ پهٔ وخت کښے دا مخلوق آئینه دهٔ - چه هغوئ طرف ته توجهه نه ئے مقصود توجهه الی الخالق وی - نو هغوئ دِ پاره توجهه - الی الخلق دِ توجهه الی الخالق نه مانع نهٔ دهٔ - غرض داچه دِ حق عاشقانو ته بل خواکتو باندے غیرت ورځی او دِ دے غیرت په وجهه ورکښے دینی جوش پیدا شی چه خلق ئے تعصب او غصه کړی. او دِ شریعت خلاف کار باندے حفه کیدل او غصه کیدل په- شریعت کښے تر دے حده مطلوب دی چه یو دِیر نیک سړے په دے وجهه کنهکار وسړه تباه کړے شوچه هغهٔ دِ فاسقانو سړه تعلق - سانتلو-

نو دا سړے په ظاهره نیک وو- په حقیقت کښے نیک نهٔ ووچه دِ دین په مخالفت غصه نهٔ ورته تله او فاسقانو سړه ئے قطع تعلق نهٔ کولو- او که په حقیقت کښے هم نیک وو- نو دا به په ظاهره - هلاکت وو- په حقیقت کښے به رحمت وو- چه الله تعالے به په هغه دنیا کښے دِیر اجر ورنه وکړی وی-

Scanned with CamScanner

بهرحال داثابته شوه چه دِ نیکانو څخه برکتونه غیر اختیاری وی
لیکن کوم برکتونه چه ئے اختیاری دی هغے دِ پاره دِ کامل عقل ضرورت
دے - ځکه دِ کومو بزرګانو په ذمه چه دِ خلقو دِ هدایت اوارشاد
کار دے - هغه دِ کامل عقل خاوندان وی - او دِ چا په ذمه چه
دِ ارشاد کار نشته په هغوئے ساده او مجذوبان وی - ځکه چه
دِ هغوئے په ذمه صرف دِ خپل ځان کار وی - او هغوئے هم دغه
هومره مکلف وی څومره چه عقل ورکړے شوے وی - نوحاصل
داشو - چه دِ چا په ذمه چه دِ نورو خلقو هدایت او تربیت
دے لکه پیغمبران او دِ ارشاد په مسند ناست بزرګان دایسے
خلق ساده نهٔ وی - بلکه ډیر پوهه او دِ کامل عقل خاوندان
وی - او دِ چا په ذمه چه دِ خلقو تربیت نشته هغوئے ساده
اومجذوبان هم وی په دے وجهه ویلی شوی دی چه خلق څلور
قسمه دی - (۱) یو هغه چه دِ دین عقل هم لری او دِ دنیا هم لکه
پیغمبران اودِ پیغمبرانو وارثان صاحب ارشاد بزرګان - (۲) دویم
هغه چه دِ دین عقل لری او دِ دنیا نهٔ لری لکه ساده نیکان او
مجذوب ولیان - (۳) هغه چه دِ دین عقل نهٔ لری او دِ دنیاعقل
لری لکه پوهه کافران (۴) څلورم چه نهٔ دِ دین عقل لری اونهٔ
دِ دنیا لکه ناپوهه کافران -

غرض داچه پیغمبران اوصاحب ارشاد ولیان اوکامل عالمان
دِ کامل عقل خاوندان وی - اګرکه تجربه کار نهٔ وی - ځکه
چه هغوئے دِ دنیا کاروبار ته فکر نهٔ کوی - څنه خلقونه دا -
عجیبه غلطی کیږی چه عقل اوتجربه یو شے ګڼی - حالانکه دے
دواړه وکښے څرګند فرق دے - اوچونکه عالمان دنیاوی کاروبار

کښے تجربه کار نۀ وی - نو دوئ وائی عالمان کم عقل وی - حالانکه تجربه او عقل دوه جدا جدا څیزونه دی - تجربه د جزئیاتو بار بار مشاهده کول دی - په جمال کوتې څوخو ځله انر میبنت او کړے شو چه هر ځل ئے د ستونې لاوستل - نو دا او ویلے نشو چه جمال کوتې د صفرا مسهل دَه - او عقل یو طاقت دے چه الله تعالے بنیادم ته ورکړے دے - د عقل په ذریعه بنیادم د کلیاتو ادراک کوی (حضرت تهانویؒ فرمائی) ځما یو دوست وو مولوی محمد حسین عظیم آبادی هغۀ نه د طالبئ په وخت کښے د کالج یو هلک تپوس او کړو چه اسمان کښے څومره ستوری دی - هغه ورته اووے مرصوده کواکب څو معلوم دی او د غیر مرصوده شمار معلوم نۀ دے - هغے کالجی ورته اووے - عجیبه خبره دَه د سائنس دومره ضروری خبره درته نۀ دَه معلومه - مولویصاحب ورته اووے سمندر کښے څومره مهیان دی - هغه ورته اووے ما ته نۀ دی معلوم - مولویصاحب ورته اووے عجیبه خبره دَه - تۀ د سائنس دومره عاشق ئے د زمکے د څیزونو حال درته نۀ دے معلوم او ما نه د اسمان د څیزونو تپوس کوے په دے جواب د - کالجی سترګے اوغړیدے او په خپله غلطئ پوهه شو - (دا د عالمانو د عقل یو مثال وو) دغه شان څنه خلق ښۀ کاریګر قوموتو ته هوښیار وائی حالانکه هغوئ صرف په یو خاص هنر کښے تجربه کار وی - عقل بیل شے دے او یو هنرمند کول بیل شے دے - نو داسے خلق ته کاریګر ویل پکار دی نۀ هوښیار - ځکه چه هغوئ سړه صرف د هغے چنل هنر تجربه وی - عقل ئے پیر نۀ وی - د هنر مثال خو داسے دے که هونر یو غټ فلسفی (فرض کړه)

Scanned with CamScanner

افلاطون د یو جولا کور ته بوځو او د هغۀ په کډئ ئے کینو و چه یو کن مهین توکے جوړ کړه - نو هغه ئے یقیناً نشی جوړولے - او یو جولا به ئے په یو ساعت کښے جوړ کړی - نو اوس مونږ دانشو ویلے چه دا جولا د افلاطون نه هوښیار دے - البته داویلے شو چه دا فلسفی توکی جوړولو کښے د جولا هومره ماهر نۀ دے دغه شان عالمان هم د دنیا په کارونو کښے تجربه کار نۀ وی لیکن په عقل کښے پوره کاملان وی - او هم دغه د کامل عقل خاوندان د پیغمبرانو وارثان دی او د خلقو تربیت کولے شی - نو عالمانو سره د دینی احکامو په حکمت باندے پوهیدو کښے د مقابلے حق د چا نشته - لیکن بیا هم په دے عامه شرعی قاعده باندے ((چه د فساد د خطرے په وجهه غیرضروری فوائد پریښول پکار دی)) د نا پوهئ په وجهه خلق کسان عالمانو سره د رمضان د الوداعی خطبے په باره کښے بحثونه کوی -

خلاصه دادَه چه کوم شے چه په شریعت کښے مطلوب نۀ وی او ورسره خرابئ مرکزی شوی وی نو هغه کار به ترک کولے شی - او کوم شے چه شریعت کښے مطلوب وی که هغے سره څۀ خرابئ ګډے شوی وی نو هغه کار به ترک کولے نشی بلکه د خرابیو د اصلاح کوشش به کولے شی - دا عامه قاعده چه واضحه شوه نو اوس په دے پوهه شئ چه د رمضان الوداعی خطبه شرعاً مطلوب نۀ دَه - او ورکښے خرابئ پیدا کیږی دی - نو د دے ترک کول پکار دی -

پاتے شوه داخبره چه په دے چل خلق مانځۀ ته ډیر راغونډیږی که دا ترک شی نو د و مره خلق به نۀ راځی - نو په دے پوهه

Scanned with CamScanner

شئ چه څوک د الله د رضا د پاره ماغځه ته لاځئ نو هغوئ به خامخا لاځئ د الوداعی خطبے په وجهه به نه پاتے کیږی - او څوک چه صرف د یو رسم د پاره لاځئ - نو که هغوئ د دے رسم په ترک کولو مانځه نه پاتے کیږی نو پاتے ښځه دی - دا سے خلقو د پاره موږ څان ولے کنهکار کړو - (حضرت تهانویؒ فرمائی) یوه ورځ ماته یو سړی اووے که ته په وعظ کښے د کونډے د نکاح خبره نه کوے نو زهٔ به وعظ اوریدو ته لاشم - ما ورته اووے په نن وعظ کښے خو به خرور داخبره کوم - که ستا خوښه وی لاشه که نه لاځے مه لاځه - تا د پاره د دین یو مسئله بیانول پریښوے نشم - دین چا ته محتاج نه دے ؎

ز عشق ناتمام ما جمال یار مستغنی ست
به آب و رنگ و خال و خط چه حاجت روئے زیبارا

(د محبوب کامل بنائسته نه موږ یمگړی عشق ته محتاج نه دے واقعی بنائسته مخ ته د ظاهری آرائش خرورت نه وی) څوک چه چنله بنائسته وی هغوئ ظاهری آرائش ته محتاج نه وی څوک ورته گورے او که نه هغے څه پروا نه لری - دغه شان موږ به هم د چا د لاتلو او نه لاتلو پروا نه ساتو او د عارضی مصلحتونو په وجهه به شرعی حکم نه ترک کوو - نه موږ قدر منو مشرانو هم په دے طریقه د شریعت د احکامو حفاظت کړے دے -

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت په زمانه د عرب د غسان قبیلے سردار جبله بن ابهم مسلمان شوے وو - د حج په موقع د بیت الله شریف په طواف کښے په کنړه کښے یو

غریب مسلمان دِ سردار دِ لنګ په پیسه بنیه کیښوه دِ هغهٔ لنګ
پرانستے شو- چه سړو ستونځے او کتل یو غریب سړے وړپسے وو
دِیر قهر وړغلو په مخ ئے داسے څپیړه وړکړه چه غابنی ئے ورته
مات کړو- هغه هم دغه شان په وینو سوړ پوړ حضرت عمرؓ ته په
فریاد وړغلو- هغهٔ حکم اوکړو چه جبله حاضر کړئ- داسخت
دِ امتحان وخت وو- یو طرف ته غټ سردار او بل طرف ته
دِ یو غریب مسلمان مقدمه وَه- حضرت عمرؓ چه قول حال معلوم
کړو- نو هغے غریب سړی ته ئے دِ بدل اخستو اجازت وړکړو
چه ته هم دے سردار ته داسے څپیړه وړکړه چه غابنی ئے مات
شی- جبله چه دا واوړیده نو دِیر غصه شو او وئے وے څهٔ
شی دا غریب سړے ما سره برابر کړو چه ماته دِ څپیړے بدل واخلی
هغوئ وړته او فرمائیل- اسلام- په اسلام کښے امیر و غریب
یو برابر دی- تا دِ دهٔ غابنی مات کړے دے- دے دِ بدل اخستو
حق لری- او کوړئ اسلامی مساوات داشے دے- یو نن زمانه
دَه چه دِ امیرانو دنیا بدله دَه غریب سړے خو بنیادم هم نه ګڼی
لیکن په دے زمانه کښے هم دِ اسلامی مساوات څهٔ لږ دِیر اثر
که پائے دے نو دِ بڼړ کانو په مجلس کښے دے یو حل یو لوئے
حاکم دِ مولانا کنګوهیؒ میلمهٔ شو- چه دِ خوراک وخت راغلو
نو هغه ئے دِ خان سره کینولو- هغه لوئے سړے ګڼلے شو- نو
کوم غریبان طالبان چه به مولانا صاحب سره خوراک کښے
شریک وو- هغوئ سړو ستونځے شو بلے ولے سره کینا ستو حضرت
آوازه وړکړو چه ولے سړو ستونځے شوئ تاسو خما کشران ئ- او
خما په زړهٔ کښے چه ستاسو خو مره قدر دے دومره دِ دے حاکم

نشته - هغه غریبانان طالبان ځ د حاکم سړ په خپل دسترخوان کینول - شاید چه څوک د اشک اوکړی چه دا به ځ حاکم ته د خپلے خاکساری بسیلو د پاره دا سے کړی وی نو په دے ښځ پوهه شئ چه په مولانا گنگوهی کښے د لوئی - نوم ناموس او شان شوکت بوئے م نه وو - خاکساری د هغوئ فطرت گرځیدلے وو د یو واقعے نه به دا سته پوره اندازه اولگی -

یوه ورځ هغوئ په خپل جمات کښے د احادیثو درس ورته کولو - وریځ وه - ناڅاپی باران شروع شو - طالبانو کتابونو بچ کولو د پاره اړل دالان ته منډه کړه - چه کتابونه ځ کیښو نو بیا پیزارونو پسے راغلو - څۀ گوری چه مولانا صاحب د خپلو طالبانو پیزارونه ښوستو د پاره راغونډ کړی دی - دے نه - اندازه لگیدے شی چه د هغوئ په زړهٔ کښے د لوئی بوئے هم نه وو - د دینی محبت په وجهه ورته دا غریبان طالبان د امیرانو نه زیات قدرمن وو - هم د دا سے خلقو په برکت دا دنیا آباده ده او د دے عالم نظام جاری دے - په گومه ورځ چه دنیا کښے دا سے کسان ختم شو دا دنیا به ورانه شی او قیامت به راشی -

خیر دا خو د حضرت عمرؓ امتحان وو چه هغه پکښے کامیاب شو مگښے د جبلهٔ امتحان دے - کتے به شی چه دهٔ په څه خیال ایمان راوړے دے - د دنیاوی عزت په خیال مسلمان شوے دے (چه دے وخت کښے د مسلمانانو طاقت زیات شوے وو - د مسلمانانو مرکزیتا کښے فائده وه) اوکه د زړهٔ نه ځ ایمان قبول کړے دے د آخرت د فائدے په غرض - لکه نن هم د پیر خلق د بزرگانو -

Scanned with CamScanner

مجلس ته په دے غرض وړځی چه خلق ئے منه سړے اوکړی او عزت ئے زړیات شی - اکثر د بیعت د پاړه داسے بزرګان خوښوی چه د لوئے کورنئ وی - مور یدان ئے ډیر وی او خلق ئے قدر عزت کوی - د غریبے کورنئ سړے که ډیر غټ بزرګ او صوفی وی خو داسے خلق هغهٔ نه بیعت نهٔ کوی - مونږ خلق هسے د دین دعوه کوو خو نهٔ مو مطلب صادق وی او نهٔ محبت خالص که د دنیا فائده پکښے کیږی خو د بزرګانو مجلس ته وړځو که نهٔ کیږی نهٔ وړځو - هم دغه شان خلق په امتحان کښے فیل شی عِنْدَ الْاِمْتِحَانِ یُکْرَمُ الرَّجُلُ اَوْ یُهَانُ - (په انعامیښت یا سړے عزتمن شی یا سپک شی) په جبله هم امتحان راغلو او پکښے فیل شو - هغهٔ امیرالمؤمنین ته اووے چه ماته یو ورځ مهلت راکړه هغهٔ وټه اووے داسړے راضی کړه که دے مهلت درکوی درسره کړم او که دے اوس چنل حق احستل غواړی زهٔ مهلت نشم درکولے هغه غریب نیک زړے وو مهلت ئے ورکړو - جَبْلَهَ ته موقع په لاس ورغله او تښتیدو - د اسلامی حکومت د حدود نه اووتو د سرحد میانو بادشاهئ ته واوړیدو - او بیا عیسائی شو لکه چه مخکښے وو - او کورنئ هغه په اخلاص نه وو مسلمان شوے - زهٔ کښے ئے د دین قدر نهٔ وو - د یو وهمی بے عزتئ د ویرے ئے دین پریښو - تل عمری بے عزتی ئے قبوله کړه - اوس دلته اوکورنئ حضرت عمرؓ خو هیڅ پروا او نهٔ کړه چه د یو غریب په وجهه راته یو سردار خفه کیږی - او دے خوا جبله د دین د پاړه لږ غوندے تکلیف هم برداشت نکړے شو - دغه شان ډیر خلق د دین تابعداری د دنیاوی فائدے د پاړه کوی -

Scanned with CamScanner

لیکن د الله په مخلصانو بندیانو که هرڅومره سخته راشی د حق په مقابله کښے هیڅ هم نه کښی ـه

کشندان برائے دلے بارها ؛ خورند از برائے گلے خارها

(د یو زړه د پاره دیر باروونه پورته کوی + او د یو ګل د پاره دیر اغزی خوړی)۔ او په طلب او تلاش کښے که په عمرونه واوړی۔ نه پریشان کیږی او نه ستومانه کیږی۔ ځکه چه د هغوئ طلب صادق وی۔ او هغوئ ته پته وی چه د هغوئ محبوب او مطلوب څوک دے۔ او د حال په ژبه وائی ـه

طلبگار باشد صبور وخموش ؛ که نشنیده ام کیمیاگر ملول

(طلبګار (سالک) نه پکار دی چه دیر صابر او دیر بردبار وی ما نه دی اوریدلی چه کیمیاګر چرے پریشان شوے وی۔ کیمیاګر د کیمیا په طلب کښے خپل ټول عمر او ټول مال برباد کړی۔ خونه ستړے کیږی او نه بنیمانه کیږی۔ همیشه داوائی چه د لږ تاؤ کسر پاتے وو۔ بله پیړه کښے به کامیاب شم۔ هرځل ناکامئ نه۔ پس بیا کوشش ته ځان تیاروی او خپل فن پریدی نه۔ نو آیا د خدائے طالب (سالک) ته د دنیا د طالب (کیمیاګر) هومره شوق او جذبه هم نه ده پکار؟

یاد لرئ څوک چه د طلب نه مایوس شو او کارئے پریښو هغه حقیقی طلبګار نه وو۔ هسے ظاهری شکل ئے د طالب (سالک) جوړ کړے وو۔ لکه یو عارف ویلی دی ـه

این که می بینی خلافِ آدم اند + نیستند آدم غلافِ آدم اند

(دا ته چه وینی چه د سړیتوب خلاف کارونه کوی + داسړی نه دی د بنیادمو تش پوټکی دی) یعنی هسے په شکل بنیادم دی۔ د

بنیادم خوږونه پکښے نشته)۔

نو څوک چه د الوداعی خطبے نه ویلو په وجهه مانځه ته نه راځی د هغو به هیڅ حیال نشی ساتلے۔ دا سے وقتی فائدو د پاره د بدعتونو اجازت نشی ورکیدے۔ د الوداعی خطبے نه نه یاته ضروری د شعبان خطبه ده چه مسنون ده ۔ په احادیثو کښے راغلی چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم د شعبان په آخره جمعه کښے داخطبه اوویے د کوے یوه توپه چه د دے وعظ عنوان دے او مسنون خطبے نه بیان شوی ده ۔ تر مبنځه د الوداعی خطبے بیان د جملے معترضے په طور راغلو۔ اوس اصل مقصود بیا شروع کوم ۔ نبی کریم صلے الله علیه وسلم د رمضان د میاشتے د برکتونو متعلق او فرمائیل ۔ هُوَ شَهْرٌ اَوَّلُهٗ رَحْمَةٌ وَ اَوْسَطُهٗ مَغْفِرَةٌ وَ آخِرُهٗ عِتْقٌ مِّنَ النَّارِ۔ (دا دا سے میاشت ده چه اوله حصه ئے رحمت دے ۔ د رمیانه حصه ئے بخشش دے او آخری حصه ئے د دوزخ د اور نه خلاصے دے)۔ (حضرت فرمائی) ما دا ویل چه دا حدیث شریف م د دوو خبرو د پاره خوښ کړو۔ اول د حدیث شریف تشریح واورئی بیا به هغه دواړه خبرے بیان کړم۔

په دے پوهه شئ چه داچه ویلی شوی وی چه د دے میاشتے اوله حصه رحمت دے ۔ د دے مطلب دادے چه د رحمت معنیٰ ده مهربانی۔ نو د رمضان په شروع کښے الله تعالے په خپلو بنده یانو۔ مهربانه شی ۔ د نیک عمل یعنی روژے نیولو توفیق ورکړی۔ چه بے توفیقه هیڅ عمل نشی کیدے ۔ نو اولے حصے ته رحمت اوویلے شو۔ دے نه داخبره هم معلومه شوه چه هغه خلق چه په خپل نیک عمل ۔ غاوره کیږی چه موږ خو دیر کار اوکړو۔ دا د هغوئی د کم نظرئ

دلیل دے انسان هیڅ کار هم نشی کولے - ترڅوچه الله تعالے توفیق ورنکړی - مولانا رومی فرمائی ؎

بے عنایاتِ حق و خاصان حق ؏ گر مَلَک باشد سیاه‌ستش ورق

(د حق تعالے او د هغهٔ د خاصو دوستانو د مهربانئ نه بغیر که فرشته وی هم د عمل پاڼه به ئے توره وی) - یعنی هیڅ نیکی به پکښے نهٔ وی - بل ځائے فرمائی ؎

این همه گفتیم دلیک اندر پسیچ ؏ بے عنایاتِ خدا هیچم و هیچ

(دا تولے خبرے م اوکړے خو دا حقیقت بے د الله تعالے د مهربانئ نه موبن هیڅ نهٔ یو بالکل بے کاره) - هرڅهٔ د الله په مهربانئ - او توفیق کیږی - چل کمال د ئے هیڅوک نهٔ کښی - خو پورے چه د الله تعالے فضل ورسره مَلْ نهٔ وی - هیڅوک هیڅ کار نشی کولے ؎

من چو کُلکَمْ در میان اصبعین

(زهٔ خو د دوو گوتو ترمینځ د قلم په شان یم) لیکونکے چه گوتو ته څنگه حرکت ورکوی قلم هغه شان لیکل کوی - په چل اختیار هیڅ هم نشی لیکلے - دغه شان بنده چه څهٔ کوی د الله تعالے په توفیق او د هغهٔ په اراده او اختیار ئے کوی په چل اختیار هیڅ هم نشی کولے -

آخر څهٔ وجهه ده چه ابوجهل چه یو هوښیار سردار وو - د نبی کریم صلے الله علیه وسلم د ترهٔ خوئے وو - په یو کلی یو خاندان کښے په یو ځائے کښے او سیدو - دیارلس کاله ورته رسول الله صلے الله علیه وسلم د ایمان تبلیغ اوکړو - خو چه د هغهٔ په قسمت کښے کلمه ویل نهٔ وو - هیڅ اثر ئے په اونکړو - کافر د دنیا نه لاړو او حضرت بلال رضی الله عنه د حبشے او سیدونکے وو - دیر

هوښیار هم نهٔ وو- او دِ رسول کریم صلے الله علیه وسلم سره یو-
خائے اوسیدلے هم نهٔ وو- ځکه چه مکے معظمے ته چه راوسیدلے
وو نو دِ یو کافر په غلامئ کښے کیر وو- ازاد کړځیدے هم نشو-
او نه دِ حضور صلے الله علیه وسلم مجلس ته حاضریدے شو- لیکن
سړه دِ دے چه الله تعالے دِ هغه سینه په ایمان سره ښانه کړه نو
هغے ظالم مالک به وهلے باندنے دومره ظلم کولو چه په سخته کرمئ
کښے به ئے په کرمه شکه بربنده څملولو په سینه به ئے وهته درونده
کانړے کیښوچه سوزی اواړخ قدرے هم نشی بدلولے- لیکن هغهٔ
به داهغول تکلیف برداشت کولو او دِ خولے نه به ئے هم دغه
اواز ختو چه الله یو دے- الله یو دے- (اَحَدٌ- اَحَدٌ) دِ دے وجهه
هم داوَه چه ابوجهل ته دِ ایمان توفیق نهٔ وو ورکړے شوے
اوحضرت بلال ته ورکړے شوے وو-

حسن زِ بصره بلال ازحبش صهیب زِ روم
زِ خاکِ مکه ابوجهل این چه بوالعجبی ست

(په بصره کښے حسن غوندے بزرګ- په حبشه کښے دِ حضرت بلال
غوندے صحابی او په روم کښے دِ حضرت صهیب غوندے صحابی
پیداکیږی (دا درے واړه ځایونه دِ مکے معظمے نه کافی لرے دی)
او خاص په مکه کښے دِ حضور صلے الله علیه وسلم په خاندان کښے دِ
ابوجهل غوندے غټ کافر پیداکیږی- داځکه عجیبه خبره دَه-

حقیقت دادے چه څوپورے دِ الله تعالے دِ طرف نه جذب او
توفیق نهٔ وی هیڅ هم نشی کیدے- نو داخیال کول چه ما داکار
اوکړو خالص جهالت دے- دِ یو بزرګ واقعه دَه چه یوځل
چرته تلو دِ شاهی محل دِ لاندے تیریدو- بادشاه دِ بره نه

Scanned with CamScanner

اولیدو۔ اوازئے ورکړو دلتہ راشہ ۔ هغہٴ ورته اووے څنګه درشم دروازه ډیره لرے دَه ۔ او دلته پوهئ نشته څنګه درشم بادشاه خپلو خادمانو ته اووے ۔ کمند ورکوی کړئ او په کمند ئے بره را اوخیژوئ ۔ خادمانو دِ کمند په ذریعه بره را ښکلوچه دِ بادشاه سره خبروته کیناستو ۔ نو بادشاه ورته پتوس اوکړو چه ته الله ته څنګه اورسیدے ۔ هغہٴ ورته اووے ۔ څنګه چه تا راښکلم او خانته دِ راوستم ۔ مطلب ئے داووچه الله تعالے دِ جذب او توفیق په ذریعه خان ته اورسولم ۔

نه گردد قطع هرگز جادهٴ عشق ان دوید نها
که می بالد بخود این راه چون تاک از بریدنها

(دِ عشق یعنی دِ سلوک لار په منډو سرته نهٴ رسی ۔ څکه چه دا څپله اوږدیږی لکه دِ انګور بوټے چه په شاخ تراشئ ترقی کوی) یعنی څو پورے چه دِ الله تعالے توفیق مرګ رے نشی ۔ په څپل کوشش څوک منزل مقصود ته نشی رسیدے ۔ څوک چه څومره منډه وهی دومره به ورنه منزل مقصود لرے ووځی او لاړ به ورته اوږدیږی ۔ څنګه چه دِ انګور بوټے په شاخ تراشئ ترقی کوی ۔ خوچه الله اوغواړی او خانته ئے راکاږی نو دِ ستړکو په رپ کښے ئے مقصود حاصل شی ۔ (واصل شی) ۔ دا خو دِ عمل په باره کښے وو ۔ بل شاعر دِ جذب متعلق ویلی دی ۔ خو دا مضمون دِ مجازی محبوب متعلق دے ۔ نو په الفاظو کښے ئے معمولی تبدیلی پکار دَه چه دِ حقیقی محبوب دِ شان مناسب شی ۔ شاعر وائی ۔

خود به خود آن بتِ عیار به بر می آید ۔
نه به زاری نه به زور نه به زر می آید

Scanned with CamScanner

(هغه چالاک محبوب کله چه ځان ښکاره ئی خپله غیږ ته راځی لیکن نه په منت راځی او نه ځوک په طاقت یا د مال په زور راوستے ئی) دے کښے داسے تبدیلی پکار دَه ـ

خود به خود آن مَهِ دلدار به بَزمی آید
نه به زاری نه به زور نه به زرمی آید

هرکله چه مجازی محبوب څوک مجبور ولے ننئی په خپله رضا کار کوی نو په حقیقی محبوب د چا زور چلیدے ئی هغه خو د مجبورئ د شک نه هم پاک دے۔

د نبی کریم صلے اللہ علیہ وسلم د مهربانیو نه قربان شم موږ ته د دعا چل بنائ - ارشاد دے - لَا تَقُلْ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنِیْ اِنْ شِئْتَ فَاِنَّهٗ لَا مُکْرِهَ لَهٗ - (داسے مهٔ وایه چه یا الله که ستا خوښه وی په ما رحم اوکړه - څکه چه هغه څوک مجبور ولے ننئی) - هغه هرڅهٔ په خپله خوښه کوی - حقیقت کښے داسے دعا غوښتل بے ادبی دَه خو دے ته د چا فکر نه رسیدو - داسے باریکے خبرے خو د نبوت د رڼا محتاج وی د بے ادبئ وجهه ئے داده چه د خوښے قید خو به ورسره هلهٔ لګیدو - که دا احتمال وے چه بے خوښے هم په چاڅهٔ کار کولے شوے (نو د دے قید مطلب به داوو - چه موږ د ربانده زور نهٔ کوو که خوښه د وی اوئے کړه که خوښه د نهٔ وی مهٔ ئے کوه) حلته خو دا حالت دے که تهٔ لس نږدے څله یو شے غواړے که د هغهٔ رضا وی سوال به د قبول کړی هغه شے به درکړی - که رضا ئے نهٔ وی نه ئے قبلوی د هیڅ زور په نهٔ چلیږی - نو بیا د خوښے قید لګول بے فائدے دی۔

رښتیا خو دادَه که د دنیا ټول هوښیاران راجمع ئی هم دے

باریکے نکتے تہ ئے خیال نشی رسیدے کومہ چہ موبز تہ رسولِ پاک
او بنسیلہ۔

ھرکلہ چہ ھرڅہٗ دِ اللہ پہ اختیار کښے دی۔ او نھڅہٗ دِ مجبورئی نہ
پاکٗ دے نوکہ موبز تہ پہ رمضان کښے دِ روژے تراویحو او تلاوت
توفیق رانکړی نوڅوکٗ ئے ځہٗ کولے شی۔ حُکہ ئے او فرمایئل چہ اولہ
حصہ ئے رحمت دے۔ چہ دِ روژے او تلاوت او عبادت توفیق
ورکول دِ اللہ تعالےٰ غټہ مہربانی او رحمت دے۔ او چونکہ دِ اللہ۔
تعالےٰ ارشاد دے۔ اِنَّ الْحَسَنَاتِ یُذْھِبْنَ السَّیِّاٰتِ (بیشکہ نیکیو رہ
گناھونہ معاف کیږی) نوچہ دِ رمضان پہ وربنولسو ورزو کښے اللہ
تعالےٰ موبز تہ دِ روژے تلاوت عبادت او نورو نیکیو توفیق را
کړی نو دے رہ بہ کړے گناھونہ معاف شی۔ نوحُکہ وسطِ رمضان
تہ مغفرت او ویلے شو۔ او ظاھرہ دَہ چہ گناھونو معاف کیدو رہ۔
بندہ دِ دوزخ دِ اورنہ بچ کیږی۔ نو آخری حصے تہ ئے عِتقٌ مِّنَ
النیران او ویلے شو۔ او دا تقسیم کہ دِ روغے میاشتے پہ حساب سرہ
اوشی۔ نو شپے ھم پکښے راغلے۔ دِ ورزے دِ روژے ځہٗ خصوصیت
پکښے پاتے نشو۔ بلکہ پہ دے فضیلت کښے دِ شپے دِ عبادت دخل
ھم ثابت شو۔ او کہ تقسیم حرف دِ ورزے پہ وخت پورے خاص
شی نو بیابہ دا فضیلت بہ خالص دِ روژے شی۔ دِ شپے دِ عبادت
(تراویحو۔ختم قرآن۔ تھجد او نورو نوافلو) دخل بہ پکښے
نہٗ وی دغہ شان دے تقسیم کښے پہ بلہ طریقہ ھم دوہ احتمالہ
دی۔ (دِ روژے میاشت چہ درے برخے شوی دَہ نو دا ھم ممکنہ دَہ
چہ دا یو یو اثر (رحمت۔ مغفرت۔ عتق من النار) پہ یو یو حصہ
پورے خاص وی۔ او دا ھم ممکنہ دَہ چہ درے واړہ اثرہ پہ ھرہ

حصه کښے وی - لیکن اوله حصه کښے د صفتِ رحمت غلبه دَه - هغے تہ
اوویلے شو - او په دویمه حصه کښے د صفت مغفرت غلبه دَه -
هغے ته د مغفرت نوم کیښوے شو - او په آخره حصه کښے ئے د صفتِ
عتق من النار غلبه دَه نو هغے ته دا نوم ورکړے شو - غرض داچه
په هره طریقه چه ئے واخلئ دا ټول ورز د حدیث شریف د دے
آخری حصے مصداق دَه - نو مونږ ته د الله تعالے ډیر ډیر شکر -
کول پکار دی چه د دوزخ د اور نه ئے نجات راکړو - لیکن ورسره
ورسره داخیال هم پکار دے - چه رسولِ اکرم صلے الله علیه وسلم د آخری
حصه د نجات په اولو دوو حصو رحمت او مغفرت مرتب کړی دَه
نو اوس مونږ ته په څنګ کریوان کښے کتل پکار دی او غور کول
پکار دی - چه آیا مونږ داسے نیک کارونه کړی دی چه د رحمت او
مغفرت مستحق شو که نه - او صرف د روژے او تراوو په ظاهری
شکل داګومان نه دے پکار چه مونږ د رحمت او مغفرت حقدار شوی
یو - ځکه چه د هر عمل فضیلت هلهٗ ثابتیږی چه د هغے حقوق پوره
پوره ادا کړے شی - یعنی هغه کار سنهٗ په صحیح طریقه اوکړے
شی - او د روژے متعلق حدیث شریف کښے راځی - مَنْ لَّمْ یَدَعْ
قَوْلَ الزُّوْرِ وَالْعَمَلَ بِهٖ فَلَیْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِیْ اَنْ یَّدَعَ طَعَامَهٗ وَشَرَابَهٗ
(چاچه د روع ویل او په هغے عمل ترک نهٗ کړو نو الله تعالے ته
ئے د خوراک څکاک ترک کولو هیڅ حاجت نشته) اوس د هرڅوک
فکر اوکړی چه ترنن ورزے ئے د د رمضان میاشت څنګه تیره کړے
دَه مونځونه ئے پکښے پوره پوره کړی دی که نه څهٗ تر قضا شوی
وی - او کوم چه ئے کړی دی هغه ئے پوره توجهه سره کړی دی
او د هغے پوره حقونه ئے ادا کړی وی که نه نو ورځ ئے ټوله

څنګه تیره کړی ده - او د شپے نے څه کړی دی - چرته نے د چا غیبت - څ نه دے کړے دروغ څوئے نه دی ویلی - نظر بازی څوئے نه ده کړی - حرام مال څوئے نه دے څوړلے - که چا دومره همت کړے وی چه د هر قسم ګناهونو نه ځان بچ کړے وی او عبادتونه نے پوره حقونو سره ادا کړی وی - نو هغه د پاره د انو ورز د خوشالئ او مبارکئ ورز ده (چه د دوزخ د اور نه بچ شو) او که چا نه دومره همت نه وی شوے - نو هغه د پاره د غم او خفګان ورز ده (چه د دومره غټ نعمت نه محروم شو) -

لیکن که چا نه بے همتی شوی وی نو هغه ته هم ناامیده کیدل نه دی پکار اوس هم وخت شته چه چنل پوره پوره کوشش اوکړی نو انشاءالله دوزخ نه به ځان بچ کړی - د الله تعالے دربار ډیر عجیبه دے (هغه خو د چلو بندیانو بخشش ته بهانے لټوی) هلته خو دا حالت دے - دا عام اعلان دے ے

بازآ بازآ هرآنچه هستی بازآ ؏ گر کافر و گبر و بت پرستی بازآ
این درګهه ما درګهه نومیدی نیست ؏ صد بار اگر توبه شکستی بازآ

(لا اوکړځه را اوکړځه په هر حالت کښے چه ئے لا اوکړځه (توبه اوباسه) که کافر ئے که ملحد ئے که بت پرست ئے لا اوکړځه - دا دربار د ناامیدئ دربار نه دے - که سل ځله د توبه ماته کړی وی بیا هم لا اوکړځه - (بیا توبه او باسه نه قبلوم))

د توبے دروازه هر وخت ازاده ده - څوک چه هرڅنګه خراب حالت کښے وی او کوم وخت چه توبه او باسی الله تعالے ئے قبلوی - هیڅ نا منع پکښے نشته - څوک هر څومره چه ډیر ګنهګار وی - او که ډیر ځله ئے توبه ماته کړی وی - بیا هم که په چلو کړو ستومانه وی او

Scanned with CamScanner

الله تعالے ته رجوع کوی گناهونه توبه اوباسی نو الله تعالے ئے توبه قبلوی - او نړاړه گناهونه ورته معاف کوی - (نوځنګه چه هر چا ته دِ توبے دروازه ازاده دَه څه نا منځ پکښے نشته - دغه شان هغه بے پروا بادشاه دِ چا دِ راتلو یا نه راتلو پروا هم نه لری ے

هرکه خواهی گو بیا وهرکه خواهی گو برو -
دار وگیر و حاجب ودربان درین درگاه نیست

(دِ چا چه خوښه وی راځی دِ او دِ چا چه خوښه وی ځی دِ - په دے دربار کښے دِ چا په تلو راتلو پابندی نشته - په دروازه پردے یا څوکیدار نشته - هرچاته ازادی دَه) څوک راځی اوکه ځی کټه تاوان ئے څنل دے الله تعالے بے پروا بادشاه دے - نه دِ چا دِ راتلو پرانتظار دے او نه څوک دِ تلو نه منځ کوی -

دهرکه خواهی دِ عموم نه دا معلومیږی چه څنه خلق چه هندو یا عیسائی ته دِ کلمے ویلو نه مخکښے غسل کول ضروری کنړی - دِ دے - څه ضرورت نشته - دِ هغه دربار ته هرڅوک هر وخت اوپه هر حالت کښے ورتلے شی - دِ اسلام قبلولو دِ پاره نه دِ غسل ضرورت شته نه دِ آودس اول دِ ایمان راوړی نو بیا دِ ضروری کار وغسل وغیره کوی - بله جنږه دا هم دَه - چه څوک څه ځبودی چه څومنټه - څوونده ئے نور شته که نه - په غسل وغیره ظاهری صفائی څو پیر وخت لګی - اول ورته ایمان قبلول پکار دی بیا به صفائی کوی - څنه خلق خو دومره نه ریاتے کوی چه دِ اسلام نه اول جلاب ورکوی چه خیټه کښے ئے هم دِ کفر دِ حالت خوراک پاتے نشی (حضرت فرمائی) نړه وایم که دا شرط وی چه دِ کفر دِ حالت هیڅ شے ورسره پاتے نشی نو پکار دَه چه وینه هم تر قوله اوباسئ - غوښه هم ورته بدله

Scanned with CamScanner

کړی دَه غرض دا چه دا ټوله فضول خبرې دی - دِ الله دربار ته ورتلو کښے هیڅ قید نشته هر وخت او په هرحالت کښے ورتلے شی - آیا - دنیاوی بادشاهانو کښے داسے بادشاه شته ؟ چه خپلو خپلو او ناپاکو ته هم چنل دربار کښے دِ حاضرئ اجازت ورکوی -

غرض دا چه څنګه چه دے دربار ته دِ راتلو عام اجازت دے دغه شان که څوک ورنه ځی (یعنی اسلام پریږدی او کافر کیږی) هم څۀ پروائے نۀ لری دِ هیڅا نانخړے نۀ وی -

نو هر کله چه دِ هغے دربار دا حال دے نو موږ ته هم ناامیدۍ کیدل نۀ دی پکار - چه اوس خو رمضان ختم شو - زمونږ مغفرت به څنګه اوشی - نن اتویشتم تاریخ دے - په رمضان کښے یا دوه ورځے پاتے دی - (حضرت فرمائی) زۀ دِ شریعت دِ وعدے موافق دعوے سرہ ویلے شم چه که نن هم چا دِ زړۀ دِ اخلاصه کوشش اوکړو - نو مغفرت دِ پاره دا دوه ورځے هم کافی دی لکه چه ویلی شوی دی -

گرجهان پُر برف گردد سَر بسَر
تاب خور بگدازدش از یک نظر

(که دا دنیا ټوله سَر تر سَره واوړه شی - خو دِ نمر تاؤ به ځے په یو ساعت کښے اوبۀ کړی) دغه شان که ټوله دنیا دِ گناهونو نه ډکه شی - خو دِ هغے طرف نه دِ کَرَم یو نظر ورته کافی دے - سبحان الله - څنګه ساده مثال باندے څومره مشکله مسئله حل شوه حقه خو دا دَه چه الله والا ډُوته حقیقت منکشف وی نو دوئ نۀ ښۀ مثال بل څوک نشی ورکولے - حقیقت دا دے چه هم دغه خلق ربنتونی فلسفیان دی - وائی چه افلاطون چا په خوب

Scanned with CamScanner

کښے اولیدو ورنه ئے د مشهورو فلسفیانو متعلق تپوس نه اوکړل چه فلانے څنګه دے او فلانے څنګه دے هغهٔ به وړته وے چه هیڅ م نهٔ دی - چه دِ بایزید بسطامی او شیخ شهاب الدین سهروردی متعلق ئے وړنه تپوس اوکړو - نو اوئے وے چه دا دواړه واقعی فلسفیان دی -

غرض داچه په دے دوه ورځے کښے ځان دِ دوزخ نه بچ کولو دِ پاره څهٔ فکر پکار دے چه رمضان تیرشی او ازادی راشی بیا معلومه دَه چه غفلت به زیات شی او هیڅ به اونهٔ کړے شو اګرچه دِ هغے لوئے ذات مهربانو او رحمتونو نه چه اوکتے شی خو یو ساعت غفلت هم جائز نهٔ دے - لکه چه یو عارف ویلی دی ؎

یکٔ چشم زدن غافل ازان شاه نباشی
شاید که نګاهے کند آګاه نباشی -

(دِ ستړکو رپ قدرے هم دِ هغے حقیقی بادشاه نه غافل کیږه مَه شاید چه هغه دِ کرم نظر اوکړی او تهٔ غافل ئے) - نو دِ غفلت په سبب به دِ رحمت نه محروم پاتے شے -

قسم په خدائے دِ چا کار چه شوے دے په یو ساعت کښے شوے دے دِ رحم یو نظر کافی دے - لیکن تول عمر مجاهدے دے دِ پاره کولے شی چه هغه وخت معلوم نهٔ دے - هیڅ پته نهٔ لګی چه هغه دِ کرم نظر به څهٔ وخت وی - مولانا رومی فرمائی -

صحبت نیکان اګر یکٔ ساعت است ؎ بهتر از صد ساله زهد وطاعت است
یکٔ زمانه صحبتے با اولیاء ؎ بهتر از صد ساله طاعت بے ریا

(دِ نیکانو په مجلس کښے یو ساعت کیناستل دِ سل کاله زهد او عبادت نه بهتر دے) - (یو ساعت دِ ولیانو مجلس دِ سل کاله

Scanned with CamScanner

بے ریا عبادت نه بهتر دے)۔

حُنه کسانو دِ دے دا مطلب بیان کړے دے چه دِ ولیانو دِ مجلس په تولو وختونو کښے یو وخت دا سے راځی چه هغے کښے کامیابی حاصلیږی - دِ شاه ابوالمعالی واقعه مشهوره ده چه هغه دِ چنل خاص موږ ید شاه بهیک صاحب نه په څه خبره خفه شوے وو دِ چنل مجلس نه ئے شړلے وو- هغه به دغه شان خفه سړکدانه په شاړه میو وکړځیدو او شړل به ئے - یو حُل دِ پشکال په- باران وو کښے دِ شاه صاحب دِ کور کوته راپریوته .بی بی صاحبه وړته اووے - یو سړے در سړ دا سے ووچه دا کاړونه به ئے راته کول هغه دِم او شړلو- اوس به دا کوته څوک جوړوی شاه صاحب وړته اووے ماشړلے دے تا خو نهٔ دے شړلے - ته خوږم نه ئے منځ کړے - ته ئے رااوبله او کار په اوکړه -بی بی صاحبه په هغهٔ پسے خبر واستولو- هغهٔ خو داوږ دِ خدایه- غوښته په منډه راغلو- کوم لرګی چه مات شوی وو- دِ هغے په ځائے ئے څنګل نه نوږ لرګی راوړو خاوړه خته ئے برابړ کړه دِ کوتے چهت ئے برابر کړو- خاوړه ئے په واچوله - پاس ناست وو خاوړه ئے ټپوله چه شاه صاحب کوړته راننوتو - ړوتئ خوږ وته کیناستو چه په چهت ئے دِ خاوړے ټپولو اواز واوړیدو - دغه وخت کښے وړباندے جذبه راغله - موږید ته ئے آواز اوکړو راکوز شه - هغهٔ چه دِ پیر دِ مهربانئ ډک آواز واوړیدو دِ دِ ډیرے خوشالئ نه ئے دِ کوتے نه راتوپ کړے - شاه صاحب سینه پورے جنت کړو - دِ خپل ړوتئ نه ئے یو نوړئ خوله- کښے وړکړه- او بس په دغه ساعت دِ هغه مراد حاصل شو-

Scanned with CamScanner

(واصل شو) حکه خو ویلی شی چه یولحظه غفلت م نه دے پکار۔ چیخ پته نه لکی چه د کرم نظر به څه وخت کیږی خو که دومره همت د چا نه وی چه هوله عمر هر وخت بیدار اوسی - نو یورمضان او بل رمضان خو دا همت ضرور پکار دے - رمضان په غفلت کښے تیرول غټه بدبختی ده (حضرت فرمائی) اوس یا دوه ورځے پاتے دی چه دا درنه غفلت کښے تیرے نشی - نهه درته هغه حدیث شریف بیا دریادوم په کوم چه م تیره جمعه وعظ کړے وو- چه رسول اکرم صلے الله علیه وسلم او فرمائیل- رَغِمَ اَنْفُهٗ رَغِمَ اَنْفُهٗ رَغِمَ اَنْفُهٗ (پونړه دے خړ شی یعنی خوار وذلیل د شی - دا جمله حضورؐ درے ځله اوفرمائیله) اصحابو عرض اوکړو دا بدبخته څوک دے یا رسول الله هغوئ اوفرمائیل- یو هغه سړے چه خما نوم ځے واورید او په مانے درود اونه وے۔ دویم هغه سړے چه بوډا کان مور پلار ځے ژوندی وو او د هغوئ په خدمت ځے جنت اونه ګټلو- دریم هغه سړے چه رمضان شریف په راغلو تیر شو او ده ورکښے د نیک عمل او الله تعالے نه معافئ غوښتو خپل ګناهونه معاف نه کړل مغفرت ځے حاصل نکړو۔ غور اوکړئ دا ے سړی ته نبی کریم صلے الله علیه وسلم بیړے کړی دی - او چاته چه د الله رسول خیرے اوکړی د هغه خلاصے چرته دے ۔

چون خدا از خود سوال وکد کند
پس دعائے خویشتن چون رد کند

(هرکله چه الله تعالے خپله د خپل ځان نه سوال زاری کوی نو خپل سوال به خپله څنګه رد کړی) یعنی هرکله چه الله تعالے موږ نه

خپله حکم کړے دے چه ما نه غواړئ زهٔ ستاسو سوالونه قبلوم ـ
(اُدْعُوْنِیْ اَسْتَجِبْ لَکُمْ) نو دِ هغهٔ په حکم هغهٔ نه سوال کول دایے
دی لکه چه هغه خپله خپل ځان نه سوال کوی نو خپل سوال به ـ
خپله څنګه ځواب کوی (مترجم) نبی کریم صلے الله علیه وسلم چه څه فرمائی
دِ الله په حکم فرمائی دِ هغوئ خو داحال دے ـ

در پَسِ آئینه طوطی صفتم داشته اند
آنچه استاد ازل گفت بگو می گویم

(زهٔ دِ طوطی په شان دِ آئینے ښاته یم ـ څه چه راته دِ ازل استاذ
(حق تعالے) وئ اوویله هغه وایم) ـ (دِ ځانه خبرے نهٔ کوم).

نو دِ رسولِ کریم صلے الله علیه وسلم خبرے بے اثره هرګز نشی تلے
اوس خپله سوچ اوکړئ او دِ خپل مغفرت سامان اوکړئ ـ الله تعالے
نه دِ کړی ګناهونو معافی اوغواړئ ـ او دِ معافئ غوښتو طریقه دانهٔ ده
چه تسبیح راواخلئ ـ استغفرالله استغفرالله وائئ ـ دا م کوئ خودے
سړه سړه دا م اوکړئ که چا باندے دِ خلقوخهٔ حقونه پاتے وی هغهم
ادا کړئ ـ که چا باندے قرض وی دِ هغے دِ ادا کولو کوشش اوکړئ او
خپله غاړه خلاصه کړئ ـ او که چا پردئ زمکه قبضه کړی وی ـ هغه
مالکانو ته واپس کړئ ـ که چا سره میراث کښے دِ نورو وارثانوخهٔ
حق پاتے وی هغه ادا کړئ ـ بیا الله تعالے نه دِ ګناهونو معافی ـ
اوغواړئ الله تعالے به ځے قبوله کړی ـ

که څوک اووائی چه دِ مورونو زمکے قبضه پریږدو نوخو دِ
به څهٔ ـ بل غور اوکړئ که دِ ستاسو په قبضه کړی زمکه سرکاری
سړک یا دِ کاوړی پاتے راشی نو حکومت خو به دِ هغے قیمت اصل
مالکانو ته ورکوی ـ بیا به تاسو څهٔ کوئ ـ افسوس دے ـ چه دِ ظاهری

Scanned with CamScanner

حاکم مخکښے خوچښ نشئ کولے او د الله حکم ته بهانے جوړولئ- اصل خبره داده چه زړونو کښے د اسلام او د شریعت د احکامو قدر نشته- ځکه چه دا نعمت بے مشقته حاصل شوے دے- د الله د رضا نه غټه فائده بله نشته- لیکن موږ سړے ئے قدر نشته- د دنیا معمولی فائده راته ډیره ښکاری او د الله د رضا راسره هیڅ قدر نشته ؎

اے گران جان خوار دیدستی مرا + زانکه بس ارزان خریدستی مرا

(اے ناراسته زهٔ درته سپک ښکارم + ځکه چه ډیر ارزان داخیستے یم) د الله تعالے ارشاد دے- مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ (څنګه چه پکار وو دوئ د الله قدر دومره او نهٔ پیژندو) ځکه چه په اسلام باندے ئے څهٔ خرچ نهٔ دے شوے- پیدائشی مسلمانان دی یعنی د مسلمان په کور کښے پیدا شوی دی ځکه مسلمانان دی ؎

هرکه او ارزان خرد ارزان دهد ؎ گوهرے طفلے به قرصے نان دهد

(کوم شے چه څوک ارزان واخلی ارزان ئے خرڅوی- ماشوم مرغلره د سړوښتئ په ټکړه وړ کوی)-

د ډاجانی حاکمانو خوشالولو د پاره خو ډیر کوشښونه کولے او ډیر رقم خرچ کولے شی- لیکن د حقیقی بادشاه د رضا د پاره هیڅ هم نشته- دا ډیره د شرم خبره ده- خومره چه د ډاجا احسان غټ وی دومره د هغهٔ تابعداری ډیره کیږی او د شرمه ئے نافرمانی نشی کولے نو موږ ته هم پکار دی چه د الله تعالے د ډیر شمهٔ نعمتونو په وجه د الله تعالے ډیره تابعداری کوو او نافرمانئ نه ئے ځان ساتو- نو تاسو ته

نوټ: د انګریزانو د حکومت په زمانه کښے دا قانون و چه کاشتکار به د ډیر وخت په پورهکه پاتے شو نو د هغهٔ قبضه به مضبوطه شوه- موږ وئ به شو- بیا به مالک تر زهکه اخستے نشوه بل کاشتکار ته به ئے نشوه ورکولے- (تسنیم)-

هم پکار دی که چا پردئ نرمکه قبضه کړی وی - چه د الله د رضا د پاره
دا قبضه پریدی - نرمکه چنل مالک ته حواله کړی - که د آمدنئ د کمی
په وجهه ورته څۀ تکلیف وی چه هغه د الله د رضا د پاره په خوشالئ
برداشت کړی - الله تعالے به ډیر اجر ورکړی - انشاءالله دنیا کښے
به ئے هم عزت او ارام وراحت نه یات شی - حُکه چه دا ایمانداری
چه ئے اوویني نو بیا به هر مالک چنله نرمکه دے کاشتکار ته ور
کوی - نو شروند به ئے په ارام شی - اوس هم که څوک نۀ پوهیږی
او نۀ منی نو الله دئے پوئ کړی -

(حضرت فرمائی) ما سړه د سهارپنور یو دوه کسان راغلی وو - زۀ
په دے وخت کښے بهسانی نومی کلی کښے وم - دا دوه کسان هلته راغلو
بیعت کیدو د پاره - ما ورته اووے - هوروئ نرمکه هو په قبضه -
کښے شته که نه ؟ هغوئ اووے شته - ما ورته اووے - د پردی
مال قبضه پریدئ نو بیا راشئ بیعت به موکړم - هغوئ اووے
اوس راغلی یو بیعت راته اوکړه - قبضه به پریدو - ما ورته اووے
نه - اول قبضه پریدئ بیا بیعت ته راشئ - په دے وعده لاړ وخو
بیا راغلو -

(حضرت فرمائی) د یو کلی خلق ډیر مودے راسے ما وعظ ته
بلی لیکن زۀ تر اوسه ورغلے نۀ یم - حُکه چه هلته اکثرو کسانو سره
قبضه کښے هوروئ نرمکے دی - زۀ ورته وایم ستاسو رزق خو
ټول حرام دے - چه زۀ درشم په ما به هم داحرام رزق خوروئ ؟ د دے
جواب هغوئ سړه نشته - نو حُما ورته لۀ هم نشته - حدیث شریف کښے
راغلی دی - که د چا سړه یوه روپئ حرامه وی او نهه حلالے وی -
دا یوه چه ورسره کړه شی د هغۀ ټول رزق حرام شی او ټول عبادت

Scanned with CamScanner

ئے برباد شی- غم خو دا دے چه دا حرامه کتله خلق دِ بال بچ دِ ارام په خاطر کوی- لیکن دا خیال نه کوی چه دِ بال بچ دِ عارضی شروند - بنه کولو دِ پاره چیل دائمی شروند تباه کوی - چه رزق ئے حرام وی نو عبادت ئے نه قبلیږی -

دے نه دِ څوک دا خیال نه کوی چه رمونږ آمدنی حرامه ده رزق موحرام دے - مونږ روژه مو قبلیږی نه نو هسے ځان ولے کړه وو- نه به روژه نیسو- نه به مونږ کوو - بس بے غمه به یو

خبره دا ده چه اوس خو صرف دِ حرام خوراک دِ گناه جرم دے در باندے او که مونږ روژه مو پریښوه نو بیا به دوچند سه چند گناه شی- جرم به مو د پرغټ شی - او که مونږ کوئ او روژه نیسئ نو دِ دے جرم نه خو به خلاص ئ - صرف یو جرم به پاتے شی-

تر دے خو دِ رمضان شریف متعلق دِ تیرے جمعے دِ وعظ نه پاتے خبرے وے - اوس به دِ وعدے مطابق دِ اختر متعلق خبرے کیږی - کوم حدیث شریف چه دِ دے وعظ عنوان دے په دے کښے دِ اختر متعلق خبرے هم شته - دِ حدیث شریف آخری ټوټه ده چه دِ رمضان آخری عشره دِ دوزخ دِ اور نه خلاصے دے - او دا مخکښے ویلی شوی دی - چه دا خلاصے مرتب دے په رحمت او مغفرت - هرکله چه دا معلومه شوه نو دا ثابته شوه چه دِ رمضان په آخر کښے - رحمت - مغفرت او عتق من النار درے واړه نعمتونه- جمع دی - یو مقدمه خو دا شوه بله مقدمه ورسره دا مرکزی کړئ چه ارشاد ربانی دے - قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَ بِرَحْمَتِهٖ وَ بِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا (او وایه چه دا صرف دِ الله تعالے فضل او رحمت دے - نو دِ الله تعالے په فضل او رحمت خوشالی پکار ده) دا دواړه مقدمے چه یو

ځائے شی نو نتیجه ئے دا شوه چه د دا سے رحمت په موقع خوشالی پکار ده - او دا نتیجه د حدیث شریف نه هم ثابته ده - ارشاد دے - لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ فَرْحَةٌ عِنْدَ الْإِفْطَارِ وَ فَرْحَةٌ عِنْدَ لِقَاءِ رَبِّهٖ (روژه دار د پاره دوه خوشالئ دی - یوه خوشالی د روژه ماتی په وخت او بله خپل رب سره د ملاقات په وخت) دے حدیث شریف نه ثابته شوه چه د افطار وخت د خوشالئ وخت دے - نو افطارونه دوه دی - یو ورځ کے افطار یعنی هر ماښام د روژے ماتولو په وخت چه د خوړاک څکاک آزادی اوشی - او بل لوئے افطار چه د رمضان میاشت پوره شی روژے ختم شی - په دے وجه دے اختر ته عید الفطر وائی - یعنی د روژه ماتی اختر - دا د ټولے میاشتے مجموعی افطار دے - نه د یو خاص جز - لکه څنه ناپوهه کسانو چه د ځانه یو غلطه مسئله جوړه کړی ده - چه د واړهٔ اختر په شپه تر سحره هیڅ نه خوړی چه صبا اوخیژی نو بیا اعلان اوکړی چه - روژے ماتے کړئ - دے نه پس خوړاک شروع کړی - (حضرت فرمائی) دا رواج هم ورځ کوالی راسے لیدو خو دا پته ئے نه لګیدهٔ چه دا رواج جوړ شوے څنګه دے - بنیاد ئے څهٔ دے؟ د دے پیر - تحقیق او غور و فکر نه پس راته د دے بنیاد دا بنکاره شو - چه د نبی کریم صلے الله علیه وسلم عادت مبارک وو چه د واړهٔ اختر په ورز به ئے سحر وختی د اختر مانځه ته وتر نه مخکښے لږ - غونډے څهٔ شے خوړو (یوځو کجورے یا یو پیاله پیئ) بیا به مانځه ته تلو - د امت باریک بینو عالمانو په زړهٔ کښے حق تعالے د دے یو حکمت اچولے دے - د لقاءِ حق قیدم څکه اولګولوچه د - احکامو اسرارو حکمتونه معلومولو کښے غور و فکر او کوشش

بنه نه دے - حُکه چه په غور و فکر چه څه معلوم شی هغه دبنده
د چنل ذهن او خیال پیداوار وی - حقیقت نه وی حُکه چه په
غور و فکر حکمت لټول حقیقت ته د رسیدو ذریعه نه ده ـ

هرکجا پستی ست آب آنجا رود
هرکجا مشکل جواب آنجا رود
هرکجا دردے دوا آنجا رود
هرکجا رنجے شفا آنجا رود -

(کوم ځائے چه بنکته وی او به اخوا بهیږی - چا ته چه مشکل پیښ
شی جواب هغه ته ورکولے شی - چرته چه درد وی د دارو
اثر اخوا ورځی - کوم ځائے چه مرض وی د شفا خبر ورته ملته وی)
نو هرکله چه تاسو خان الله ته او سپارئ نو هغه به درته چنله
په زړه کښے علوم واچوی - او دا حالت به شی ـ

بینی اندر خود علوم انبیاء ؏ بے کتاب و بے معید و اوستاد

(په چنل زړه کښے به د پیغمبرانو علوم او وینځ + بے کتاب لوستو
او بے د چا مددګار نه او بے استاذ نه (چنله به ئے درته الله
تعالے په زړه کښے واچوی) -

غرض داچه باریک بینو عالمانو ته په اِلقاءِ حق داخبره معلومه
شوی ده - چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم دا کار دے د پاره کولو
چه خلق ته معلومه شی چه رمضان ختم شو نو روژه نه ده چه
خلق د شرعی حدونو نه تجاوز او نه کړی څنګه چه حضور صلے الله
علیه وسلم د رمضان په شروع کښے یو حد مقرر کړے وو دغه
شان ئے په آخر کښے هم یو حد مقرر کړو - که دا سے ئے نه وے
کړے - نو خلق به د عیسایانو او یهودیانو په شان په شرعی حدونو

Scanned with CamScanner

کښے ګډبډ کړی وو۔ ځکه نے دے رمضان نه مخکښے دے یوم شک روژه
ینول منع کړی دی۔ دغه شانِ دے رمضان نه روستو هم دِ اختر
په ورځ روژه ینول منع کړی دی۔ لیکن دواړو کښے نے داوڑق
سائلے دے چه دے رمضان نه مخکښے دِ یومِ شک روژه قطعی حرامه
نۀ دَه۔ او ورستئ قطعی حرامه دَه ځکه چه وړښئ کښے دا احتمال
شته چه ممکنه دَه نن رمضان شروع شوے وی۔ میاشت راختی
وی خو عامه لیدلے شوی نۀ وی۔ لکه چه اکثر دا سے کیږی چه
ځنه ځایونو کښے په یوکم دیرشم میاشت او لیدے شی او ځنه۔
ځایونو کښے او نۀ لیدے شی نو په منع کولو کښے نے نرمی شوے دَه
لیکن دِ رمضان په ختمیدو اختر کول هلۀ جائز دی چه دِ میاشتے
لیدل یقینی شی۔ او چه یقینی رؤیت او شی نو دِ رمضان احتمال
پاتے نشو۔ ځکه دِ اختر په ورځ روژه ینول قطعی حرام دی۔

نو دِ سنت ښوی په تابعدارئ کښے ځنه بزرګانو به هم دواړۀ
اختر په ورځ سحر وختی دِ اختر دِ مانځۀ نه مخکښے څۀ لږ۔
خوړاک کولو چه خلق خبر شی چه نن روژه نۀ دَه۔ دِ دے وختی
خوړاک نه ځنه ناپوهه کسانو دا خیال اوکړو چه کوئے دِ شپے۔
نے روژه وَه اوس نے روژه ماته کړه۔ حالانکه دادِ افطار
کبیرا علان وو۔ په دے خیال ځنه خلقو دِ اختر په شپه روژه
ینول شروع کړو۔

غرض داچه دے نه معلومه شوه چه دِ افطار کبیر هم څۀ قدر
شته۔ او دا هم دِ خوشالئ شے دے۔ په افطارِ کبیر دِ خوشالئ
دے اظهار ته (عید) اختر ویلے شی۔

لیکن دِ دے مطلب دا نۀ دے چه که په څرګندو احکامو کښے

دِ اختر تشریح موجوده نهٔ وے نو صرف دِ دے حکمت په بنا اختر مقرر کیدے شو۔ په چپل فکر دِ یوحکم حکمت معلومول او بیا په هغے نور احکام بنا کول جائز نهٔ دی۔ دِ حکم اصل مدار شریعت دے اګر چه حکمت ئے نهٔ وی معلوم البته دِ شریعت دِ حکم نه پس ئے حکمت هم فکر ته راتلے شی۔ باقی دِ حکمت په معلومیدو دِ حکم مدار موقوف نهٔ دی۔ حکم به مثلے شی۔ حکمت ئے معلوم شی اوکه نه۔ موږ ته خو داسے تابعدار کیدل پکار دی ۔

زبان تازه کردن باقرارِ تو نینگیختن علت از کارِ تو

(شر به هر وخت دِ ستا دِ وحدانیت په اقرار تازه ساتل + او دِ ستا دِ هیڅ حکم سبب نهٔ معلومول او موږ ته خو داسے کیدل پکار دی۔ (حضرت فرمائی) لکه چه حُما استاذ مولانا یعقوب صاحبؒ به فرمائل۔

هر درویشے که چون وچرا کند + وهر طالبے که چون وچرا نه کند هردو را به چرا گاه باید فرستاد۔ (هر سالک چه په احکامو کښے چون وچرا کوی (یعنی دا ټپوسونه کوی چه دا حکم څنګه او ولے دے) او هر طالب علم چه چون وچرا نهٔ کوی (یعنی سبق کښے ټپوسونه نهٔ کوی او حُان ښهٔ نهٔ پوهه کوی)۔ دا دواړه چراګاه یعنی څنګل ته مثل پکار دی (نهٔ هغه دِ خانقاه قابل دے او نهٔ دے دِ درسګاه قابل دے۔ طالب علم یو فن زده کوی نو هغهٔ ته پکار دی چه۔ استاذ نه دِ هرے خبرے ټپوس کوی او په هر حکم حُان ښهٔ پوهه کوی۔ او سالک طالب عمل دے۔ هغهٔ ته دا اجازت نشته چه دِ احکامو په اسرارو او حکمتونو لټولو پسے شی۔ هغهٔ ته خو دِ شریعت په حکم دِ عمل ضرورت دے په حکمتونو لټولو کښے یو ډول فساد

دا دے چه د عوامو داخیال شی چه داحکم مبنی په دے حکمت دے نو چه کوم حکم کښے وی ته څه حکمت معلوم نشی نو په هغے د عمل کولو نه انکار اوکړی - او دا شک وی ته په زړهٔ کښے پریږدی چه څه حکمت پکښے نشته نو دا به د الله حکم نهٔ وی د ځانه به چا جوړ کړے وی یاکه د ځانه وی ته څه حکمت رااوباسو - د الله په طرف نه اِلقاء شوے نهٔ وی - او هغهٔ حکمت د حکم مدار اوګڼو - بیا که د دهٔ په دے جوړ حکمت څوک اعتراض اوکړی او هغه وی ته ګډوډ کړی - د شریعت په حکم کښے به وی ته شک پیدا شی - دا سے به داحکم په عمل نه پاتے شی -

البته د یو حکم څهٔ حکمت چه چا به چنل کوشش نهٔ وی معلوم کړے الله تعالے وی ته خپله بے کوششه په زړهٔ کښے اچولے وی - نو د هغے په بیا نولو کښے څهٔ نقصان نشته - او هغه م یقیناً ګڼل نهٔ دی پکار (خَلِیٌّ دے) -

غرض داچه د الله تعالے د طرف نه وی ته د اظهار اشاره او شی او بغیر کوششه وی ته خپله په زړهٔ کښے د شریعت د احکامو څهٔ اسرار واچولے شی نو بیا وی ته د هغے اظهار جائز دے - وی نه چپه خوله بهتری دَه - بے اجازته د احکامو اسرار بیانول منهٔ نهٔ دی - په اظهار او سکوت د واړو کښے د حق تابعداری ضروری دَه -

به گوشِ گل چه گفتهٔ که خندان ست
به عندلیب چه فرمودی که نالان ست

(گل ته د په غوږ کښے پټ څهٔ ویلی دی چه خاندی + بلبل ته د څهٔ ویلی دی چه په ژړا دے) - مطلب داچه په خبرو او سکوت کښے - او په خندا او ژړا یعنی هرحال کښے د الله د طرف اشارے ته کتل -

Scanned with CamScanner

پکار دی دِ خانه هیڅ کار جائز نه دے۔

غرض داچه اختر یو داسے وخت دے چه په دے کښے موږ ته د خوشالئ د اظهار حکم دے۔ لیکن دا یو دینی خوشالی دَه نو دِ دے اظهار هم په دینی طریقه پکار دے۔ نو خوشالئ دوه قسمه دی۔ یو دینی بله دنیاوی۔ نو دِ دینی خوشالئ طریقه په شریعت ــــ موقوفه دَه یعنی موږ ته داکتل پکار دی چه شریعت په دے موقع موږ ته څه حکم کوی۔ چه په څه طریقه دِ خوشالئ اظهار اوکړو په دے کښے دِ خپل خیال چلولو اجازت نشته۔ ځکه چه عوام به دا خیال اوکړی چه دا به هم دِ شریعت حکم وی۔ نو خپل خیال ته دِ شریعت حکم ویل دِیر غلط کار دے۔

البته د دنیاوی خوشالی چه دِ عقیدے دِ خرابئ څه خطره پکښے نه وی۔ موږ نه په خپل خیال او خپل تجویز کولے شو۔ نن صبا مسلمانانو کښے دا عیب فساد خور شوے دے چه دِ نبی کریم صلے الله علیه وسلم یومِ ولادت ته یومِ عید تجویز کړے دے۔ عیدِ میلاد ورته وائی۔ دِ دوئ په ذهن کښے دا خیال دِ نورو قومونو دِ طرز عمل نه راپیدا شوے دے۔ چه مغوئ دِ خپلو مذهبی مشرانو په یومِ ولادت خوشالئ کوی۔ نو دوئ دا خیال اوکړو چه موږ ته هم دا سے کول پکار دی لیکن یاد لرئ چه دِ نبی کریم صلے الله علیه وسلم په یومِ ولادت۔ خوشالی یو دینی خوشالی دَه۔ نو دِ دے په طریقه متعین کولو کښے موږ ته دِ شریعت دِ حکم ضرورت دے۔ که څوک اووائی چه موږ۔ خوئ دِ کلیزے په طور په دنیاوی طریقه کول غواړو دے کښے دِ۔ شریعت حکم ته ضرورت نشته۔ موږ به ئے په خپل تجویز کوو۔ ــ (حضرت فرمائی) نو زهٔ به اووایم چه دا خو غټه بے ادبی او گستاخی

دَه چه تاسو دِ یو عظیم الشان رسول عظمت او جلالت په یوه دنیاوی مشر باندے قیاس کوئ چه بس معمولی غوندے د نیاوی خوشالی کافی دَه «چه نسبت خاک را با عالم پاک»۔

(حضرت فرمائی) په دے موقع راته دِ یو بزرگ واقعه رایاد شوه۔ وائی چه یو بزرگ دِ کلی نه بهر یوځنگل کښے یواځے اوسیدو دِ خوکئ دِ پاره ئے یوه سپئی ساتلی وَه۔ یوځل هغه سپئی لنگه شوه په دے خوشالئ کښے هغے بزرگ دِ کلی خلقو ته ورغئ او کړه۔ نو رتول کلی ته ئے خبر اوکړو۔ خو دے کلی کښے یو صوفی اوسیدو۔ هغه ته ئے اونه وے۔ هغه ورنه بل وخت دِ دوستئ په بنا گیله اوکړه۔ نو دے بزرگ ورته اووے۔ خو سپئی لنگه شوی وَه نو په دے خوشئ کښے دِ دنیا سپی رابللی وو۔ دا ډیره بے ادبی وَه که په دے موقع دِ تاته هم ویلے وے۔ بیا که کله خو اچیل اولاد اوشو یا بله خه دِ خوشالئ موقع وَه نو تاسو ضرور یاد کړم او دِ دے سپو به پتوس هم اونکړم۔ نو هرکله چه ولیانو سره دِ دنیا دارو په شان سلوک بے ادبی اوګستاخی دَه۔ نو دِ پیغمبرانو دِ سردار سره دِ د نیا دارو په شان سلوک کول۔ او دِ د نیاوی بادشاهانو یا نورو د نیاوی مشهورو کسانو په شان کلیزه کول به څنګه بے ادبی نه وی۔

اوس دِ دے دلیل واوړئ چه عید میلاد د نیاوی خوشالی نه دَه۔ مذهبی خوشالی دَه۔ دا خو هرچا ته معلومه دَه چه د نیا دے زمکے ته یا نریات نه زیات څومیله بره فضا ته ویلے شی۔ نو که داصل د نیاوی خوشالی وے نو دِ دے اثر به تر نرمکے پورے محدود وو دے نه اخوا به نه وو۔ لیکن دِ نبی کریم صلے الله علیه وسلم په ولادت یواځے دِ نرمکے مخلوق نه دے خوشال بلکه دِ عالم بالا تام مخلوق تولے

فرشتے او عرش وکرسی هم په خوشال دی - ځکه چه د نبی کریم صلے الله علیه وسلم د ولادت په برکت د کفرا و کمراهئ تیرے ورکے شوے او د توحید رڼا خوره شوه د کوم په برکت چه دا موجوده عالم قائم او باقی دے - ځکه چه قیامت به هغه وخت راځی او دا عالم به تباه کیږی کله به چه د زمکے په مخ د الله تعالے نوم اخستونکے څوک باقی پاتے نشی - او د قیامت په راتلو به فرشتے هم فنا شی - نو د نبی کریم صلے الله علیه وسلم دنیا ته راتلل د نورے د نیا د بقا سبب دے - ځکه ور باندے نور عالم خوشاله دے - د دے زمکے او سیدونکی هم او د عالم بالا او سیدونکی هم - نو هرکله چه د دے خوشالئ اثر د زمکے نه بره عالم بالا ته هم رسیدلے دے - نو ثابته شوه چه دا صرف دنیاوی خوشالی نه ده - مذهبی خوشالی ده نو اوس ئے د شریعت حکم ته ضرورت ثابت شو - هم د وجود په لحاظ او هم د کیفیت په لحاظ - (یعنی چه کول ئے جائز دی که ناجائز او په کومه طریقه ئے کول پکار دی).

اوس ئے جائز منونکو ته پکار دی چه موږ ته اوښئ چه د شریعت د کوم حکم نه یوم ولادت یوم عید کیدل ثابتیږی او شریعت د هغے څخه طریقه ښیلی ده - که څوک د آیت مبارک قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَ بِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا - (او وایه دا د الله فضل او رحمت دے نو د الله په فضل او رحمت خوشالی پکار ده) نه استدلال کوی چه د حضور صلے الله علیه وسلم دنیا ته راتلل د الله تعالے فضل او رحمت دے نو موږ ور باندے خوشالی کوو -

(حضرت فرمائی) نو زهٔ ورته وایم چه اصحابِ کرام د حضورؐ - تربیت یافته او په حضورؐ عاشقان وو - او په قرآن شریف بنهٔ پوهیدل نو هغوئ د دے آیت مبارک نه ولے په دے حکم پوهه نشو

او بیا هغوئ پسے تابعین او تبع تابعین چه پکښے غټ غټ مجتهدان تیر۔ شوی دی دِ هغوئ په نظر کښے دا خبره ولے رانغله (یعنی په دے طریقه عید میلاد نۀ ولے نۀ کړلو)۔

البته په دے وړاندے چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم نه دِ کومو خبرو روایت شوے دے۔ هغه ضرور کول پکار دی۔ لیکن هغه هیڅوک هم نۀ کوی۔ نبی کریم صلے الله علیه وسلم به همیشه دِ کل په ورځ۔ روژه ښوه او فرمائل به ئے۔ ذٰلِکَ الْیَوْمُ الَّذِیْ وُلِدْتُّ فِیْهِ۔ (دا هغه ورځ دَه چه زۀ ورکښے پیدا شوے یم) نو په دے وړاندے روژه ښول دِ ثواب کار دے۔ بل دا چه دِ کل په ورځ دِ خلقو علمانے دِ۔ الله تعالے په دربار کښے پیش کیږی نو پکار دَه چه عمل نامه کښے ښۀ کار لیکلے شوے وی۔ کیدے شی چه دِ دے دواړو خبرو مجموعه په دے ورځ دِ روژے نیولو سبب وی۔ او که یواځے یوم ولادت ئے سبب وی هم صحیح دے۔ لیکن اجازت صرف روژے دے۔ نن صباچه په دے وړاندے کوم نوی نوی کارونه کیږی۔ دا هٔول بدعات او باطل دی۔

یوم ولادت نه میله جوړول جائز نۀ دی۔ دغه شان دِ چا په یوم وفات میله جوړول هم جائز نۀ دی۔ لکه نن صباچه دِ اولیاؤ په یوم وفات کومے میلے ایجاد شوی دی چه عرس وړته ویلے شی دا هٔولے فضول او ناجائز دی۔

اصل حقیقت دِ دے دا دے چه عُرس په لغت کښے ویلے شی واډۀ ته او دِ واډۀ حاصل هم دِ محبوب وصال دے۔

چونکه اولیاؤ دِ پاسه دِ مړ کیدو ورځ دِ چنل حقیقی محبوب سره دِ وصال وړاندَه ځکه دِ اولیاؤ یوم وفات یَوْمُ الْعُرْسِ یعنی یوم وصال

Scanned with CamScanner

ویلے شی - او شاید چه دالفظ دِ دے سروایت نه اخستے شوے وی-یو حدیث شریف دے - مقبول بنده چه د دفن شی نو فرشتے ورته دِ قبر دِ سوال جواب نه پس اوولی - نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوْسِ-(اوس لکه دِ ناوی په ارام او ده شه) نوداورز اولیاؤ دِ پاره دِ عرس ورزیه (یعنی حقیقی محبوب سره په قدر عزت دِ وصال ورز دَه) دِ دے- ورزے په حق کښے یو بزرگ ویلی دی ؎

خوشا روزے وخرم روزگارے
که یارے برَد خورد از وصل یارے

(څۀ بهتره ورز او دِ خوشالئ زمانه دَه - چه یو دوست دِ خپل دوست دِ وصل میره اوخوری) اگرچه دا حضرات په دنیا کښے هم واصل وی - لیکن دلته دِ بدن حجاب حائل وی اوچه روح دِ بدن دِ قید نه آزاد شی نو حقیقی وصل حاصل شی بے حجابه - لکه مولانا رومی فرمائی ؎

گفت مکشوف و برهنه گوکه من ؏ می نه گنجم با صنم درپیرهن

(اوئے وے چه صفا صفا راته اووایه چه زۀ محبوب سره په یو قمیص کښے نه ځائیږم) - اگرچه الله تعالے دِ جسم او دِ جسم دِ عوارضو نه پاک دے - لیکن دا دِ مثال په طور ویلے شی - لکه حضرت - غوث الاعظم رحمة الله علیه چه ویلی دی ؎

بے حجابانه درآ از درِ کاشانۀ ما
که کسے نیست بجز درد تو در خانۀ ما

(محبوب حقیقی ته خطاب دے - بے پردے ځا دِ کور په دروازه - راننوځه - حکه چه ځا په کور کښے دِ ستا دِ درد نه علاوه بل هیڅوک نشته) نو پرده دِ چا نه کوے - بے پردے راځه - نو په دنیا کښے هم وصال وی خو دِ بدن حجاب حائل وی نو تنده نۀ ماتیږی-

او دا حالت ئے وی ؎

دل ارام دربر و دل آرام جو + لب از تشنگی خشک بر لبِ جو
نگویم کہ بر آب قادر نیستند + کہ بر ساحل نیل مستقی اند

(محبوب ئے پہ غیږ کښے دے او دِ محبوب پہ تلاش دی۔ دِ چینے پہ غاړہ ئے دِ تندے نہ شونډے اوچے دی، = زڼہ دا نہ وایم چہ پہ اوبو څکلو قادر نہ دی + بلکہ دِ استقادِ مریض پہ شان ئے دِ سینے پہ غاړہ هم تنده نہ ماتیږی)۔

او دِ مړک نہ پس ورتہ دا نعمت حاصل شی چہ پہ وصال ماړہ شی حجاب لرے شی او تندہ ئے ماتہ شی۔ نو ځکہ دِ دے ورزے پہ شوق او ارمان کښے وائی ؎

خرم آن روز کزین منزل ویران بروم
راحتِ جان طلبم و ز پئے درمان بروم

(هغہ ورز بہ دِ خوشالئی ورز وی چہ دِ دے ویجاړے دنیا نہ روان شم۔ روح م پہ ارام شی او دِ چنل درد اعلاج تہ اورسم)۔

داصاحبان مړک تہ خوشال وی۔ ځکہ پہ ارام وسکون وی دِ ځنکدن پہ وخت کښے ورتہ هیڅ پریشانی نہ وی۔ یو نقشبندی بزرګ دا وصیت کړے وو۔ چہ ځما جنازہ چہ وړئ نو یو سړے دِ ورسرہ ورسرہ دا اشعار وائی۔

مفلسانیم آمدہ در کوئے تو
شیئاً للّٰہ از جمالِ روئے تو
دست بکشا جانبِ زنبیل ما
آفرین بر دست و بر بازوئے ما

(ستا کوڅے تہ سوالګړے راغلے یم۔ خدائے دِ پارہ لږ چنل بنائسته مخ

Scanned with CamScanner

راسنکاره کړه - خما کچکول ته لاس را اوبرد کړه - د ستا په لاس اوستا په متو د آفرین وی) -

آیا د پریشانئ په حالت کښے د چا ذهن دا سے خبروته تلے شی دا خو د ډیرے خوشالئ اثر دے -

د سلطان الاولیاء خواجه نظام الدینؒ واقعه مشهوره ده - چه وفات نه پس چه د هغهٔ جنازه اوچته کړے شوه نو ورسره ورسره ئے یو مرید ډیر په درد ناک آواز دا اشعار وے +

سروسیمینا بصحرا می روی + سخت بے مهری که بے ما می روی
اے تماشا گاهِ عالم روی تو + تو کجا بهر تماشا می روی -

(اے محبوبه ته خو په سیل روان ئے - ډیر بے وفائے چه ما پریدے او یواځئے ځے - اے چه ستا دیدن ته به ټوله دنیا راتله + اوس ته د چا دیدن ته روان ئے) - وائی چه د دے اشعارو په اوریدو په هغوئ د وجد کیفیت راغلو - او په کفن کښے ئے لاس را اوچت شو - آیا په دا سے حالت کښے چه بدن په کفن کښے نغښتے وی وجد راتلل د ډیرے خوشالئ علامه نهٔ ده -

یو بل بزرګ د وفات په وخت د ډیر شوق اظهار کوی - وائی +

وقت آن آمد که من عریان شوم + جسم بگذارم سراسر جان شوم

(هغه وخت را خو چه زهٔ د بدن د قید نه ازاد شم - (ټولو - دنیاوی تعلقاتو نه فارغ شم) خالص روح پاتے شم - او ولے به خوشال نهٔ وی چه په دے پوهیږی چه مادّی پردے لرے شوے کوے چه د حقیقی محبوب په دیدار کښے حائل دی - اوس به لږ ساعت پس د حقیقی محبوب دیدار نصیب شی - دا سے بزرګان جنت یا حور و لیدو ته نهٔ خوشالیږی - هغوئ د خپل محبوب د دیدار په انتظار وی -

Scanned with CamScanner

دِ حضرت ابن الفارض رحمة الله علیه واقعه دَه چه دِ وفات په وخت ورته جنت منکشف شو۔ نو هغه ترمخ وار ولو او دا شعر یې اووې

اِنْ کَانَ مَنْزِلَتِیْ فِی الْحُبِّ عِنْدَکُمْ
مَا قَدَّرَ اَیْتُ فَقَدْ ضَیَّعْتُ اَیَّامِیْ

(که دِ ستا دِ محبت په بدله کښے تاسره حُما دا مقام وی۔ او ستا۔ دیدار پکښے نه وی۔ نو حُما عمر خو هسے برباد شو۔ یعنی ما خو دِ ستا په مینه کښے په حُان سختئ دِ ستا دِ دیدار په طمع تیر ولے چه حُما مقصود یعنی ستا دیدار پکښے نه وی په تشو باغونو به نه څخه او کړم۔ حُما خو ارئ خو برباد لاړے۔ والئ چه دے سره ترجنت۔ غائب شو او دِ حق تجلّی ورته بنکاره شوه نو روح ئے حق ته او سپارلو۔ دِ دے عاشقانو دا شان وی لکه چه والئ ؒ

گر بیاید ملک الموت که جانم ببرد
تا نه بینم رخِ تو روح رمیدن ندهم

(که دِ روح ویستو فرشته حُما روح ویستو ته راغله۔ نو ترڅو چه م ستا مخ نه وی لیدلے روح به ویستو ته ورنکړم)۔ دِ ښه خلق په دے خبر و حیرانیږی او یقین په نه کوی حُکه چه څله دِ دے کیفیت نه محروم وی دا سے خلقو ته ویلے شی (تو مشو منکر که حق بس قادر است)۔ (ته انکار مکوه۔ حُکه چه دِ الله تعالے قدرت ډیر لوئے دے)۔

غرض داچه دِ بزرګانو دِ حالاتو نه او احادیثو نه دا ثابته دَه چه بزرګانو دِ پاره وفات ورز دِ خوشالئ ورز دَه۔ لیکن خلق دِ دے په مطلب او مصداق د واړو کښے خرابے پیدا کړے دے۔ دِ مصداق خرابے خو ئے څرکند دے چه دِ عرس په ورز قول بدعتونه او دِ شرک

Scanned with CamScanner

کار و نه ضروری کنړلے شی - او دِ مفهوم خرابے ئے دا دے چه دِ عُرس دِ لفظ معنیٰ وادهٔ دے نو دِ وادهٔ ټول فضولیات ئے پکښے راجمع کړی دی - سندرے - کډا کانے - جګړے هرڅهٔ پکښے کیږی بلکه حُنه عرسونو ته خو مشهورے دے هم راځی چنلے دیرے ئے جوړے کړی وی - او هغه ټول غلط کار و نه پکښے کیږی چه دِ هغوئ کسب دے - بلکه حُنه ځایونو کښے خو په قبر نکریزه هم کیږے شی چه دِ وادهٔ ټول رسمونه پوره شی -

نو دِ عرس حقیقت خو دا و وکوم چه ما بیان کړو (یعنی دِ محبوبِ حقیقی سره دِ ملاقات ورځ دَه په دے وجهه بزرګانو دِ پاره دِ خوشالئ ورځ دَه) نو دا یو دینی خوشالی دَه - د نیا وی خوشالی نهٔ دَه - نو دے دِ پاره دِ شریعت نه دِ طریقے معلومولو ضرورت دے او شریعت کښے دِ دے موجوده طریقو دِ وجودڅهٔ نښه نشته - بلکه دِ دے دِ منع حکم دے پکښے - حضور صلے الله علیه وسلم فرمائیلی دی لَا تَتَّخِذُوْا قَبْرِیْ عِیْدًا (خُما په قبر میله مهٔ جوړوئ) دِ میلے دِ پاره درے خبرے ضروری دی - ۱ٓ اجتماع (ګڼړه) دوهیم ۲ٓ مقرر وخت - دریم ۳ٓ دِ خوشالئ اسباب نو حدیث شریف کښے دِ میلے دِ ممانعت خلاصه دا شوه - چه خُما په قبر په یو خاص تاریخ دِ دنیا وی - خوشالئ دِ اسبابو سره ګډه مهٔ جوړوئ -

البته که خاص تاریخ نه بغیر زیارت دِ پاره ګڼړ خلق راجمع شی او دِ ظاهری خوشالئ اسباب ورسره نهٔ وی نو دا میله نهٔ دَه -

بل دا چه دِ نبی کریم صلے الله علیه وسلم یوم وفات هغوئ - دِ پاره خو دِ خوشالئ خبره دَه لیکن امت دِ پاره خو دِ دے نه غټ غم بل نشته - (نو دِ غم په ورځ میله جوړه ول او دِ خوشالئ

سامان کول چراغان او دکانونه او کورونه په جنډو سنا ئسته کول خوښه غټ حماقت دے۔

(حضرت فرمائی) دِ نبی کریم صلے اللہ علیہ وسلم په وفات کښے چه امت دِ پاره کوم غټ نعمت دے۔ کوم چه ما په نشرالطیب کښے تفصیل سره بیان کړے دے نو غمه په بل حقیقت دے غمه هم دِ میلے جوړولو شے نه وے۔

نو هرکله چه دِ سردارِ دوجهان په روضه مبارکه سالانه اجتماع منعٔ شوے دَه جائز نه دَه نو دِ بل چا په قبرخنګه جائز شوه۔

الحمدللہ دادِ اللہ تعالے غټ احسان دے چه تراوسه پورے دِ نبی کریم صلے اللہ علیہ وسلم په روضه مبارکه دا بدعت نه دے شروع شوے۔

خلاصه داچه دِ احادیثو نه موښ ته په افطارِ اکبر یعنی دِ رمضان په ختمیدو (دِ وړوکی اختر په ورځ) دِ خوشالئ حکم ثابت دے۔ او دِ هغے شرعی طریقه دا ثابته دَه۔(۱) دوستانو سره په روښ تندی ملاقات۔(۲) خیرات کول۔ صدقه فطر ورکول (۳) او په جمع عیدګاه ته وتل، عیدګاه کښے جمعٔ دوه رکعته مونځ کول او دعا غوښتل۔ اللہ اکبر۔ غوږ او کړئ اللہ تعالے موښ نه خوشالئ په کوم انداز غواړی په دے ورځ یوازے یاتی مونځ مقرر شو۔ دِ صدقے حکم اوشو کوم چه زکوٰة سره مشابهت لری۔ بیا مانځه دِ پاره هم خاصه طریقه مقرر شوه۔ یوځو تکبیرونه پکښے دِ عام مونځ نه زیات شو۔ چه امتیاز شان پکښے څرګند شی۔

دِ قرآن شریف په دے الفاظو کښے۔ وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ (اوچه تاسو دِ اللہ تعالے لوئی بیان کړئ په دے خبره چه تاسو ته ئے

هدایت اوکړو) دے طرف ته باریکه اشاره دَه په لِتُکۡمِلُوا الۡعِدَّةَ ۔ (چه شمار پوره کړئ) کښے چه تکمیلِ رمضان مراد شی نو لِتُکَبِّرُوا کښے د اختر تکبیرونو ته اشاره شوه ۔

یو دا حکمت اوکورئ چه مسلمان د پاره دوه څیزونه دی یو د شریعت حکم او بل د طبیعت تقاضا ۔ نو څنګه چه طبیعت کښے په ځنه دنیاوی کارونو کښے جوش پیدا کیږی ۔ دغه شان په دینی کارونو کښے هم طبیعت کښے جوش پیدا کیږی ۔ او عقل په دے دواړو کښے اعتدال راولی نو په اختر کښے الله تعالے مسلمانانو د پاره د دواړو خبرو خیال اوساتلو ۔ د دینی جوش د پاره ئے پکښے یو مونځ ۔ خیرات او تکبیرونه زیات کړل ۔ او د طبیعت د جوش د پاره ئے ورته د صفا ښو ښو جامو او دوستانو سره په خوشالئی ملاقات او دعوتونو اجازت وکړو ۔ سبحان الله ۔ د شریعت څه پاکیزه انتظام دے ۔ د شریعت د جمال په حق کښے یو عارف ویلی دی ؎

زِفرق تا بقدم هرکجا که می نگرم ؎ کرشمه دامنِ دل می کشد که جا اینجاست

(د سر نه ترښپو پورے چه کوم ځائے ته ئے کورم ۔ ښائسته م ئے زړه را کاږی چه د کتو خو هم دا ځائے دے) یعنی د شریعت هر حکم د یو بل نه ښائسته او مفید دے ۔ لیکن افسوس دے چه دا سے ښائسته شریعت خلقو په دا سے هیبتناک رنګ کښے پیش کړے دے چه خلق ورنه ویریږی ۔ ورنه هغه څو د یر عجیبه شے دے ۔

دا وے د اختر متعلق څه ضروری خبرے ۔ د اختر فروعی ۔ احکام م ځکه بیان نکړو چه د یر ځله بیان شوی دی او اکثر و خلقو ته معلوم دی ۔ مثلاً د میاشتے په کتو کښے پوره تحقیق کول او هسے د وائی په خبرو یقین نه کول وغیره ۔ لیکن د صدقهٔ فطر متعلق

Scanned with CamScanner

دومره قدر ویل غواړم - چه د چا سره د خپلو د یرو ضروری -
اخراجاتو نه زیاتی پخوئ روپئ وی په هغه واجب دی چه د خپل
ځان او خپل نابالغه اولاد د طرف نه سړی سر پاؤکم دوه -
سیره غنم یا د دے قیمت غریبانو ته ورکړی - که خپل نوکرئے غریب
وی نو هغه ته ئے ورکولے شی خو په تنخواه کښے به ئے ورته
نه حسابوی -

د اختر د ورځے یو بل فضیلت دا دے چه نبی کریم صلے الله
علیه وسلم فرمائیلی دی - د اختر مانځه ته چه خلق عیدګاه کښے -
جمع شی - نو الله تعالے فرشتو ته او فرمائی - مَاجَزَاءُ اَجِیْرٍ وَ فِیْ
عَمَلُهٗ - (د هغے مزدورئے بدله دی چه خپل کار پوره پوره اوکړی)
فرشتے عرض اوکړی - جَزَاءُهٗ اَنْ یُّوَفّٰی اَجْرَهٗ - (د هغه بدله دادی
چه خپله مزدورئی پوره پوره ورکړے شی) الله تعالے اوفرمائی
بِعِزَّتِیْ وَ جَلَالِیْ وَاِرْتِفَاعِ شَانِیْ لَاَغْفِرَنَّهُمْ فَیَرْجِعُوْنَ مَغْفُوْرًا
(ځما د - قسم وی په خپل عزت او جلال او لوئے شان چه زه
به ضرور دوئی او بخشم نو خپلو کورونو ته به بخلی واپس شی)
راوی وائی چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم په دے خبره مسکے
شو چه خلق به ټول عیدګاه نه بخښلی واپس شی - نو اوس موږ نه
په دے خبره سوچ کول پکار دی - چه په کوم شکل کښے عیدګاه ته
تلهٔ پکار دی چه د الله تعالے د دے انعام حقدار شو - افسوس
دے چه د یر خلق د نافرمانو شکل جوړوی - بهتره دا ده چه کوم
خلق چه زیره کلوی یا ئے قینچی کوی که هغوئی د دے ګناه نه هیشه
د پاره توبه نشی ویستے نو کم از کم د یو ورځے د پاره چه د
الله په دربار کښے د حاضرئ ورځ ده خو ضرور توبه ویستل -

Scanned with CamScanner

پکار دی - ا حضرت فرمائی) که په دے یو ورځ څوک حجامت اونکړی نو څهٔ تکلیف به ورته اورسی؟ - او په ښیره کلولو کښے فائده څهٔ دَه؟ هسے بے لذته گناه او بے ضرورته کړاؤ دے بلکه که ښیره پریدی - نو ډیر تکلیف او تاوان نه به بچ شی دغه شان حُسنِ خلق چه عیدگاه ته څئ نو ریښمینے جامے ئے اچولے وی - نارینه دِ پاره دِ ریښمو استعمال حرام دے - داسے خلق دے په دے پوهه شی چه داسے جامو کښے مونځ نهٔ قبلیږی - آیا دِ یو دنیاوی - بادشاه دربار ته څوک په داسے شان کښے تلے شی چه دِ بغاوت او نافرمانئ تمغے ئے په سینه لګولی وی؟ - نو آیا دِ حقیقی بادشاه دِ دربار عظمت دِ یو دنیاوی بادشاه هومره هم نهٔ دے؟ په دے سوچ او کړئ - او دِ الله دِ عذاب نه او ویریږئ - نافرمانی پریدئ او دِ فضولیاتو نه واوړئ -

اوس دعا او کړئ چه الله تعالے موږ ته دِ نافرمانیو نه دِ بچ کیدو او دِ نیکو اعمالو توفیق راکړی آمین برحمتک یاارحم الراحمین.

وصلے الله تعالے علیٰ خیرخلقه سید نا محمد وعلیٰ آله و اصحابه واهلِ بیته و اتباعه اجمعین برحمتک یاارحم الراحمین -



دعوات عبدیت

دویم جلد

اتم وعظ

غَضُّ الْبَصَرْ

(نظر بنکته سائل)

له ارشاد اتود حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه

Scanned with CamScanner

تعارف

دا وعظ حضرت تھانوی رحمۃ اللہ دِ تھانہ بھون پہ جامع مسجد کښے پہ ۱۲ شوال ۱۳۲۹ھ کښے پہ دریمے کھنتے کښے پہ ممبر پہ۔ ناستے کړیدے۔ او مولوی عبد اللہ کنگوھی قلمبند کړیدے حاضرین تقریباً دوہ زرہ وو۔



بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ وَنَحْمَدُہٗ وَنَسْتَعِیْنُہٗ وَنَسْتَغْفِرُہٗ وَنُؤْمِنُ بِہٖ وَنَتَوَکَّلُ عَلَیْہِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّھْدِہِ اللّٰہُ فَلَا مُضِلَّ لَہٗ وَمَنْ یُّضْلِلْہُ فَلَا ھَادِیَ لَہٗ وَنَشْھَدُ اَنْ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ لَا شَرِیْکَ لَہٗ وَنَشْھَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَرَسُوْلُہٗ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَعَلٰی آلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ وَبَارِکْ وَسَلِّمْ۔

اما بعد - فاعوذ باللہ من الشیطان الرّجیم - بسم اللہ الرّحمن الرّحیم یَعْلَمُ خَائِنَۃَ الْاَعْیُنِ وَمَا فِی الصُّدُوْرِ - (ترجمہ - اللہ تعالے د سترګو په خیانت بنهٔ خبر دے اوخهٔ چه په سینو کښے پټولے شی (هغے نه هم بنهٔ خبر دے) - دا یو آیت مبارک دے چه الفاظ ئے لږ دی خو معنیٰ ئے ډیره ده - په دے کښے الله تعالے موږ ته د یو غلط کار خبر راکړی او وړسره ښوونه هم راکړی - (حضرت فرمائی) نن وعظ د پاره د دا آیت مبارک حکمه خوښ کړو چه په دے کښے چه ځموږ پټ مرض ته اشاره شوی ده - نن صبا په دے مرض کښے ابتلا عامه ده - ډیر خلق پکښے مبتلا دی - د مرض نه مطلب جسمانی مرض نهٔ دے — روحانی مرض یعنی د ګناه کار مراد دے شاید چه څنه خلق په دے حیران شی چه ګناه ته مرض څنګه ویلے شی - خوچه د مرض په حقیقت پوهه شئ چه مرض څهٔ ته ویلے شی نو حیرانتیا به ختم شی - مرض دے ته ویلے شی چه د بنده د بدن مزاج د اعتدال نه اوړی

نو په ګناه کښے هم د بنده د ښوونه مزاج د اعتدال نه اوړی - بلکه د بنده د ښوونه مزاج د اعتدال نه

Scanned with CamScanner

وتل د جسمانی مرض نه زیات نقصانی دی - په جسمانی مرض کښے خو زیات نه زیات نقصان دا کیدے شی چه بنده مرشی اومړک ځنه ځنه وخت کښے هیڅ وی - د ډیرو جګړو نه بنده خلاص شی او ډیرو تکلیفونو او پریشانیو نه بچ شی - ځکه چه بنده ته چه څومره تکلیف رسی د جسم او روح په دے تعلق رسی اوکورئ د بے هوشئ په حالت کښے که مریض نه یو اندام پریکړے شی هغهٔ ته په هیڅ تکلیف او نهٔ رسی دغه شان د فالج په مرض کښے که په مفلوج اندام کښے څوک ستن منډی مریض په نهٔ پوهیږی - ځکه چه په دے حالت کښے د بدن او روح تعلق هغه شان نهٔ وی پاتے څنګه چه د سوغ والی په حالت کښے وی - خو د دے کمزورۍ تعلق هم دومره اثر وی چه دا اندام سخا کیږی او وړستیږی نه لکه د مړی په شان اوچه دا کمزورۍ تعلق هم پاتے نشی نوبیا خو ظاهره دَه چه هیڅ تکلیف به نه محسوس کوی - کوم ته چه مونږ تکلیف وایو او کومه چه د تکلیف عامه معنیٰ دَه -

البته په نورو دلائلو دا ثابته دَه چه روح ته د بدن نه جدا کیدو نه پس هم د بدن په تکلیف یو قسم تکلیف ضرور رسی لکه ځنه احادیثو کښے راغلی دی چه د مړی هډوکے مهٔ ماتوئ - د مړی هډوکے ماتول داسے دے لکه د ژوندی هډوکے ماتول - دے نه معلومیږی چه جدائی نه پس هم د جسم په تکلیف روح ته تکلیف رسی - لیکن څنګه تکلیف چه ورته د جسم سره تعلق په حالت کښے رسی دا تکلیف د هغے نه بدل دے - د یو مثال په ذریعه به په دے فرق ښهٔ پوهه شئ - مثلاً د زید بدن ته که څوک کوډار ورکوی نو هغهٔ ته په تکلیف رسی او که د هغهٔ شړئ څوک راواخلی

Scanned with CamScanner

اور ته ئے واچوی په دے هم ورته تکلیف رسی۔ لیکن دا دواړه تکلیفونه جدا جدا دی ۔ نو روح چه د بدن نه جدا شی بیا ورته د بدن په تکلیف دا سے تکلیف رسی۔ لکه چاته چه د هغۀ د شړلئ په سوزید و رسی۔ او د دے تکلیف وجهه هم هغه روح تعلق دے۔

خلاصه داچه روح چه د بدن نه جدا شی بیا ورسره د بدن د تکلیف او راحت غم نۀ وی (د دے دنیا د غمونو نه خلاص شی)۔

دے پورے راته یو لطیفه راپاده شوه ۔ د یو طبیب چا پیر ۔ ممنونه کول ۔ وے چه کوم مریض ته چه ورشی سمدستی ئے ټول تکلیفونه ختم شی ۔ دراصل هغه مریض به ختم شو نو مرضونه به ئے هم ختم شو۔ د مرض ختمیدو دوه صورته دی ۔ یو داچه مریض جوړ شی مرض ئے ختم شی ۔ بل داچه مریض ختم شی نو مرض هم ورسره ختم شی ۔ لکه یو افیمی چه خپله پوزه پریکړی وَه ۔ وائی چه د یو افیمی په پوزه مچ کیناستو هغۀ او شړلو هغه بیا راغلو چه څوځله بیا بیا راغلو نو افیمی چاقو را واخستلو خپله پوزه ئے پریکړه او مچ ته ئے اووے چه اوه مے درته ورانه کړه اوس په خۀ کینے ۔ دغه شان به د دے حکیم صاحب مریض ختم شو نو مرض به هم ختم شو۔

خلاصه داچه بنده چه مړ شی نو جسمانی تکلیفونه ئے ټول ختم شی ۔ نۀ زکام پاتے شی ۔ نۀ تبه توخے ۔ بالکل په ارام پریوځی ۔ د دے ارام په لفظ یو بله لطیفه راپاده شوه د احکیمانه لطیفه د یو صحابی حضرت ابوطلحہؓ او د هغۀ د بی بی اُمِّ سُلَیمؓ دَه په احادیثو کښے د دے دواړو د پر فضائل راغلی دی ۔

یو ځل د دوئ یو هلک ناجوړ وو۔ حضرت ابوطلحہؓ چه به د

بهرکار نه اونړکار شو- مابنام به کورته راغلو نو دِ هلک پټوس به ئے۔ بی بی نه اوکړو چه اوس څنګه دے - یوه ورځ هغه هلک وفات شو بی بی ئے داخیال اوکړو چه هغه مابنام ستړے ستومانه کورته راشی او دِ وړوکی پټوس اوکړی نوکه دِ وفات حال ئے ورته اووایم پریشان به شی او شپه به بے ارامه تیره کړی - روښتیا به م اونه خوړے شی- ښه داده چه دِ شپے ورته حال او نه وایم شپه به په ارام تیره کړی- صبا به ئے خبر کړم بیا به ئے دِ دفن څه انتظام اوکړی په حقیقت کښے دینداری د پیر عجیبه شے دے دِ بنده دِ هرکار اصلاح اوکړی - مابنام چه ابوطلحهؓ کورته راغلو او په خپل عادت ئے دِ هلک دِ حال پټوس اوکړو - نو دا وخت ئے بی بی صاحبے ته سخت دِ امتحان وخت وو- که حال وائی نو خاوند ئے پریشان کیږی او که خبره پټوی نو دِ دروغ په ګناه کښے راځی - دا دِ پیر دکش مکش وخت وو خو دینداری ئے کښے فکر تیز شی - الله تعالے ورسره امداد کوی- نو الله تعالے ورته په ذهن کښے داسے جواب واچولو چه ټوله پریشانی ئے ختم شوه - ورته ئے اووے - اوس خو په ارام دے - دے کښے دروغ نه وو- حُکمه چه دِ مړک نه ذیات سکون و ارام په بل څه کښے نشته - دِ ارام دوه صورتونه دی - دَفْعُ مَضَرَّت - (ضرر لرے کیدل) او جَلْبُ مَنْفَعَتْ (فائده حاصلیدل) په مړک کښے دا دواړه موجود دی- اول خو څُکند دے چه جسمانی تکلیف ختم شو- دویم خاص دِ مسلمان دِ پاره دے چه خپل حقیقی محبوب ته اورسی او دِ خپلو نیکیو اجر حاصل کړی-

په دے پورے یو بله لطیفه راپاده شوه - حضرت عباس رضی الله عنه چه وفات شو نو حضرت عبدالله بن عباسؓ فرمائی چه ماته دِ پلار

په وفات دامے ښه تسلّی بل چا نهٔ وه راکړی څنګه چه یو ساده باندیسی راکړی وَه - حقه داده چه دیندار بنده دِ باندے وی که دِ بنار دِ دین په وجهه ئے فکر تیز شی نو دِ خبرے په حقیقت ښهٔ پوهیږی دے باندیسی ابن عباسؓ ته دوه شعرونه ویلی وو - هغه دا دی -

اِصْبِرْ نَكُنْ بِكَ صَابِرِيْنَ فَاِنَّمَا صَبْرُ الرَّعِيَّةِ بَعْدَ صَبْرِ الرَّاْسِ
خَيْرٌ مِّنَ الْعَبَّاسِ صَبْرُكَ بَعْدَهٗ وَاللّٰهُ خَيْرٌ مِّنْكَ لِلْعَبَّاسِ

(ته صبر اوکړه چه ستا په وجهه موږ هم صبر اوکړے شو + دِ قوم صبر دِ سردار نه پس وی - په دے واقعه کښے ستاخهٔ نقصان نهٔ دے شوے بلکه فائده فائده دَه - ستا دِ پاره خو دا فائده دَه - چه صبر اوکړے نو غټ اجر به درکړے شی - اوحضرت عباس دِ پاره دا فائده دَه چه تاسو نه جدا شو - الله ته اورسیدو - نو هغهٔ دِ پاره دِ الله قرب دِ تاسو د قرب نه بهتر دے - او تاسو دِ پاره دِ صبر اجر دِ هغهٔ دِ قرب نه بهتر دے -

دِ حضرت طلحهؓ بی بی صاحبےؓ څهٔ عجیبه خبره کړی دَه - مړک واقعی دیر دِ الم شے دے یو حدیث شریف دے - مړک مسلمان دِ پاره تحفه دَه (یعنی دِ خوشالئ شے دے) اونږ موږ داحال دے چه دِ مړک دِ نوم نه ویریږو - چه دِ مړک نوم څوک اخلی ریبندے راباندے راځی اصل خبره دا دَه چه هغه دنیا مولیدلی نهٔ دَه - ځکه مو ورته زړهٔ نهٔ کیږی - مړک دِ ریل ګاډی په شان دے - څنګه چه ریل ګاډے خلق دِ یو کلی نه بل کلی ته رسوی - دغه شان مړک هم خلق دِ یوے دنیا نه بلے دنیا ته رسوی - په ګاډی کښے که بنده یو ناشنا ځائے ته روان وی - دا پته ورته نهٔ وی چه هغه ځائے به څنګه وی نو پریشان وی -

Scanned with CamScanner

خوچه په تهیشن کوږشی او هلته اووینی چه ډیر خلق ئے استقبال ته راغلے دے - ډیر قدر ئے کیږی او ډیر د ارام او راحت ځائے دے - نو ډیر خوشاله شی او د کوم ځائے نه چه راغلے وی هغه ورته بے کاره بنکاری - دغه حال د دنیا هم دے - اوس موږ ته د آخرت د حالاتو پته نشته - هغه دنیا مولیدلی نۀ دَه نو د مرګ نه ویریږو که د هغے ځائے حالات راته معلوم شی - چه داخو ډیر د ارام و راحت ځائے دے نو بیابه مرګ نه نۀ ویریږو اولیلۀ په خپلو سترګو یا د زړۀ په سترګو وینی - ځکه ورته دنیا تر نظره نه راځی - د دنیا نسبت د عالم آخرت سړه داسے دے لکه د مور د خیټے او د دے دنیا - څنګه چه وږ وکے د مور په خیټه کښے خوشال وی په خپله خوښه دے دنیا ته نۀ راځی - ځکه چه د مور په خیټه کښے د وږوکی داخیال وی چه بس دنیا هم دغه هومره دَه - نو ځکه ورته معلوم نۀ وی په هغے کښے خوشال وی - چه دنیا ته راشی نوخبر شی چه دنیا څومره لویه دَه - دغه شان موږ هم په دے خپله دنیا کښے راکیږو احوا مو نظر نه لګی - نو داخپله دنیا راته لویه بنکاری - مرګ نیس چه هغه دنیا اووینو - خبر به شو چه اصل دنیا خو دا دَه - هغه خو هیڅ شے هم نۀ وو -

بهرحال مرګ د سکون او ارام څیز دے ځکه اُمِّ سُلَیْمْ رضی الله عنها او وے اوس په ارام دے - حضرت ابوطلحۀؓ ورغے او خوږه دَمَه شو بیا ئے بی بی ته د نزدیکت زړۀ کیدو هغے نه هم فارغ شو او بے غمه اودۀ شو - بی بی عاجزے خوئے د خاوند د ارام - د پاره هرڅۀ کول خو د زړۀ نه ئے یو الله خبر وو - خوب چرته ورتلو - صباچه حضرت ابوطلحۀؓ سحرمانځه نه کوړته راغلو - نو بی بی

صاحبے ورته اووے - که دِ یو سړی سره چا یو امانت ایښے وی - او بیا ئے ورنه اخلی نو هغه به ئے په خوشالئ ورکوی که په خفګان هغه ورته اووے په خوشالئ - بی بی ورته اووے الله تعالے چه موږ سره کوم امانت ایښے وو هغه ئے یرون واپس اخستے دے نو ته اوس صبر اوکړه - پریشان کیږه مه او دِ هلک دِ دفن انتظام اوکړه - هغه خفه شو - چه بیکاره راته ولے نه وے - هغے ورته اووے چه خیر ئے هیڅ نه وو - هسے به پریشان شوے وے - (حضرت فرمائی) دا واقعه مِ دے پورے بیان کړه - چه حضرت ام سلیمؓ مړک ته سکون ویلے وو -

حاصل دا دے چه دِ جسمانی مرض آخری نتیجه مړک دے - او په مړک ټول جسمانی تکلیفونه ختمیږی - سکون حاصلیږی - نوځه نقصان پکښے نشته - بیا هم جسمانی مرض ته دومره اهمیت ورکولے شی چه څه حد ئے نشته - لیکن روحانی مرض چه حقیقت ئے دِ شرعی حدودو نه تجاوز کول دی او آخری انجام ئے هغه تباهی ده چه نوم ئے - دوزخ دے - لَا یَمُوْتُ فِیْهَا وَلَا یَحْیٰی (په هغے کښے به ورته نه بیا مړک راځی چه دِ تکلیف نه خلاص شی - او نه به ورکښے دِ ارام شروند وی) هیشه به په تکلیف وی - که بیا مړک وے خو تکلیف به ئے ختم شوے وو -

نو دِ کوم مرض انجام چه مړک دے دِ هغے نه خو ویرږی او دِ ختمولو اهتمام ئے کوئ - لیکن دِ کوم مرض انجام چه دا دے تباهی ده چه ختمیدل ئے نشته - دِ هغے هیڅ فکر درسره نشته - بلکه مرض قدرے هم ورته نشئ ویلے - دِ جسمانی مرض خو دومره فکر کیږی - که هیله دِ چا نرکام قدرے شی یا ئے په سر نرے درد شی نو حکیمانو

Scanned with CamScanner

او د اکثرانو پسے منډے وهی - منتونه ورته کوی او په سوونو روپئ ورکوی - لیکن بے شماره روحانی مرضونه ورکښے موجود وی خو د اصلاح لئے هیڅ فکر نه کوی - هسے خو د هرے گناه فکر پکار دے ځکه چه روحانی مرض دے لیکن خصوصیت سره د هغے گناه ډیر فکر پکار دے کومه چه معمولی گڼلے شی - دسقراط نه چا پتوس اوکړو چه کوم مرض ډیرخطرناک دے - هغه ورته اووے هغه مرض چه معمولی گڼلے شی او د اصلاح غم لئے نه کیږی (نو د بے غورئ په وجهه لا - علاج شی او نتیجه لئے مړگ شی)۔

دغه شان هسه گناه هم خطرناکه دَه کومه چه معمولی گڼلے شی - په دے خطرناکو یعنی ختو گناهونو کښے یو دا دَه - کومه چه دے آیت مبارک کښے بیان شوی دَه - کوم چه تن وعظ د پاره خوښ شوے وے ارشاد دے - یَعْلَمُ خَائِنَةَ الْاَعْیُنِ - الله تعالے په دے آیت مبارک کښے دوه گناهونه ذکر کړی دی - یوه د ستړگو گناه دَه بله د زړهٔ گناه دَه - د ستړگو گناهونه نور هم ډیر دی خو دلته د یوے خاصے گناه ذکر دے - یعنی بد نگاهی - دغه شان د زړهٔ هم ډیر گناهونه دی - خو دلته د یوے خاصے گناه ذکر دے یعنی بدنیتی - یعنی د شهوت په نظر ناځرے بنځے ته کتل اگرچه دے ته گناه ویلے شی - لیکن څومره درجه کښے چه دا نقصانی دَه - هغه هومره نقصانی نشی گڼلے - د ډیر اهمیت څوک نه ورکوی - معمولی گناه ورته بنکاری - د گناه کم از کم اثر دا پکار دے چه بنده په زړهٔ کښے خفه شی چه یو غلط کار م اوکړو او ځان ورته ملامته بنکاړه شی - لیکن بد نگاهی چا ته دومره بده نه بنکاری - پردو بنځو ته ښځ ښځ گوری - هلکانو ته گوری او داسے ورته بنکاری لکه یو کل یا بل بنائسته څیز ته چه څوک گوری چه څه

ګناه پکښے نشته - دا یو داسے ګناه ده چه بوډاګان هم تر بیج نه وی۔
د بدکارئ نه د پیرخلق په ډیرو وجوهاتو بیج شی - ځکه چه هغے ته د ډیرو کارونو ضرورت وی - اول خو چا سره چه بدکاری کیږی هغه راضی کول وی په مال یا په طاقت یا په بله ذریعه که دا ذرائع موجود وی بیا هم کله کله شرم وحیا مانع شی - کله کله دا مانع شی که څوک خبر شو نو بدنامی به رم اوشی - کله دا مانع شی چه څه بیماری راپورے نشی - کله د مال کمے وی کله خپله وضع مانع شی - غرض داچه هغے د پاره شرائط هم ډیر دی - او عزتمن سړی د پاره موانع هم ډیر دی - خصوصاً چه دیندار هم ګڼلے شی - په دے وجوهاتو ورته د پیرخلق بیج کیږی - لیکن د ستړګو ګناه داسے ده چه دے ته د هیڅ سامان ضرورت نشته - نه ورکښے د مال ضرورت شته نه د جسمانی طاقت - او نه ورکښے د بدنامئ خطره شته - ځکه چه د نیت نه خوئے یو الله خبر دے - بل چاته ئے پته نه لګی - که یو عالم چاته په بدنظر اوګوری - نو د عوامو په نظر کښے ئے په علم کښے او عزت کښے څه کمے نه راځی - اوکه یو صوفی صاحب چاته په بد نظر اوګوری نو د عوامو په نظر کښے ئے په بزرګئ کښے څه فرق نه راځی - ځکه چه د نیت نه ئے څوک خبر نه وی نو په نیک نامئ کښے ئے څه فرق نه راځی - استاذ هلکانو ته په بد نظر ګوری خو خلق وائی چه واړه ئے خوښ دی د خپلو بچو په شان ورته ښکاری - د بچو په شان مینه ورسره کوی -

نو چه د ستړګو په ګناه بل څوک نه خبریږی نو د زړه په ګناه کله خبریدے شی - او څوک چه په خبریدے شی د هغوئ دومره

Scanned with CamScanner

لویه سینه وی چه هرځهٔ زغمی -

یوه ورځ د امیرالمؤمنین حضرت عثمان غنی رضی الله عنه مجلس یو داسے سړے راغلو چه په لار کښے لږ چاته په بد نظر کتلی وو- حضرت عثمانؓ هغهٔ ته خوځهٔ او نهٔ وے - خو یو عامه خبره ئے اوکړه - د نصیحت په طور ئے اوفرمائیل - مَابَالُ اَقْوَامٍ یَتَرَشَّحُ الزِّنَا مِنْ اَعْیُنِهِمْ - (په خلقوځهٔ چل اوشوچه د ستړګو نه ئے زنا څاڅی) د چا نوم ئے وانهٔخستو خو هغه سړے به پوهه شوے وی چا چه دا کار کړے وو - د کشف خاوندانو لیکلی دی چه په بدنګاهئ په ستړګو کښے یو ظلمت پیدا کیږی - د بصیرت خاوند ته بنکاری چه دا ستړګے پاکے نهٔ دی او عام خلق په نهٔ پوهیږی - که دوه کسان د یو شان عمر یو شان صحت او یو شان معاشرت خاوندان وی - خو یو پرهیزګار وی او بل فاسق وی - د پرهیزګار په ستړګو کښے به یو خاص نور وی او د فاسق ستړګے به خړے وی په دواړو کښے به څرګند فرق بنکاری - لیکن د کشف خاوندان د چا حال نهٔ والئ د چا عیب نهٔ څرګندوی - پرده پوشی کوی - (حضرت فرمائی) دمے پورے راته د شاه عبدالقادر صاحبؒ یو واقعه را یاده شوه - هغوئ به په جمات کښے د احادیثو درس ورکولو - یوه ورځ په چپل عادت درس ته کیناستو - یو طالب سبق ته را روان وو - شاه صاحب ته دا کشف اوشوچه دهٔ ته د غسل ضرورت دے - او غسل ئے نهٔ دے کړے (شاید چه احتلام وتے شوے وو) هغه طالب منطقی وو او منطقیان بے پروا وی - د جمات د ادب دیرخیال نهٔ ساتی - شاه صاحب هغه د جمات نه بهر او درولو - (ځکه چه د جنابت په حالت کښے جمات ته ننوتل

ناجائز دی) او درس کښے شریک طالبانو ته ئے اووے چه نن ډیره
ګرمی دَه طبیعت ږم سست دے - لنګونه را واخلئ چه دِ دریاب غاړے
ته لاړ شو - شاید چه په لامبلو بدن تازه شی - بیا به سبق اووایو
پټل دریاب ته لاړو او ئے لامبل بیا جمات ته راغلو - څۀ وخت
چه پاتے وو - هغے کښے ئے سبق اووے - نور طالبان خو پوهَه
نشو - لیکن هغه طالب په زړۀ کښے ضرور ملامته شوے وی -
دِ ولیانو دا شان وی - څنګه په چل کښے ئے امر بالمعروف
اوکړو - هر کله چه دِ ولیانو دا حال دے چه څوک رسوا کوی نه
نو مریدانو ته هم دا پکار دی چه چل پیر نه روحانی مرض
پټوی نه - چل عیبونه ورته صفا صفا بیان کړی چه هغه ورته دِ
اصلاح چل اوښئ - دغه شان به په لږ وخت کښے ډیره فائدۀ حاصله
کړی - دِ عیب پټولو دوه وجهے کیدے شی - یا به ئے دا خیال وی
چه زړۀ به ئے تر نظره سپک راشم او یا به ورسره دا فکر وی
چه بل چاته به ږم حال اووائی نو دِ هغوئ تر نظره به سپک شم
نو په ولیانو کښے دا دواړه خطرے نشته - ځکه چه هغوئ ته چل
ځان دِ هرچانه کم بنکاری نو بل ته سپک نشی کتے - بل هغوئ دِ
هیڅا عیب نه څرګندوی - دِ هرچا پرده پوشی کوی - نو چل حال -
ورته صفا صفا ویلو کښے هیڅ خطره نشته - حال ورته صفا صفا ویل
پکار دی - لیکن دِ اصلاح په غرض - بے ضرورته نه - ځکه چه بے -
ضرورته دِ چنلے ګناه اظهار هم ګناه دَه - او دِ ضرورت دِ پاره دِ
اظهار په حق کښے عارف شیرازی وائ ؎

چندان که گفتیم غم با طبیبان + درمان نه کردند مسکین غریبان
ما حالِ دل را با یار گفتیم + نه توان نهفتن درد از حبیبان

Scanned with CamScanner

(که هرڅوم طبیبانو ته دِ خپل مرض حالونه اووے - خوعاجزانو م هیڅ علاج او نکړے شو- آخرم دِ زړهٔ حال خپل دوست (پیر) تراووے دوستانو نه څوک دِ زړهٔ حال ننشی پټولے)- غرض داچه څوک تر خبریږی هغوئ رسوا کول نه کوی - اوڅوک چه رسوا کول کوی هغوئ ترخبریږی نه- په دے وجهه دِ بدنګاهئ ګناه پته پاتے کیږی - ځکه نے خلق بے خطره کوی - او بل داچه مثلاً زنا یا غلا یا دا ډے نورو ګناهونو کښے دِ طاقت او زړه ورتیا ضرورت هم وی نو هرڅوک نے ننشی کولے - او بدنګاهئ ته دِ هیڅ شی ضرورت نشته ځکه ورکښے بوډاګان هم مبتلا وی - بوډا که په چا مین وی او په لاس ورشی هم عملاً هیڅ ننشی کولے ځکه چه هغه طاقت نے نهٔ وی لیکن په کتو کښے دِ طاقت ضرورت نشته ځکه دِ ګورلو په غاړه ولاړ- بوډاګان هم ورکښے مبتلا وی - (حضرت فرمائی) مایو بوډا سړے لیدلے وو چه دیر پرهیزګار وو - ماته نے داحال اووے چه زهٔ دِ بدنګاهئ په مرض مبتلا یم - هلکانو او جینکو ته کتو نه نهٔ صبریږم - اصل کښے دا مرض اول په ځوانئ کښے پیدا کیږی - بلکه دِ اکثرو ګناهونو داحال دے - چه اول دِ ځوانئ په جوش کښے پیدا شی او بیا یو عادت او مرض شی چه تر مرګه ورپورے نښتے وی - لکه چلم یا نسوار چه اول دِ څهٔ مرض دفع کولو دِ پاره شروع کړے شی او بیا خپله یو مرض شی چه تر مرګه تر نهٔ خلاصیږی - لیکن په ځوان او بوډا کښے دا فرق دے چه ځوان نے دِ علاج په خیال حال ویلے شی او بوډا نے په وینا هم شرمیږی نو دِ پټولو او معمولی کنډلو په وجهه ورکښے همیشه مبتلا وی - ځکه الله تعالے فرمائی - یَعْلَمُ خَائِنَةَ الْاَعْیُنِ وَمَا تُخْفِی الصُّدُوْرُ ط (الله دِ سترګو په خیانت او دِ زړونو په حال سهٔ خبر دے) دِ یَعْلَمُ لفظ په دے

دلالت کوی چه نور څوک تر نهٔ خبر یږی خو زهٔ خبر یم - مطلب دا چه ستاسو دا خیال دے چه زهٔ وبښ د ګناه نه هیڅوک نهٔ دی خبر نو د سزا نه به ئے هم بچ شو - دا خیال مو غلط دے - څوک چه سزا در کولے شی هغه تر خبر دے نو سزا نه نشئ بچ کیدے - پوره خبر دے او هر وخت د سزا درکولو قدرت لری - دلته د سزا ذکر نه دے شوے په خلاف د نورو ګناهونو چه هغوسره سزا هم بیانیږی - په دے کښے نکته دا ده چه طبیعتونه مختلف دی - څنه خلق څو د سزا د ویرے ګناه نه بچ کیږی - دا سے بے شرمه وی چه بے سزا هسے د چا په خبرید و ئے هیڅ کار نهٔ وی - او څنه طبیعتونه دا سے وی چه د سزا نه دومره نهٔ ویریږی څومره چه په دے خفه کیږی چه څوک په خبر شی بے عزته به شم او بیا که په دے هم خبر شی - چه څوک - سزا راکولے شی هغه به راته داجرم معاف کړی - نو بیا خو هسے د شرمه او به او به کیږی - څهٔ ښه ئے ویلی دی ؎

تصدق اپنے خدا کے جاؤں کہ پیار آتا ہے مجھ کو انشا
اِدھر سے ایسے گناہ پیہم اُدھر سے دم بدم عنایت

(زهٔ انشاء د خپل هغه خدائے نه قربانیږم چه ما سره ئے دومره مینه ده - چه دے طرف ته مسلسل نافرمانۍ دی - او سره د دے د هغهٔ د طرف نه هر وخت مهربانۍ دی) - (حضرت فرمائی) په دے راته د یو آیت مبارک تفسیر را یاد شو - د اُحُدْ د غزا واقعه ده - چه څنه اصحابو نه د یو اجتهادی غلطئ په وجهه د نبی کریم صلے الله علیه وسلم د یو حکم نافرمانی او شوه - حضور صلے الله علیه وسلم په یو کنډوۍ کښے یو څو اصحاب کینول چه دے طرف نه د کفارو د حملے خطره ده - دا ځائے تینګ کړئ په هیڅ حال کښے ئے مهٔ پریدئ - رکله چه -

Scanned with CamScanner

مسلمانانو په وړښئ هڅه کښے کفارو ته شکست ورکړو کفار د میدان نه اوتښتیدل - نو په کنډوګ کښے ناستو کسانو داخیال اوکړو چه اوس دلته کیناستل بے فائدے دی - راکوز شول اوپه میدان کښے کافرو نه پاتے مال اسباب راغونډولو کښے مرکزو سره شریک شو (حضرت خالد رضی الله عنه چه د قریشو د سورو د دستے سالار وو - چه د کنډوګ خالی اولیدو نو چنل تښتیدونکی مرکزی ځے راغونډ کړل او هم د دے کنډوګ نه ځے په اصحابو د شا مخے ناڅاپی حمله اوکړه دے ناخبرئ کښے حملے مسلمانانو ته ډیر نقصان اورسولو - ډیر شهیدان شو او ډیر زخمیان شو - خو آخر کښے بیا راغونډ شو په کفارو ځے دوباره حمله اوکړه او بیا ځے شکست ورکړو - د دے واقعے بیان کښے الله تعالے فرمائی - اِذْ تُصْعِدُوْنَ وَلَا تَلْوٗوْنَ عَلٰٓى اَحَدٍ وَّ الرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ فِيْٓ اُخْرٰىكُمْ فَاَثَابَكُمْ غَمًّا بِّغَمٍّ لِّكَيْلَا - تَحْزَنُوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَآ اَصَابَكُمْ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝ (او یاد کړئ هغه وخت چه تاسو چه په بره ختئ او شاته موهیما ته نه ګتل او رسول درپسے آوازونه کول نو تاسو ته تکلیف در اورسیدو د تکلیف په بدله کښے دے د پاره چه تاسو خفه نشئ په هغے کار کوم چه درنه پاتے شوے دے او نه په هغے تکلیف کوم چه درارسیدلے دے او الله د تاسو په کارونو ښه خبر دے) - یعنی الله تعالے فرمائی چه تاسو ته د تکلیف درکړو (څنه مرکزی مړه شو او څه زخمی شو) ځکه چه تاسو په نافرمائی ځما رسول ته تکلیف ورکړے وو - او د دے تکلیف ورکولو سبب دا ښئ چه تاسو خفه نشئ حالانکه تکلیف د خفه کیدو شے دے - په دے وجهه دلته مفسرینو لیکلی دی چه دا لآ زاید دے مطلب دا دے چه

Scanned with CamScanner

تاسو خُما رسول خفه کړے وو- نو دِ هغے په بدل کښے ما تاسو خفه کړئ سزاءِ درکړه - لیکن الحمدلله څما ذهن ته دِ دے یو داسے تفسیر راغلے دے چه دِ لا زاید منلو ضرورت نهٔ پاتے کیږی - هغه دادے چه اصحابِ کرام دِ الله تعالے نه ډیر شرمیدل - که څهٔ غلطی به تر اوشوه نو دا به ئے غوښته چه دِ دے سزا په دنیا کښے راکړے شی چه خپل مالک سره دِ ملاقات په وخت شرمیدو نه بچ شو که دنیا کښے به سزا ورنکړے شوه نو ډیر خفه به وو- نو الله تعالے فرمائی چه دِ دے غلطئ سزاءِ په دنیا کښے درکړه چه دِ ډیر خفگان نه بچ شئ -

غرض داچه خلق دوه قسمه دی یو خو هغه چه دِ سزا دِ ویرے گناه نه بچ کیږی - بل داچه دِ چا دِ خبریدو نه هم ویریږی - گناه نشی کولے - نو دِ بے حیاؤ دِ پاره خو په یَعْلَمُ کښے سزا ته اشاره دَه - لکه اکثر مفسرین دلته فَیُجَازِیکُمْ بِهٖ سره دِ دے تفسیر کوی - (یعنی الله تعالے دِ تاسو دِ ستړکو په خیانت خبر دے نو سزا به ئے ورکوی) او دویم قسم خلق به دِ شرمه منع شی - چه الله رانه خبر دے نو دا سے غلط کار څنگه اوکړو - بهرحال دواړه قسمه خلقو ته تنبیهه ورکړے شوه - دِ دے ټولو خبرو نه ثابته شوه چه دامرض ډیره توجهه او ډیرا هتمام غواړی - معمولی کار نهٔ دے اوس موږ ته په خپل حالت غور کول پکار دی - چه موږ دِ دے مرض نه څان بچ کولو د پاره څومره کوشش کړے دے — (حضرت فرمائی) ما ته خو دا سے ښکاری چه په نزاکت کښے به په مشکله یوځ بختور دِ دے مرض نه بچ وی - ورنه ابتلا ډیره عامه دَه - او دا دومره معمولی خبره کنړلے شی چه چا ته ئے دِ بلئ

Scanned with CamScanner

احساس هم نشته - خوانان ئے هم پروا نۀ ساتی او بو واکان هم - دِ
بو واکانو خو دا خیال وی چه زهوبن شهوت شته نه نو چا ته کتو کښے
څۀ نقصان دے (یعنی دا په بد نظر کتل نۀ وی - بلکه داسے دی
لکه بنائسته کل یا بل بنائسته شی ته چه څوک گوری) دا دِ شیطان
دهوکه دَه - یا دلرلئ - دِ مینے او رغبت ډیر اقسام دی - کل ته
کتل بیل شے دے او بنائسته بنده ته کتل بیل شے دے - کل یا بنائسته
جامه که دِ چا خوښه شی هم زهۀ ئے دا نۀ غواړی چه غیږ کښے م
او بیوے او سینه پورے م بجنت کړے - بنده ته ئے دا سے خواهش
کیږی - یوه بله دهوکه شیطان دا ورکوی چه څنگه بنده خپل اولاد
خامنه غاړه باسی سینه پورے ئے نیسی په مخ او په تندی ئے -
بنکلوی دغه شان بل بنائسته هلک هم دے - دا غلط دَه - په خپل
اولاد او دِ بل په اولاد کښے ډیر فرق دے - خپل اولاد که څوک
غاړه باسی نو هغے کښے دِ نقصانی خواهش کډون نۀ وی او دِ بل اولاد
که سینه پورے بجنت کړی نو زهۀ ئے غواړی چه دے نه علاوه
م نور څۀ هم او کړے - دِ محبوب په جدائی کښے بل شان غم وی
او دِ اولاد په جدائی کښے بل شان - دِ هلکانو مینه خو زهرِ قاتل دے -
په شریعت کښے ئے هم حرمت ثابت دے او بزرگانو ورته هم غټ
آفت ویلے دے - یو بزرگ لیکلی دی - اَلنَّظَرُ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ اِبْلِیْسَ -
(هلکانو جینکو ته کتل دِ شیطان دِ غشو نه یو غشے دے) حضرت ابوالقاسم
قشیریؒ لیکلی دی چه هلکانو جینکو سره کډون سالک دِ پاره ډاکو دے
(یعنی په ایمان کښے ئے ډاکه اچوی -
یو بزرگ لیکلی دی څوک چه دِ الله تعالے دِ دربار نه مردود شی
د هغۀ هلکانو سره مینه پیدا شی - غرض دا چه دا ډیر خطرناک شے دے

Scanned with CamScanner

په نورو گناهونو او د بدنګاهئ په ګناه کښے فرق دا دے چه د نورو ګناهونو په کولو هغے نه زړه مړیږی او خواهش کمیږی - لیکن بدنګاهی دا سے مرض دے چه وخت تیریدو سره نور هم زیاتیږی - نه تر زړه مړیږی او نه ئے خواهش کمیږی - په ښه خوراک بنده موږ شی بیا ئے نور ته زړه نه کیږی - په ښو اوبو تنده ماته شی بیا نورے نشی څکلے لیکن بدنګاهی دا سے بلا ده چه دا تنده نه ماتیږی او نه تر مړیدل شته - د ځنه خلقو دا خیال دے چه مجازی عشق د حقیقی عشق پوهئ ده - په دے بنده الله ته نزدے کیږی د ځنو دا خیال دے چه موبږ خو په بنائسته کښے د الله د قدرت تماشه کوو - یا دلرئ - دا ټول د شیطان دهوکه ده - شیخ شیرازی د دا سے خلقو په حق کښے یو قصه لیکلی ده -

یکے صورتے دید صاحب جمال + دیگرگشت از شورشِ عشق حال
بینداخت بیچاره چندان عرق + که شبنم برآرد بهشتی ورق
گذر کرد بقراط بر وے سوار + بپرسید کس را چه افتاد کار
کسے گفتش این عابدے پارسا ست + که هرگز خطائے زدستش نخاست
ببر داشت خاطر فریبے دلش + فرو رفته پائے نظر در گلش
نه این نقش دل می رباید زدست + دل آن می رباید که این نقش بست

ا یو سړی یو بنائسته بنده اولیدو - د عشق د جوشه ئے حال کړو پوښتو په عاجزۍ وموه خولے راماتے شوے - لکه سپرلی کښے چه د ګلاب په ګل پوخ پرته وی بقراط په دے لار سره تیریدو - پتوس ئے اوکړو په دے سړی څه چل اوشو چا ورته اووے دا پیر پرهیزګار سړے دے - هیڅ ے ترڅه غلط کار نه دے شوے یو بنائسته تر زړه یوړو - د نظر بنیه ئے په خته کښے اوښوئده - لیکن دے بنائسته ورنه زړه نه دے وړے - بلکه چاچه دا بنائسته پیدا

Scanned with CamScanner

کړے دے هغهٔ ورنه زهٔ یوړو - (یعنی صوفی دے - د مخلوق نه ئے نظر په خالق پریوتو نو بے هوشه شو) - بقراط ورته په جواب کښے اوویے ے

نگارنده راخود همین نقش بود + که شوریده را دل به یغما ربود
چراطفلِ یک روزه هوشش نبرد + که درصنع دیدن چه بالغ چه خرد
محقق همان بیند اندر اِبل + که درخوبرویانِ حسین وچگل

(په خالق ئے نظر نهٔ دے پریوتے - هم دے بنائسته بنده ورنه زهٔ په ښکور وړے دے + د یوے ورزے وړوکی ماشوم ولے بیهوشه نکړو - د قدرت کاریگرئ کښے خو واړهٔ اولوئے یو شان دی + حقیقت ته رسیدونکے په اوښ کښے هم د قدرت هغه کاریگری وینی کومه چه په بنائسته اوچالاکو معشوقو کښے وینی) - که څوک وائی چه ځما په نظر کښے بنائسته هلک جینئ او اوښ یو شان دی نو دروغ - وائی هرڅوک خپله دا اندازه لګولے شی چه دا مینه کومے ته چه عشق - ویلے شی مینه نه شهوت دے - یوصاحب ویلی دی ے

این نه عشق است آنکه درمردم بود + این فساد دانهٔ گندم بود

(داخلق چه ورته عشق وائی داعشق نهٔ دے + داخو د غمنو د دانو فساد دے) - یعنی د بنو خوا کونو نه ئے خیټه ډکه وی نو مستی ئے په سر ولخلی - دا ټول د مړے خیټے فساد دے - دوه درے ورزے اوښ کړه بیا ورنه ټپوس اوکړه چه سړو ښځی دسته راوړم که بنائسته هلک دسته راولم - یقیناً به وائی په هلک بلا راوله سړو ښځی راته راوړه - ځنه خلق وائی مولانا جامی خو مجازی عشق ضروری کنزلے دے او یو قصه ئے لیکلی ده چه یو بزرګ ته یو سړے بیعت کیدو د پاره راغلو هغهٔ واپس کړو چه اول په چا مین شه نو بیا راشه اولیکی

Scanned with CamScanner

متاب از عشق رو گرچه مجازی ست + که آن بهر حقیقت کارسازی ست
اگر اول الف با تا نه خوانی ـ + ز قرآن حرف خواندن کے توانی

(د مجازی عشق نه هم مخ مه اړوه + ځکه چه دا حقیقی عشق د پاره لار جوړوی - که الف ب ت او نه وائے - نو مخکښے به قرآن شریف څنګه او ویلے شی) - ځنه کم عقلو د دے نه دا مطلب اخستے دے - چه ترڅو په هلک یا ډمه مین نشی حقیقی عشق ته نشی رسیدے دا غټه غلطی او غټه بے وقوفی ده - د مولانا جامی د خبرے مطلب دا دے - چه سالک د پاره اول د دنیاوی تعلقات پریښول او صرف الله سره تعلق قائمول دی - نو سلوک کښے ترقئ د پاره دوه خبرے پکار دی - (۱) دنیاوی تعلق ختمول - (۲) الله سره تعلق جوړول - دنیاوی تعلقات الله سره تعلق د پاره حاجب او مانع دی چه دالرے شی نو بیا وصل دے - ځکه ویلے شی +

ما سوا الله سر ا

تعلق حجابست و بے حاصلی
چو پیوندها بگسلی واصلی

(دنیاوی تعلقات الله ته رسیدو نه مانع دی - که دا تعلقات د ختم کړل نو بس واصل ئے) نو معلومه شوه چه اصل ضرورت دنیاوی تعلقات ختمول دی - اصل مقصود انقطاع عما سوی الله دے یعنی الله نه سوا هر شی نه تعلق ختمول دی - چه دا د اوکړه نو نوره قصه اسانه ده - بیا الله ته رسیدو کښے ډیل نشته - بزرګانو دے انقطاع د پاره ډیر علاجونه تجویز کړی دی - مقصود یو دے - خو د حاصلولو طریقے مختلفے دی - په دے طریقو کښے یو طریقه دا ده چه مخلوق سره - خو مره تعلقات چه دی ټول یو یو ختم کړے شی - او د زړهٔ خو مره مرضونه چه وی - د ټولو یو په یو علاج او کړے شی - او زړهٔ صفا

Scanned with CamScanner

کړے شی - مشرانو صوفیانو دا طریقه خوښه کړی وه - خو دے کښے
مشقت هم ډیر دے او وخت هم ډیر غواړی - مثلاً د یوسړی لسو
څیزونو سره تعلق دے - کور دے - جائیداد دے مال او اولاد دے
وغیره - او لس ورکښے د زړهٔ مرضونه دی - لکه کینه - حسد - غصه
کبر وغیره نو د هغیو مرض چه بیل بیل علاج کیږی او هر تعلق چه بیل بیل
ختمولی نو په دے کښے ډیر وخت لګی او ډیر همت غواړی - او بیا هم
ټول ختمیدے نشی نو ځکه ورسره کامل صوفیانو ته الله تعالے دا
طریقه په زړهٔ کښے واچوله لکه څنګه چه یو مهربانه طبیب او وینی چه دا
مریض تارخهٔ دار و نشی خوړے نو هغه ته ورباندے په څهٔ چل ول
او خوږوی کله ورسره خوږ شربت مرکړے کړی کله ورسره خمیره
مرکبی کړی - کله ته شاتو کښے کډ کړی - کله ورکښے څهٔ اجزا بدل را
بدل کړی چه ډیر تریخ والے ته کم شی - دغه شان دوئ چه اوکتو
چه یویو تعلق ختمولو باندے خو ډیر وخت لګی او اوس همتونه کم
شوی دی - نو داسے څهٔ چل پکار دے چه ټول تعلقات یکدم ختم
شی نو وخت به کم اولګی - لکه یو ځائے کښے چه څهٔ خپل والے وی
که څوک ته په دے طریقه صفا کوی چه یویو ډکے را اخلی او بهر
ته غورزوی خو ډیر وخت په لګی - او که څوک ورپسے جاړو را اخلی ټول
ګندیو ځائے ته جمع کړی او په څهٔ شی کښے ته واچوی بهر ته اوباسی
نو نور به صفا شی نو هغوئ ته الله تعالے په زړهٔ کښے دا خبره
ولچوله چه عشق یو داسے شے دے چه نور ټول تعلقات ختمولی
او یواځی خپله پاته کیږی - موږ وینو چه څوک په یو ډمه مین شی
نو بال بچ او خپل خپلوان ورنه پاته شی - خپل ټول جائیداد بلکه
خپل ځان هم ورپسے برباد کړی - (حضرت فرمائی) د یو مالدار سړی

Scanned with CamScanner

د غوښو نو شوق وو - دیره قیمتی قلبه به ئے ساتله او د هغے په پرورش به ئے زړګونه روپۍ برباد ولے - زما وینو د استاذ مولانا فتح محمد صاحبؒ کتابونو سره مینه وَه - په سوونو کتابونه ئے راجمع کړی وو - چرته چه به ئے د ښۀ کتاب نوم واوریدو اخستو به ئے - خپله ئے کتے هم نشوخو راجمع کول به ئے - غرض داچه عشق داسے شے دے چه د معشوقے نه علاوه نور ټول تعلقات ختموی.

عشق آن شعله ست کو چون بر فروخت
هرچه خیر معشوق باشد جمله سوخت

(عشق یو داسے لښه ده چه دا بله شی بے د معشوقے نه نور هرڅۀ او سوزی) ځکه څنه بزرګانو دا تجویز کړے دے چه سالک ته عشق پکار دے - د هر شی سره چه وی - اول به ئے تر پټوس کولو چه د څۀ څیز سره د مینه شته که نه - داضروری نۀ ده چه هغه مینه بنیادم سره وی - دا مینه که د مینے سره وی هم کافی ده ځکه چه مقصود خو دادے چه توجهه د نور و څیزونو نه یوطرف ته شی - بیا دا توجهه حقیقی عشق ته راړول اسان شی - د یو بزرګ واقعه ده چه یو سړے ورته بیعت د پاره راغلو هغه ورته پټوس اوکړو - څۀ څیز د ډیر خوښ دے هغۀ ورته اووے - چپلے مینے سره ډیره مینه ده - صاحب ورته اووے - خلوت خانه کښے کینه څلویښت ورځے چیله اوباسه - او دے ورځو کښے صرف د چپلے مینے تصور کوه بل هیڅ شے مۀ یاده وَه - (لیکن خدائے د پاره بل څوک په دے عمل مۀ کوئی) د هر چا حالت جدا جدا دے نو علاج هم جدا جدا وی - په یوه نسخه د هر چا علاج نۀ کیږی هے نه چه د هوښیار طبیب او د بے وقوف شاګرد توقه دربانده

اوشی - وائی چه یوطبیب دِ مریض پټوس ته ورغلو- دِ مخکښ ورځې نه ئے حالت ډیر خراب وو- ورته ئے اووے - دا سے بنکاری چه بد پرهیزی دِ کړی دَه - نارنج دِ خوړلے دے - خکه دِ حالت خراب دے هغهٔ اووے نارنج خوړم خوړلے دے - چه واپس راتلو په لاره کښے ترشاګرد ټپوس اوکړو چه تا ته څنګه پته اولګیده چه نارنج - ئے خوړلے دے - استاذ ورته اووے دِ نبض نه ئے دا معلومیدهٔ چه څهٔ یخ شے ئے خوړلے دے - دِ کټ لاندے دِ نارنج پوټکی پراته وو نو دا معلومه شوه چه هغه یخ شے نارنج وو- شاګرد وو کم عقل - چه سبق ئے خلاص کړو - چنل مطب ئے شروع کړو- نو یوه ورځ دِ چنل یو مریض پټوس ته لاړو - هلته ئے دِ مریض دِ کټ لاندے دِ ملسی توتے اولیدے - او اتفاقی دِ مریض حالت دِ- پرون نه خراب وو- نو ورته ئے اووے بد پرهیزی دِ کړی دَه دا سے بنکاری ملسے دِ خوړلے دے - نو لوخلقو ورپورے اوخندل چه څه ملسے هم دِ خوړو شے دے - دِ عقل اندازه ئے ورته اولګیدهٔ نو نور علاج ئے ورنه بند کړو- (خدائے دِ پاره تاسو هم چرته دا سے اونکړئ - چه دِ ټن نه ذکر فکر هرڅهٔ بند اوچیله کښے کینئے دِ مینے مراقبه شروع کړئ - دا دِ مغے سړی خصوصیت وو-

غرض دا چه هغے بزرګ ورته اووے - چیله کښے کینه او دِ مینے مراقبه شروع کړه- هغهٔ دِ پیر صاحب په خبره پوره پوره عمل اوکړو - چه خلویښت ورځے پوره شوے - پیر صاحب خلوت خانے ته ورغلو - ورهٔ کښے ئے آواز ورکړو چه بس دے - اوس را اووځهٔ هغهٔ اواز ورکړو- حضرت بهر ته څنګه در اووزم - دِ کوټے ورتنګ دے - او خا دِ مینے سنګرونه لوټے دی پکښے نښلی دروټے نشم- پیر

Scanned with CamScanner

صاحب خوشال شو او شاباشے ئے ورکړو۔ چه بس نور خیالات دِ زړهٔ نه اووځو یو میښه پاتے دَه ۔ دِ دے ویستل راته اسان دی۔ نو دِ دے واقعے نه معلومه شوه چه دِ توجهه راغونډولو دِ پاړه بنیادم سړه مینه ضروری نه دَه ۔ دِ مینے مینه هم کافی دَه (بلکه دِ بنیادم مینه کښے داخطره دَه چه هم هغے کښے اونبلی اصلی مقصود ته او نهٔ رسی۔ اودِ مینے مینه کښے داخطره نشته) ۔ حُکه په ارادِه سړه دِ بنیادم سړه مینه نهٔ ده پکار ۔ البته که بے اختیاره څوک په مجازی عشق کښے مبتلا شوے وی ۔ نو دِ خاصو شرطونو او خاصو پابندیو سړه په خاصو حالاتو کښے دا دِ وصول الی الله ذریعه گرځیدے شی ۔

عاشقی گر زین سَرُ وگر زان سَرُ ست
عاقبت ما را بدان شاه راهبر ست ۔

(عاشقی که دِ دے طرف نه وی او که دِ هغے طرف نهٔ وی (یعنی۔ مجازی وی که حقیقی وی) آخرا نجام حقیقی محبوب ته رهبری کوی) لیکن دے رهبرئ دِ پاړه دِ پیر شرطونه دی۔ (۱) یو داچه نهٔ مجازی محبوب سړه نز دے اوسی نهٔ ورته کوری نهٔ ورسره خبرے کوی او نه ئے خبرے اوری ۔ بلکه دِ زړهٔ نه ئے دِ خیال ویستو کوشش هم کوی غرض داچه حتی الامکان تر څان بچ کوی ۔ اگر چه دا کار نفس ته دیر گران دے ۔ لیکن که څوک همت اوکړی او زړهٔ تینګ کړی او څو ورځے په دے طریقه عمل اوکړی نو زړهٔ کښے به ئے یو خاص نور پیدا شی ۔ نتیجه به ئے دا وی چه دنیاوی جاه وجلال۔ دِ مال او اولاد مینه او دِ مرتبے خواهش به ئے زړهٔ نه او وځی او س ورکښے دِ عشق ماده پیدا شوے دَه ۔ کامل پیر بیا دا ماده حقیقت ته راسی ولے شی او په دے طریقه مجازی عشق حقیقی عشق دِ پاره

ذریعه جوړیدے شی - لیکن که دِ مجازی محبوب نه ئے خان جدا نه کړو هغه سره ئے خبرے اتړے کولے او تعلق ئے ورسره ساتلو - نو بیا به هیشه دِ پاڅه هم په دے کښے نښتے وی - حقیقت ته رسیدل به ئے نصیب نشی - خپله مولانا جامیؒ (دِ چا دِ کلام نه چه په مجازی عشق - استدلال کیږی) مخکښے فرمائی -

ولے باید که درصورت نمانی
ازین پل زود خود را بگذرانی

(لیکن پکار ده چه دے مجازی عشق کښے پاتے نشی - په دے پُل باندے خان ډیر زر حقیقت ته اورسوے)- بیا مخکښے فرمائی -

عشق با مرده نه باشد پائیدار
عشق را با حیّ با قیوم دار -
عشقهائے کز پئے رنگے بود -
عشق نبود عاقبت ننگے بود -

(دِ فانی څیز سره عشق پائیدار نه دے - عشق دِ هغے ذات سره پکار دے چه هیشه ژوندے او هیشه قائم دے + کوم عشق چه ظاهری رنګ او عارضی بنائست سره وی - هغه عشق نه دے انجام ئے - شرمیدل دی) ورپسے فرمائی -

غرق عشقے شو که غرق ست اندرین
عشقهائے اولین و آخرین -

(په هغے عشق کښے ډوب شه په کوم کښے چه ورځے ورځستی ټول - عشقونه ډوب شوی دی (یعنی حقیقی عشق) بیا دلته دا شک کیدے شو چه موږ غوندے نالائقه حقیقی عشق ته کله رسیدے شی - مولانا جواب ورکوی -

Scanned with CamScanner

تومگو ما را بدان شهه بار نیست
با کریمان کار ها دشوار نیست

(دامهٔ وایه چه نړهٔ دِ هغے لوئے بادشاه دربار ته رسیدے نشم۔ داغلطه دَه - خکه چه هغه دِیر مهربانه بادشاه دے - هغهٔ ته۔ هیڅ کارګران نهٔ دے - کوم کارچه تاته ګران مبنکاری (یعنی هغے دربار ته رسیدل) تهٔ لږ کوشش اوکړه - بیا اوګوره چه هغهٔ دِ څنګه ځان ته راکاږی - هغه دِ مجازی محبوبانو په شان نهٔ دے - چه عاشقانو باندے ناز نخرے کوی ځان ته ئے نزدے نهٔ پریدی۔

غرض داچه دِ دے مسئلے حل دا نهٔ دے - چه په نظر بازئ دِ مزے اخلی په دے خیال چه نړهٔ صوفی یم په دے پوهئ بر حقیقت ته رسم - استغفرالله - دا به دِ قرب ذریعه څنګه شی - د اخروی دِ بعد ذریعه دَه - بلکه دِ احادیثو نه معلومیږی چه د اګناه دِ الله تعالے دِیره ناخوښه دَه - بلکه یو حدیث شریف دے - اَنَا غَیُّوْرٌ وَاللّٰهُ اَغْیَرُ مِنِّیْ وَمِنْ غَیْرَتِهٖ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَاظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ (نړهٔ غیرتی یم او الله ځمانه نړیات غیرتی دے او دِ غیرت په وجه ئے دِ بے حیائی کار و نه حرام کړی - څرګنده بے حیائی وی که پټه) او د اخرګنده خبره دَه چه بد نګاهی بے حیائی دَه - په ستړګو کتل لاس ورسول - په بنسپو ورتلل - دا ټول دِ بے حیائی اسباب شریعت په زنا شمیرلی دی - حدیث شریف دے - اَلْعَیْنَانِ تَزْنِیَانِ وَزِنَا هُمَا النَّظَرُ - وَالْاُذُنَانِ تَزْنِیَانِ وَزِنَا هُمَا الْاِسْتِمَاعُ وَاللِّسَانُ یَزْنِیْ وَزِنَاهُ النُّطْقُ وَالْیَدَانِ تَزْنِیَانِ وَزِنَا هُمَا الْبَطْشُ۔

(ستړګے زنا کوی دِ ستړګو زنا (هلکانو جینکو ته) کتل دی - غوږونه زنا کوی دِ غوږونو زنا دِ بدکارئ خبرے اوریدل دی - شربه

Scanned with CamScanner

زنا کوی او د ژبے زنا فحش خبرے کول دی- لاس هم زنا کوی
د لاسونو زنا په بد نیت څوک سره نیول وی) دا قول د بے حیائی کار ونه
دی) او د بے حیائی په کارونو الله تعالے نارضه کیږی په دے
د الله قرب هیڅ نشی حاصلیدے- بیا پیر د افسوس خبره داده
چه پیر پیران صاحبان په دے کښے مبتلا دی- چه ښځے ورته پرده
نه کوی- وائی چه پیرخو د پلار په ځائے دے- بلکه د پلار نه هم
زیات دے نو پلار نه به څوک څه پرده کوی- نو دا بے شرمه
پیر ته ډیرے بے باکئ سره مخامخ کیږی- او هغه سړی هم ډیرے
غیرته دی- چه خپل ښځه او جینکو ته دا سے پیرانو ته د ورتلو
اجازت ورکوی- (حضرت فرمائی) بلکه ما اوریدلی دی چه
څنه حایونو کښے ښځے پیرته د خلوت خانے- ته ورننوځی او-
تنهائی کښے ورته بیعت کوی- نعوذ بالله- د نبی کریم صلے الله-
علیه وسلم نه زیات څوک دے- هغوئ نه به د اصحابو بیبیانو
پرده کوله- چه هغه د قول امت روحانی پلار دے او د هرے
ګناه نه پاک دے- هیڅ قسم شک په نشی کیدے- سره د دے به
د اصحابو بیبیانو هغوئ نه پرده کوله- او د حضور بیبیانو (چه د
قول امت میانده ورته الله تعالے په قرآن کښے ویلی دی-(ارشاد
دے- وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ- (او د حضور بیبیانے د امت میانده دی)
د حضور بیبیانو به د اصحابو نه پرده کوله- د هغوئ متعلق خو دچا
په زړه کښے وسوسه قدرے هم نشی راتلے- بیا هم الله تعالے ورته
د پرده حکم کړے دے- ارشاد دے- وَقَرْنَ فِیْ بُیُوْتِكُنَّ (او خپلو
کورونو کښے په قرار کینئ) بهر مه ګرځئ- او ارشاد دے ورته- وَلَا تَخْضَعْنَ
بِالْقَوْلِ فَیَطْمَعَ الَّذِیْ فِیْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ- (او د پرده شاته چا سره نرمے خبرے

مهٔ کوئی چه دِ چا په زړهٔ کښے مرض وی څهٔ طمع به ئے اوشی) اوپه دے وجهه بزرګانو ویلی دی چه څنګه چه سړو دِ پاره خوش اخلاقی او زړے خبرے صفت دے - دغه شان ښځو دِ پاره دِ نامحرم سره سخے خبرے او تیز مزاجی صفت دے - ښځو دِ پاڅ نامحرم سړ دِ پرے دے شاته هم دومره قدر خبرے پکار دی چه ضرورت په پوره کیږی دِ زړیاتی خبرو او زړهوخبرو اجازت نشته - لیکن دِ چنل خاوند سره وړته خوش اخلاقی او زړے دِ مینے خبرے پکار دی - الله اکبر - دِ نبوت خاندان ته او دِ امت میاندو ته داحکم دے - نن څوک دی چه دِ هغوئ نه به زړیات پاک او دِ فتنو نه محفوظ وی - نن خودِ زړیات انتظام او سخت احتیاط ضرورت دے - یو بزرګ وو - دیر بوډا وو - نو دِ ښځو نه به ئے احتیاط نه کولو - په دے خیال چه زړهٔ په غَیْرُ اُولِی الْاِرْبَ کښے راځم (هغه کسان چه ښځو ته ئے شوق نه کیږی) یو بل بزرګ وړته نصیحت اوکړو چه دِ دے فتنے نه ځان ساتل پکار دی - خو هغهٔ او نه منلو -

دے بے احتیاط بزرګ یو ورځ په خوب کښے دِ نبی کریم صلی الله علیه وسلم زیارت اوکړو - نو دِ دے مسئلے پوښتنه ئے ورنه اوکړو ارشاد او شو که سړے کجنید بغدادی وی - او ښځهٔ بی بی رابعه بصریه وی خو چه دواړه تنهائی کښے وی نو دریم وړسره شیطان وی (یعنی تنهائی کښے ملاقات ئے دِ خطرے نه خالی نهٔ دے) داحقیقت دے - سړے که څومره بوډا شی - فطری خواهش ئے ختمیږی نه - دا بیله خبره دَه چه عملاً څهٔ کولے نشی - لیکن بد نګاهئ نه خو نشی بچ کیدے - دا خو څهٔ طاقت نهٔ غواړی - په ناربینه کښے زنانه ته میلان فطری دے - او فطری شے ختمیږی نه - مشهور بزرګ مولانا فضل الرحمن

Scanned with CamScanner

کنج مراد آبادی ډیر بو ډاوو - لس ډ پاڅه ډ سلوکالو وو (حضرت تھانوی فرمائی) یوځل زهٔ ډ هغهٔ په خدمت حاضر وم - یخ ژمے وو - هغه چه سحر ډ خوبه سا پاڅیدو خپل خادم ته ئے اووے - غسل خانه کښے سا ته کړے او به کیده څهٔ شک غوندے م ډے غسل کوم - خادم او به تیارے کړے - او هغوئی په ډے سخته یخنئ کښے غسل اوکړو - که په بو ډا والی کښے فطری خواهش ختمیدے - نو شک ئے ډ څهٔ راغلے وو - (حضرت تھانوی فرمائی) یوځل په کاپوړ کښے زموږ کور کښے بنځو خپلو کښے خبرے کولے چه مولانا فضل الرحمن صاحب نه ستر پکار دے که نه - ما وړته دا قصه اوکړه بیا م وړته اووے چه اوس خپله فیصله اوکړئ چه ډ سلو کالو نه زیات عمر کښے سړی ته ډ غسل ضرورت پیښیږی - نو ډ پنځوسو کالو یا دے نه کم عمر پیر به څنګه بچ شی - بلکه نن صباخو خاندانی پیری دَه - اکثر پیران خوانان وی او ډیر ریاضت ئے هم نهٔ وی کړے - نن صباخو پیری اسانه شوی دَه - شین قمیص واچوه ډ غټو دانو تسبیح په غاړه کړه - ډ حق هوچغه وهه بس رسیدلے پیرئے - که بنځوته کوړے که هلکانو ته ستا مقبولیت کښے څهٔ کمے نهٔ راځی بلکه څومره چه ډ شریعت خلاف چلیږی دومره ئے پیری کره کیږی - که ډ شریعت پابندی کوی هغه پیر نهٔ دے هسے ملا گوتے دے -

داخو ډ سړو حال دے اوس ډ بنځو حال واورئ - څنه بنځے داسے بے حیا وی چه خپله سړو ته گوری - یا پرده پورته کړی چه سړی ورته اوگوری - احتیاط قطعی نهٔ کوی - حدیث شریف دے - لَعَنَ اللّٰهُ النَّاظِرَ وَ الْمَنْظُوْرَ اِلَیْهِ (ډ خدائے لعنت ډ وی په کتونکی اوچاته چه کتے شی) که بنځوته څوک نصیحت کوی چه پرده مهٔ پورته کوئ - سړی ډ ته گوری - نو او وائی یوځل کتو باندے څهٔ کیږی - یوځل ډ اوگوری

Scanned with CamScanner

بیا به ړاپسے ړاوند شی- داخو دِ هغو ښځوحال دے کوے چه ستړمنے بللے شی اکثر ښځے داسے دی- چه کور کښے دِ خاوند مخکښے به خیرنے خچنے کړئ۔ لیکن چه بهرته اوځی نو ځان نه به ناوی جوړه کړی- دا دِ یردِ بے حیائی کار دے- دچادِ پاڼه چه شریعت دِ ځان ښائسته کولو اجازت ورکړے۔ دے هغهٔ ته خو ځان نهٔ جوړوی په هغے شومیږی او نور وخلقو دِ پاره ځان ښهٔ جوړوی- په دے نه شومیږی- خومره اپوټه کار دے- ځنه ښځے دِ وادهٔ ځلمی او دِ جنج سړو ته کوړی- او خپل نارینه ئے هم نهٔ منع کوی ځکه چه دا سواج دے- بله بے احتیاطی دا کیږی چه اکثر خلق کور ته ننوتو کښے اطلاع نهٔ ورکوی- بے خبره کور ته ننوځی- کیدے شی چه دِ محلے څوک دِ ستر بندیانے ورکړه راغلی وی- نو پریشانے به شی- او نارنانه هم دا ډے احتیاطی کوی- چه چا کړه څی نو اول دا تحقیق نهٔ کوی چه کور کښے څوک نارینه شته که نه- نو اکثر خپله هم پریشانے شی او دِ کور خلق هم پریشان کړی او بے حجابی هم پکښے اوشی- (حضرت فرمائی) زهٔ یوځل ناجوړه وم کور پروت وم- تپوس ته دِ ستړمنے زنانه راغلے او دغه شان بے خبره را ننوتے ما ورته ښهٔ بَدرَدْ او وے او چه کنړے زنانه چرته راجمع شی نو دیره بے حیائی جوړه شی- دیر ځله دِ کور خاوند څهٔ کار پسے بے خبره کور ته را ننوځی چه پردئ زنانه او وینی ښپه ښوله شی- زنانه څوک په مخ دِ لوپټے پلو راواچوی څوک دِ بلے شاته شی- څوک کوتے ته منډه کړی- دِ هرے یوے دا- خیال وی چه زهٔ ځے او نهٔ لیدم- پکښے هغهٔ ټولے بنے لیدلی وی۔

خلاصه داچه ښځو ته کتل غټه ګناه دَه- او کله کله خو ترغټه فتنه جوړه شی- لیکن په دے کښے دیر خلق مبتلا دی او هیڅ خیال ئے نهٔ ساتی- دے نه ځان بچ کول ضروری دی خپله م احتیاط پکار دے

Scanned with CamScanner

او دِ چنل کوی په خلقو هم سختی پکار دَه چه بے احتیاطی نه کوی۔ دِ دے علاج دِیر اسان دے۔ چه په لارځے نو ستر کے پټے ساته چلے لارے ته کوزه کوی۔ اخوا دیخوا مه کوره۔ انشاءالله هرځۀ نه به بچ وے شیطان چه مردود شو۔ نو الله تعالے ته ئے اووے۔ لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ؕ (زه به بنیاد مو گمراه کولو دِ پاره ستنا۔ په نیغه لار کښے کینم بیا به ورته مخامخ راځم او دِ شانه او بنی طرف نه او کس طرف نه به ورته راځم) څلور طرفه ئے او بنیل دوه طرفه یعنی بره او بنکته ورنه پاتے شو) بزرګانو په دے کښے یو نکته بیان کړی دَه۔ چه دا دوه طرفه ئے ځکه یاد نه کړو چه اکثر ګناه دِ دے څلورو طرفونه کیږی۔ او دا دوه ورنه دِ بچ کیدو دی۔ نو په تلو کښے که څوک پاس ګوری خو لاندے به په څۀ ټکره او خوری۔

یا به ئے په ستر کو کښے څۀ پریوځی نو دِ خلاصی صرف یو طرف پاتے شو چه بنکته ګوری۔ ارشاد دے۔ وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا۔ (یعنی دِ الله نیک بندیان چه په لارځی نو نظر بنکته ساتی)۔ یو بزرګ وو هغۀ چه به چا سره خبرے کولے نو سر و ته به ئے هم پاس نه کتو۔ ستر کے به ئے بنکته وے چا تر پتوس او کړو چه دا و لے۔ نو او ئے وے چه دوه قسمه خلق ما سره راځی۔ یو خو هغۀ چه زۀ ئے پیژنم نو هغو ته که او نه ګورم په اواز ئے هم پیژنم نو پوښته کتو کښے څۀ فائده دَه۔ او بل هغه چه نه ئے پیژنم نو هغوئ ته کتو کښے هم څۀ فائده نشته۔ نو هسے بے فائدے کار ولے او کړم۔ سبحان الله دِ حضور صلے الله علیه وسلم ارشاد دے۔ مِنْ حُسْنِ اِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهٗ مَالَا يَعْنِيْهِ۔ (دِ بنده دِ اسلام خوبی دا دَه چه بے فائدے کار و نه ترک کړی)

په سنت عمل دے ته ویلے شی - خُنه بزرګان دِ دے بد نګاهئ دِ خطرے نه په خُنګلو کښے اوسیدل - شیخ شیرازی فرمائی ؎

بزرګے دیدم اندر کوهسارے - قناعت کرده از دنیا به غارے
چراګفتم به شهر اندر نه آئی - که بارے بند از دل برکشائی
بګفت آنجا پری رویان نغزند - چو ګل بسیار شد پیلان بلغزند

(په یو غر کښے ما یو بزرګ اولید و چه یو غار کښے ئے دِ دنیا نه زړه صبر کړے وو + هاورته او وے چه ښار ته ولے نه راځے چه طبیعت دِ ازاد شی - راته ئے او وے هلته کښے ښکلی کسان اوړی راوړی - چه خته ډیرے شی نو هاتهیان هم ښوئیږی + هسے نه څوک ښکلی ما تیر باسی) -

وائی چه یو بزرګ دِ بیت الله شریف طواف کولو - په یوه ستړکه پوهند وو - په طواف کښے به ئے بیا بیا دا دعا وے - اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِکَ مِنْ غَضَبِکَ - (یا الله زهٔ ستا دِ غضب نه ستا پناه غواړم) چا ترپتوس اوکړو چه د دومره ډیر ویریږے ولے ؟ هغه ورته او وے یو ځل ما یو ښائسته هلک ته کتلی وو د غیبو یو څیړه په مخ راکړے شوه ستړکه ما پوهنده شوه - اوس ویریږم چه هسے نه بیا راته داسے غلطی اوشی او بله ستړکه ما هم پوهنده شی -

حضرت جنید ؒ یو ځل په لار روان وو - مریدان ورسره وو یو ښائسته عیسائی هلک په مخه ورغے یو مرید حضرت نه پتوس اوکړو - داسے ښائسته بدن به هم اوړته اچولے شی ؟ - هغه ورته او فرمائیل دا هلک ستا تر نظره ښه راغے دِ دے سزا به درکولے شی وائی چه هغه دِ قرآن شریف حافظ وو - الله تعالے ورته قرآن هیر کړو - دِ دومره غټ نعمت نه محروم شو - نعوذ بالله - دِ خُنه ډېرتوبی

Scanned with CamScanner

بزرګ کا نو طبعی طور بنائسته څیزونه خوښ وو- نو ځنه خلق وربانده خطا شو- د حسن پرست ګومان ئے په اوکړو- لکه مشهوره ده چه حضرت مظهرجانِ جانان "حسن پرست" وو- نو وائی چه دومره لوئے بزرګ حسن پرست وو- نوکه موږ شو نو څه حرج دے- سبحان الله څه عجیبه دلیل دے- خبره داده ؎

کار پاکان را قیاس از خود مگیر + گرچه ماند در نوشتن شیر و شیر

(پاک خلق د چنل ځان په شان مه ګڼه- اګر چه په ظاهره لیکلو کښے شیر (زمرے) او شیر (پئے) یو شان لیکلے شی لیکن په معنیٰ کښے ئے ډیر فرق دے- درحقیقت هغه حسن پرست نه وو- څنګه چه د خلقو خیال دے- بلکه نازک مزاج وو- هر بنکلے شے ئے خوښ وو او هر بے ډبه څیز نه ئے نفرت وو- د بد شکله څیز په لیدو به ئے طبیعت خراب شو- په سر به ئے درد شو- که چرته به تلو نو په ډولئ کښے به تلوا و پردے به ئے بندے کړی وے- چه په لار څه خراب شے او نه وینی چا تر پتوس اوکړو چه تاسو د ډولئ پردے ولے بندوئ هغوئ وړته اووے په بازار چه تیریږم نو ځنه دکانونو کښے څیزونه داسے کډ وډ بے طریقے پراته وی چه ځما په سر درد شی- د تهانه بهون قاضی صاحب د یو مرګری سره د مرزا صاحب ملاقات ته وړغلے وو- مرګرے ئے پوزے سوبڼ کولو د پاره مجلس نه پاخیدو- مرزا صاحب وړته اوکتل نو شاته د پرتوګ چوبڼ بے ترتیبه وو- هغوی یو طرف ته غونډ شوے وو- د هغه په دے بے پروائی د مرزا صاحب په سر درد شو- قاضی صاحب ته ئے اووے- داسے بے ډبه بنده سره ستا ګذاره څنګه کیږی- یوځل مغل بادشاه اکبر شاه ثانی د مرزا صاحب ملاقات ته راغلے وو- بڼے شو هغه وخت څوک

Scanned with CamScanner

خادم موجود نهٔ وو- بادشاه خپله منګی نه اوبه راا ووبیستے اوکړې
ئے په منګی کوښ نسکورکړو- دِ مرزا صاحب ورته په سر درد شو
خو دِ میلمهٔ خاطر ئے اوکړو- څهٔ ئے ورته اونهٔ وے- بادشاه چه
رخصتید و نو عرض ئے اوکړو- تاسو سره خادم نشته که اجازت وی
نو زهٔ به درته یو سړے راواستوم- داچه ئے اووے نو مرزا صاحب
نور صبر اونکړے شو- په قهر ئے ورته اووے اول خوخپله سړے
شه- کهٔ ورے دِ کوښ نسکور کړے دے خما طبیعت تر اوسه خراب دے

یو سړی مرزا صاحب ته دِ ډیر ښائسته انګور و ډالئ راوړه- په
انتظار وو چه حضرت به ئے صفت اوکړی- خو هغه خاموش وو-
آخر ئے ورنه پوښتنه اوکړو- حضرت انګور څنګه وو خوښ موشو؟
هغوئ اوفرمائیل- په رنګ ډیر ښائسته وو- خو په خوراک کښے
ښائسته نهٔ وو- دِ مړو بوئے ورنه راتلو- دِ تحقیق نه پس معلومه شو
چه داباغ په نږدے قبرستان جوړ شوے وو- دِ مرزا صاحب په طبیعت
کښے نفاست پسندی فطری وَه- طبیعت خدائے پاک داسے ورکړے
وو چه خراب شے په بد لګیدو- برداشت کولے ئے نشو- څهٔ خراب
خیالات ئے په زړهٔ کښے هرګز نهٔ وو- ثبوت ئے دادے چه وکیلے
کښے هم دِ بدرنګ بنده غیږ ته نهٔ ورتلو- آخر وکیلی کښے دِ-
حسن پرستئ څهٔ احتمال کیدے شی- دِ خواجه میر درد متعلق چا مرزا
صاحب ته اووے چه هغه سماع اوری- اوئے فرمائیل- روره! دِ
هغهٔ دِ غوږ و نو مرض دے او نږدے دِ ستړګو مرض دے- اوګورئ
چنل دِ ښائسته څیز خوښول ته ئے هم مرض اووے-

یو بزرګ وو په ښائسته هلکانو به ئے کار کولو- کله کله به ئے په
ښپه چاپی کولے- او کله کله به ئے هلک ښکلولو هم- یوه ورځ یو

موږید هم یو هلک بنکل کړو - پیرصاحب پوهه شو چه خُما په وجهه ئے دا غلطی اوکړه - یوه ورځ بازار کښے روان وو - د یولوهار دکان ئے اولید وچه اوسپنه ئے سره کړی وَه څۀ شے ئے تر جوړولو - پیرصاحب ورغلو دغه سره اوسپنه ئے بنکل کړه - او موږید ته ئے اووے - راشه ته ئے هم بنکل کړه هغه د ویرے په شا شو - بیا خو پیرصاحب ښۀ اونړورلو - ورته ئے اووے خان خُما په شان مه ګڼه -

یو بزرګ په یو هلک ښپے چاپی کولے - هلته ناستو کسانو کښے د یو سړی په نړۀ کښے دا خیال راغلو چه دا څنګه بزرګ دے چه په هلکانو چاپی کوی - هغے بزرګ آواز ورکړو چه لاړ شه یوه سړه کړے انګیټئ راوړه - چه هغۀ انګیټئ راوړه - نو دے بزرګ خپله ښپه په هغے سره کړی انګیټئ کښے کیښوه - او هغے سړی ته ئے اووے - خُما احساس ختم شوے دے - ما د پاره دے هلک او دے سره انګیټئ کښے هیڅ فرق نشته - نه راباندے دا اثر کولے شی او نۀ دا هلک -

لیکن یاد لرئ - کوم بزرګان چه په ظاهره د شریعت خلاف کار وینه کوی هغوئ نه بیعت کیدل جائز نۀ دی - څوک چه د ارشاد په ګدئ ناست وی - او د نبیانو وارث جوړیږی د هغۀ هره وضع او هر کار د سنت مطابق پکار دے او د تهمت او بدګومانئ د ځایونو نه ورته ځان بچ کول پکار دی - د نبی کریم صلے الله علیه وسلم شان په دے باره کښے دا وو - چه یوځل حضور صلے الله علیه وسلم په جمات کښے اعتکاف کښے وو د هغوئ بی بی حضرت صفیهؓ د څۀ کار د پاره ورته راغلے وَه - چه واپس تله نو حضورؐ ورسره د جمات تر ورۀ پورے راغلو - مخامخ ئے اولید وچه دوه کسان جمات ته راروان دی - د لرے نه ئے آواز ورکړو چه په دے ځائے او دریږئ دلته پرده ده

Scanned with CamScanner

چه صفیه بی بی رضؓ لاړه نو هغوئ ته ئے آواز ورکړو چه اوس راځئ - چه هغوئ راغلو - نو بیا ئے وړته اوفرمائیل چه دا سبځ چه جات نه اووته خا بی بی صفیهؓ وَه بل څوک نهٔ وَه - دا خبره په هغے سړو ډیره گرانه اولگیده ډیر په خفگان ئے عرض اوکړو یا رسول الله آیا موږ په تاسو بدگومانی کوئے شو؟ هغوئ اوفرمائیل - بیشکه شیطان دِ بنیادم په رگونو کښے دِ وینے په شان گرځی - ما سره خطره شوه چه چرته ستاسو ایمان برباد نکړی (یعنی که شیطان درته په زړهٔ کښے وسوسه اچولے وے نو ایمان به موخراب شوے وو) نو کوم کسان چه دِ ارشاد په گدئ ناست دی او دِ خلقو دِ اصلاح کار کوی نو هغوئ ته دِ شک دِ موقع نه ځان بچ کول ضروری دی -

دِ بیعت قابل صرف هغه پیر دے چه دِ شریعت پوره پوره تابع وی او هر کار کښے دِ سنت پیروی کوی - دِ چا ظاهر چه دِ شریعت موافق نه وی هغه مکار دے دِ بیعت قابل نهٔ دے -

ځنه بزرگان دا سے وی چه باطن ئے دِ شریعت موافق وی - لیکن په ظاهره دا سے کار ونه کړی چه هغه دِ شریعت خلاف بنکاری دِ عامو خلقو دِ پوهے نه بهر وی - دِ دا سے بزرگانو مخالفت نهٔ دے پکار لیکن تابعداری ئے هم نهٔ دَه پکار - پیر کول ئے جائز نهٔ دی - پیر داسے پکار دے چه ظاهر او باطن ئے دواړه دِ شریعت موافق وی -

خلاصه داچه دِ نظر بازئ دِ جواز دِ پاره هیڅ دلیل هیڅا سره نشته نظر بازی یقیناً حرامه اوکبیره گناه دَه - ځان تر ساتل ضروری دی - مخکښے ارشاد دے - وَمَا تُخْفِی الصُّدُوْرُ (یعنی څهٔ چه تاسو زړونو کښے پټ ساتلی دی) الله تعالے په هغے هم خبر دے دِ هغهٔ نه هیڅ شے پټ نشته - داحکم دِ مخکینی نه سخت دے - یعنی گناه یواځئ په نظر کښے نهٔ دَه - په زړهٔ کښے

Scanned with CamScanner

هم وی - دیر خلق په زړهٔ کښے د بنائسته هلکانو جینکو تصور کوی او په دے تصور مزے اخلی او دا خیال ځی وی چه موبږ خو پاک یو د ګناه څخه کار مو نه دے کړے۔

یا دلرئ - دا ټول د شیطان د مکر جال دے - دیر ځله په زړهٔ کښے تصور کولو او سوچونو کولو نه دیرے فتنے جوړیږی - ځکه چه نظر خو په هغه وخت ختم شی - او په تصور باندے تعلق سره سره زیاتیږی او دا سے پوخ شی چه بیا هډو د خیال نه اوځی نه - بلکه په نظر بازئ نهٔ کولو ځان د مجاهدے خاوند او د زیات قرب خاوند ګڼی - او دا خیال نهٔ کوی چه زړهٔ کښے په مزه اخلی نو مجاهده چرته دَه -

غرض داچه دا سے تصور نه هم زړهٔ خالی کول پکار دی - او زړهٔ ته خبره د غوښتونو په لار هم رسی څنګه چه د نظر په لار رسی - نو د نظر په شان د غوښتونو حفاظت هم ضروری دے - دا سے ځایونو نه ځان بچ کول پکار دی چرته چه د هلکانو جینکو خبرے او د ټنګ ټکور او سندره مجلسونه وی -

کله کله په زړهٔ کښے خپله هم د ګناه تصور پیدا کیږی د ستړګو او غوښتونو د واسطے نه بغیر - لکه چرته مخکښے لیدلے بنائسته شکل ورته را یاد شی - او په تصور کښے ورباندے لطف اخلی - دا ګناه د ستړګو د ګناه نه زیاته دَه - او د ستړګو په ګناه او د زړهٔ په ګناه کښے یو فرق بل هم دے - چه د ستړګو کتل بل سړے هم محسوس کولے شی - لیکن د زړهٔ په تصور بے د الله تعالے نه بل څوک نشی خبر یدے - نو د دے ګناه نه صرف هغه بنده بچ کیدے شی د چا په زړهٔ کښے چه د الله ویره (تقوی) وی -

اوس په دے پوهه شئ چه دا مرض په درے طریقے لرے کیدے شی (۱) چه زړهٔ کښے د ګناه پوره خواهش وی خو د الله د ویرے تر ځان بچ

کړی - (۲) په ریاضت او مجاهده د اخلاقو کمزورے کړی - (۳) چه د
ګناه تقاضا او د اخلاقو مادې د طبیعت نه بالکل ختمه شی - نو په دے کښے
زړهٔ چپله قبضه کښے ساتل او ګناه نه بچ کیدل په دے معنیٰ اختیاری
دی چه په چپله ارادې ئے دا سے تصور ته نهٔ متوجهه کوی - او که بے ارادے
ور کښے دا سے تصور راشی نو د هغے د لرے کولو طریقه دا ده - چه که په
زړهٔ کښے د چا بنګلی تصور راغلے وی - نو چه سمدستی د یو پیر بدرنګ
بنده تصور او ګوره شی - تک تور دا نو وهلے مخ غټ غټ راوتی غاښونه
غټے غټے راویزاندے شوندے چه هر وخت تر لاړی خاځی - بوږئ پوزه
چه حرکت تر لاړ وئی او چان په بنړیږی - که دا سے بنده چا لیدلے نه وی
هم په خیال کښے ئے جوړ ولے شی - په دماغ کښے ئے الله تعالے یو طاقت قوتِ
مُتَخَیِّله پیدا کړے دے چه هغه هر وخت هر قسم خیالی شے جوړ ولے شی
دنیا کښے ئے وجود وی او که نه - آخر د دے طاقت نه به کله کار-
اخستے شی - دغه ئے وخت دے چه څه د فائدے کار تر ولخستے شی
چه دا سے تصور جوړ کړے نو بیا ئے مراقبه او کړه او دا تصور په ذهن
کښے پوخ کړه - انشاء الله اول خو به دے سره هغه د بنګلی تصور چپله
ختم شی - او که ختم نشو - دا مراقبه ورته کافی نشوه یا د دستا قوت
متخیله دا سے شکل جوړ نکړے شو - نو بیا دا تصور او کړه - چه دا بنائست
فانی دے - دا بنګلے بنده به یو ورځ مړ کیږی - دا نازک بدن به ئے
په قبر کښے سخا کیږی د چینجو خوراک کیږی به - د قبر د مړک او د
چینجو د تصور سره به هغه ذهنی لطف اخستل ختم شی او د مړک ویره
به په غالبه شی - دا خو ئے سمدستی علاج دے - او د تقاضا کمزورے
کولو طریقه دا ده چه ذکر ته ځوره ور کړئ - د الله د عذاب تصور
کړئ - او بل دا خیال پوخ کړئ چه الله موږ ینی - د ژړهٔ په حال خبر دے

Scanned with CamScanner

او هر وخت په سزا راکولو قادر دے - نو دِ دِیر ذکر او ویرے مراقبے او ډیرے مجاهدے په ذریعه به دا تقاضا کمزورې شی او سړو سړو به مرض دِ زړهٔ نه اوځی - لیکن جلدی نهٔ دَه پکار - ډیر مرض په وړاندو یا هفتو کښے نه اوځی ډیر وخت غواړی ـه

صوفی نشود صافی تا در نکشد جامے + بسیار سفر باید تا پختہ شود خامے

(دِ صوفی زړهٔ ترهغے نهٔ صفا کیږی ترڅو ئے چه دِ معرفت جام نهٔ وی څکلے - ډیر سفر کول یعنی ډیر تکلیفونه برداشت کول غواړی چه خامی ختم شی او عشق حقیقی پوخ شی) . بے همتی مهٔ کوئ - په ریاضت او مجاهدو دِ طبیعت تقاضا کمزورې شی او په قابو کښے راشی په خپله موقع به داطاقت استعمالیږی او بے موقع به حرکت نهٔ کوی - په تصوف کښے هم دا مطلوب دے چه نفس په قابو کښے راشی -

باقی پاتے شوه دریمه داچه چه دِ گناه خواهش بالکل ختم شی - او بنا ئسته هډو په زړهٔ اثر نهٔ کوی - کم عقل سالکان دا مطلوب گڼی - او چه دے درجے ته نهٔ رسی نو پریشان شی - که چرته ئے زړهٔ کښے څهٔ کمزورے خواهش پیدا شی هم خفه شی او داخیال اوکړے چه ټوله خواری مے برباده شوه - مجاهدو هیڅ فائده را نکړه بلکه کله کله خوئ دِ خولے نه دِ بے ادبئ خبرے هم اوځی - لکه والئ دومره موده او شوه ذکر کوم دِ حق طلبگار یم لیکن کار مے نهٔ کیږی دِ رحمت نه محروم یم - یاد لرئ - دا شیطانی وسوسه دَه - تقاضا ختمول هرگز مقصود نهٔ دے - که ماده بالکل ختم شی نو گناه نه بچ کیدو کښے کمال څهٔ شو - یو سړے وند که ښځو ته نهٔ گورې نو څهٔ کمال ئے دے - او یو ایجړا که په دے باندے فخر اوکړی چه زړهٔ دِ زنا دِ گناه نه پاک یم نو داڅهٔ دِ فخر خبره خو نهٔ دَه کولے ئے نشی - کمال خو دادے

Scanned with CamScanner

چه د گناه کولو پوره طاقت لری او پوره خواهش ئے وی - خو د الله د ویرے ترے خان بچ کړی - (۱) نو د تصور ختمولو سمدستی علاج (۲) د مجاهدے په ذریعه د تقاضا کمزورے کولو طریقه ۴ درته اوښیله - (۳) او دریمه درجه یعنی تقاضا ختمول مطلوب نه دی بلکه ماده بالکل ختمول جائز نه دی -

خلاصه دا شوه چه د نظر بازئ گناه ځن صبا دیره عامه ده تر دے چه کوم کسان دیندار او نیکان گڼلے شی هغوئ هم تر بچ نه دی - ما خبر در کړو او س دے گناه نه بچ کیدو د پاره انتظام کول ستاسو کار دے په خوله د الله د عشق دعوه کول او په زړهٔ کښے د غیر الله تصور کیدل دے پوره یو لطیفه زیاده شوه - وائی چه یو منځه چرته تله یو مست وړه وړه روان شو - په لار کښے ترهغے پتوس او کړو چه ته څوک ئے او ما سره ولے روان ئے - هغه ورته او وے په تامین یم څکه در سره روان یم - هغے ورته او وے روستو ما پسے یوه بله جینئ را روانه ده هغه مانند دیره ښائسته ده - هغے سړی شاته او کتل نو دے په کپړئ یو کړس وړکړو او ورته ئے او وے -

گفت اے ابله اگر تو عاشقی
در بیان دعوهٔ خود صادقی
پس چرا به غیر افگندی نظر
این بود دعوائے عشق اے بے خبر

(ورته ئے او وے اے بے وقوفه که ته عاشق ئے او په دے خپله دعوه کښے رښتونے ئے - نو بیا د بل چا پسے ولے او کتل - اے بے خبره د عشق دعوه دا سے اسانه ده ؟) -

نو جناب عالی د قیامت په ورځ چه د الله تعالے په دربار کښے

Scanned with CamScanner

مخالف او دریږو که ړانه پتوس اوکړی چه تاسو زهٔ هیر کړم اوغږ
ته موکتل دا ولے نو موږ به څهٔ جواب ورکړے شو - دا معمولی خبره
نهٔ دَه - دِ دے جواب دِ پاړه اوسه نه ځان متیاړول او پوره کوشش
کول غواړی - او دِ دے بد نظرئ او غلط تصور دِ کناه نه دِ بچ
کیدو یو بله طریقه هم دَه دِیره مضبوطه -

هغه داچه کله ذهٔ کښے کدو دِ خیالات راشی - او دس اوکړئ
او دوه رکعته مونځ اوکړئ او الله نه معافی اوغواړئ - اوکه
بیا موږه غیر نظر پریوځی یا ذهٔ کښے دِ غیر دِ مینے تصور راشی نو بیا
دغه شان اودس او دوه رکعته او دعا - په ورښئ ورځ خو شاید
چه دِیر څله دا سے اوشی لیکن بله ورځ به بیا غلط خیالات دِیر کم وی
او رفته رفته به ختم شی - خکه چه مونځ نفس ته دِیر کران دے - کله
چه ورته معلومه شی چه دِ تصور یا نظر بازئ په لږه غوندے مزه
به راباندے دومره سخته راځئ او هر څل به راباندے داجرمانه
لګی نو سم به شی - بیابه دا سے غلطی نهٔ کوی - اوس دعا اوکړئ چه
الله تعالے موږ ټول دِ ټولو آفتونو او ټولو نافرمانیو نه محفوظ کړی او
دِ نیک عمل توفیق راکړی - آمین -

وصلے الله تعالے علی خیر خلقه سیدنا محمد وعلی آله واصحابه اجمعین -
برحمتک یا ارحم الراحمین -

Scanned with CamScanner

دعوات عبدیت

دویم جلد

نهم وعظ

تطهیر الاعضاء

(دتول اندامونه گناه نه پاک ساتل)

له ارشاداتو د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه

Scanned with CamScanner

تعارف

دا وعظ حضرت تھانوی رحمۃ اللہ علیہ په چنله خانقاه (جامع مسجد تھانه بھون) کښے زیر تربیت عالمانو سالکانو ته په شوال ۱۳۲۹ھ کال کښے په یوګھنټه کښے کړیدے او مولوی عبدالله صاحب قلمبند کړیدے۔

Scanned with CamScanner

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ نَحْمَدُہٗ وَ نَسْتَعِیْنُہٗ وَ نَسْتَغْفِرُہٗ وَ نُؤْمِنُ بِہٖ وَ نَتَوَکَّلُ عَلَیْہِ وَ نَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَ مِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّھْدِہِ اللّٰہُ فَلَا مُضِلَّ لَہٗ وَ مَنْ یُّضْلِلْہُ فَلَا ھَادِیَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنْ لَّا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ۔ لَا شَرِیْکَ لَہٗ وَ نَشْھَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَ رَسُوْلُہٗ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہٖ وَ بَارِکْ وَ سَلِّمْ۔ امابعد۔ فاعوذ باللہ من الشیطان الرجیم بسم اللہ الرحمن الرحیم۔ قال اللہ تبارک وتعالے وَ لَا تَقْفُ مَا لَیْسَ لَکَ بِہٖ عِلْمٌ اِنَّ السَّمْعَ وَ الْبَصَرَ وَ الْفُؤَادَ کُلُّ اُولٰٓئِکَ کَانَ عَنْہُ مَسْئُوْلًا ۝ (اتباع مۂ کوہ دِ ھغہ شی چہ تاتہ ئے یقینی علم نۂ وی۔ بیشکہ دِ غوږ وِنوا وستر گو اوزرۂ دِ دے ھریو بہ دِ نہ پتوس کیږی) پہ دے آیت مبارک کښے ورانہ دے او رسولہ ضروری نصیحتونہ شوی دی۔ او دِ ټولو پہ آخر کښے اللہ تعالے دِ احسان پہ طور فرمائی۔ ذٰلِکَ مِمَّآ اَوْحٰٓی اِلَیْکَ رَبُّکَ مِنَ الْحِکْمَۃِ (دا ټول نصیحتونہ ھغہ دِ حکمت خبرے دی چہ تاتہ چنل رب دِ وحی پہ ذریعہ بنیلی دی) دا ټولے دِ یرے دِ اھتمام او قدر خبرے دی۔ پہ دے آیت مبارک کښے دِ ټولو انداموںو دِ حفاظت حکم شویدے۔ دِ رے خوڑ کلد بنیلی شوی دی۔ غوږ ونہ، ستر گے اوزرۂ او دِ نورو انداموںو حفاظت تہ پہ لَا تَقْفُ مَا لَیْسَ لَکَ بِہٖ عِلْمٌ کښے اشارہ شوی دہ۔ حُکہ چہ دے کښے حکم شویدے۔ چہ بے تحقیقہ څۂ کار مۂ کوہ۔ نو تحقیق پہ کنړ وطریقو

Scanned with CamScanner

کیدے شی - لکه یو شے ورک شی - او بے تحقیقه هسے په گومان چا نه غل او ویلے شی نو دا دِ ژبے گناه شوه چه دِ دے حکم په ذریعه منع شوه - (حضرت فرمائی) په دے پورے را ته دِ عیسیٰ علیه السلام یو قصه را یاده شوه یو ورز ئے یو سړے ـــــــــ په څۀ شی را خستو اولیدو ورته ئے او وے غلا دِ اوکړه ؟ هغه ورته او وے - کَلَّا وَاللّٰهِ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (یعنی هرگز م غلا نۀ دَه کړی په هغے ذات م دِ قسم وی چه بے د هغۀ نه بل خدائے نشته) عیسیٰ علیه السلام ورته په جواب کښے او وے - صَدَّقْتُ رَبِّیْ وَ کَذَّبْتُ عَیْنِیْ - (یعنی زۀ دِ چنل رب تصدیق کوم او دِ چنلو سترگو تکذیب کوم) یعنی تاچه په خدائے قسم اوخوړونو منم چه تۀ ړبنستونے ئے غلا به دِ نۀ وی کړی زۀ خطا شوم (بے تحقیقه م دربانده دے دِ غلا الزام اولگولو) شاید چه څوک خشک مزاجه دے ته غلو فی الدین او وائی یا ورته استغراق او غلبۀ حال او وائی - لیکن یا د لرئی پیغمبران علیهم السلام نه په دین کښے غلو کوی او نۀ مغلوب الحال وی - بلکه همیشه په حال غالب وی - بزرگان دوه قسمه وی - ابوالحال یعنی په حال غالب او مغلوب الحال یعنی چه حال په غالب وی - ابوالحال مخلوق ته اوسی او ظاهری اسباب نۀ ترک کوی - په هر کار کښے دِ شریعت دِ قاعدے قانون سخته پابندی کوی - مال په انتظام خرچ کوی - او په ظاهره یو عام ساده سړے ښکاری - دِ بزرگئی څۀ خصوصیت ئے څرگند نۀ وی - مغلوب الحال دِ خلقو نه لرے لرے تښتی په هیڅ کار کښے دِ ظاهری اسبابو او تدبیر څۀ پابندی نۀ کوی - آزاد وی دِ شریعت پابندی هم نۀ کوی - البته دِ شریعت خلاف څۀ کار نۀ کوی - (یعنی څۀ ناجائز کار نۀ کوی) ځکه چه څوک چه دِ الله دِ قانون خلاف چلیږی هغه دِ الله دوست او الله ته مقبول کیدے نشی - البته کله کله دِ هغوئ څنه کار ونه په ظاهر

Scanned with CamScanner

د شریعت خلاف بنکاری۔ لیکن حقیقت کښے خلاف نۀ وی (تاویل ئے کیدے شی) عام خلق دا سے کسانو ته باکمال بزرګ وائی اوحقیقی اهلِ کمال نۀ پیژنی ځکه چه هغه په حال غالب وی نو کمال ئے پټ وی په ظاهره یو عام سړے بنکاری۔ (حضرت فرمائی) نړۀ درته د باکمال پیژندو د پاره یو بنیادی قاعده بنیم او دا ډیره مفیده ده۔ هغه دا ده چه ولایت د نبوت نه حاصل شوے دے۔ نو د دکوم بزرګ شان چه د نبیانو سره ډیر مشابهه وی۔ هغه ډیر باکمال دے۔ د نبیانو حالت دا وو چه خلقو سره ګډ وډ اوسیدل اوچړے ئے د هوحق چغے نۀ وهلے او نۀ ئے توپونه وهل نۀ ئے جاهے خیرلے۔ خاص کر د نبیانو سردار نبی موږ نبی کریم صلے الله علیه وسلم چه هر کار ئے ډیر په انتظام او پوره تدبیر سره وو۔ د نبوت سره سره ئے د بادشاهئ انتظام هم دا سے په ښه طریقه چلولو چه د دنیا بادشاهان نو ترنه چل نه ده کړے۔ د دکوړ انتظام ئے دا سے ووچه تر اوسه ئے نظیر نشی مونږ ته دغه شان خلقو سره د ګډون د یو ځائے استوګنے خوراک څکاک او نور ضروری کارونو پوره طریقے ئے خپل امت ته بنیلی دی۔

نو صاحب کمال دا سے وی۔ اوځنګه چه نن عام خلق صاحب کمال نۀ پیژنی او بزرګ ورته نۀ وائی۔ یو عام سړے ئے ګڼی دغه شان په خپل وخت کښے پیغمبرانو ته هم عام خلقو صاحب کمال نۀ وے۔ او وے به ئے ۔ مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَاْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِيْ فِي الْاَسْوَاقِ لَوْلَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُوْنَ مَعَهٗ نَذِيْرًا اَوْ يُلْقٰٓى اِلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ تَكُوْنُ لَهٗ جَنَّةٌ يَّاْكُلُ مِنْهَا (دا څنګه رسول دے چه خوراک خوړی (او خپلو ضروریاتو د پاره خپله بازار کښے ګرځی څوک خادم ورسره نشته) دۀ سره یو فرشته ولے راکوزه نشوه چه ورسره ئے تبلیغ کولے۔ یا ورته خدائے پاک ډیر مال ورکړے وے یا ئے یو غټ باغ وے چه د هغے آمدنی ئے خوړے)

یعنی چه دیر مالدار وی او شروند ئے په آرام وی - نو مونږ به منلے ووچه دا د الله رسول او د الله محبوب دے - نو دا څنګه د الله رسول دے دے خو مونږ نه هم زیات غریب دے - یو خادم ئے هم نشته خپل - ضروری کار ونو د پاره خپله بازار ته ځی - الله سره خو د هر څه خزانے دی - نو دا څنګه د الله رسول دے چه د خپلو خزانو نه هیڅ هم نه وړ کوی - غرض دا چه د عامو خلقو نه ئے څه جدا شان وی نو مونږ به منلے ووچه د الله محبوب دے او د الله رسول دے -

دغه شان عام خلق بزرګانو د پاره هم جدا شان غواړی - او کوم بزرګان چه د پیغمبرانو په شان عام ساده ژوند تیروی عام خلق ورته بزرګان نه وائی او کامل ئے نه ګڼی - او کوم بزرګان چه خلقو سره ګډون نه کوی - خلقو نه لرے لرے ګرځی - نه د خوراک څکاک خیال ساتی نه د جامے پیزار او نه د چا سره سمے خبرے کوی - دا سے بزرګانو ته عام خلق کامل وائی - او که څه خلاف عادت کار تر لاسه شی یا په چا څه تصرف او کړی نو بیا خو ئے د پیغمبرانو نه هم زیات ګڼی - حالانکه تصرف هیڅ کمال نه دے - دا خو د روحانی ریاضت اثر دے - په غیر مسلمو کښے هم پیدا کیږی (لکه د هندوانو جوګیان د روحانی ریاضت په وجه ډیر تصرفات کړلے شی) د حضرت خواجه عبید الله احرار مقوله ده - عارف را همت ښا شد (د صاحب کمال عارف تصرف نه وی) دلته همت پد عامه معنیٰ نه دے چه د څه کار کولو طاقت ئے نه وی بلکه همت د تصرف په معنیٰ دے - (دا د مشرانو صوفیانو اصطلاح ده) -

او د دے وجهه دا ده چه څومره عرفان زیاتیږی د ومره ورسره فنا هم زیاتیږی - چنل ځان ورته هیڅ نه ښکاری - (په الله ئے نظر وی نو چنل ځان ورته هیڅ نه ښکاری -) او کورلئ یو تحصیلدار یعنی

Scanned with CamScanner

یو وہرو کے حاکم په چنل اجلاس کښے خولوئے لوئے کارونہ کړی لیکن دِ
ګورنر اجلاس ته چه حاضرشی نو ځان وہرته دِ هغهٔ دِ اردلی نه هم کم بنکاری
دغه شان دِ عارف هم څومره چه معرفت زیاتیږی دومره ئے چنل نفس
فنا کیږی چنل حیثیت ئے ختمیږی دِ حق نه علاوه بل طرف ته پوره توجه
نشی کولے او په تصرف کښے دِ پوره توجهه ضرورت وی - البته مسنون
تدبیراو دِ څهٔ کار دِ پاره ظاهری اسباب اختیارول داسے پوره توجهه
نهٔ غواړی دِ استغراق ضرورت وہرته نهٔ وی -

په عارفانو کښے خاصے دوه خبرے وی - برکت[1] او کرامت[2] - برکت دادے
چه دِ هغوئ دِ وجود په برکت بارانونه وہیږی - ملک آبادیږی او مرضونه
لرے کیږی - وطن دِ آفتونو او غنیمو حادثونه بچ کیږی - لیکن هغوئ تر خبر
هم نهٔ وی - دا کارونه الله تعالے چنله دِ هغوئ دِ مخه کوی - (او دِ هغوئ
دِ برکته مخلوق ته دا عاید فائدے الله تعالے چنله رسوی) لکه نمرچه راوخیژی
رڼا ئے په ټول ملک خوره شی نمر تر خبر هم نهٔ دے چه څما دِ ذات نه
خلقو ته څومره فائدے رسی او نهٔ ئے پکښے څهٔ دخل شته - کرامت دادے
چه کله کله دِ عارفانو دِ خاطره الله تعالے یو کار دِ عام عادت نه خلاف
اوکړی په کرامت کښے دِ عارف دِ اراده او توجهه څهٔ ضرورت نهٔ وی
اګرچه خبر تر وی په برکت خو خبر هم نهٔ وی او کار اوشی - نو په کرامت
او تصرف کښے دا فرق دے - چه کرامت کښے دِ پوره توجهه او اراده ضرورت
نشته او په تصرف کښے دِ پوره توجهه او استغراق ضرورت وی - او دا
وجهه ده چه پیغمبرانو او نبی کریم صلے الله علیه وسلم دِ تکلیف په وخت کښے
دعا کانے دیرے غوښتی دی او دا ئے هیڅرے نهٔ دی کړی چه ستر کے
ئے پټے کړی وی او ټوله توجهه او اراده ئے هغه مصیبت لرے کولو ته
راغونډه کړی وی - لکه احادیثو کښے چه راځی - چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم

دا دعا او غوښته - اَللّٰهُمَّ اَعِزَّ الْاِسْلَامَ بِعُمَرَ بْنِ خَطَّابٍ اَوْ بِعُمَرَ بْنِ هِشَامٍ - (یا الله اسلام ته برے ورکړے د عمر بن خطاب په مسلمانید و یا د عمر بن هشام (ابوجهل) په مسلمانیدو) نو د الله نه ئے سوال کولو او دائے نه کول چه خپله ئے دے دواړو کښے یوکس ته توجهه کړے وے او په تصرف ئے د هغوئ زړهٔ اسلام ته راړولے وے - که تصرف ئے کولے نو د وه نومونه به ئے نه اخستو یوکس به ئے متعین کړے وو - حُکمچه تصرف کښے پوره یکسوئ سره توجهه غوښتے شی - نوچه یو شے متعین نه وی پوره توجهه ورته نشی کیدے - الله تعالے د عمر بن خطاب په حق کښے دا دعا قبوله کړه - او د هغوئ د اسلام په برکت مسلمانان مضبوط شو - غرض داچه نبی کریم صلے الله علیه وسلم دعا غوښته او تصرف ئے نه کولو مګکښے ما د تصرف سره باذن الله شرط ذکر کړے دے - یعنی که دا تصرف د الله په حکم وی نو بیا ورکښے څهٔ حرج نشته حُکه چه کله کله نبی کریم صلے الله علیه وسلم هم تصرف کړے دے - لکه روایت دے چه د یو صحابی ؓ په زړهٔ کښے څهٔ شک وو - حضور صلے الله علیه وسلم ورته په سینه لاس کیښو هغه شک ئے د زړهٔ نه اووتو او یوبل صحابی د اَسُ سور لئی کښے مړے نه وو - حضور صلے الله علیه وسلم په سینه او تپولو بیا ښه شهسوار شو - دا په سینه لاس کیښول یا تپول د تصرف علامه دَه - اوکه چاته ئے بل څهٔ توجیهه معلومه وی - نو بیا د استثنا ضرورت هم نشته د تصرف نه کولو حکم به عام پاتے شی - اوکه تصرف ثابت هم شی نو دا شاذ دے یعنی د یرکم دے کله کله شوے دے - او د شاذ څهٔ اعتبار نشته - سنت کار هغه دے کوم چه حضور صلے الله علیه وسلم اکثر کړے دے - یا ئے اصحابو ته د کولو حکم کړے دے - د کله کله کولو نه صرف جواز ثابتیږی لکه نبی کریم صلے الله علیه وسلم یو خُل دا سے قباهم اغوستی دَه چه تنزئ

Scanned with CamScanner

ئے د سرونړو وے - لیکن دا هیڅوک نه منی چه داسے قبا اغوستل سنت دی - بلکه صرف جواز تر ثابتیږی - دغه شان دلته م دَه چه عام عادت ئے په داسے وخت کښے دعاوَه نو د عا سنت دَه - او کله کله ئے تصرف کړے نو تصرف جائز دے - او نبی کریم صلے الله علیه وسلم خوخپل امتیازداسے ختم کړے وو - چه ناشنا سړے به د هغوئ مجلس نه را نتوتو نو دا به ورته نه معلومیدو چه د دے مجلس سردار څوک دے - په مجلس کښے د ناستی ځائے جدا نه وو - نه تخت نه تکیه کدئ وغیره هیڅ خاص شے به نه وو چه په هغے پیژندے شوے - ناشنا سړے چه به مجلس ته را غلو نو پتوس به ئے اوکړو - مَنْ مُحَمَّدٌ فِیْکُمْ (په تاسو کښے محمد کوم یو دے) اصحابو به ورته په اشاره او بنیلو چه دا دے د نبیانو سردار - په مجلس کښے ئے م څه خاص شان نه وو - او چه په لار به روان وو - نو هم دا نه وَه چه حضور صلے الله علیه وسلم وړاندے وے او نور اصحاب ورپسے تلے بلکه کله وو به روان وو - څوک حضورؐ نه مخکښے اوځوک ورپسے - امتیازی شان ئے بالکل نه ساتلو -

مدینے منورے ته د هجرت په موقع چه حضورؐ او ابوبکر صدیقؓ قبا ته را اورسیدو او د مدینے خلق ئے استقبال ته راوتی وو - نو د مدینے خلق خو حضورؐ لیدلے نه وو - په نالیدو په عاشقان وو - د هغوئ د راتلو چه آوازه شوه نو د مدینے مسلمانان به ورته هره ورځ - استقبال ته راوتل - خو چه هغوئ به را غلو نو خفه به واپس لاړو - (هغوئ چه درے ورځے غار ثور کښے محصار شوی وو - غالباً په دے وجهه د هغوئ د اندازے نه لیټ شو - تسلیم) په کومه ورځ چه هغوئ تشریف راوړو نو اول یو یهودی د غږ نه اولیدہ - خلقو ته ئے چغه اووهله - یَا اَهْلَ الْمَدِیْنَةِ هٰذَا جَدُّکُمْ - (اے مدینے والو ستاسو کوشش

Scanned with CamScanner

کامیاب شو- چا تہ چہ موانتظار وو- هغوئ را اورسیدو- هغوئ چہ تشریف راوړو نو څوک چہ استقبال تہ راوتی وو- هغوئ مصافحے- د پاره را مخکښے شو- د ابوبکر صدیق رضؓ په ښیره کښے سپین ویښته د حضورؐ نه ښیات وو- نو خلق په هغوئ د رسول اللہؐ گومان اوکړو- او مصافحہ ئے ورسره شروع کړه- د هغوئ ادب تہ گورئ چہ خلق تہ ئے دا نه وے چہ رسول اللہ دا دے نه ئے- چیله ئے تولو سره مصافحہ اوکړه- که څوک اوولئ چہ دا خو بے ادبی وَه- نو یاد لرئ- اصل ادب مشرتہ آرام رسول دی- نن صبا چہ خلق څه تہ ادب وائی چہ مشر سره پیزار واخلی- لاس په نامه ورته ولاړ وی تر څو چہ هغه د ناستی- اجازت نه وی ورکړے- که بل تہ تر تکلیف رسی هم نه کینی تر څو چہ ورته ویلی شوی نه وی- ادب دا نه دے- ادب دا دے کوم چہ ابوبکر صدیق رضؓ اوکړو- هغوئ ستړی ستومانه وو- اوږد مزل ئے کړے وو- که تولے کنډے سره ئے مصافحہ او د خیر خیریت پوښتنه کولے نو ډیر په تکلیف شوی به وو- ابوبکرؓ هم ستړے وو- خو- حضورؐ تہ آرام رسولو د پاره هغه دا تکلیف چیله برداشت کړو- هغه خو په غار ثور کښے هم رسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم تہ آرام رسولو- د پاره ځان په مار اوچیچو او یو پوښتے حرکت قدرے نه کولو چہ حضورؐ را ویښ نشی- نو په دے وخت کښے دومره تکلیف ورکول ئے کله برداشت کولے شو- هغه خو رښتونے عاشق وو- خلق به ډلے ډلے راتلل حضرت ابوبکرؓ به ورسره مصافحہ او د خیر خیریت پوښتنه کول اوس څوک چا دا سے کار اوکړو نو بے ادبه او گستاخ به کنډلے شی- دا خو یو ظاهری حکمت وو په دے مصافحه کښے- او یو باطنی راز پکښے بل دے چہ د هغے خلاصہ په محبت کښے فنا فی المحبوب کیدل دی- او د فنا خاصه

Scanned with CamScanner

دادہ چہ دواړہ وکښے یو قسم یو والے ړاشی - اللہ تعالے دا بښکاړہ کولہ چہ ابوبکرؓ دِ حضورؐ په محبت کښے دا سے ډوب دے - چہ خلق وړ باندے دِ هغۂ گومان کوی - او دِ هغۂ په خائے وړ سړہ مصافحہ کوی - گویا که دِ من تړ شدم تړمن شدی کیفیت دے - لیکن حضرت صدیقؓ مغلوب الحال نۂ وو - هغۂ انا محمد نۂ وے - لکہ منصور چہ دِ انا الحق نعره وهلی وَه لیکن اللہ تعالے په دے واقعہ کښے دِ هغوئ اتحاد څرګند کړو - یا لکہ احمد جامؒ چہ په غلبۂ حال کښے ویلی وو انا احمد بلا میم - دا دِ احمد جامؒ قول دے جاهلان وړ تہ حدیث وائی - دا حدیث نۂ دے - خیر دا خو یو لطیفہ وَه چہ څۂ وړ کښے دِ شریعت خلاف نشته -

حاصل دا دے چہ خلق ابوبکرؓ سره مصافحے کولے - دے وخت کښے خو حضرت ابوبکرؓ چاته عجز نۂ کولو لیکن چہ ښه را اوچت شوا وګړی شوه نو حضرت صدیقؓ ړا پاځیدو په ړسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم باندے ئے دِ خپل څادر سړے اوکړو چہ دِ دیر تاؤ نه بچ شی دغه وخت کښے خلقو ته پته اولګیده چہ خادم څوک دے او سردار څوک دے - لیکن سره دِ دے هم اصحابِ کرام دِ ړسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم سړه دوباړه دِ مصافحے عزت محسوس نکړو - کہ دِ دے زمانے خلق وے نو دوباړه به ئے حضورؐ سره مصافحہ کولہ او دا به ئے وے چہ معافی غواړم زۂ خطا شوے وم - لیکن په اصحابو کښے دا تکلیف نۂ وو - دِ ضرورت په وخت خو سَړ قربانولو ته هر وخت تیار وو - لیکن بے ځایه تکلیف ئے نه کولو دا سے وخت کښے به دا پته نۂ لګیده چہ مخدوم څوک دے او خادم څوک - دے ځائے نه یوه بله خبره هم معلومه شوه دا چہ مشهوره ده چہ حضور صلے اللہ علیہ وسلم باندے به هیشه دِ وړیزے سړے وو - وړیزے به وړسړه وړسړه کړے شیده چرته چہ به هغوئ تلو - دِ دے واقعے نه

Scanned with CamScanner

معلومه شوه چه د وېرېدلو سوړے به هميشه نه وو - که د وېرېدلو سوړے په وے نو حضرت صديق رضؓ ته د خادر د سوړۍ کولو څه ضرورت وو حُسنه خلق والئ چه د نبی کريم صلے الله عليه وسلم د بدن مبارک سوړے نه وو - موښ دے نه انکار نه کوو - ممکنه ده چه داسے وی - ليکن د دے متعلق موښ چرته واضح روايت نه دے موښتے - مَوَاهِبِ لَدُنِيَّهَ په سيرت باندے ډير مفصل کتاب دے - هغه هم چرته واضح روايت نه دے ليکلے د حضورؐ په يو دعا کښے دا الفاظ دی - وَاجْعَلْنِیْ نُوْرًا - دے نه داثابتوی چه هرکله هغه تول نور شو نو د نور خو سوړے نه وی - حُکه د حضورؐ د بدن مبارک سوړے هم نه وو - ليکن پوهه خلق پوهيږی چه دا استدلال د کومے درجے دے - بهرحال دے واقعے بيانولو نه زما مطلب دا ووچه نبی کريم صلے الله عليه وسلم خان ته امتيازی شان نه ساتلو - دغه شان د هغوئ په اتباع کښے کامل وليان هم امتيازی شان نه ساتی د عامو خلقو په شان ساده ژوند تيروی -

دا بحث ډير اوږد دے - دلته په قدر د ضرورت وضاحت اوشو داخبره اوس په دے خائے پريږدو اصل مطلب شروع کوو - يعنی د عيسیٰ عليه السلام متعلق د مغلوب الحال کيدو شک غلط دے - پاتے شوه داچه نه ئے غلوف الدين کوله او نه مغلوب الحالی وو - نو بيا د دے روايت توجيه څه ده - په ظاهره خو دا د عقل خلاف ده چه په خپلو ستر کو ئے په غلا اوليدو بيا د چا خان د تکذيب څه جواز دے ؟ - خان دروغجن - کښی او غل ته ربښتونے وائ داخو د عقل نه خلاف ده - اوچه دا روايت داسے څرګند د عقل خلاف دے نو مخدوش شو - صحی نه معلوميږی -

د دے شک بنياد دا دے - چه اوس يو ډله پيدا شوی ده هغوئ

څۀ عقلی اصول دِ خُانه جوړ کړیدی - او احادیثو په هغه اصولو باندے
ګوری که نۀ برابریږی نو یا دِ حدیث معنیٰ بدلوی او یا ورته انکار
کوی هغوئ دِ خپل ناقص عقل حکومت دومره وسیع کړے دے
چه په الله باندے هم حاکم کړے دے (نعوذ بالله) -

یا دلرئ ستاسو عقل که په تاسو حاکم دے خو په الله حاکم نۀ
دے - چه الله دِ هم دِ تاسو دِ عقل خلاف نشی کولے - دا دله په -
ابراهیم علیه السلام باندے دِ اور ګلزار کیدو په واقعه کښے وائی چه
داخبره دِ منلو نۀ وَه - په عقل کښے نۀ راځی چه دومره ډیر اور دِ -
ولے سول او نۀ کړی - عجیبه خبره دَه چه دِ ستاسو په محدود عقل
کښے داخبره نۀ راځی - نو دے نه داځنکه ثابته شوه چه دا واقعه -
اډو شوی نۀ دَه - الله صاحب اختیار دے - هغه دِ ستاسو محدود
عقل تابع نۀ دے -

مولانائے روم په مثنوی کښے یو دغه شان واقعه لیکلی دَه - وائی چه
یو ظالم کافر بادشاه مسلمانان په بت پرستئ مجبورول په یوه لویه
کنده کښے ئے ډیر اور بل کړے وو - مسلمان به ئے دِ کندے غاړے ته
راوستو ورته به ئے وے چه دے بت ته سجده اوکړه - چاچه به انکار
اوکړو - اورته به ئے اوغورزولو - یو مسلمانه ښځه راوستے شوه
غیږ کښے ورسره وړ کوتے بچے وو - حکم ورته اوشو چه دے بت ته
سجده اوکړه - هغے انکار اوکړو نو هغه بچے ئے ورنه اورته واچولو
مور ئے طبعی طور پریشانه شوه بچی ورته دِ اور دِ کندے نه آواز
اوکړو سه

اندر آما در که من اینجا خوش ام
گرچه در صورت میانِ آتشم

Scanned with CamScanner

اندر آ اسرارِ ابراهیم بین
کہ درآتش یافت وردو یاسمین
اندر آئید اے مسلمانان همه
غیر عذبِ دین عذاب است آن همه

را اے مورے نۂ هم دلته راشه نۂ دلته خوشال یم - اګرچه په ظاهره په اور کښے یم - دلته راشه دِ ابراهیم علیه السلام اسرار او وینه چه په اور کښے ئے ګلاب او یاسمین مونتی وو یعنی څنګه چه په هغۂ اور ګلزار شوے وو دغه شان نن په مونږ مظلومانو هم ګلزار دے - اے مسلمانانو قتل دے اور ته په خوشالئی را اودانګئ + دِ دین دِ خوښ و نه علاوه نور قتل عذاب دے) نن مورے ئے هم وهل اودنګل او نور مسلمانان وهل پسے شو - قتل پکښے روغ جوړ او دریدو - اور - وهل باندے هیڅ اثر او نکړے شو -

بادشاه دِ دیر قهر اور ته اووے چه په تا نن څۂ چل او شو چه تاؤ دے نشته - داخلق نۂ سوزوے - ته اور نۂ ئے که څۂ چل دے - دِ اور خوکار سوزول دی او نۂ سوزول نۂ کوے - اور وته په جواب کښے او وے -

گفت آتش من همانم آتشم -
اندرآ تا تو ببینی تا بِشَمْ -
طبع من دیگر نگشت و عنصرم
تیغ حقم هم بدستوری بُرَم

اور وته په جواب کښے او وے - نۂ هم هغه اور یم هغۂ م تاؤ دے ته را کوے شه چه تاؤ م او وینے نۂ م طبیعت بدل شوے دے او نۂ م عنصر بدل شوے دے - نۂ خو دِ الله توره یم دِ هغه په حکم چلیږم

یعنی دِ الله په حکم سونړول کوم - اوس دِ الله حکم دے چه دا مسلمانان هغه سونړوه نو نهٔ ځے سونړوم ته ځکونړ شه چه — تا وُم او وینے - مولانا دِ دے ساز بیانوی فرمائی ؎

خاک وباد وآب وآتش بنده اند
با من و تو مرده با حق زنده اند

(څلور واړهٔ مشهور عناصر - خاوره - هوا - اوبهٔ - اور قول دِ الله تابعدار دی - ما او تاته مړهٔ (بے سروجه) بنکاری لیکن الله ته قول شوندی یعنی تابعدار دی) - بیشکه اور سونړول کوی خو دِ الله په حکم - کله چه الله تر دانژ لرے کړی نو لرے شی - بیا سونړول ننشی کولے - لکه یو حاکم چه ترخو معطل شوے نهٔ وی حکم ځے چلیږی چه معطل شی بیا هیڅ نشی کولے - ابراهیم علیه السلام اور نهٔ سونړولو څکه چه اور ته دا حکم شوے وو - یٰنَارُ کُوْنِیْ بَرْدًا وَّ سَلٰمًا عَلٰٓی اِبْرٰهِیْمَ - (اے اوره په ابراهیم باندے یخ او دِ سلامتیا سبب شه) - نو اگرچه په ظاهره دا واقعه دِ عقل خلاف بنکاری لیکن چنله دِ عقل دا حکم چه اَلنَّارُ مُحْرِقَةٌ (اور سونړوونکے دے) په الله تعالے حاوی نهٔ دے - بل داچه نړوبن عقل خو هم نا قص دے دلته نړوبن عقل دِ عیسیٰ علیه السلام قصه دِ عقل خلاف اوکتړله - حالانکه دا په حقیقت کښے دِ عقل خلاف نهٔ دَه څکه چه دِ غلا حقیقت دے - اَخْذُ مَالِ الْغَیْرِ خُفْیَةً - (دِ بل مال په پټه اخستل) نو غلا ثابتولو دِ پاره دِ څلورو خبرو ضرورت دے — (۱) اخستل (۲) مال اخستل (۳) پردی مال اخستل (۴) په پټه یعنی بے اجازته اخستل - نو په ستړکو خو صرف اخستل لیدے شی دا پته نهٔ لګی چه دا شے دِ بل چا ملکیت دے که چنل ځے دے - او دا پته هم نهٔ لګی چه بے اجازته ځے راخلی که دِ مالک په اجازت ځے راواخستو

نو عیسیٰ علیہ السلام ور باندے اول په ظاهری شکل د غلا گومان اوکړو خوچه هغهٔ قسم اوخوړو نو بیا ئے نور احتمالونو ته خیال لاړو چه شاید غلا نهٔ وی پټ احستو کښے ئے بل څهٔ مصلحت وی۔ د عقل پرواز مو اولیدو۔ دیر څیزونه په ظاهره د عقل خلاف ښکاری خو په حقیقت کښے د عقل خلاف نهٔ وی۔ د دین داسے دیرے خبرے چه تاسو ته د عقل خلاف ښکاری انشاء الله زهٔ به درته بیله بیله خبره ثابته کړم چه د عقل خلاف نهٔ دَه۔ لیکن موږ نو عاقلان نهٔ یو بلکه آکلان یو یعنی د څارویو په شان صرف د خوړاک عقل مو شته۔ نور درک نهٔ لکی۔

څنه څارویو هم د خوړاک د پاره داسے تدبیرونه کوی چه دیر بنیادم ئے ښوی کولے۔ وائی چه د راجستان په ریګ کښے یو قسم هندوانے کیږی په ریګ کښے پټے پرتے وی ښکاری نه۔ په صحرا کښے چه څارویو تږی شی نو خانته په ښپه خائے اولټوی۔ هندوانه راوباسی اوبهٔ تراوځکی۔ او بنیادم که ئے دیره لټوی نهٔ ئے موهی، دغه د خوړاک څکاک په تدبیرونو کښے ترقیٔ ته نن صبا ترقی ویلے شی۔ داځهٔ ترقی شوه چه د غوایانو برابر هم نشوئ۔ ترقی دا نهٔ دَه۔ ترقی دا دَه چه الله تعالے کوم عقل درکړے دے دا د دین په کار کښے استعمال کړئ او د دائمی ژوند ښهٔ کولو د پاره څهٔ همت اوکړئ۔ د خوړاک عقل خو څارویو سره هم شته بلکه بنیادمونه زیات نو پکار دَه چه څارویو نه ترقی یافته اوویلے شی۔ که ترقی هم داوی نو بیا بنیادم او څارویو کښے څهٔ فرق شو؟

غرض داچه دا د عیسیٰ علیہ السلام واقعه وَه۔ اوکورئ هغهٔ څنګه احتیاط اوکړو په لَا تَقْفُ مَالَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ئے څنګه عمل اوکړو۔ اونږو

Scanned with CamScanner

حال دا دے چہ پہ معمولی شک یا معمولی علامو پہ بل دِ غلا حکم لگوو۔ دا دِیر بد کار دے۔

یو بلہ خبرہ ړا یادہ شوہ چہ خلق غل معلومولو دِ پارہ دِ کوزہ۔ کہ څوک یو عمل کوی دِ سورت یٰسین تلاوت کوی او پہ چا چا دِ غلا شک وی دِ هغو نومونہ اخلی دِ چا پہ نوم چہ کوزہ حرکت او کړی هغہ یقینی غل ګڼلے شی۔ او دا خیال ئے وی چہ دا قرآنی عمل دے پہ دے کښے غلطی نشی ړاتلے۔ یا دلرئ۔ دا خیال غلط دے۔ او دا کومان حرام دے۔ پہ شریعت کښے چینہ دِ اقرار کولو یا دوو عادلانو ګواهانو دِ شهادت نہ بغیر چا تہ غل ویل ناروا دی۔ او دا چہ وائی چہ دا قرآنی عمل دے۔ غلطی پکښے نشی ړاتلے دا سخته مغالطہ دَہ۔ قرآنی عمل بہ هلہ ووے۔ کہ قرآن کښے واضح دا حکم وے چہ غل معلومولو دِ پارہ دا طریقہ کوئ۔ بیا بہ ورکښے واقعی دِ غلطئ احتمال پاتے ووے۔ لیکن دا خو دِ قرآن مدلول نہ دے۔ قرآن کښے خو دا عمل نشته تاسو دِ خانہ جوړہ کړے دے ایا کہ یو سړے یو دروند قرآن شریف ړا واخلی بل سړے ورباندے پہ سَر او وهی خوبہ ئے کړی نو آیا دا څوک ویلے شی چہ دا کار جائز دے حکہ چہ دِ قرآن پہ ذریعہ شوے دے۔

حاصل دا چہ لَا تَقْفُ مَالَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ کښے پہ دے طریقہ دِ ژبے حفاظت هم ړا غلو چہ یقینی علم نہ بغیر پہ چا الزام مہ لګوئ۔ او دِ لاسو حفاظت هم ړا غلو چہ شرعی تحقیق نہ بغیر چا تہ سزا ورکول حرام دی او دِ بښو حفاظت هم ړا غلو چہ دِ شرعی تحقیق نہ بغیر ناجائز واجتماعاً قتل ورتلل حرام دی۔ پہ دے طریقہ دے وړہ غوندے جملہ کښے دِ۔ تولوانداموښو دِ حفاظت حکم اوشو۔ دِ غوبہ وښو او ستړګو خو واضح ذکر شویدے۔ یعنی غوبہ وښہ دِ ناروا خبرو اوریدو نہ بچ کول۔

ضروری دی - او ستړکے ناڅرمه سنځو ته کتو نه بیج کول او زړه دِ بد کومانیو نه بیج کول ضروری دی -

په دے دِ څوک داشک نۀ کوی چه بیا خو فقهی قیاس ناجائز شو حُکه چه په هغے کښے په ظاهره دِ داسے خبرے لهړن وی دِ کومے چه یقینی حکم معلوم نۀ وی داخو ظاهره دَه چه اجتهادی حکم ظنی دے (یعنی دِ کوم کار حکم چه په اجتهاد معلوم شوے وی دِ قرآن یا حدیث صریح حکم نۀ وی هغه حکم ظنی دے یقینی نۀ دے) او په بل آیت کښے دِ اتباع ظن نه په صراحت سره منع راغلی دَه - ارشاد دے - اِنْ یَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَ اِنَّ الظَّنَّ لَا یُغْنِیْ مِنَ الْحَقِّ شَیْئاً - (دولئ دِ خیالی خبرو تابعداری کوی او خیالی خبرے دِ حق په مقابله کښے هیڅ شے نۀ دے) دِ دے - شک جواب دادے چه په نورو مستقلو شرعی دلیلونو دا ثابته دَه چه دِ مسئلے په تحقیق کښے قیاس او اجتهاد کول جائز بلکه واجب دی نو داپه لَا تَقْفُ مَا لَیْسَ لَکَ بِهٖ عِلْمٌ کښے نۀ راځی - بلکه په مَالَکَ بِهٖ عِلْمٌ کښے راځی حُکه چه دِ علم په عموم کښے هغه قول شرعی دلیلونه ضرور راځی په کومو چه دِ قیاس حجت کیدل ثابتیږی - که دِ قیاس متعلق دا دلائل نۀ وے نو بیا به بیشکه په لَا تَقْفُ کښے راتلو لیکن اوس خو مَالَکَ بِهٖ عِلْمٌ کښے دے یادلګی - دِ اتباع ظن نه چه منع راغلی دَه - دے کښے دِ ظن نه فقهی اصطلاح یعنی غیر یقینی خبره مراد نۀ دَه - بلکه دِ قرآن شریف په اصطلاح کښے ظن عام دے - یعنی دِ حق او صحیح دلیل خلاف یقینی باطله خبرے ته هم ظن ویلے شوے دے - لکه دِ آخرت نه انکار کوونکو په قول کښے دی - اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنّاً - او ظاهره دَه چه دِ هغوئ په زړه کښے دِ دے احتمال هم نۀ وو - غالب ګومان چرته وو - بلکه هغوئ خو قیامت دِ خپل یقینی علم خلاف ګڼلو بیا هم ورته ظن ویلے شوے دے نو ثابته شوه

Scanned with CamScanner

چه د قرآن شریف په اصطلاح کښے ظن د غالب گومان په معنیٰ نهٔ دے۔ بلکه عام دے هرے باطلے خبرے تر کومه چه د یقینی شرعی دلیل خلاف وی ظن ویلے شویدے۔ نو د دے مبارک آیت معنیٰ دا شوه (دوئی تابعداری نهٔ کوی مگر د دا سے څیز کوم چه د قطعی دلیل خلاف دے۔ او کوم شے چه د قطعی دلیل خلاف وی هغه څوک چه د حق نه بے پروا کولے نشی) بلکه هغه خپله باطل وی۔ نو اوس په قیاس کښے څهٔ شک پاتے نشو۔

نوټ:۔ دا تقریر چه چا قلمبند کړے دے۔ هغه وائی د څه مجبوریو په وجهه ما تقریر پوره ضبط نکړے شو۔ څومره چه م ضبط کړے وو هغه م صفا کړو چه بے فائدے نهٔ وو۔ خصوصاً آخری لطیف تحقیق چه د عالمانو د پاره ډیر فائده من دے۔

وآخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمین۔ وصلے الله تعالے علی خیر خلقه سیدنا محمدؐ وعلی آله واصحابه اجمعین۔ برحمتک یا ارحم الراحمین۔

دعوات عبدیت

دویم جلد

لسم وعظ

تقویم التزیخ

(کن لیچ نیغول)

له ارشاداتو د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه

Scanned with CamScanner

دِ دے کیله الله تعالے هم خائے په خائے خپلو بندیانو نه کوی او بیا بیا۔ وړ یادوی او فرمائی۔ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ط (پکار ده چه دِ عقل خاوندان په دے خبرو سوچ او کړی) قرآن کریم خائے په خائے هوښتہ دِ تَدَبُّرْ او تَفَكُّرْ دعوت لا کوی او بیا بیائے یادګیرنه کوی۔ مسلمانان علم حاصلول خو ضروری ګڼی او ترڅهٔ حدهٔ ئے دِ حاصلولو کوشش هم کوی او ضروری هم دے۔ لیکن دِ دے چه کوم اصل او بنیاد دے او داتول علوم دِ هغے څانګے دی هغه ضروری نهٔ ګڼی۔ بلکه نهٔ وایم چه دے طرف تهٔ ئے هډو ځیال هم نشته۔ اِلَّا مَا شَاءَ اللهُ که چرته یو نیم کس دے خوا توجهه کړی وی۔ لیکن اکثریت تر بے پروا دی۔ او هغه څهٔ ډیره اوښتده خبره او ډیر ګران کار نهٔ دے۔ وړه غوندے خبره ده۔ په ظاهره وړه خو حقیقت کښے دروند لکه نبی کریم صلے الله علیه وسلم چه فرمائیلی دی ۔ كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ۔ (دوه جملے دی په ژبه ډیرے اسانے دی لیکن دِ عمل په تله کښے ډیرے درنے دی یعنی ثواب ئے ډیر دے۔ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ) هغه دادوه جملے دی اسانے خو ثواب ئے ډیر دے) دغه شان دا خبره هم په ظاهره وړه او اسانه ده خو په حقیقت کښے عنتره ده او برکت ئے ډیر دے او هم دِ دے برکت حاصلولو ډاچه څهٔ حاصل کړی دی۔ هغه خبره ده۔ تَدَبُّرْ او تَفَكُّرْ چه نن صبا مسلمانانو دا سے هیر کړے دے لکه چه دا سبق ئے هډو چرے ویلے نهٔ وی۔

(حضرت فرمائی) دِ بل نه به څهٔ کیله کوم اول نهٔ چنله خبرے ډیرے کوم تقریرونه اوښتده کوم لیکن په چنل حالت کښے تدبر او تفکر تر دومره وخت نهٔ ورکوم۔ او چه نهٔ چنل ځان مریض ګڼوم او ځان نه هم کیله کوم نو که اوریدونکو نه دِ دے مرض شکایت او کړم هم بے ځایه نهٔ وی که ما ځان دے مرض نه پاک ګڼلے او په بلِ الزام لګولے نو بیا

اوریدو نکوته دِ کیلے موقع وَه۔

غرض دا چه مونږ مسلمانانو کښے اوس داعیت کمے راغلے دے چه په خپل حالت غور نۀ کوو۔ سوچ کول مو بالکل پریښی دی۔ پکار ده چه هر بنده دِ خپلے شپے او ورځے په کارونو سوچ اوکړی۔ (چه نرم نیکی څومره اوکړه او بدی څومره) دِ کومو کسانو چه څۀ نظام الاوقات نشته هغه خو دِ شمار ولی دی۔ او مونږ کښے اکثریت دِ دا سے کسانو دے دِ ښو کار په صبا پریښول خو اوس یو عام عادت دے دیر کسان دا سے دی چه دِ یو ضروری خط جواب په ټن صبا کښے په هفته حصار کړی بلکه څنه حافظانو نه اوریدلی دی چه مونږ چه کله نه حِفظ پوره کړے دے۔ بیا دِ یو ختم موقع هم نۀ دَه راغلی۔ (حالانکه حافظ ته څۀ قدرے تلاوت ورځنی ضرور پکار دے۔ ورنه دِ قرآن هیریدو خطره ئے دَه۔ او حافظ ته تلاوت دیر اسان دے نۀ ورته دِ اودس ضرورت نشته نۀ چرته دِ کیناستو۔ سحر چه هوا خوریُ ته اوځی نو په لار تلو تلو کښے هم کافی تلاوت کولے شی)۔ نو دا سے خلق خو په شمار کښے نۀ دی لیکن دِ چا چه څۀ نظام الاوقات (یعنی دِ کار کولو یو پی وګرام نشته) هغوئ دِ۔ اوګورئ چه په شپه ورځ کښے څۀ بر غوندے وخت ئے تَدَبُّرِ دِ پاره هم اینبے دے که نه چرته به ئے نوم هم نۀ وی۔ اکثر مسلمانان دے نه دیر غافله دی۔ هیڅ توجهه ئے دیخوا نشته۔ حالانکه الله تعالے فرمائی۔ کِتَابٌ اَنْزَلْنَاهُ اِلَیْكَ مُبَارَكٌ لِیَدَّبَّرُوْا اٰیَاتِهٖ وَ لِیَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ط (دا یو مبارک کتاب دے چه مونږ په تا نازل کړیدے دے۔ دِ پاره چه دوئ غور اوکړی دِ دے په آیتونو کښے او چه نصیحت قبول کړی دِ عقل خاوندان) بل ځائے ارشاد دے۔ اَفَلَا یَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ اَمْ عَلٰی قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ط (آیا دوئ په قرآن غور نۀ کوی اوکه په زړونو

ئے جندرے لگیدلی دی) چه دِ تَدَبُّرْ طاقت ئے نشته؟ که تدبّر ئے کولے نو داحال به ئے نهٔ وو حُکه چه دِ تَدَبُّرْ دا خاصیت دے چه دِ رحمت دروازے ورته پرانستے شی - او تَدَبُّرْ نه بغیرِ هیڅ نهٔ کیږی - لکه بل ځائے ارشاد دے اَنُلْزِمُکُمُوْهَا وَاَنْتُمْ لَهَا کَارِهُوْنَ ط ه (آیا مونږ درپورے چنل رحمت په زوره انبلو واګرکه ستاسو خوښی نهٔ دے) چه ستاسو خوښی نهٔ وے نو مونږ ته څهٔ ضرورت دے چه چنل رحمت درپورے په زوره اوترو - آیا مونږ سره ئے دِ سنبالولو ځائے نشته؟ - که څوک ئے په زاره منتونو - غواړی نو مونږ به هم ورباندے رحم اوکړو او چنل رحمت به ورته متوجهه کړو - او دِ چنل کرم په وجهه به ورته دِ هغوئ دِ غوښتے نه زیات متوجهه شو - او کار هم زمونږ په توجهه کیږی -

دِ دے مثال دا سے دے لکه تهٔ یو ورکوتے په غیږ کښے اوچتول - غواړے - او اشاره ورته کوے چه راشنه کړه - هغه په چنل وکښ دِ راشنه ے کوشش اوکړی خو څو قدمه واخلی او راپریوځی - ته چنله ورشنه کړے او غیږ کښے ئے راواخلے - نو فاصله خو ستا په منځه ختم شوه دِ ورکوتی دومره طاقت نهٔ وو چه ترتا را رسیدلے وے - دغه شان الله تعالے هم چنل بندیان ځان ته رابلی - که بنده لږ غوندے هم دِ ورته لوکوشش اوکړی څهٔ لاس ښپے اوخوزوی - نو بیائے الله تعالے چنله ځان ته را- کاږی - او دا فاصله هم دِ هغهٔ په را ښکلو ختمیږی -

دا خو ممکنه ده چه ورکوتے په څهٔ خواړو تاته ځان راواوړی کوم تد ورښے هم دا محدوده فاصله به طے شی - لیکن دِ ممکن او واجب الوجود ترمینځهٔ چه کومه لامحدوده فاصله دَه که دِ هغے طرف نه جَذْبْ (راښکل) نهٔ وی - نو دا منزل پوره کول ممکن نهٔ دی - دیرا فسوس دے چه دا کار نن صبا مونږ نه پاتے دے - هغه هر وخت زمونږ هدایت ته تیار

دے ۔ خو افسوس چه دے طرف ته طلب نشته ۔ قصور نه موږ دے چه موږ تدبّر پریښے دے (که موږ د خان محاسبه اوکړه او دا سوچ موا وکړو چه د الله حکم څه دے او موږ کوم خوا روان یو نو الله تعالے به راباندے د پر فضل ـــــ اوکړی او زموږ حالت به د پر ښه بدل شی) ۔

صاحبانو زهٔ درته بیا وایم چه تدبّر یعنی په خپل حالت سوچ کول په ظاهره وړه غوندے خبره ده خو د فائدے په لحاظ ډیره غټه ده ۔ او د دے په ترک کولو موږ په ډیرو خرابیو کښے گرفتار شو ۔ او حالت مو ورز په ورز خرابیږی ۔ دغه شان د دے آیت مبارک مضمون به تاسو ډیر ځله اوریدلے وی لیکن غور مو ورباندے نهٔ دے کړے نو ورباندے د پوهیدو نوبت نهٔ دے راغلے (حضرت فرمائی) زهٔ درته د آیت مبارک مضمون بیا اوروم چه تاسو شی ۔ او د وعظ نه مطلب هم دا دے چه کومے خبرے غوږ ونه سره سیدلی وی خو د غفلت په وجه هیرے ـــــ شوی وی په وعظ بیا سره یادے کړے شی ۔ دا ضروری نهٔ ده چه هر وعظ کښے د نوی خبرے وی ۔ دے نه دا هم معلومه شوه چه د وعظ اوریدو اصل غرض څه دے ۔

نن صبا د وعظ اوریدو مختلف اغراض دی ۔ څوک دے د پاره اوری چه د واعظ د طرزِ بیان اندازه لګوی چه څنګه دے ۔ په څه روان دے که نښتے نښتے چلیږی د مضامینو د آمدے څه حال دے ۔ (څه نوی خبرے بیا نوی که په زړو شخوند وهی) څوک دے د پاره اوری چه د واعظ خیالات څه دی د کومے ډلے سره تعلق لری ۔ څوک د کرفت په خیال راځی ۔ (چه په وعظ کښے څه کمزورے خبره اونیسی او د مخالف پرابیګنډے موقع په لاس ورشی) ۔ او څوک که په نیک خیال راځی هم صرف دومره قدر چه د وعظ په مجلس کښے کینی او

Scanned with CamScanner

دا وخت نۍ په یو ښۀ کار کښے اولګی او ثواب حاصل کړی - دا نیت اګر چه ښه دے خو کافی نه دے ثواب خو په نفلو او په ذکر یا نورو عبادتونو هم حاصلولے شی - د وعظ اوریدو اصل غرض دا دے چه خپل پټ مرضونه وپرته معلوم شی (کوم چه بنده خپله نشی معلومولے) او د علاج فکر نۍ اوکړی نو وعظ اوریدو ته په دے خیال راتلۀ پکار دی -

غرض داچه الله تعالے فرمائی - وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِیْ مُسْتَقِیْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِکُمْ عَنْ سَبِیْلِهٖ - (او داچه دا زما لاره ده په دے سمه لار شئ او په نورو لارو مه ځئ د الله د لارے نه به مو- ګډوډ کړی) د ترجمے نه دا معلومه شوه چه لارے دوه دی - په هغو کښے یوه لار الله ښیلی ده چه هغه نیغه الله ته پرے او نورے لارے بند یا نور جوړے کړی دی - نو کومه لار چه الله ښیلی ده هغه د تلو قابله ده او نورے د ترک قابلے دی -

نو اوس دغه نیغه لار د نورو لارو نه جدا کولو د پاره څۀ معیار پکار دے چه په هغے موږ او پیژنو چه دا هغه نیغه لار ده کومه چه الله ښیلی ده - او د تلو قابله ده - موږ به په الله ته رسو- او نورے لارے غلطے دی الله نه مولرے باسی - نو د دے آیت مبارک پورۀ مضمون نه موږ ته هغه معیار معلومیدے شی - او دا هم ترمعلومیږی چه د دے معیار پریښو په وجه په دین کښے دومره خرابے راپیدا شویدے چه اوس خلقو ته دا پته هم نه لګی چه موږ نیغه لار پریښی ده او په غلطو لارو شوی یو- اوس د مخکینی آیت مبارک سره دا آیت مبارک یوځائے کړئ نو معیار به معلوم شی - ارشاد دے- قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّکُمْ عَلَیْکُمْ اَنْ لَّا تُشْرِکُوْا بِهٖ شَیْئًا وَّبِالْوَالِدَیْنِ

اِحْسَاناً ط (نبی کریم صلے اللہ علیہ وسلم تہ خطاب دے چہ تۂ خلقوتہ
او وایہ راشئ چہ زۂ درتہ دِ اللہ تعالے حکمونہ او ښیم (هغہ دادی)
چہ اللہ تعالے سرہ هیڅ شے مۂ شریکوئ (نۂ په ذات کښے نۂ په صفاتو
کښے) او مور پلار سرہ ښۂ سلوک کوئ۔ دِ دے ربط نہ دا خبرہ
معلومہ شوہ چہ دِاللہ دِ ښیخے لارے معلومولو معیار دا دے چہ کومہ
خبرہ رسول کریم صلے اللہ علیہ وسلم خلقوتہ او ښئ هغہ دِاللہ لارہ
دَہ حُکہ چہ رسول کریم صلے اللہ علیہ وسلم چہ څۂ فرمائ هغہ وحی
دَہ هغہ دِ خُانہ خبرے نۂ کوی۔ مَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى
(هغہ دِ خپل خواهش نہ خبرے نۂ کوی هغہ چہ درتہ دِ دین څۂ خبرے
کوی هغہ ورتہ دِ وحی په ذریعہ ښیلی شوی وی)۔

نو خلاصہ دا شوہ چہ کومہ خبرہ چہ په وحی ثابتہ وی هغہ دِاللہ
ښیخہ لارہ دَہ نو دِ صحیح او غلطے لارے معلومولو دِ پارہ معیار وحی
شو په دے دِ دین دار مدار دے۔ دا خبرہ به هم مسلمانانو پہ پرځلہ
اوریدلی وی څۂ نوی خبرہ نۂ دَہ۔ خو دِ مسلمانانو دِ عمل او د۔
مخونۂ په حالاتو غور کولو نہ دا سے معلومیږی چہ دِ خُنہ کسانو په
زړونو کښے دِ وحی عظمت نشتہ او کہ دِ چا په زړونو کښے څۂ
شتہ هم نو پورہ حقیقت لرے نۂ دے پیژندلے۔

په دے وخت کښے دِ مسلمانانو کنڑے ډلے دی۔ او په ټولو کښے یو
مرض مشترک دے۔ چہ وحی دِ حق معیار نۂ منی۔ او په دے وجهه
دے ټولو ډلو تہ یوہ ډله ویل پکار وو۔ لیکن دِ ټولو انداز جدا جدا
دے په دے وجهه ورتہ یوہ ډله ښئی ویلے۔ دِ دے مثال دا سے
دے لکہ دِ یو بادشاہ په حکومت کښے کنڑ خلق اوسی۔ څوک خو دِ هغہ
قانون هډو منی نہ۔ او خُنہ کسان دا سے دی چہ قانون خو منی لیکن

د قانون په صحیح غرض نه پوهیږی نو په قانون عمل نه کوی - نوعملنه کولوکښے خو دواړه شریک دی لیکن فرق پکښے دا دے چه یوه ډله د قانون نه انکاری ده او بله ډله انکاری نه ده خو په مطلب ئے نه پوهیږی نو پوره پوره عمل په نشی کولے - نو دے دواړو ډلو سره به جدا جدا سلوک کیږی -

په قانون غلط پوهیدو متعلق راته یو قصه رایاده شو- انشاء الله د دے واقعے نه به دراته پته اولگی چه د قانون منلو سره سره بیا د هغے په حقیقت پوهیدو کښے غلطی څنگه کیږی یو ځل د یو بل ملک سړے د دے ملک (هندوستان) په کاډی کښے چرته تلو وړ سره تقریباً یو من پیسے وو- چه بهر ته وتو بابو ورته اووے د سامان بلټی هغه ورته نړ وچیل تکټ اوښیلو- بابو ورته اووے تاسره خو تکټ شته لیکن دے سره شل سیره سامان بے کرائے وړے شی د نړیاتی به کرایه ورکوے - تاسره د من نه نړیات پیسے دے د دے کرایه د نه ده ورکړی - نو بهر ته وتے نشے ترڅوچه د د سامان کرایه نه وی ورکړی هغے میلمهٔ ورته اووے په قانون کښے د شل سیره سامان چه بے کرائے اجازت دے نو د دے مطلب دا خاص وزن نه دے بلکه مطلب ئے دا دے چه څومره وزن چه مسافر د مزدور د امداد نه بغیر ځان سره خپله وړے شی د هغے بے کرائے اجازت دے- د دے ځائے خلق شل سیر ونه نړیات شے خپله نشی وړے ځکه ورته دا وزن لیکلے- شویدے که د شلو سیرو نه زیات وی نو د نړیاتی کرایه به ورکوی ما دا من پیسے ځان سره دا دے په ترخ کښے راحسته دے - نو دا ما د پاره دا سے دے لکه د دے ځائے خلقو د پاره شل سیره نوډے نړیاتی کرایه نشته - خیر دا خو یو لطیفه وه او س سوال دا دے

Scanned with CamScanner

چه آیا بابو به دِ دے سړی داخبره منی معاف کوی به ئے اوکه دِقانون کتاب به وړپسے ړا وړی په مطلب به ئے پوهه کوی او شک به ئے اوباسی - اوس که هغه هر مسافر سره په قانونی خبرو لکیا شی نو آیا خپله دیوتی به پوره پوره وکړے شی ؟ هرگز نه په دے خبرو به دِ چنل کار نه پاتے شی - نو اوس بابو سره دِ دے مشکل حل صرف دا دے چه دِ لاسه ئے اوینسی او پولیس ته ئے حواله کړی - نو څنګه چه دے میلمهٔ دِ قانون مطلب غلط بیانولو - دغه شان نن صباځنه خلق دِ قرآن شریف تفسیر بیانوی - او وائی چه دِ قرآن مطلب هم دا دے کوم چه موږ بیانوو - حالانکه هغه مطلب ئے نهٔ رسول الله صلے الله علیه وسلم بیان کړے دے نهٔ ترا صحابو هغه مطلب اخستے دے نهٔ زموږ مشرانو عالمانو مجتهدانو ئے هغه تفسیر کړے دے -

نو دِ پوهه کسانو په نظر کښے خو دِ دوئ دِ تفسیر دغه هومره قدر دے څومره چه دِ دے میلمهٔ دِ قانونی تشریح قدر دے بابو سره وو - حالانکه په ظاهره دِ میلمهٔ په خبره کښے وزن بنکاریدو - څوک چه په قانون نهٔ پوهیږی هغهٔ ته به دِ میلمهٔ خبره زوړه داره بنکاری وائی به چه دا میلمهٔ وړته دِ قانون (لږ بیانوی) وجهه ئے وړته بنئ چه شل سیره وزن مقرر کولو کښے مصلحت څهٔ وو - او بابو وړته صرف دا وائی چه زهٔ نور نهٔ پوهیږم بس قانون دا دے ما قانون زده کړے دے - جوړ کړے رم نهٔ دے - په مصلحتونو به ئے دِ پارلیمنټ ممبران پوهیږی دے سره څا څهٔ کار نشته - لیکن میلمه وړته وائی که تاته ئے مصلحت نهٔ وی معلوم نو ماته معلوم دے چه مقامی خلق دِ شلو سیرو نه زیات شے څان سره خپله نشی وړے حکه ئے وړته دا وزن مقرر کړے دے - نو څوک چه دِ دے نه زیات

Scanned with CamScanner

وړے شی هغهٔ دِ پاړه داوړن نهٔ دے چرته چه علت نشته حکم م نشته
دا قاعده دَه - نو څوک چه چپله په قانون نهٔ پوهیږی چه دِ میلهٔ ړوا
دار دلائل اوړی میلهٔ به وړته په حقه ښکاړی او وائی به چه -
بابو وړسره هسے ړیاتے کوی - او څوک چه په قانون پوهیږی هغوئی
به دِ میلهٔ خبرو ته نامناسبه وائی او بابو به په حقه کښی دغه
حال دِ هغے خلقو هم دے چاچه وړکوتوالی ړاسے چرته دِ شریعت -
حکمونه نهٔ دی اوړیدلی او دِ پوهے نه پس دِ یو عالم او یو جاهل
دغه شان بحث واړی چه عالم وړته وائی دِ شریعت قانون په
دے خبره کښے دا دے - او جاهل وړته وائی دِ دے لِمهٔ دے
(په دے کښے مصلحت څهٔ دے - دا سے قانون ولے) مقرړ شوے دے
او عالم وړته وائی ړهٔ نوړ نهٔ یم خبر خو دِ شریعت قانون دا
دے ړهٔ دِ قانون عالم یم قانون لِم جوړ کړے نهٔ دے - لِمهٔ او مصلحت
به ئے هغه الله ته معلوم وی چاچه دا قانون ړاستولے دے - موږ
ته خو په دے قانون دِ عمل کولو حکم دے دِ مصلحتونو معلومولو ذمه
واوړی ړاباندے نشته - او هغه جاهل وړته وائی که تا ته ئے مصلحت
نهٔ وی معلوم نو مانته معلوم دے چه داقانون په دے غرض جوړ
شوے دے - او په دے طریقه په احکامو کښے تحریف شروع کړی
(یعنی دِ احکامو غلط مطلب بیانول شروع کړی) دِ هغے میلهٔ په
شان -

نو څهٔ وجهه دَه چه په هغه قصه کښے خو تاسو بابو په حقه کښی
او دلته دِ عالم او جاهل په دے خبرو کښے دِ عالم خبرو ته زبردستی
وائی په دواړو کښے فرق څهٔ دے ؟ بے دِ دے نه چه دِ الله تعالے
دِ احکامو یعنی دِ شریعت دِ قانون عظمت موږ په ړهٔ کښے نشته - او

Scanned with CamScanner

د حکومت د قانون عظمت هر په سړه کښے شته - او دا قاعده ده چه سړه کښے د چا عظمت وی د هغه په حکم کښے څوک فائدے نه لټوی بے ټوسه ئے منی - د چون وچرا کښتمائش پکښے نه وی - او د چا عظمت چه په سړه کښے نه وی د هغه په حکم کښے لږم او کیف لټولے شی (یعنی چه دا په څه غرض او څنګه شوے دے) هوښ وینو چه کله کله دا ښے سرکاری احکام راشی چه سړه وښ عقل ئے نه منی - خو بیا هم منلے شی او عمل په کیږی - او ویلے شی چه سرکار دا حکم کړے دے - نو ضرور به پکښے څه فائده وی - مثلاً د ډاک د لفافے ټکټ په شل پیسے کیږی که د دے په ځائے وسر باندے څوک د یو روپئے عدالتی ټکټ او لګوی نو هغه خط به سړ نګه ګنړلے شی او جرمانه به لګی - عام خلق په دے نه پوهیږی چه دا ولے حالانکه چه دوارڅ پیسے حکومت ته ځی خو بیا هم منلے شی او عمل په کولے شی او دا خیال ئے هم په زړه کښے نه راځی چه د دے وجهه څه ده نه ئے څوک مخالفت کوی او نه ئے حکومت نه د وجهے پوښ کوی بلکه که څوک دوست وسړه دا قسم خبره اوکړی نو بد زړ به وتړه او وائی چه د حکومت په کار وښ کښے څنګل عقل مه چلوه - دا څکه چه په سړه کښے ئے د حکومت عظمت دے نو بے ټوسه دا منی چه د حکومت په قانون کښے به څه فائده ضرور وی - حکومت بے فائدے کار ونه نه کوی.

نو صاحبانو لږ غور اوکړئ د الله تعالے په احکامو کښے مصلحتونه لټولو باندے تاسو دا ثابتوئ چه ستاسو په سړ وښ کښے د الله عظمت او د الله د احکامو قدر نشته او که د دے نه علاوه ئے بل څه وجهه کیدے شی نو مانه د ئے څوک اوښئ - کله کله هوښ د یو سړی حکم یا مشوره بے ټوسه منو سړه د دے چه نه ئے راباندے سړ ور وی او نه ئے - سړ وښ په سړه کښے عظمت وی خو څکه ئے منو چه خبره ئے راته مفیده

Scanned with CamScanner

بنکاری لکه یو طبیب چه چاته څۀ مرض دِ پاره نسخه اولیکی - موږ څوک نۀ دی لیدلی چه طبیب سړی دِ نسخې په تړکه بحث کړے وی - چه داځیزونه دِ ولے لیکلی دی دا نور دِ ولے نۀ لیکل - یا دِ دے ځیزونو داخاص وزن ولے دے ؟ داخیال دِ چا په زړۀ کښے هم نۀ راځی - اوکه زړۀ کښے ځی راشی هم اظهار ځے نۀ کوی غلے شی - ځکه چه دے کښے څنله فائده ګڼړی - او داخیال ځے وی که بحث وړسړه کوم نو نسخه به راته واخلی او مطب نه به رم اوشړی او علاج به رم نۀ کوی -

نو صاحبانو که دِ شریعت دِ احکامو قدر مو په زړۀ کښے نۀ وی هم دے دِ پاړه ځے اومنئ چه دا احکام هم دِ تاسو دِ فائدے دِ پاړه راغلی دی او دِ تاسو دِ باطنی امراضو علاج دے وړکښے - هسے نه چه په زیاتی خبرو درنه الله تعالے ناراضه شی او څۀ آفت در باندے راولی -

من نه کردم خلق تا سودے کنم بلکه تا بر بندگان جودے کنم

الله تعالے فرمائی - ما مخلوق دِ څنلے څۀ فائدے دِ پاره نۀ دے پیدا کړے بلکه دے دِ پاره رم پیدا کړے دے چه څنل مخلوق باندے احسان اوکړم (نعمتونه او انعامونه ورکړم) - نوکه دِ شریعت احکام درته دِ سرکاری احکامو په شان نۀ بنکاری نو کم ازکم دِ طبیب دِ نسخې په شان ځے اوګڼړئ بے چون وچرا ځے اومنئ په دے کښے مو فائده ده - که داسے هم نۀ وی نو معلومه شوه چه دِ الله دِ احکامو درسره هیڅ قدر نشته البته دِ طبیب په نسخه کښے هغه سړے چې چار کولے شی چه دِ دے حکیم نه ځے دِ علاج - کولو نیت نۀ وی - موږ وینو چه دِ شریعت په احکامو کښے خبرے (لِم او کَیف) لټول هم هغه خلق کوی چه ورباندے عمل ته ځے نیت نۀ وی - دِ چا چه ورباندے عمل کولو ته نیت وی هغوئ په ځان پوهه کولو دِ پاره پټوسونه کوی لکه داچه په مانځه کښے فرض کوم کوم کارونه دی - واجب او سنت کوم

کوم دی - حُکه چه هغوئ سره دا فکروی چه په ناپوهئ کښے راته داسے غلطی اونشی چه مونځ په خرابیږی - دِ کار خلق کار کوی عِلّتونه او مصلحتونه نه لټوی -

نو دِ مصلحتونو لټولو دوه سبب شو - یَو په زړهٔ کښے دِ شریعت دِ احکامو بے قدری بل بے عملی - مونږ وینو چه دِ شریعت په احکامو کښے دِ مصلحتونو لټون نکی په زړونو کښے دِ شریعت دِ احکامو قدر هم نشته او وړاندے ئے دِ عمل نیت هم نشته - بهرحال فی صبا مسلمانانو کښے یو ډله داسے دَه چه په زړهٔ کښے ئے دِ وحی قدر نشته - او بله ډله داسے ده چه دِ وحی په احکامو عمل نه کوی دے دواړه ډلوته وحی ته متوجهه کیدل ضروری دی اودِ شریعت دِ احکامو دِ پاره دِ وحی معیار منل ضروری دی -

څنګه چه دنیا وی معاملاتو کښے صحت دِ پاره معیار دِ حکومت قانون دے - دغه شان آخرت کښے دِ نجات دِ لاړے معلومولو دِ پاره معیار الٰهی قانون دے چه وحی وړته ویلے شی - او دِ کوم په نسبت چه الله تعالے - فرمائی - اُتْلُ مَا اُوْحِیَ اِلَیْکَ مِنَ الْکِتَابِ وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ - (کومه وحی چه په تا نازلیږی دا خلقو ته اوړوه او مونځ قائم لره) نبی کریم صلے الله علیه وسلم ته خطاب دے چه دِ قرآن شریف کوم آیتونه چه په تا دِ وحی په ذریعه نازلیږی دا خلقو ته اوړوه چه مسلمانان په ځان پوهه کړی او عمل په اوکړی (او ته وړته عملی نمونه پیش کوه چه مسلمانان هم په هغه شان عمل کوی) دا دواړه آیتونه چه یو ځائے شی نو صفا دا نتیجه تر لاسه کیږی چه په وحی ثابته شوی لاړ دِ الله تعالے صحیح لاړ دَه - هٰذَا صِرَاطِیْ مُسْتَقِیْمًا کښے چه دِ صراط نسبت ئے ځانته کړے دے - دِ دے مطلب دا دے چه داهغه لاړ دَه چه ما درته ښیلی دَه او په دے به ماته لاړ شئ - او خُدا رضا په حاصلولے شئ - دِ نیغے لاړے مطلب دا نه دے چه کوئے الله ته دِ رسیدو

Scanned with CamScanner

نورے لارے هم شته خو هغه کړے وړے دی او دالار نیغه دَه-نه- بلکه الله تعالے ته د سیدو هم دغه یوه لار دَه کومه چه الله تعالے- موږ ته د وحی په ذریعه د اسلامی شریعت په شکل کښے ښیلی دَه- او هم دا نیغه لار دَه- بله لار ورته نشته- نن صبا دغه لار خلقو پریښی دَه حُکه گمراه او ډلے ډلے شو په دے هم پوهه شئ چه د ډلو نه مطلب د مسلمانانو ډلے دی- د کافرانو ډلے نهٔ دی-

نو په دے ډلو کښے څنه ډلے هغه دی چه د وحی سره ئے هغه تړاو اوکړه- کومه چه هغے میلهٔ د کاپی د قانون سره کړی وَه- چی وحی خو ئے او منله- لیکن د هغے په مطلب بیا نو لوکښے ئے گډبړاو اوکړل- لکه نن صبا د مسلمانانو د یوے غټے ډلے دا کوشش دے چه هرڅنگه چه وی د قرآن شریف د آیتونو دا سے مطلب بیان کړی چه سائنس سره موافق شی- دا سے خلق عالمانو ته ناپوهه وائی-

(حضرت فرمائی) صاحبانو زهٔ دا په دعوه سره وائم چه د سائنس یوه تحقیقی خبره هم په هیڅ شان د قرآن شریف خلاف نشی کیدے- د تحقیقی قیدم حُکه اولګولو- چه د نوی سائنس مسئلے دوه قسمه دی- یو قسم کښے صرف د اندازے او خیالاتو نه کار اخستے شی او بیرے دا سے دی- او دویم قسم هغه دی چه په تحقیق او تجربو ثابتے شوی دی نو دا قسم- مسئلے چرے د قرآن شریف خلاف کیدے نشی حُکه چه قطعی عقلی دلیل د قطعی نقلی دلیل سره معارض کیدے نشی-

صاحبانو! نن صبا د تحقیق زمانه دَه- په مسائلو کښے غور و فکر کولے شی نو لږ غوندے په دے هم غور اوکړئ چه سائنسدانان چه څومره- دعوے کوی هغوے صحیح ثابتے دی که نه- مثلاً سائنسدانان وائی چه اسمان نشته- ستوری هوا په فضا کښے گرځی- نو اوکورئ چه د هغوئ

Scanned with CamScanner

داخبره ظنّی دَه که قطعی - سائنس چه تر اوسه دِ دے څومره دلیلونه پیش کړی دی هغے نه قطعی ثبوت نه کیږی چه اسمان نشته - دِ هغے ټولوغلاً عدمِ علم دے - دِ کوم نه چه دِ یقینی وجود نفی نشی کیدے - ځکه چه دِ اسمان وجود په قطعی دلیلونو ثابت دے - (په دے طریقه) چه دِ آسمان وجود ممکن دے - یعنی عقلاً دِ اسمان وجود او عدم دواړه ممکن دی - او دا منلی شوی خبره دَه چه دِ یو ممکن دِ وجود خبر چه یو مخبر صادق ورکړی نو دِ هغے وجود یقینی شی - او دِ اسمان دِ وجود خبر موږ ته الله تعالے په قرآن شریف کښے راکړے دے - نو دِ دے درے واړو مقدمونه داثابته شوه چه اسمان موجود دے -

نو دِ اسمان وجود په قطعی یقینی دلیل ثابت شو او په نفی ئے قطعی دلیل نشته - نړیات نه نړیات دومره دَه چه موږ ته ئے دِ وجود علم نشته نو په عَدَمِ علم - او دِ عدم په ثبوت کښے دِ نړمک اسمان فرق دے -

(حضرت فرمائی) نړۀ وایم هرکله چه عقلاً دِ اسمان وجود او عدم دواړه ممکن دی یعنی عقلاً ئے وجود ضروری دے نه عدم - یعنی نه واجب الوجود دے او نه ممتنع - نو عقل دِ دے دِ وجود او عدم دِ دواړو متعلق - هیڅ فیصله نشی کولے - حقیقت دا دے چه نه دِ عقل په ذریعه دِ اسمان وجود ثابتیږی او نه عدم - پاتے شوه داخبره چه بره چه داشین رنګ ښکاری عام خلق دے نه اسمان والی - که په سائنس داثابته شی چه داشین رنګ اسمان نه دے نو هیڅ څه حرج ئے نشته - دے نه دِ اسمان عدمِ وجود نه ثابتیږی - کیدے شی چه اسمان دِ دے نه وی اوچت وی نو داویل چه دِ اسمان وجود کوم چه په شریعت ثابت دے دِ - سائنسی خلاف دے - داویل سخته غلطی دَه - ځکه چه سائنس تراوسه دِ اسمان په عدمِ وجود یقینی دلیل نه دے پیش کړے - سائنس دِ دے

نه ساکت دے - او موږ نن ته د اسمانونو خالق په قرآن شریف کښے خبر راکړے دے چه ما اووه اسمانونه جوړ کړی دی - نو د اسمان وجود یقینی دے او عدم وجود نه سائنس ساکت دے - دلیل ورسره نشته - نو قرآن ځے په وجود ناطق دے او سائنس ځے د عدم نه ساکت دے - تعارض د دوو ناطقو راځی - د ناطق او ساکت تعارض نه وی - نو هر کله چه تعارض نشته بیا د سماء تفسیر په کواکبو (ستورو) کول یا کُلُّ مَا فَوْقَکَ فَهُوَ سَمَاءٌ کَ (تا نه اوچت هرشے ستا اسمان دے) سره کول تحریف دے - نو د دا سے تحریف کوونکو متعلق داویل بالکل صحیح دی - چه دوئ یا خو وحی منی نه - او یا ځے سره د منلو په حقیقت نه پوهیږی - څنګه چه مخکښے بیان شوی قصه کښے هغے میلمه د کاډی د قانون خلاف ورزی کوله ځکه چه د قانون مطلب ځے غلط اخستے وو - نو د وحی معیار نه منلو یو شکل خو دا دے چه مطلب ځے غلط واخلی او یو شکل ځے دا هم دے چه معیار ځے منی او په حقیقت ځے هم څه نه څه پوهیږی لیکن صرف په قرآن شریف پورے ځے خاص کړی - د شریعت نور دلائل - حدیث او فقهه د دے نه خارج منی نو په غور کولو سره پته لګی چه دا خلق هم په حقیقت کښه وحی معیار نه منی - دا منلی شوی خبره ده چه مُقَنِّنْ (قانون جوړه وونکے) چه چنله د قانون کومه تشریح او کړی نو هغه هم قانون شی - نو حدیث هم وحی ده اګرچه غیر متلو ده یعنی د قرآن شریف په شان ځے ماخذ کښے تلاوت نه کیږی ځکه چه حدیث د اللّٰه تعالے د طرف نه د قرآن شریف شرحه ده - نو د قرآن شریف په حکم کښے ده او د فقهے مسئلے په هغه اصولو باندے قرآن وحدیث نه راویستی شوی دی کوم چه په قرآن وحدیث کښے بیان شوی دی - نو دا هم د وحی په حکم کښے دی - نو وحی کله جلی وی یعنی څرګنده وی او کله خفی یعنی پته وی

Scanned with CamScanner

الله تعالے فرمائی۔ ثُمَّ اِنَّ عَلَیْنَا بَیَانَهٗ (بیا دِ دے تشریح زمونږ په ذمه دَه) کله چه دا آیت مبارک نازل شو۔ اِنْ تُبْدُوْا مَا فِیْ اَنْفُسِکُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ یُحَاسِبْکُمْ بِهِ اللّٰهُ۔ (که تاسو پټ کړئ څه چه ستاسو په زړونو کښے دی یا ئے څرګند کړئ الله به ئے درسره حساب کوی) نو اصحابو دا خیال اوکړو چه شاید دِ زړهٔ په وسوسو به هم کرفت کیږی نو ډیر پریشان شو حُکه چه وسوسو نه بچ کیدل خو ډیر کران دی۔ نو بیا ورپسے دا بل آیت مبارک نازل شو۔ لَا یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا (الله تعالے دِ طاقت نه زیات بوج په چا نه اچوی) دے آیت مبارک دِ هغے آیت تشریح اوکړه چه وسوسه څو پورے چه دِ خیال په درجه کښے وی عمل ورباندے نه وی شوے په هغے کرفت نشته حُکه چه خیال دِ چا په وَس کښے نهٔ دے خیالات څوک بند ولے نشی۔ او یو حدیث مبارک کښے هم دِ دے تشریح شوے دَه۔ ارشاد دے۔ اِنَّ اللّٰهَ تَجَاوَزَ عَنْ اُمَّتِیْ عَمَّا وَسْوَسَتْ صُدُوْرُهَا مَالَمْ تَعْمَلْ اَوْ تَتَکَلَّمْ اَوْ کَمَا قَالَ۔ (الله تعالے معاف کړی دی زما امت۔ ته هغه خیالات چه زړونو کښے راځی تر څو چه په عمل نه وی شوے یا ئے په خوله اظهار نه وی شوے) نو حدیث هم دِ قرآن شریف تفسیر دے او دا تفسیر نبی کریم صلے الله علیه وسلم دِ خپل طرف نه نهٔ کوی دِ الله په حکم ئے کوی لکه چه ارشاد دے۔ وَمَا یَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰی اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْیٌ یُّوْحٰی (هغه یعنی نبی کریم صلے الله علیه وسلم په خپل خواهش خبرے نه کوی بلکه هغه چه څهٔ وائی دِ هغے وحی ورته شوی وی) نو احادیث هم وحی دَه۔ او دِ قرآن شریف تفسیر دے۔ حُکه څیز و نه حدیث نه هم۔ مجمل پاتے شی دِ هغے تشریح په قیاس اوشی۔ لکه دِ سود متعلق حدیث شریف دے۔ مِثْلًا بِمِثْلٍ یَدًا بِیَدٍ وَالْفَضْلُ رِبٰوٰ (یعنی دِ یو جنس څیز کښے تبادله لاس په لاس او سَر په سَر پکار دَه نو یا ئے پکښے سود دے او

بل ځای ارشاد دے - دَعُوا الرِّبٰو وَالرِّ ثٰبَةَ - (سود او په کوم کار کښے چه د سود شک وی د واړه پریدئ) دے نه معلومه شوه چه سود حرام - دے - لیکن پوره تفصیل ئے نشته - نو موږ فقهاؤ رحمهم الله ډ دے حدیث مبارک نه په غور کولو قول جزئیات معلوم کړی دی کوم چه عامو خلقو په اسانه نشو معلومولے دے ډ پارلئے ډ اصول فقهه علم مرتب کړو چه ډ احادیثو او قرآن نه به ډ مسئلو جزئیات په کومو طریقو راویستے شی او دا ئے صفا اعلان اوکړو - چه اَلْقِیَاسُ مُظْهِرٌ لَا مُثْبِتٌ - (قیاس چه ډ شریعت په دلیلونو کښے څلورم دلیل دے - حکم څرګندوونکے دے ثابتوونکے نه دے) په دے کښے ډ دے خبرے اقرار دے چه موږ ډ خانه څه نوی خبره نه کوو بلکه څه چه وایو ډ قرآن شریف او حدیث شریف تفسیر دے دغه شان نبی کریم صلے الله علیه وسلم هم بار بار فرمائیلی دی چه نه - تاسو ته څه وایم ډ وحی په ذریعه درته وایم یوه خبره هم ډ وحی خلاف ډ خپله خانه نه کوم - دے نه ډ هغے خلقو غلطی واضحه شوه څوک چه فقهه او حدیث نه منی او په محدثانو او فقهاؤ اعتراضونه کوی -

صاحبانو احادیثو نه به څوک څنګه مستغنی شی ؟ که احادیث نه - وے خو موږ ډ مانځه طریقه - رکعتونه او ختونه هم نشو معلومولے اګرچه قرآن شریف کښے ډ پنځو وختونو ذکر شته لیکن هغه داسے دے چه محکمے نه چا ته وختونه معلوم وی نو هغ مړ ئے برابرولے شی چنګه ډ قرآن شریف نه ئے تعین نشی کیدے - په قرآن شریف کښے وضاحت سره نشته صرف اشارے دی او ډ مانځه ډ رکعتونو خو اشاره قدرے هم نشته - هسے که څوک نه مکے نه آسمان جوړ کړی نو دے ته ډ قرآن شریف نه ثبوت هرګز نشی ویلے لکه چه صاحب ډ رکعتونو شمار ډ قرآن شریف ډ دے آیت مبحث نه ثابتوی - ارشاد دے - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ -

Scanned with CamScanner

فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا اُولِيْٓ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَ رُبٰعَ ط (قول تعریفونه د هغے الله دی چه د نوی سره ئے جوړکړی اسمانونه اونړمکه اوګرځولی ئے دی فرشتے چیل استاذی دا سه فرشتے چه د دوو دوو دریو دریو اوخلورو خلورو وزرو خاوندانے دی) هغه صاحب فرمائی چه دے کښے د ماخذ رکعتونو ته اشاره ده چه فرض مونځونه دوه رکعته - دریے رکعته اوخلور رکعته دی نوصاحبانو قاسو چیله د آیت مبارک په الفاظو غور اوکړئ چرته د فرشتو د وزرو ذکر اوچرته د ماخذ رکعتونه (د دے دواړو وجوهاتو دے) دا هرف د نفس او شیطان فریب دے نور هیڅ نه دی (حضرت فرمائی) زه په قسم سره وایم چه د نفس فریب دا سے غټه بلا ده چه په ډیره موده کښے ئے اصلاح نه کیږی - په ډیره اصلاح هم نه خټیږی - او چاچه د نفس د اصلاح هڅه وکوشش نه وی کړے هغه ترکله پیچ کیدے شی -

د نفس اصل فریب دا دے چه اوئے لیدو چه فقهاو احادیثو کښے خو احکام پوره تفصیل سره بیان شوی دی - په دے ټولو عمل خوډیر ګران کار دے - نو داچل ئے جوړکړو - چه فقهاو حدیث پریده صرف قرآن سره اتینګ کړه - قرآن کښے خو پوره تفصیل نشته د چلے خوښے تفسیر ئے کوه - د ډیر محنت نه به خلاص شے - (حضرت فرمائی) اونړۀ خو وایم نن صبا علم کیمیا ډیره ترقی کړی ده - د هرشیز جوهر اوخلاصه راوباسی - د دین خلاصه ئے هم راوویسته - د خلور دلیلونو په ځائے صرف یو هم قرآن شریف دلیل کافی اوکښلے شو - نو جناب علی څوک چه د شریعت طلبګار وی او په نړۀ کښے ئے د الله او رسول الله مینه وی هغه به هیڅوے دا سے چل ول خوښ نه کړی - اوګورئ څوک چه د براوښے وی هغه په نړیاتی پسے ګرځی - دا نه چه څه ورسره وی هغه م اوغورزوی

شیخ سعدیؒ فرمائی ـ

نہ حسنش نہایتے دارد نہ سعدی راسخن پایان ہ بمیرد تشنہ مستسقی و دریا ہمچنان باقی

(نہ دِ ستا دِ حسن څۀ انتہا شتہ او نہ دِ سعدی خبرے ختمیږی ـ کہ قول عمر دِ ستا صفت بیا نوم ختمولے نۀ شم ـ دِ استسقا مریض بہ تږے مړشی او دریاب بہ هغہ شان باقی وی ـ دِ سعدی عمر بہ ختم شی او ستا صفت بہ پورۀ نشی)ـ

څوک چہ پہ ربستیا دِ حق طلبگار وی نو هغوئی چہ دِ احکامو موجودۀ ذخیرہ اوویني نو دا ارمان بہ کوی چہ کاش څۀ نور هم وے او چہ ـ طلبگار نۀ وی هغہ بہ پہ دے موجودہ کښے هم کمے غواړی ـ

فن صبا تفسیر بالرائی (یعنی پہ چپلہ خوښہ دِ قرآن شریف دا سے تفسیر کول چہ مشرانو نہ منقول نۀ وی) دے حد تہ رسیدلے دے چہ یو ـ صاحب دِ سود دِ حرمت نہ دِ سرہ انکار کوی ـ هغہ وائی چہ قرآن شریف کښے چہ کوم دِ ربٰو لفظ راغلے دے هغہ دِ ر پہ زیر نہ دے دِ ر پہ پیش دے رُبٰو معنیٰ ئے دَہ پہ زور تښتول لوټل ـ چونکہ دِ حضور صلے اللہ علیہ وسلم پہ زمانہ کښے قرآن شریف اعراب یعنی زیر زور نۀ وو لکیدلی دا رسم و ستو لکیدلی دی دِ بنی امیو دِ حکومت پہ زمانہ کښے نو پہ دے کښے دا غلطی شوی دَہ چہ پہ ر باندے دِ پیش پہ ځائے ز یر لکیدلے دے ـ

نو جناب عالی رُبٰو لفظ دِ ر پہ پیش خو پہ عربئ کښے دِ سرہ چرتہ شتہ نہ نو پہ قرآن شریف کښے دِ کوم ځائے نہ راغلو البتہ پہ فارسئ ژبہ کښے رَبُوْدَنْ لفظ شتہ دِ تښتولو پہ معنیٰ (لیکن هغے نہ هم دِ فارسئ دِ قواعدو مطابق رَبُوْدْ لفظ جوړیږی رُبٰو نشی جوړیدے) نو قرآن شریف کښے تحریف کو ونکو نہ خو څۀ کیلہ نشتہ هغوئی خوچپل مطلب او باسی کیلہ دِ هغے ـ کسانو نہ دَہ چہ قرآن شریف منی او بیا دا کوشش کوی چہ دِ شریعت قول

Scanned with CamScanner

احکام صرف قرآن شریف نه ثابت کړی د شریعت نور دلائل فقهه او حدیث پریدی- سړ بښتیا دَه سه

دوستی ئے بے خیرد چون دشمنی ست

حق تعالے زین چنین خدمت غنی ست

(د بے عقله دوستی هم د شمنی دَه- د دین دا سے خدمت د الله تعالے نه دے پکار) والله نن صبا دا سے حال جوړ شوے دے چه د دیندارو او بے دینو تولو حالت خراب دے- او دا شعر را یاد یږی چا چه پکښے نبی کریم صلے الله علیه وسلم ته فریاد کړے دے-

اے بہ سرا پردۂ یثرب بہ خواب

خیز کہ شد مشرق و مغرب خراب

(اے چه په یثرب کښے په خوابږۂ خوب اوده ئے- را ویښ شه مشرق نه تر مغربه امت د تول تباه شوځه امداد ئے اوکړه)-

یو څل یو صاحب ماته را غلو وے چه د د اکټری تحقیق نه دا ثابته دَه- چه په منی کښے (د نارینه په مادۂ تولید کښے) نری نری چینجی وی (کروموسوم) په رحم کښے د ماشوم تخلیق د هغے نه کیږی- وے چه د د یرے موده را سے څه دا ارمان وو که دا نظریه د قرآن شریف نه ثابته شی نو بیا به وی- یوه وړوکے تلاوت کولو- دے آیت مبارک ته غور فکر شو- خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ- او علق شوری ته والئ نو د یر خوشال شوم- (چه د دے- نظریے تائید د قرآن شریف نه اوشو) نو اوس تاسو خپله فکر اوکړئ چه د دے آیت نه د دے نظریے تائید کیدے شی؟ چرته شوری او چرته خو دبینی نری نری چینجی چه په سترګو لیدے هم نشی- چرته د د اکټرئ- تحقیق او چرته قرآن شریف- داخو دا سے خبره دَه لکه یو سړے چه د د اکټرئ په کتاب کښے د پیزار کنډلو طریقه لټوی- یا د طب په کتاب کښے احادیث

لټوی - او یو صاحب داسے کړی هم وو - (حضرت فرمائی) مانه ئے طب اکبر یا میزان الطب را وړو - وے چه تهٔ د بسم الله د رسم (یعنی د وړو په سبق شروع کولو ته خلق را غونډول او خوارهٔ ویشل وغیره) خلق منع کوے - حالانکه دے کتاب کښے لیکلی دی چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم چنل نمسے حضرت حسن رضؓ یا حضرت حسین رضؓ د څلورو کالو څلورو میاشتو او څلورو ورځو په عمر کښے په سبق کینولو نو خلق ئے راجمع کړی وو - دعوت ئے ورکړے وو - نو صاحبانو د کوم فن کتاب چه وی هغے کښے د هغے فن مسئله کتل پکار دی - (دے کتاب نه اوس دا مسئله حکه نهٔ ثابتیږی چه هیڅ پته نهٔ لګی - دے لیکونکی داخبره د کوم ځائے نه راویستے ده - هیڅ حواله ئے نهٔ ده ورکړی - د نبی کریم صلے الله علیه وسلم د څوند خو هره خبره محفوظه ده - (که دے سره ئے د احادیثو د کتاب حواله ورکړے وے نو بیا به تر مسئله ثابته شوی وه - مترجم) -

نو اوس تاسو چنله غوږ او کړئ - قرآن شریف د تاریخ - جغرافیئے د سائنس یا جسمانی طب کتاب خو نهٔ دے چه د ماشوم د تخلیق تحقیق ورکښے او کتے شی - یا د بتے پوځی دارو پکښے او لټولے شی - قرآن شریف خو د روحانی طب او د نفس د اصلاح کتاب دے - د نفس د اصلاح تجاویز پکښے کتل پکار دی نور څیزونه پکښے لټول غلط کار دے - لکه څنګه چه د جسمانی طب په کتاب کښے د جاموګنډلو او پیزار ګنډلو طریقے یا نور داسے د کار یکړئ چلونه لټول غلط دی دغه شان په قرآن شریف کښے د نفس د اصلاح نه علاوه نورے خبرے لټول غلط کار دے - په قرآن شریف که نورے څهٔ خبرے را غلی دی - هم د روحانی مرض د اصلاح په ضمن کښے - راغلی دی - د اصلاح په غرض لکه په روحانی مرضونو کښے یو مرض د الله تعالے د اوصافونه د بے خبرئ مرض هم دے - نو د دے مرض د اصلاح د پاره

Scanned with CamScanner

الله تعالے فرمائی - اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّیْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰیٰتٍ لِّاُولِی الْاَلْبَابِ ط (بیشکه د اسمانونو او زمکے په پیدا کولو کښے او د شپے ورځے په بدلون کښے د عقل د خاوندانو د پاره د الله تعالے د قدرت ډیرے نشانے دی) نو د الله تعالے د ذات او صفاتو او د هغه د قدرتونو معلومولو د پاره د قدرت په دے کاریګرئ کښے غور پکار دے - یعنی د اسمانونو او زمکے په وجود او د شپے ورځے په بدلون کښے چه کله شپه اوږده شی ورځ لنډه او کله ورځ اوږده شی شپه لنډه شی او ورسره موسمونه بدل شی کله ګرمی شی کله یخنی کله درمیانه موسم شی وغیره په دے غور پکار دے - لیکن په دے حیثیت نه چه اسمان د نرم څیز نه جوړ دے که کلک نه - او زمکه غونډه ده که پلنه وغیره بلکه په دے حیثیت په غور پکار دے چه خالق کائنات د انسان د فائدے د پاره څومره ښه ښه څیزونه اعلیٰ کاریګرئ سره پیدا کړی دی چه کوم نه کاله راسے د انسان په خدمت کښے لګیا دی او هیڅ فرق پکښے نه راځی نو قرآن شریف کښے د سائنس څه مسئله د سائنس په حیثیت نه ده راغلی بلکه عبرت اخستو د پاره او د انسان د روحانی اصلاح په غرض راغلی ده او دا د قرآن شریف کمال دے - لکه څنګه چه د طب د کتاب کمال دا دے چه د جسمانی صحت د خبرونه علاوه پکښے نورے خبرے نه وی - نو اے مسلمانانو دا د قرآن شریف انتهائی کمال دے چه د انسان د روحانی صحت متعلق خبرونه علاوه پکښے فضول خبرے نشته او نه د دے څه ضرورت شته چه قرآن شریف کښے د سائنس متعلق خبرے بیان شی -

پئے نقاش احتیاجے نیست دیوار گلستان را -

(د باغ دیوال باندے د کاریګر د لاس رنګینه ګلونو جوړ ولو نه ضرورت نشته باغ خو د اصلی خوشبویه ګلونو نه ډک دے) - که قرآن شریف کښے

دا قسم خبرے وے نو بیا به د سائنس کتاب وو د سروحانی طب کتاب به نۀ وو۔ نو قرآن شریف نه چرا شیمی ثبوت پیدا کول د کم عقل دوستی دَه ۔ چه د دشمنئ په مثال دَه ۔ (حضرت فرمائی) اونۀ خو دا وایم که د علق دا معنیٰ وی نو څۀ وجهه کیدے شی چه نه ئے نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا معنیٰ بیان کړی دَه نۀ اصحابِ کرام او نۀ مشرانو مجتهدانو عالمانو ۔ که اوویلی شی چه هغه وخت کښے دا تحقیق نۀ وو شوے ۔ اوس اوشو نو اول خو په دے کښے د چپلو مشرانو د ناپوهئ اقرار دے او بل که یو بے دینه درته او وائی چه ستاسو قرآن نازل شوے ستاسو په رسول دے او لوستے وے نه اصحابو او تابعینو دے او پوهه شوی په موږه یو نو د دے به څۀ جواب ورکړے ۔ اوکه قرآن شریف دومره وسیع وی چه هرڅۀ پکښے څائے کیدے شی نو بیا پکښے د چپلو چپلوانو نومونه هم ننه باسئ ۔ لکه یو لطیفه مشهوره دَه چه په یو کلی کښے درے مشران وو ۔ ابراهیم ، موسیٰ او عیسیٰ ۔ یوه ورځ د کلی امام صاحب د سحر مانځه کښے سورت سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى اووے چه په آخر کښے ئے راځی فِیْ صُحُفِ اِبْرَاهِیْمَ وَ مُوْسٰی ۔ په دے باندے هغه درېیم مشرخفه شوچه د دے د واړو نومونه د مانځه کښے واخستو او څانونو د پرېښنو ولے نۀ د دے کلی مشر نۀ یم څۀ ۔ امام صاحب مجبور شوچه بله ورځ ئے هم دغه سورت اووے او ورسره ئے عیسیٰ نریات کړو ۔ د کلی مشر ئے راضی کړو ۔ خپله امامتی ئے بیخ کړه که مونځ خراب شو خیر دے ۔

(حضرت فرمائی) په یو څائے کښے راته یو ورز یو ډاکټر صاحب اووے په نوی تحقیق دا ثابته دَه چه څنګه په حیواناتو کښے جوړے وی نر او بنځۀ ۔ دغه شان نباتاتو (بوټو کښے هم) نر او بنځۀ وی ۔ څا دا خواهش وو که دا خبره د قرآن نه ثابته شی نو ډیره به ښه وی ۔ د ډپټی صاحب په ترجمه کښے م اولټوله خو کامیاب نشوم ۔ بیا یو ورز بنځے م د سورت یٰسین تلاوت کولو

Scanned with CamScanner

چه دا آیت مبارک ځ او وے - سُبْحَانَ الَّذِیْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ کُلَّهَا مِمَّا تُنْبِتُ الْاَرْضُ - نو زما زړه خیال شو چه هغه مسئله خو په دے آیت مبارک کښے راغله نو دیر خو مثال شوم - صاحبانو دا لیونتوب نه دے نو څه دی دِ دے آیت مبارک دے مسئلے سره هیڅ تعلق نشته - دِ زوج معنیٰ خاص نر سنځه نه دی دِ زوج معنیٰ ده جوړه دِ هر څیز جوړه چه وی - لکه ویلے شی زَوْجَیِ الْخُفِّ دِ ماسیو جوړه - زَوْجَیِ النِّعَالِ - دِ پیزار جوړه - وغیره - په دے آیت کښے دِ بوټو مختلف اقسام مراد دی -

دا دوه خبرے خو مے دِ مثال په طور بیان کړے - نورے هم دیرے خبرے دا سے دی چه یقینی نه دی او قرآن شریف سره ځ هیڅ تعلق - نشته او دوئی ځ قرآن شریف کښے ورننه باسی -

(حضرت فرمائی) او زړه دا وایم که دِ قرآن شریف بنیاد دِ سائنس په دے ظنی مسئلو کیښوے شی - او څو ورځے پس دِ سائنس دا دعوے غلطے ثابتے شی نو بیا به څه کوئ - بے دینه خلق به دا ورته وائی چه - ستاسو عالمانو به وے چه دا دِ قرآن خبره ده او دا غلطه ثابته شوه نو نعوذ باالله دِ قرآن غلطی ثابته شوه - دِ دے به بیا څه جواب کوئ - افسوس چه نن موږ دے دِ تحقیق د عویدا سو سرونو په دے خبره هلو سوچ نه دے کړے - دوئی دِ دے خبرو په خرابئ نه پوهیږی او نه پوهیدے شی - ځکه چه دِ پوهے دوه ذریعے دی - یو څپل تحقیق نو دِ دے خو دوئی سره سامان نشته - دویم دِ پوهه عالمانو تقلید یعنی دِ عالمانو خبره منل په هغے دوئی ته شرم ورځی - او مزیداره خبره خو دا ده چه دِ قرآن شریف نه ځ دِ ثابتولو کو شش کوی خو دِ ثابتولو چل ځ نه ورځی - لکه یو صاحب اعتراض کړے وو - چه دِ زمونږ سائنسی حکم په قرآن شریف کښے نشته - بل ورته جواب ورکړو چه زړه

ئے درتہ د قرآن شریف نہ ثابتولے شم - اوگورہ قرآن شریف کښے د موسیٰ علیہ السلام او هارون علیہ السلام په واقعاتو کښے دی چه هارون علیہ السلام وړتہ اووے - قَالَ ابْنَ اُمَّ لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْ (اے حُما څکه سړوړه ما د بڼیرے نه مهٔ نیسه او مهٔ م د سر نه نیسه) که د هارون علیہ السلام بڼیره نهٔ وے نو موسیٰ علیہ السلام به ترڅنګه نیوو - په دے جواب هغه متعرض غلے شو - حالانکه دے جواب نه صرف دومره ثابته شوه چه د هارون علیہ السلام بڼیره وَه - د بڼیرے وجود تر ثابت شو وجوب خو ئے ثابت نشو - په دے کښے د بڼیرے ساتلو حکم خو نشته -

(حضرت فرمائی) بل وخت چه ما هغے جواب ورکوونکی ته د هغه د جواب حقیقت واضح کړو نو اوئے وے خیر دے معترض خو م غلے کړو - نو صاحبانو عالمانو ته خو په دا سے جواب شرم وړتلهٔ پکار دی -

دا ټول خرابے د دے نه جوړیږی چه د جواب ورکوونکی نیت خراب نهٔ وی خو هغوئ دا غواړی چه په هره طریقه چه وی چه د - معترض اطمینان اوشی - هغوئ وینی چه نن صبا خلق د آیت نه بغیر خبره نهٔ منی نو هغوئ دا کوشش کوی چه د شریعت هر حکم د قرآن نه ثابت کړی او د دے په نتیجه کښے د قرآن شریف تحریف شروع شی - اصل خبره دادہ چه عالم ته د سائل قابع کیدل نهٔ دی پکار - د وخته وړته تحقیقی جواب ورکول پکار دی د هغهٔ تسلّی په کیږی او که نه -

مثلاً د بڼیرے ساتلو متعلق تحقیقی جواب دا دے - چه د دے په وجوب باندے د قرآن نه دلیل پیش کول ضروری نهٔ دی اصل کښے د تاسو د دے سوال نه دا معلومیږی چه د شریعت هر حکم د قرآن شریف نه ثابتول ضروری دی - تاسو سړه د دے څهٔ دلیل دے - که هغه دلیل پیش کړے شو نو په موږ به ئے جواب ضروری شی او که دلیل ئے پیش نهٔ کړے شو

Scanned with CamScanner

نو موبن ورته وایو چه د شریعت څلور دلیلونه دی - قرآن شریف - حدیث شریف - اجماع - قیاس - په دے څلورو دلیلونو کښے په هر یو دلیل چه یو مسئله ثابته شی هغه شرعی حکم دے - او که په یو دلیل هم ثابت نۀ وی هغے ته شرعی حکم ویل غلط دی - د دے په تائید کښے درته نۀ یو قانونی نظیر پیش کوم - مثلاً یو سړی په عدالت کښے په چا دعوه اوکړه - عدالت ورته اووے گواهان پیش کړه - هغه د قانون مطابق داسے گواهان پیش کړی چه مدعی ورباندے څه جرح اونکړے شوه اوس په چاچه دعوه شوی وی هغه ته داحق نشته چه اووائی نۀ داگواهان نه منم که جج صاحب چپله گواهی ورکړی یا فلانے فلانے - گواهی ورکړی نو نۀ به ئے اومنم - داگواهان نه منم - عدالت به ورته وائی چه یا په دے گواهانو جرح اوکړه - ثابته کړه چه د دوئی گواهی دروغ دَه یا به دا دعوه منی ستا داحق نشته چه خاص گواهان اوغواړی دغه شان دلته هم د شریعت په څلورو دلیلونو کښے په هر یو دلیل چه خبره ثابته شی هغه د شریعت حکم دے داحق چاته نشته چه اووائی چه خاص د قرآن نه دلیل پیش کړه - د دے مطلب خو داشوچه دا نور درے دلیلونه هغه نۀ منی - البته که څوک په دلیل باندے جرح اوکړی او وائی چه دامسئله په دے دلیل نشی ثابتیدے - نو بیا د عالمانو په ذمه د دے جرح جواب ورکول ضروری دی - لیکن نن صبا څنه عالمانو داطرز پریښے دے - د اعتراض کوونکو تابع شوی دی - هغوئی چه څنگه جواب غواړی په هغه شان د جواب ورکولو کوشش کوی - لیکن ترکومے آخر په لاجواب کیږی - هرحکم خو د قرآن شریف نه ثابتیدے نشی - نو بهتره دادَه چه د وخته ورته تحقیقی جواب ورکړے شی چه د اعتراضونو لاره ځے بنده شی -

یادلرئ۔ دِ شریعت هرحکم قرآن شریف نه ثابتول د پرګران دی احادیث او فقهه دِ قرآن په حکم کښے دی دِ دے مثال دا سے دے لکه دِ محمودخان دِ مطب نه څوک نسخے راجمع کړی۔ یو سړی دِ هرے سره اولیکل چه دادِ صفرا دِ غلبے دِ پاره دَه او دا دِ بلغم دِ غلبے۔ دِ پاره دَه وغیره وغیره۔ بل سړی هم دا نسخے دِ ابوابو په ترتیب راجمع کړے چه دادِ خپلے دِ مرضونو نسخے دی۔ دادِ سَړِ دِ مرضونو دادِ ستړکو او غوږونو وغیره نو دا څوک ننشی ویلے چه هغه دِ حکیم محمودخان مطب نسخے دی او دانۂ دی۔ بلکه دا به ویلے شی چه دواړه یو دی خو ترتیب ے بدل دے او دا به ویلے شی۔ عِبَارَاتُنَا شَتّٰی وَحُسْنُکَ وَاحِدٌ وَکُلٌّ اِلٰی ذَالِکَ الْجَمَالِ یُشِیْرُ ۔(ستا حسن هم هغه دے خو تعبیرونه جدا جدا دے او هریو د ستادِ جمال صفت کوی)۔

به هر رنگے که خواهی جامه می پوش
من انداز قدت را می شناسم

(هر رنګ جامے چواغوندے خو ما نه ننشے خطا کیدے نۂ دِ قد پیژنم) خو دے پیژندګلو دِ پاره طلب شرط دے۔ که طلب نۂوی نو هیڅ ننشته طلبګار نه په حدیث او فقهه کښے هم قرآن نښکاری۔ دِ دے۔ افتراق او انتشار وجهه صرف دادَه چه طلب ننشته۔ دِ عاشق خو دا شان وی۔

بس که درجانِ فگار وچشم بیدارم توئی
هرکه پیدا میشود از دور پندارم توئی

(بس خُما په زخمی زړه او شوګیرو وهلو ستړکو کښے خو هم ته ئے څوک چه دِ لرے نه را ښکاړه شی نۂ وایم که ته راغلے) (دستا په انتظار کښے

م داحال دے)۔ څوک چه د حق طلبګار وی هغه به قرآن، حدیث او۔ اجماع جدا جدا نه ګڼی ۔ لیکن دے سړه سړه داخیال هم پکار دے چه لکه څنګه چه کله کله محبوب په بدله جامه کښے راشی دغه شان کله کله غیر هم د محبوب په جامه کښے راشی نو سوچ پکار دے او امتیاز ضرور ی دے چه خطا نشئ ۔ نن صبا دامرض هم ډیر شوے دے۔ چه د محبوب په ګومان په غیر باندے عاشقان شوی دی ۔ داهغه خلق دے چه د شریعت د تابعدارئ دعوه کوی خو په دے کښے د حد نه وتی دی (بدعتونه ئے شریعت کښے ننویستی دی)۔

نو یوے ډله خو تابعداری بالکل پریښی ده بے دینئ ته رسیدلی دی ۔ او بله ډله تابعدارئ کښے دومره زیاته کوی چه بدعاتو کښے مبتلا شو ۔ او چې لږ سمونو ته ئے هم د شریعت د حکم درجه ورکړه او په عبادت کښے ئے او شمیرل ۔ دے کښے ځنه واجونه که ناجائز نه دی ۔ بیا هم عبادت ګڼل ئے غلطی ده ۔ ځکه چه عبادت هغه شے دے چه شریعت کښے په د ثواب وعده شوی وی ۔ او په دے واجونو د ثواب وعده په یو آیت یا حدیث کښے هم نشته۔

غرض داچه دے وخت کښے د مسلمانانو دوه ډله جوړے شوی دی او دا دوه مرضونه عام شوی دی (۱) د قرآن شریف نه علاوه نور شرعی دلیلونه نه ګڼل ۔ یعنی د فقهاو احادیثونه انکار ۔ (۲) غیر شرعی کارونه شرعی ګڼل کوم چه بدعت دے ۔

د نبی کریم صلے الله علیه وسلم په امت کښے د اثرخاوندان دوه ډله دی ۔ (۱) امیران او (۲) فقیران یعنی پیران ۔ او د دے دواړو ډلو حالت ډیر خراب دے ۔ د اولے ډلے په وجهه خلق کښے بے دینی خوریږی او د دوهمے ډلے په برکت بدعات خوریږی ۔ دریمه ډله د عالمانو

Scanned with CamScanner

دَه - خو دِ دوئ په وجهه ډیره کمزوری نه خوریږی ځکه چه په عوامو کښے ئے اثر ډیر کم دے - او دِ کومو عالمانو چه څۀ لږ ډیر اثر شته هغه هم دِ هغوئ د فقیرئ او درویشئ دِ خیالاتو په وجهه دے خالص دِ علم په وجهه په عوامو کښے دِهیڅا هم خاص اثر نشته - کوم چه تش عالم ګڼلے شی - نو عوام خوک دِ هغۀ بے عزتی اونګړی دا هم غنیمت دے خبره خو ئے هیڅوک هم نۀ منی نو دا صوفیان عالمان دِ چاچه څۀ قدر ے عزت شته - په دویمه ډله کښے - شامل شو - ځکه چه دا عزت ئے دِ تصوف په وجهه دے دِ علم په وجهه نۀ دے - البته دِ یو دا سے عالم چه صوفی نشی ګڼلے کے څه قدر ے عزت وی نو دِ هغه دِ ذاتی وجاهت په وجهه به وی - نو دا هم په ډیرښتئ ډله کښے شمار شو - او اکثر خلق خپل نسبت هم دا سے وجاهت والا عالم تر کوی - ځان دِ هغۀ په شاګردانو او تابعدارو کښے شمار ی چه دے کښے خپل عزت ګڼوی - نو ډلے هم هغه دوه پاتے شوے - امیران او پیران دِ عالمانو که څۀ قدر کیږی نو یا دِ فقیرئ په وجهه یا دِ وجاهت په وجهه خالص دِ علم هیڅ قدر نشته - که خالص دِ علم قدر وے نو دِ دینی طالبانو قدر به کیدو ځکه چه هغوئ علم حاصلوی -

(حضرت فرمائی) نور وند به څۀ ګیله کوم - نۀ خپل نۀ پرۀ کښے هم دا حالت وینم چه دِ طالبانو قدر څومره چه پکار دے دومره پکښے نشته - دے نه معلومه شوه چه خالص دِ عالم په حیثیت دِ عالمانو په عوامو څۀ خاص اثر نشته - دِ یو مالدار کره دِ مدرسے دِ یو طالب سره وتئ مقرره وَه - اکثر چه به سره وتئ پسے لاړو نو ډیر وخت به ئے په انتظار تیریدو - هغۀ دا خیال او کړو چه دا وخت ډم هسے بربادیږی نو که دے کښے دِ دین څۀ خدمت اوشی ښه به وی - هغے سړی ته ئے او وے نۀ دلته ډیر وخت هسے ناستیم نو که په دے وخت کښے مستاوړو کے بچے څۀ سبق او وائی نو ښه به وی - هغه

Scanned with CamScanner

ورته جواب کښے او وے - نه صاحبه - زهٔ خپل خوئے ملا کوم نه - ته ډیر - عربی سبق وائے نو خما په دروازه کښے ولې ته ناست ئے - خما خوئے به هم بیا ډیر بل چا دروازے ته ولاړ وی دا نهٔ شم کولے - دے نه معلومه شوه چه خلق طالبانو ته او دینی علم ته په کوم نظر کوری - او په زړهٔ کښے ئے د علم څهٔ قدر دے - نو هرکله چه خالص د علم په وجهه د عالمانو هیڅ اثر په عوامو نشته نو بیا عالمان څانته درنه ډله ولے اوهنلے شی - خو بس دغه دوه ډلے اثر والا دی - عالمانو ته په خپل حالت غور پکار دے او د خپل حالت د اصلاح ورته څهٔ غم پکار دے - دے حالت بدلولو د پاره عالمان څهٔ اوکړی ؟ امام غزالی لیکلی دی عالمانو ته استغنا پکار ده - فرمائی -

اَرَی الْمُلُوْکَ بِاَذْنَابِ الدِّیْنِ قَدْ قَنَعُوْا
وَ مَا اَرَاهُمْ رَضُوْا فِی الْعَیْشِ بِالدُّوْنِ
فَاسْتَغْنِ بِالدِّیْنِ عَنْ دُنْیَا الْمُلُوْکِ کَمَا
اِسْتَغْنَا الْمُلُوْکُ بِدُنْیَاهُمْ عَنِ الدِّیْنِ

(زهٔ ویم چه بادشاهان د دین په کار کښے په لږ څهٔ راضی شوی دی او داخیال رم نهٔ دے چه د دنیا په کار کښے به په لږ څهٔ راضی شی = نو ته په دین باندے د هغوئ د دنیا نه بے پروا شه - لکه هغوئ چه په دنیا د دین نه بے پروا شوی دی) - که دنیا دار د مال په وجهه عالمانو نه بے پروا شوی دی - نو تاسو د خپل علم په برکت هغوئ نه بے پروا شئ -

(حضرت فرمائی) زهٔ د خپل خدائے په اعتماد وایم که عالمان د دنیادارو نه بے پروا شو - د هغوئ دیرو ته نهٔ ورځی او مدرسو د پاره تر - چندے نهٔ غواړی - نو الله تعالے به ئے د غیب څهٔ امداد اوکړی - د دین کار به جاری وی بندیزی به نه - بلکه خپله دا دنیا دار چه اوس عالمانو

تر سپک کوری بیا به عالمانو تر محتاج وی - او منتونه او زاریُ به وړته کوی - حُکه چه هر مسلمان په حیثیت د یو مسلمان څنگه چه دنیا تر په قدر د ضرورت محتاج دے دغه شان دین تر هم محتاج دے - هر مسلمان جاهل وی که عالم مالدار وی که غریب دینی مسئلو تر ضرورت ړاځی - او عالم تر محتاج کیږی - د خدائ په فضل عالمانو سړ په قدر د ضرورت دنیاوی علم هم شته دنیا دارو تر ئ څۀ حاجت نۀ وی - او دنیا دارو سره د دین علم هیڅ نۀ وی - نو په مرگ شوند - مونځ روژه - حج زکوة وغیره دینی ضروریاتو کښے عالم ته محتاج وی - او که څوک وائ چه ماته د دے مسئلو ضرورت نشته نو هغه به بیا هدو مسلمان نۀ وی - غرض داچه که عالمان دنیا دارو نه څان ړا ونخاړی نو یو وخت به ضرور داسے ړاځی چه دوئ به پکښے عالم ته محتاج وی په مونږ خلق کښے (یعنی عالمانو کښے) داکمے دے چه الله تعالے سړ خپل تعلق نه مضبوطوو په ظاهری اسبابو پسے کړځو - په اسبابو مونظر وی او مُسَبِّبُ الْاَسْبَابُ مونظر کم دے - که الله تعالے سره مونعلق مضبوط کړو نو هیڅ تر به مو حاجت نۀ وی بیا به موخلق م قدر کوی البته عالمانو تر د بدخوئ اجازت نشته - استغنا بیل شے دے او بدخوئ او ترښ سړوئ بیل شے دے - حُنه خلق په دے د واړو کښے فرق ونشی کولے - نو مونږ مشر حاجی امداد الله صاحب رحمة الله علیه به فرمائیل - مونږ سره چه کوم دنیا دار ړاځی مونږ تر د هغوئ دیر قدر او خاطر پکار دے فرمائیل به ئے نِعْمَ الْاَمِیْرُ عَلٰی بَابِ الْفَقِیْرِ وَ بِئْسَ الْفَقِیْرُ عَلٰی بَابِ الْاَمِیْرِ - (کوم امیر چه د درویشانو دروازے تر وړاځی هغۀ ښۀ سړے دے او کوم درویش چه د امیرانو دربار تر وړاځی هغه ښۀ سړے نۀ دے) حُکه چه دنیا دار د درویشانو دربار تر د دین په غرض وړاځی نو د

هغۀ ډډے جذبے قدر پکار دے - بلخوئی ښه نۀ دَه - البته استغنا پکار دَه -

خیر دا خبره خو هسے ضمناً راغله اصل خبره زم دا کوله چه نن صبا دعالمانو څۀ قدر نشته - اوپه عوامو ئے اثر نشته - څوک چه کوړے په عالمانو به - اعتراض کوی او مشوړے به ورکوی چه عالمانو ته دا سے کول پکار دی او دا سے کول پکار دی -

(حضرت فرمائی) یوه وړاز یو سړے عالمانو ته ډیر قاروو په جوش کښے ئے وړپسے بَدْرَدْ وے - ما وړته څۀ ساعت خو صبر اوکړو - ډیلمستیا قدرم ئے کولو خوچه ډ حد نه ړیاتے ئے شروع کړو - نو وړنه زم تپوس اوکړو چه آخر عالمانو گناه څۀ کړی دَه چه دومره وړته قار ئے - راته ئے اووے چه عالمان خلق ډ انگریزی تعلیم نه منع کوی او دا ډ قوم ډ - تَنَزُّلْ سبب دے - نن صبا ترقی ډ پاره ډ انگریزی تعلیم ډیر ضرورت دے - ما ورته اووے چه اول خو دا غلط دَه چه عالمان څوک ډ انگریزئ څېے نه ده کولو نه منع کوی - نو ډ انگریزئ ډ جواز او نۀ جواز نه قطع نظر دا راته اووایه چه ډ عالمانو په قوم څۀ اثر شته ډ هغوئ په خوله څوک ډ انگریزی سکولونو نه بچی منع کوی او عربئ نه ده کولو ته ئے راستوی - که دا سے نۀ وی که ډ عالمانو ډ خبرو څۀ خاص اثر په قوم نۀ وی نو بیا عالمانو قوم ته څۀ نقصان اورسولو - ډ عالمانو نه قوم ته هیڅ نقصان نۀ دے رسیدلے - ډ قوم ډ تنزل سبب دا دے چه خلق - ناراسته شوی دی - ډ کار غلۀ دی او ارام طلبه دی - جفا کشی پکښه نشته - محنت نۀ کوی - خکه ترقی نشی کولے - کار ترخپله نه کیږی او الزام په عالمانو لگوی - دا هسے بهانے دی - څۀ وجهه دَه چه قوم ډ عالمانو نورے خبرے نۀ منی او دا یوه ئے منلی دَه - اصل خبره دا دَه چه دا ئے ډ

چې حالت سره او د نفس د خواهش سره موافق دی- والئ چه یو سړی نه چا
پوښتنه اوکړه وچه د قرآن کریم په آیتونو کښے د کوم آیت مبارک څیر خوښ
دے هغه وړته اووے - کُلُوا وَاشْرَبُوا (خوړئ اوڅکئ) بیا ئے وړته
اووے قولو دعاګانو کښے د کومه دعا څیر خوښه دی- هغه وړته اووے
رَبَّنَا اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ (اے زمونږ ربه د اسمان نه مونږ ته
یو دسترخوان راکوزه کړه) نو آیا داڅوک ویلے شی چه دا سړے په قرآن
عامل دے د قرآنی آیتونو سره ئے مینه دی- هرګز نه - دے خو د چې
نفس تابع دے - داحال نن صبا د عالمانو د تابعدارۍ وهم دے - چه صرف
هغه خبره ئے منی کومه چه ئے د چې خواهش موافق وی-

د دے قول تقریر نه دا ثابته شوه چه په عوامو د عالمانو څه خاص
اثر ننشته په عوامو کښے څه اثر کړے نه نو د امیرانو او پیرانو دے - او
قوم کښے څومره خرابئ چه خوړیږی د دے دوو ډلو په برکت خوړیږی
امیران پکښے بے دینی خوړ وی - او پیران په بدعتونو کښے ډوب دی
بدعتونه په قوم کښے هم خوړ وی - نو د کوم قوم چه طبیبان چې له مریضان
وی د هغوئ د مریضانو چه به څه حال وی څرګنده خبره دی - د
عالمانو اول ځی په عوامو اثر ننشته او بل دا خبره هم ده- چه عالم که بے عمله
وی نو ځان چې له ګنهګار کړی نو ړو خلق ته دا لاره نه بنئ- چې له هر
څنګ چه وی - نو ړوته ګمراه لار بنئ نو عالمانو نه قوم ته ډیر نقصان
نه رسی - برخلاف د دے امیران او پیران چه څنګ وی نو ړ خلق هم هغے
لارے ته لاړ وی که چې له دوزخ ته روان وی نو خلق هم په هغه لار
روان وی - نو د دے دوو ډلو نه قوم ته ډیر نقصان رسی -

یو ترقی پسند په یو رساله کښے دا مضمون شائع کړے وو چه د اسلام
په ترقئ کښے غټ خنډ مونږ دے - که قولو عالمانو په اتفاق سره په جمع

Scanned with CamScanner

مسلمانانو څخه معاف کړو نو اسلام به ډیره مرتی اوکړی - داحال دے
د دولتی د علم - (مونږ څخه عالمانو خو نه دے مقرر کړے چه عالمان ئے
معاف کړی - مونږ خو خالق کائنات فرض کړے دے - او هیڅاته ورکښے
د دخل څخه اختیار نشته) - البته دادہ چه څنه عالمانو د شروند دا سے طرز
اختیارکړے دے - چه په دنیا دارو کښے د هغوئی په وجهه د علم نه نفرت
پیدا شو - یعنی څنه عالمانو دنیادارو سره تله راتله او ګډون دومره -
نرمات کړو چه د هغوئی د هرے خبرے په تائید کولو مجبور شو - په دے
وجهه دنیادارو داخیال اوکړو چه عالمان به قول هم دا سے وی -
د تونک د ریاست یوه واقعه دَه چه یو مالدار بزیره کلوله یو عالم وته
نصیحت اوکړو او په هغه ئے اثر اوکړو - د بزیرے ساتلو ارادہ ئے اوکړه
په دے مجلس کښے یو بل سړے هم ناست وو چه د عالمانو په شان جامه
او شکل ئے جوړ کړے وو - هغه دے مالدار ته اووے - بزیره هرکلی
مه پریږده - دے کښے سپینے کیږی اونه پکښے کوی - تاسو خپله خیال
اوکړئی اوس د مخ مالدار سړی په زړه کښے به د دا سے ملاانو قدر
پاتے شی -

د دا سے اخلاقو وجهه اکثر خاندانی کمزوری وی - (حضرت فرمائی)
په دهاکه کښے راته یو سړی اووے - څه وجهه دَه چه انګریزی خوانان
اکثر باهمته - عالی حوصله او جفاکش وی - او عربی خوان هلکان کم همته
تنګ نظره او بے حوصله وی - د هغه داخیال وو چه دا فرق د انګریزی
تعلیم په وجهه دے ما وړته او وے - چه دا اوچت اوصاف خاندانی اثر
دے - کوم چه د اوچت خاندان هلکان دی هغه به د اوچتو اخلاقو -
خاوندان وی که عربی او والی که انګریزی - او کوم چه د کمزوری
خاندان هلکان وی هغوئی که د انګریزئی اوچته دکری واخلی هم هغه اوچت

Scanned with CamScanner

اخلاق به پکښے پیدا نشی کوم چه د اوچت خاندان اثر دے۔ بلکه اکثر دا لیدلی شوی دی چه د کمزوری خاندان هلکان چه عربی او وائی نو اخلاق ئے څۀ نۀ څۀ سنۀ شی اوکه انګریزی او وائی نو بالکل برباد شی۔ د انګریزئ او عربئ پوره مقابله هلۀ کیدے شی ۔ چه د یو خاندان او یو طبیعت دوه۔ هلکان تجربے د پاره خوښ کړے شی ۔ یو عربی تعلیم ته کړی او بل انګریزی تعلیم ته لس کاله پس ئے بیا اندازه واخستے شی۔ اوچه د بد قسمتئ نه ۔ انتخاب داسے وی چه عربئ ته خو د کمزوری خاندان ۔ نایان ۔ جولاګان دوبیان ۔ چمیاران وغیره راځی او بیا په هغوکښے م هغه چه د قولو نه کم عقل او بے کاره وی چه په هغه خپل کسب کښے م منشی چلیدے۔ او انګریزئ ته په اوچتو خاندانونو کښے م هغه هلکان راځی چه په قولو کښے هوښیار او ذهین وی ۔ په هغوکښے م دیر تیز اوچت تعلیم ته اووځی۔ کمزوری لاندے درجو کښے پاتے شی ۔ چه داحال وی نو عربی به خپل اثر ترکوے پوره کوی ۔ په اوچتو خاندانونو کښے که چرته یو نیم هلک عربئ ته راشی نو هغه م هغه وی چه په قولو کښے غبی او نالائقه وی چه انګریزئ کښے منشی چلیدے۔ نو هر کله چه د قوم داحالت وی چه عربئ ته هغه ۔ هلکان راستوی چه نالائقه او بے کاره وی په انګریزئ کښے د چلیدو طمع نۀ وی نو په هغو کښے به بیا عالی همتی اولوړه حوصله د کوے راشی ۔ (حضرت فرمائی) ما وړته او وے ته ما سره لا پرشه چه دے ته او ښیم چه عالی همته عالمان داسے وی ۔

غرض داچه د داسے عالمانو نه چه مالدار وسره ئے کلونه دیر کړے وی دا غلطی کیدے شی چه د هغوئ د غلط کار تائید اوکړی او د منع کولو همت ئے اونکړے شی ۔ اونۀ خو دا وایم چه کامل عالم وی نو هغه به هیڅرے داسے بے همتی اونکړی ۔ که غوره اوکړے شی نو دا

بے ھمتی اکثر په دا سے کسانو کښے وی چه کامل عالم نۀ وی - بلکه هر وعالم نۀ وی هسے شکل ئے د عالمانو جوړ کړے وی ځکه چه علم یو کمال دے او د کمال خاصه ده استغنا - تاسو نۀ گورئ چه کوم ترکانې یا لوهار یا بل کاریگر چه په خپل فن کښے ماهر وی نو هغه څومره بے پروا وی د هیڅا خوشامنده نۀ کوی بلکه خلق ئے خوشامندے کوی - نو آیا علم کښے د دے معمولی کاریگرئ هومره اثر هم نشته ؟ ضرور شته - نو اوس موږ په یقین سره ویلے شو - چه کوم عالم کښے چه استغنا نۀ وی د هغه په علم کښے کمے وی (یعنی هغه کامل عالم نۀ وی) -

د علامۀ تفتازانیؒ واقعه ده چه د امیر تیمور دربار ته لاړ و - نو د تیمور خویو بښپه گوډه وه - هغۀ خپله گوډه بښپه غزولے وه - علامۀ تفتازانی چه کینا ستو نو یوه بښپه ئے اوغزوله په امیر تیمور بده اولگیده وړته ئے اووے - مارالنگ است (نۀ گوډیم) - امام تفتازانی وړته اووے - مارا ننگ است (ماته غیرت راځی) نۀ خو معذورو یم بښپه م گوډه ده ځکه م غزولے ده - علامه صاحب وړته اووے - نۀ هم معذورو یم ماته غیرت راځی - یعنی بادشاه چه ځامخکښے بښپه غزولی ده - دا د علم توهین دے نۀ دا نشم برداشت کولے نو ما هم اوغزوله - دادے د علم خاصیت چه بادشاه سره مخ په مخ دا سے خبرے کوی - کوم عالمان چه تاسو وینئ چه د امیرانو خوشامنلے کوی دا عالمان نۀ وی واعظان وی - یو څو د اردو فارسئ نظمونه ئے یاد کړی وی او د عالمانو په شان شکل ئے جوړ کړے وی د علم دعوه کوی او د علم بادم په نۀ وی لگیدلے - د جهالت ئے داحال وی چه یو واعظ په سورت کوثر وعظ کولو - د اِنَّا اَعْطَیْنَاکَ الْکَوْثَرَ ترجمه - ئے دا سے اوکړه - (اے محمد صلے الله علیه وسلم موږ تاته د کړود

7-50

Scanned with CamScanner

کوثر په شان)۔ دے جاهل ته دلهم نه وَه معلومه چه دا کاف دِ اَعْطَیْنَاکَ سره دے۔ دِ مخاطب ضمیر دے۔ دا کَالْکَوْثَرْ نه دے چه دِ مِثل معنیٰ ئے اوشی۔ دغه شان یو واعظ په کنګوه کښے وعظ کولو دِ جنت دوزخ ذکر به ړاغلو نو دوزخ ته به ئے دِ جهنّم په ځائے جهنډم وے ۔ معلومیږی داسے چه دے ظالم هډو چرته لیکلے لیدلے هم نه وو۔ تش دِ چا دِ خولے ئے غلط اوریدلے وو۔ دِ دے نه زیاته مزیداره واقعه دِ یو بل واعظ دَه۔ دِ سهارنپور په یوجات کښے ئے پتوس اوکړو چه دِ جمعے ورځ دَه۔ دلته څوک وعظ کوی که نا چا وړتة اووے نه۔ نو دِ جمعے ماخښ نه پس ئے آوان اوکړو۔ ډیر نږدے خلق حصار شو۔ واعظ صاحب په ممبر کیناستو۔ د سورتِ یٰسین یو څو آیتونه ئے غلط سلط اووے او بیا ئے څه کړه وډه ترجمه وکړه او دعائے اوکړه چه نن ستړے یم نور وعظ به بله وړځ اوکړم نو دِ پاره دا کافی دے۔ په حاضرینو کښے یو نابینا عالم ناست وو۔ ځان ته ئے ړاوبللو پتوس ئے تر اوکړو چه ستا تحصیل څومره دے (یعنی څومره علم دے حاصل کړے دے) هغه وړته په جواب کښے اووے ځما تحصیل ۱۰ پوره دے۔ حافظ صاحب پوئے شو چه سړے دِ تحصیل په معنیٰ پوهه نشو۔ نو صفائے وړته اووے چه کتابونه دے څومره ویلی دی۔ هغه وړته اووے۔ نورنامه۔ جنګ نامه دِ حلیے ابئ قصه۔ دِ آلِ نبی معجزه تولږم ویلی دی۔ ډیر وخت ته په څه پوهیږے۔ دا دِ واعظ صاحب علمی لیاقت وو او دائے دِ اخلاقو حال وو لیکن بیا هم دِ دے جاهلانو واعظانو نه عوام ته دیر نقصان نه رسی۔ ځکه چه څوک ئے معتقد نه وی نو قابلِ تقلید ئے نه ګڼی او خبرونه ئے څه اهمیت نه وړکوی۔ لیکن دِ هغے کسانو نه دیر نقصان رسی۔ چا چه ښه ښه اشعار او ښائسته ښائسته الفاظ او چسته چسته ادبی جملے

یادے کړی وی - په خوش آوازئ صوفیانه اشعار وائی - او مسلسل روان تقریر کوی دِ دریاب په شان په چپو وی - ته به وائے امام غزالی یا امام رازی ړا شوندے شوے دے - خوکه دِ علم پتوس لئے اوکړے نو هدایة النحو به ئے هم نه وی ویلے - دا سے خلق مسلمانان تباه کړل چنله هم غرق دی او نور ئے هم غرق کړل - غرض داچه په کاملو عالمانو دِ دے قسم الزام نشی لګیدے -

شاید چه څوک اووائی دِ عالمانو خپلو کښے دیر اختلاف دے - په دے وجهه خلق ګمراه شول - عوام نه پوهیږی چه دِ چا او منو - (حضرت فرمائی) زهٔ وایم که په دے وجهه ګمراه شو هم دِ خلقو قصور دے - دِ عالمانو قصور نه دے - ځکه چه اختلاف یواځئ په عالمانو کښے نه دے - په دنیا کښے غالباً یو فن هم داسے نشته چه دِ هغے فن ټول ماهران په هره خبره متفق وی - هیڅ اختلاف پکښے نه وی - مثلاً طب - ډاکټری - وکالت - تجارت - کاریګرئ غرض داچه دنیا کښے څومره فنون چه دی - دِ ټولو په ماهرانو کښے خپلو کښے اختلاف وی - که دِ دے ماهرانو اختلاف خلقو ته نقصان رسولے نو خامی دِ حکیمانو او ډاکټرانو اختلاف به خلق تباه کړی وو - آخر دے دِ پاره څهٔ تدبیر کولے شی چه خلق نقصان نه بچ کیږی - مثلاً یو مریض دِ پاره یو حکیم یو نسخه تجویز کوی او بل حکیم بله نسخه بالکل دِ هغے خلاف نو دِ حکیمانو په دے اختلاف کښے خلق مریض دِ نقصان نه څنګه بچ کوی ؟

په دے طریقه چه په یو خاص معیار دا معلومه کړی چه کوم حکیم زیات کامیاب دے دِ چا په علاج دیر مریضان جوړیږی - یا داچه کوم حکیم سره غټے ډګرئ دی - په کوم مشهور کالج کښے ئے سبق ویلے دے - دِ چا - مشهور حکیم شاګرد دے وغیره - نو دِ کامیاب حکیم نه علاج شروع کړی

Scanned with CamScanner

اوبل پریدی - نو صاحبانو که د عارضی خو وړو زمے څوندون د پاڼو د دے تدبیر ضرورت وے چه کامیاب حکیم لټولے او معلومولے شی - نو د دائمی څوند بنډ کولو د پاڼو داسے تدبیر ولے نشی کولے چه کامل عالم اولټولے شی او د هغه په خبره عمل اوشی - که د دے څوک ضرورت نه ګڼی خو ډیر افسوس دے د دوئ په اسلام - او که ضرورت ئے ګڼی نو څنګه چه د کامیاب حکیم په لټون کښے کوشش کوی او یو معیار ئے وړتیا مقرر کړے دے - مثلاً داچه د مشهور[1] کالج پاس وی - ډیر مریضان ئے په علاج بنډ کیږی - د دنیا حریص[3] او لالچی نه وی - په مریضانو[4] مهربانه او خوش[5] اخلاقه د مرض[6] په تشخیص کښے ماهر وی - دغه شان د عالم په انتخاب[1] کښے هم کوشش پکار دے - او د دے د پاڼو به هم یو معیار وی - لکه داچه د هغه[2] په لاس ډیر خلق هدایت موهی - په طالبانو[2] مهربانه وی - د دنیا[3] حریص نه وی - د ګناهونو[4] نه ځان ساتی پرهیزګاره وی - د یو[5] لوئے بزرګ په تربیت کښے ډیره موده پاتے شوے وی - د الله خوف په غالب وی - نو د داسے عالم په وینا عمل کوئ حکه چه هغه به درته د خدائے د ویرے سمه لار بنئ او غلطو کارونو نه به مو منع کوی - خو نورو عالمانو ته هم بدمه[7] وائ - بهرحال دا شک ختم شو چه د عالمانو د اختلاف په وجه خلق ګمراه شو - اوس صرف دوه ډلے پاتے شوے د چا په وجه چه ګمراهی خوږیږی یو امیران دویم پیران - چه د دوئ اکثریت ګمراه او ګمراه کوونکی دی - اِلّا مَا شَاءَ اللّٰه - څنه پکښے داسے هم پیدا کیږی چه ابراهیم ادهم[7] او جنید بغدادی[7] وړتیا ویل پکار دی -

د حضرت جنید بغدادی[7] دا حال ووچه یو سړے د ازهیښت د پاره وړ سره شوے وو - لس کاله ئے وړ سره تیر کړو - خو د بزرګئ عقیده ئے په زړه نه شوه - آخر ئے یوه وړځ وړتیا اووے چه ما د تا د بزرګئ د ډیر

شهرت اوږه ږیدلے وو - ما دومره لس کاله تیر کړل خو دِ تا یو کرامت هم
او نه لیدو - حضرت جنیدؒ وږته اووے په دے دومره موده کښے دِ نړۍ
په څۀ وړۀ ګناه یا غټه ګناه کولو لیدلے یم - هغۀ وږته اووے نه - په ګناه
خوږم نه ئے لیدلے - هغه وږته اووے آیا دا وړوکے کرامت دے چه بنده
په لس کاله کښے دِ چنل مولیٰ دِ ږضا خلاف هیڅ کار او نه کړی - دغه
شان دِ حضرت جنیدؒ یو بله لطیفه مشهوره ده دِ هغوئ په زمانه دِ
تصوف دِ یو څو دعویدارو د اخبره هغۀ ته اوږسیده چه هغوئ وائی
نَحْنُ وَصَلْنَا فَلَا حَاجَةَ لَنَا اِلَى الصِّيَامِ وَالصَّلٰوةِ (موږ واصل شوی شوو
حقیقت ته ږسیدلی یو نو اوس زمونږ ږوژے ضرورت نشته)
هغوئ اوفرمائیل - ږښتیا وائی ږسیدلی دی خو دونږخ ته - او بیائے
اوفرمائیل نړۍ کے زړ کاله شوندے یم هم به یو نفل مونږ هم ترک نه کړم
نو په دږویشانو کښے څنه داسے دی لکه دِ جنید بغدادی په شان او په
امیرانو کښے څنه دِ حضرت ابراهیم ادهم په شان هم مشته چه دِ الله په
مینه کښے لږ بادشاهئ ته لتۀ وږ کړه - لیکن په امیرانو کښے اکثریت
دِ بے دینو دے - او په پیرانو کښے دِ بدعت زوږ دے - دِ بدعتیانو
دِ یوے ډلے ذکر خوږم په مثالونو کښے اوکړو - لکه دِ ږمضان په
الوداعی خطبه زوږ وږ وکړل او په خاصو طریقو عید میلاد کول - دِ
بدعتیانو بله ډله هغه ده چه موږ ته (یعنی دیوبندیانو ته) وهابیان
وائی - (حضرت فرمائی) په دے خبره نړۍ تراوڅه پوئے نۀ شوم چه
موږ ته وهابیان ولے وائی - وهابیان خو هغه ډله ده څوک چه دِ
محمد بن عبدالوهاب نجدی اولاد یا دِ هغه دِ نظریاتو تابع دی -
دِ ابن عبدالوهاب تاریخی حالات لیکلی شوی دی - تاسو هغے کښه
اوګورئ نۀ دِ هغۀ دِ عقیدے په لحاظ زمونږ په مشرانو کښے څنګه ئ

Scanned with CamScanner

نه د نسبت په لحاظ - نو بیا موږ په کومه خبره وهابیان شو - البته
غیر مقلد وته وهابیان په دے لحاظ ویلے شی چه د هغوئ اکثر عقیدے
د ابن وهاب د عقیدو سره سمون خوړی - موږ خو پاڅهٔ حنفیان
یو داځو معلومه خبره دَه چه د شریعت اصول څلور دی - کتاب الله
حدیث رسول الله - اجماعِ امت او قیاس د دے څلورو نه علاوه بل اصل
نشته - اوس مجتهدان اگرچه پیر دی - لیکن د امت په اجماع دا ثابته دَه
چه د امت په مجتهدانو کښے د دے څلورو امامانو د مذهب نه وتل
جائز نه دی - څلور امامان دا دی - امام اعظم ابوحنیفه - امام
شافعی - امام مالک - امام احمد حنبل او چونکه په دے ملک کښے
زیات خلق د امام ابوحنیفه د مذهب تقلید کوی - موږ هم د امام
ابوحنیفه مقلدان یو - موږ په وهابی لقب بد نه کیږو - لیکن دا د
حقیقت خلاف دے - د قیامت په ورځ به درنه د دے بهتان -
پتوس کیږی - ما به درته ټول بدعات بیان کړی وو - خو یوځو
وخت نشته - بل په دے باندے عالمانو مستقل کتابونه لیکلی دی نو
د بیان خاص ضرورت ئے هم نشته - البته د بدعت پیژندو یو غټه
قاعده درته ښیم - کومه خبره چه د شریعت په څلورو واړو دلیلونو
کښے په یو هم ثابته نه وی او خلق ئے د دین کار کښی او د ثواب
په نیت ئے کوی هغه بدعت دے - اوس په دے غور اوکړئ چه
نه موږ داړو ونه چه کوم کار و نه کوی لکه عرس ونه - او په خاصه
طریقه فاتحه (خیرات) وغیره دا کار و نه د شریعت په څلورو اصولو
کښے په یو هم ثابت نه دی - او دوئ ئے د دین کار کښی او د
ثواب په نیت ئے کوی - کیدے شی چه په دے کار و نو کښے د خواص
عقیده خراب نه وی لیکن د حنفی فقهے دا قانون دے - چه د خواصو

دِ یو دابے نیک کار په وجهه چه شرعاً مطلوب نۀ وی (یعنی فرض یا۔ واجب نۀ وی) که په عوامو کښے دِ عقیدے څۀ خرابے پیدا کیږی نو هغه کار ترک کول پکار دی۔ اوکه هغه کار شرعاً مطلوب وی خو وړ سره څۀ خرابے (منکرات) مرګړے شوی وی۔ نو هغه کار به ترک کولے نشی او دِ منکراتو لړے کولو کوشش به کولے شی۔ لکه جنازے سره تلل شرعاً مطلوب دی۔ نو که دِ جنازے سره څۀ خلافِ شرع ۔ کار ونه مرګړی شوی وی۔ لکه جنازے سره دِ شهلا فریاد کوونکو او ویر کوونکو ډله هم روانه وی نو جنازے سره تلۀ به نشی پریښوے او کوشش به کولے شی چه دا منکرات وړ سره نۀ وی۔

اوس دلته په خیرات (ایصالِ ثواب کښے) دوه کارونه دی یو خو ثواب رسول دی بل دِ دے دِ پاره یو خاص وخت یو خاصه طریقه او څۀ خاص څیزونه مقرر کول دی۔ خاص وخت لکه ۔ جمعه ۔ دریمه ۔ څلویښتی کلیزه وغیره ۔ نو خیرات دِ پاره داوخت مقرر کول شرعاً مطلوب نۀ دی اګرچه مباح دی۔ لیکن دِ خاص وخت مقرر کولو په وجهه عوامو کښے دِ عقیدے خرابے پیدا کیږی۔ دِ اکثرو عوامو داخیال وی که په دے خاص وخت خیرات اونشی نو بیا نۀ کیږی مړے به محروم پاتے شی ۔ او دا عقیده غلطه دَه دِ خیرات ثواب هر وخت مړی ته رسی ۔ نو دِ وخت تعین به پریښوے شی ۔ البته که عوام وخواص ټول امت په دے متفق شی چه دِ وخت تعین ضروری نۀ دے۔ یعنی ټول عوام په دے پوهه شی چه خاص په دے وخت کښے خیرات ضروری نۀ دے۔ بلا تعین هر وخت کیدے شی ۔ که عقیده صحیح شی نو بیا به موښ په دے خاصو اوقاتو کښے هم اجازت ورکړو البته په موجوده حالت کښے چه دِ عوامو داخیال دے چه په دے خاصو

Scanned with CamScanner

تاریخونو کښے خیرات ضروری دے یا دِ خیرات نړیات ثواب دے۔ اودا خبره دِ شریعت خلاف دَه نو موبنږ ئے څنګه اجازت ورکولے شو۔ (حضرت فرمائی) یو ځل ماته یو صاحب اووے دِ لوئے ځوان یوڅلسمه تر اتلسم تاریخ کیږی بیانئ کیږی - ما په یو وعظ کښے په دے غلطو واجبونو تقریر اوکړو۔ (چه خیرات دِ پاره خاص وخت مقرر کول جائز نهٔ دی خیرات هر وخت کیږی) دِ وعظ ننه پس ماته یو صاحب اووے۔ عالمانو ته داسے خبرے کول نهٔ دی پکار چه امت کښے په اختلاف پیدا کیږی - ما ورته اووے - نو موبنږ بیان خو دِ تاسو په عمل موقوف دے څنګه چه حالات دی او تاسو چه څنګه کارونه کولئ موبنږ به دِ۔ هغے مناسب وعظ کړو په موبنږ دِ هغے متعلق شرعی حکم بیانول ضروری دی - تاسو غلط کارونه مهٔ کولئ موبنږ به ئے نوم هم ونهٔ اخلو - دِ اختلاف پیدا کولو الزام په عمل کوونکو دے - په موبنږ نهٔ دے۔

غرض داچه دا کارونه شرعاً مطلوب نهٔ دی - اوخرابے تر ډیره پیدا کیږی - نو دِ فقهے دِ قاعدے په موجب ئے ترکِ کول ضروری دی - یوخو دِ ایصالِ ثواب دِ پاره خاص وخت مقرر کول - قابلِ ترکِ دی - بل په خاصه طریقه فاتحه ویل چه دِ خوراکئ دِ څیزونو سره او بهٔ هم کیښوے شی او یو ځوخاص سورتونه ورباندے چف کولے شی - دا طریقه دے خلقو دِ ځانه جوړه کړی دَه - شریعت کښے ئے څهٔ وجود نشته او دِ عوامو داخیال دے - که په دے خاصه طریقه فاتحه او نهٔ ویلے شی او دا دِ خوراکئ څیزونه غریبانو ته ورکړے شی نو ثواب ئے مړی ته نهٔ رسی - دا دیر غلط خیال دے - که داسو رتونه ورباندے اونهٔ ویلے شی او خوراکئ جامه پیزار یا نقد رقم دِ الله

Scanned with CamScanner

د رضا د پاره غریبانو ته ورکړے شی نو ثواب ئے ضرور ملاوے ته رسی - دوه خبرے شوے - دریمه داچه نیت صحیح کول پکار دی - د اکثرو عوامو دا خیال دے چه موږ د بزرګانو روح ته ثواب اوږ سوو نو هغوئی به خوشال شی او زموږ د دنیا څه کار وته به راته اوکړی - نو صاحبانو - علاوه د دے نه چه دا عقیده غلطه ده د دے مثال داسے دے لکه یو افسر ته والئ یوسے رخصت یا خوابزه یا بل څه شے) او ورسره وړته اووائی چه دا م درته دے - د پاره راوړه چه فلانئ مقدمه ځما په حق کښے فیصله کړے - نو څه خیال موږ دے چه هغه افسر به ستاسو کار اوکړی - هرګز نه - چه د دنیا دار په داسے خبره خفه کیږی نو بزرګان به په ولے نه خفه کیږی بیا خاصکر وفات شوی بزرګان - وفات نه پس د روح لطافت نور هم زیات شی - روح چه د بدن د قید نه آزاد شی او خالص روح پاتے شی نو د هغوئی ادراک کامل شی - نو هر کله چه وړته دا معلومه شی چه د ثواب دا والئ ئے په دے غرض راوړی چه د دنیا کار وند راباندے کوی نو څومره به خفه شی - هغوئی په شروند دنیا ترک کړی وه - نو اوس د دنیا سره تعلق کله ساتی - علاوه د دے نه دا څومره د شرم خبره ده چه د بزرګانو سره تعلق او محبت د دنیا په غرض او ساتلے شی - هغوئی خو دنیا ترک کړے وه په هغوئی د دنیا کار کول داسے دی لکه په زرګر کو دالـه جوړول یا یو حکیم ته دا ویل چه ما سره پتی ته لاړ شه چه مال ته د کیا کیدی راوړه -

صاحبانو! غوث الاعظمؒ سره زموږ محبت په دے وجه دے - چه هغه موږ ته د هدایت لاړ ښیلی ده - د دے په بدل کښے موږ هغه ته ثواب بخښو چه هغه راته خوشال شی د هغه په خوشالیدو راته الله راضی شی

او په مونږ رحم اوکړی - (حضرت فرمائی) خُما دِ دے خبرو نه به تاسو ته دا معلومه شوی وی چه مونږ ایصال ثواب (خیرات) نه ښدوو - بلکه دِ هغے اصلاح کوو او تاسو ته ئے صحیح طریقه ښیو - کله چه دِ عوامو دِ عقیدے اصلاح اوشی - او خراب رواجونه او غلطے عقیدے ختم شی په هغه وخت به مونږ هم عام اجازت درکړو - اوځو پورے چه دِ عقیدے - اصلاح نه وی شوی دِ وخت او خاصے طریقے تعین ته به ناجائز وایو او دِ بد نامئ څخه خیال به نه ساتو یعنی که په مونږ دِ وهابی الزام لګولے شی په دے موځه پروا نشته - دِ دین په کار کښے که هرڅومره بدنامی اوشی یا تکلیف اورسی هیڅ پروا نشته ؎

ساقیا برخیز ودُر دِہ جام را　　خاک برسرکن غم ایام را
گرچه بد نامی ست نزد عاقلان　　ما نمی خواهیم ننگ و نام را

(ساقی پاڅه ډک جام راکړه - دِ زمانے دِ غمونو په سرخاورے واچوه اګرچه دِ هوښیارانو په خیال دے کښے بد نامی ده - لیکن زمونږ نوم ناموس نه دے پکار) -

زمونږ غرض په انصاف سره دِ حق اظهار دے - اوکه تاسو دا فقهی قانون یاد او ساتلو نو په دیرو کارونو کښے به درته خپله دِ جائز او ناجائز حد ود معلوم شی - دا خو دِ عوامو دِ عقیدے متعلق خبره وه - په مسلمانانو کښے یو ډله داسے هم شته چه عقیدے او عمل ونه ئے قول سَمْ دی لیکن دا ډله په خپله پاکئ ډیره غاوره او کبرجنه ده - نو زه عام مسلمانان سپک ګڼزی - په دے ښه پوهه شئ چه ؎

غافل مرو که مرکب مردان مَرْد را + دَر سنګلاخ بادیه پیها بریده اند
نومید هم مباش که رندانِ باده نوش + ناګهه بیک خروش بمنزل رسیده اند

(غافل او سست مه ځه چه دِ خوانانو سورلئ چنل سواره ئ په سخته کانړیزه

سره کښے په هنده زغلولی دی - او نا امیده کیږه م مه چه د عرفان په شراب مست ناخاپه په یوچغه مقصود ته ورسیدلی دی) - ا

اے صاحبانو! تاسو لوئ په څه کوئ او عام ګنهګار مسلمانان سپک ولے ګڼئ - هغه م د خدائے بندیان دی - چا څه بنه ویلی دی ؎

گناه اٰئینه عفو و رحمت است اے شیخ
مه بین به چشم حقارت گناهگاران را

(ګناه د الله تعالے د صفتِ عفو و رحمت د اظهار ذریعه ده - نو ګنهګار ته سپک مه ګورہ) څوک چه تاسو ګنهګار ګڼئ په هغو کښے دا سے کسان شته چه اګرچه ګمراهئ کښے مبتلا وی - لیکن د هغے ګناه د هغوئ په ذمه نه وی ګناه ئے د بل چا په ذمه وی او هغوئ د ګناه نه پاک وی - حکم چه مَنْ اَفْتٰی بِغَیْرِ عِلْمٍ فَاِثْمُهٗ عَلٰی مَنْ اَفْتٰی (چاچه بے علمه غلط فتوه ورکړه - (چاته ئے غلط مسئله او بښیله) - نو په هغے چه څوک عمل کوی ګناه ئے په هغه چا ده چا چه ورته دا غلط مسئله بښیلی وی) نو اکثر عوام چه غلط کار ونه کوی په ظاهره د دے غلط کار په وجهه ګنهګار بنکاری لیکن هغه عاجز خو خبر نه وی چه دا کار غلط دے - هغه خو پیر صاحب لیدلے وی یا ورته پیر صاحب ویلی وی چه دا سے کار کوه - نو دا کوونکے بے ګناه دے - پیښے ئے ټول د پیر صاحب په سر دے چه خلق ئے بدعاتو کښے مبتلا کړی دی (نو خان پاک په څه ګڼی خپله چه کوم بدعتونه کوی په هغے م ګنهګار دے او مریدان چه ئے څومره بدعتونه کوی د هغے - پیښے م د پیر صاحب په سر دے - علاوه د دے نه دا سے سړے خان څنګه پاک ګڼی څوک چه بل مسلمان ته په سپک نظر ګوری د کبر نه غټه ګناه خو بله نشته) -

د یو حدیث شریف مضمون شیخ سعدیؒ په خپلو الفاظو کښے دا سے بیان

Scanned with CamScanner

کړے دے ۔

بنی آدم اعضائے یک دیگراند که در آفرینش زِ یک جوهراند
چوعضوے به دردآورد روزگار دگرعضوها را نمانند قرار ۔

(بنیادم ټول دِ یو بدن دِ اندامونو په شان دی ځکه چه دِ یوجوهر نه پیدا شوی دی یعنی دِ یو پلار آدم علیه السلام اولاد دے ۔ دِ بدن په یو اندام که څۀ درد تکلیف وی ۔ نو نور اندامونه ټول بے آرامه وی) هرکله چه حالت دا پکار دے نو مونږ ته خو دِ یو مسلمان پدکنهکارکیدو خفګان پکار دے ۔ چه دے به دوزخی شی اوږ کښے به سوزی ۔ دا ے څۀ طریقه پکار دَه چه دِ اوږ نه بچ شی ۔ مونږ ته په چټل مسلمان سوړ دا ے زړۀ سوے او مهربانی پکار دَه لکه دِ رسول کریم صلے اللّٰه علیه وسلم چه چټل امت سره وَه ۔ یوځل یو د بهائی مسلمان دِ نبی کریم صلے اللّٰه علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو عرض ئے اوکړو ۔ یا رسول اللّٰه ځما کور آباد نۀ دے ۔ (وادۀ ږم نۀ دے کړے) اوزړۀ صبر ولے نشم ماته دِ زنا اجازت راکړئ ۔ اصحابِ کرام چه دا دِ کستاخئ خبره واوریده نو هغه سړے ئے ډیر اوږ ټلو چه داځنګه بے ادبه ئے ۔ رسول اللّٰه علیه وسلم هغوئ منع کړل ورته ئے اووے ماته ئے پریدئ چه پوهه ئے کړم بیا حضور صلے اللّٰه علیه وسلم هغے سړی ته اووے آیا تۀ به دا برداشت کړے چه ستا مور یا خور سره څوک زنا اوکړی ۔ هغه اووے هرګز نه ۔ حضورؐ ورته اوفرمائیل ته چه چا سره دا ے کار کول غواړے هغه به م دِ چا مور یا خور وی نو کوم کار چه تۀ ځان دِ پاره نۀ خوښوے هغه بل دِ پاره م مۀ خوښوه ۔ دے نږم اوخوږ نصیحت په هغه ډیر اثر اوکړو ۔ اودا ے توبه ئے اوویسته چه بیا ئے څه شوند چړے دا سے خیال م زړۀ کښے رانغلو سبحان اللّٰه ۔ دِ رسول اللّٰه صلے اللّٰه علیه وسلم دِ پاکیزه اخلاقو او پاک

تربیت دا طریقه وَه - او ولے به نۀ وَه هغه خو په خپلو دشمنانو هم مهربانه وَه -

یوه ورځ کافرانو د رسول الله صلے الله علیه وسلم ډیر تنګ کړے وو (غالباً دا د طائف د تبلیغی سفر واقعه ده - مترجم) د غرونو فرشتے عرض اوکړو که تاسو اجازت کوئ چه دا ټول کافران د دوو غرونو ترمینځ اوچقوم چه ټول ختم شی) هغوئ وړته اف مائیل - دَعُوْنِیْ وَقَوْمِیْ (ما اوځما قوم پریدئ) تاسو پکښے څۀ دخل مۀ کوئ - کیدے شی چه د دوئ په اولاد کښے څوک مسلمانان پیدا شی - نو هرکله چه د موږ رسول الله - صلے الله علیه وسلم په دشمنانو دومره مهربانه وو - نو ځکه په موږ کښے دومره لوئ ولے راغله چه خپل مسلمان ورور ته سپک نظر کوو -

شیخ سعدیؒ فرمائی ؎

شنیدم که مردانِ راهِ خدا — دلِ دشمنان هم نکردند تنګ -
ترا کے میسر شود این مقام — که با دوستانت خلاف است وجنګ

(ما اورېدلی دی چه د خدائے نیکانو بندیانو به د دشمنان هم نۀ خفه - کول + ته به دے مقام ته څنګه اورسے چه دوستانو سره د اختلاف او جګړے وی) ته چه خپل مسلمان ورور ته سپک کورے نو په کومه خوله خان ته پاک اوخدائی سړے وائے - دا خبرے خو د عرفان خلاف دی - د حضرت بهلول دانا واقعه ده -

چه خوش گفت بهلول فرخنده خوئے + چو بگذشت بر عارفِ جنګجوئے
گراین مدعی دوست بشناختے + به پیکارِ دشمن نه پرداختے

(نیک خویه بهلول څۀ ښه خبره اوکړه - چه یو جګړمار صوفی ئے اولیدو او ئے وے که دے د عرفان مدعی خپل دوست پیژندے - (یعنی که واقعی عارف وے) نو دشمن سره په جنګ به نۀ وواخته داوخت به ئے د الله په ذکر کښے لګولے وو)

صاحبانو هیڅ پته نه لګی چه څنه ساعت پس څنه پیښیږی - اوڅو ورځے پس به موږ نه څنه جوړوی - که قبر ته ایماندار لاړو نو هرڅنه ډیر دی که ایمان مو یو نه ړو نو هیڅ هم نشته - نو هرکله چه موږ ته څخیل انجام هیڅ پته نشته او موجوده حالت کښے موهم ډیر نقصانونه دی او مستقبل کښے د نورو خرابیو خطره ده - نو بیا څوموږ څنه حق دے چه بل پوهه اوخاندو او خان نه ئے کم اوکنړو - داخو غټه بے وقوفی او لیونتوب دے چه په یو سړی چپله بے شمیره فوجداری مقدمے وی او په بل پوهے خاندی په چا چه صرف یوه دیوانی مقدمه وی -

نو په دے وجهه دے ډله ته (یعنی د صوفیانو او پیرانو ډله ته) نه - وایم چه اګرچه ستاسو عقیدے صحیح دی - او په ظاهره موا عمال هم خراب نه دی - لیکن تاسو په خپل باطن کښے فکر اوکړئ او د خپل اندرونی حالت اندازه وا خلئ - خان صفا او پاک مه ګڼئ - نه موږ د نورونو حالت ډیر خراب دے -

د څنه خلقو داخیال دے چه نجات صرف په عقیده دے - چه د چا عقیده صحیح وی بس کامیاب دے - دا غټه غلطی ده - البته دومره خبره صحیح ده چه عقیده صحیح وی - نو که عمل ډیر خراب وی هم د دائمی عذاب نه خلاص دے - څنه وخت سزا خوړلو نه پس به نجات بیا موهی - لیکن کامل نجات چه څنه ته ویلی شی هغه یواځے د عقیدے په اصلاح نه کیږی ورسره نیک عمل هم پکار دے -

د څنه خلقو داخیال دے چه صرف د نبی کریم صلے اللہ علیه وسلم د محبت دعوه د نجات د پاره کافی ده - د چا چه حضور صلے اللہ علیه وسلم سره مینه وی - هغه سړه به هلته سوال جواب نه کیږی نه به ورسره دے - اعمالو حساب کیږی - بس بے پتوسه به جنت ته ځی -

Scanned with CamScanner

خُنه خلق په ظاهره نیک وی خو نه پوهه ئے لکه د شرمخ سخت وی۔ یو بزرګ د دا سے خلقو په حق کښے ویلی دی ؎

از برون چوگورِ کافر پُر حُلَل ؎ واندرون قهرِ خدائے عزوجل

از برون طعنه زنی بر بایزید ؎ وز درونت ننګ میدارد یزید

(ظاهر ئے لکه د کافر د قبر په کالو بنائسته بنکاری + لیکن دننه په د الله قهر وریږی۔ په ظاهره خو د بایزید بسطامیؒ نه هم غټ بزرګ بنکاری لیکن اندرون ئے دومره ګنده وی چه یزید ته هم تر شرم وړځی)۔ دا سے کسانو ته دا ویلے شی چه ظاهر خو مو بنائسته کړے دے۔ د باطن خبره واخلئ

قال را بګذار مردِ حال شو ؎ پیش مردے کامله پامال شو

(خبرے پریده د ظاهره حالت سړه کړه + د یو کامل پیر تابعدار شه) د کبر علاج دا دے چه خپل نفس خاورے کړه۔ عاجزی او تواضع اختیار کړه هم دغه تواضع او خاکساری د اتفاق او اتحاد بنیاد دے۔ نن صبا خلق د اتفاق چغے وهے وهی۔ لیکن د اتفاق جوړے پریکوی۔ تواضع او خاکساری ئے بالکل پریښی ده۔ هر سړے ځان قابل، هوښیار او د بل نه زیات ګڼی که هر چا ځان د بل نه کم ګڼلے نو هیڅوړے به ئے په څه خبره اختلاف نه راتلو۔ همیشه به په اتفاق او خوښه سره ولئ اوسیدل۔

ډیر افسوس دے چه نن صبا مسلمانانو د اسلام پاکیزه اخلاق بالکل ترک کړی دی۔ بلکه د خاکسارئ خلاف د خود دارئ په نوم وړته د تکبّر سبق بنئ۔ په جامه کښے به هم دا سے وضع خوښوی چه په ټوله ډله کښے ممتاز اولوړئ او ګڼلے شی۔ او غضب خو دا دے چه خپل اولاد ته هم د وخت د سره دا تعلیم ورکوی۔ غرض داچه هر کار ته چه ئے ګورے ځان به د فرعون سارے ګڼی۔ نو په دے حالت کښے به اتفاق څنګه پیدا شی۔

Scanned with CamScanner

صاحبانو که سره بنسټیا قوم کښے اتفاق پیدا کول غواړئ - نو دِ صوفیانو په طریقه سره وان شئ - دِ صوفیانو بنیپر کښے پریوځئ - بیا اوګورئ چه څنګه اتفاق راځئ -

(حضرت فرمائی) دِ یو مالدار سړځما په دے خبرے شوی وے - که هلک په نوکرانو یا بل غریب څه ظلم اوکړی نو سزا ورکول پکار دی که نه - دِ هغه داخیال وو چه نه دی ورکول پکار څکه چه په دے دِ هلک طبیعت کښے کمزورے راځئ - او سړه کښے اوچتے حوصلے نه پاتے کیږی - سړه نه پوهیږی چه داخلق اوچته حوصله څه ته وائی - آیا په کمزورے زیاتے کول اوچته حوصله ده دے ته خو ظلم او عُلُوٌ فِی الْاَرْضِ او فساد ویلے شی - دا هغه شے دے کوم نه چه قرآن کریم مسلمانان منع کړی دی - ارشاد دے - لَا یُرِیْدُوْنَ عُلُوًّا فِی الْاَرْضِ وَ لَا فَسَادًا - (یعنی دِ مسلمان صفت دا دے چه نه په هلک کښے لوئ غواړی او نه فساد) دِ لوئ نه په هلک کښے فساد جوړیږی اتفاق نشی راتلے - که غور اوکړے شی نو قرآن کریم خو دِ دے موجوده تمدن جړے پریکوی -

غرض داچه اعمال او اخلاق سَمْ کړئ - دِ عالمانو صوفیانو مجلس ته ورځئ نو دِ اخلاقو اصلاح به موکیږی - لیکن دا یاد لرئ چه دِ بزرګانو مجلس ته چه ورځئ نو خالص دِ خپل ځان دِ اصلاح په نیت ورځئ - څنه خلق هسے چلو د دنیا وی کار و نو کښے دِ کامیابئ دِ دعا غوښتو په نیت ورځئ دِ چلے اصلاح خیال ئے نه وی - پیژ ندګلی ئے داده چه هلته به دِ دنیا خبرے کوی او په اخباری خبرو نو به بحثونه کوی - دا سے خلق چل وخت هم خرابوی او دِ هغے بزرګانو وخت هم خرابوی - او څنه خلق ورځئ خو دِ اصلاح په نیت خو تلوار ګرځندی وی - په څو ورځو کښے اصلاح غواړی - دِ دا سے خلقو مثال دا سے دے لکه چه ویلی شوی دی - اَلْحَائِکُ اِذَا صَلّٰی رَکْعَتَیْنِ -

یَنْتَظِرُ الْوَحْیَ - (کم عقل سړے چې دوه رکعته نفل اوکړی ځان ورته بزرګ بنکاره شی او دِ وحی په انتظار شی) داسے کسان ته چا ته چې به زړه ځانګه فائده حاصله نشوه او پریشان به شو حضرت حاجی امداد الله صاحب به - فرمائیل - دا فائده خو لږه نه ده چې بنده ته الله تعالے دِ ذکر توفیق ورکړی او بیا به ئے فرمائیل حقیقت خو دا دے کہ هیڅ فائده ئے نه - معلومیږی بیا هم طلب پریښول نه دی پکار - (طلب خپله مقصود دے او دِ طلب شوق پیدا کیدل خپله غټه فائده ده - یو عارف وائی -

یا بم اورا یا نه یا بم جستجوئے میکنم
حاصل آید یا نه آید آرزوئے میکنم

(په لاس راځی که نه خپل کوشش به جاری ساتم - په لاس راشی اوکه نه طمع ئے لرم) کله خو به مقصود حاصل شی - اوکه نشی هم دا کوشش خپله مقصود دے بے برخے به نه وی) دِ سالک خو دا حالت پکار دے - که سل ځله ورته آوازه اوشی چې عبادت دِ قبول نه دے بیا هم ناامیده کیدل ورته نه دی پکار - اوخپل عبادت جاری ساتل پکار دی -

دِ یو بزرګ واقعه ده چې شیطان ورته ډیره کښے داخبره واچوله چې څومره موده او شوه ته عبادت کوے دِ هغے طرف نه نه ځئ اشاره شته نه ځئ سلام دعا - (یعنی دِ قبلیدو ځئ آثار ئے نشته) نو آخر دے محنت کښے تاته خیر ځئ دے - دِ هغهم ډیره کښے شک پیدا شو - وظیفه ئے پریښوه بے غمه اوده شو - په خوب کښے ئے خضر علیه السلام اولیدو چې ورته وائی وظیفه دِ ولے پریښوه هغه ورته اووے - دومره موده اوشوه ډیره په کوشش لګیایم لیکن دِ هغے طرف نه هیڅ جواب نشته - چې خدا دا - محنت منظور یږی که نه - نو خدا ډیره به څه ښه شی اوهمت رم په څه زیات شی - په جواب کښے ورته دِ الله تعالے دِ طرف نه الهام اوشوه

Scanned with CamScanner

گفت آن اللہ تو لبیک ما است ع این نیاز و سوز دردت پیک ما است
(ارشاد اوشو دا ستا اللہ اللہ ویل - (یعنی دِ ذکر توفیق ورکول خُما
دِ طرف نه لبیک دے یعنی دِ قبلیدو ننبه دَه) - او دا دِ ستا نیاز او
سوز و درد خُما دِ طرفه بلنه دَه - (یعنی دغه شاباشے او همت افزائی دَه)

شیخ سعدیؒ دِ یو بزرگ واقعه لیکلی دَه - چه هغۂ ذکر کولو - غیبی
آواز ورته اوشو چه ته که هر څومره خان ستړے کړے قبلیږی نه - خو
هغۂ په څۂ پروا او نۂ لرله چې کار ئے جاری او ساتلو - دا آواز ئے یو
موړید هم اوړید لے وو - ورته ئے اووے هر کله چه قبلیږی نه نو خان
ولے ستړے کوے - هغے صاحب ورته اووے - که بل خدائے وے نو
هغۂ ته به ورغلے وم دے به ړم پریښے وو - چه بل دَر نشته نو چرته
لاړشم نۂ به چې ل کوشش کوم قبلوی ئے که نه دِ اختیار خاوند دے ؎

توانی ازان دل بپرداختن + که دانی که بے او توان ساختن

(دِ هغه چا نه نۂ صبر یدے شی چه پوهیږی چه دۂ نه بغیر ړم کار
چلیدے شی) - په دے جواب دِ اللہ رحمت په جوش کښے راغلو - آواز ورته
اوشو ؎

قبول است گرچه هنر نیست + که جز ما پناهے دیگر نیست

(اگرچه دے کښے ستا څۂ کمال نشته خو قبول ړم کړو چه ما نه بغیر دِ بله
اړه نشته) غرض داچه دِ حق طلبگار ته هر حال کښے چې ل کار جاری
ساتل پکار دی دِ قبلیدو څۂ اثر ئے ورته ښکاری او که نه - دِ سالک
خو داحال وی چه تر مرګه یو ساعت په آرام نۂ کیږی ؎

اندرین ره می تراش و می خراش ع تا دمے آخر دمے غافل مباش
تا دمِ آخر دمِ آخر بود ـــــ ع کز عنایت با تو صاحب سر بود

(دِ سلوک په لاړ کښے همیشه چې له اصلاح جاری ساته - تر آخره سلګئ

غافل کیږي ځکه نو دے چې ستا آخری ساه هغه ساه وی چې د الله رحمت ورسره مرکښې شی) - او ټول مقصود نه اوږدے - البته د کامل شیخ پیژندل د پیر ضرورۍ دی چې د اصلاح د پاره ورته ځان حواله کړے - نن صبا د بنیاد مو په جامه کښے شیطانان د پیر شوی دی - مولانا ئے روم فرمائی ؎

اے بسا ابلیس آدم روئے هست
پس به هر دستے نه باید داد دست

(د بنیاد مو په جامه کښے د پیر شیطانان پټ دی - نو د هرچا په لاس کښے بیعت د پاره لاس ورکول نه دی پکار) -

د کامل شیخ د پیژندو دا اته غټے غټے نښے دی

(۱) چې د شریعت ضروری علم ئے کړے وی - (خالص نالوستے نه وی) .
(۲) - د یو کامل شیخ په تربیت کښے پاتے شوے وی -
(۳) - او هغه ورته د تربیت ورکولو اجازت ورکړے وی (مجاز وی)
(۴) - خپله په شریعت عمل کوی -
(۵) - په مریدانو هم د شریعت د پابندئ تاکید کوی -
(۶) - د سنت نبوی پوره پوره پابند وی - او بدعتونو نه پرهیز کوی -
(۷) - په خپلو مریدانو مهربانه وی -
(۸) - او د هغوئ د غلطیو په اصلاح کښے ناراستی نه کوی -

په کوم پیر کښے چې دا اته واړه صفتونه موجود وی هغه کامل دے او هم د داسے کسانو متعلق ویلی شوی دی -

یک زمانه صحبتے با اولیاء ؎ بهتر از صد ساله طاعت بے ریا

Scanned with CamScanner

(دِ ولیانو په مجلس کښے یو ساعت کیناستل دِ سل کاله خالص بے ریاء عبادت نه بهتر دی)۔

الحمدلله ۔ دِ هرے طبقے دِ پاره په قدر دِ ضرورت پوره بیان اوشو او معلومه شوه چه دِ نجات لاره صرف یوه ده۔ یعنی دِ شریعت او ۔ سنتِ نبویؐ تابعداری دِ کامل شیخ په رهنمائی کښے ۔ که په دے عمل اوشی نو فائده پکښے ډیره ده لیکن مزے پکښے نشته ۔ او سی دعا اوکړئ چه الله تعالے موبنز ټولو ته په اخلاص دِ نیک عمل توفیق راکړی۔ آمین

وصلی الله تعالے علی خیر خلقه وسیدنا و مولانا محمد وعلی آله و۔ اصحابه اجمعین ۔ برحمتک یا ارحم الراحمین ۔

۔ تمت بالخیر ۔